**د کتاب معرفي**

د کتاب نوم: پيغام دويم (دويم ټوک)

ليکوال: زبير افغان

د نشر کال: ۲۰۲۲م

د کتاب ټول حقوق له **پېروز د ديني مطالعاتو او څېړنو بنسټ** سره خوندي دي.

**پېروز د ديني مطالعاتو او څېړنو بنسټ**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

أفهرست/

# فهرست


سریزه ........................................................................... 7

نورو ته زموږ د واعظانو لار ښوونې ......................................... 9

پر شرعي تفسير د کلتور اغېز .................................................... 13

پرده له ميرمنو د حق اخيستلو پلمه ........................................... 19

په شخړو کې راګير ولس ته! .................................................... 24

په غونډو کې د قران کريم تلاوت ............................................. 32

په قران د پوهېدنې اصول او تفسيري تګلاره .............................. 37

په منصوصي مسايلو د پوهاوي لپاره ......................................... 40

په نصاب کې تر وخت تېر موضوعات........................................ 45

د انځور اخيستلو شرعي حيثيت ................................................ 50

له اوسني افغان دولت سره جنګ زموږ په ګټه دی او که تعامل؟........ 54

د تکبر مفهوم ......................................................................... 60

د ثواب او عذاب نيمګړې تفسير ................................................. 63

د جمعې او اختر خطبې ........................................................... 69

د دين او شريعت په تفسير کې تېروتنې....................................... 73

د ميرمنو مشري او پر ښځو د نارينه د سپرستۍ سهي تفسير ............ 78

د نورو له عمل سره د خپلې ايډيالوژۍ پرتله ................................. 83

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب‌فهرست/


د یوه ناسم فقهي اصل سمونه.................................................85

شرعي حرام که قانوني ممنوع؟.............................................88

صبر او توکل......................................................................93

قران کریم نثر دی که شعر؟.................................................101

له دین او شریعته ناسم تفسیر لاملونه....................................107

له قبیلوي پېژندګلوي تر ملي ................................................115

له مادیت څخه محرومه ټولنه.................................................121

له محرم پرته د میرمنو سفر .................................................126

مذهبي و نامذهبي...............................................................132

مومن او مسلمان څوک دي؟................................................137

د حدودو نفاذ د چا مسوولیت؟..............................................140

د سود مفهوم اود شرعي نصوصو وضاحت ...............................150

یو محور یو تعبیر...............................................................161

عاشورا په روایاتو کې.........................................................172

په اسلام کې د مرېیتوب او اسارت قانون.................................178

د مشرکینو اولاد، بېلابېل اندونه ( څېړنيز جاج )........................188

د اسلامي ثقافت په اړه زما اند ..............................................200

لغوي مانا ........................................................................200

اصطلاحي مانا: ..................................................................201

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست/


دين د انسان لپاره دی که انسان د دين؟............................................209

يا هم انسان وسيله دی که هدف؟ ................................................209

په اسلامي دعوت کې د کتاب مقام ...............................................215

مقدس کتابونه.....................................................................215

صحيفې او حديثي کتابونه .........................................................218

په دعوت کې د کتاب اغېز .........................................................220

د کتاب پيغام .......................................................................221

د ديني تعبير د نړۍ والې ادارې اړتيا ..............................................223

په کومو حالاتو کې هدف وسيله توجيه کوي؟ ....................................227

منځلاريتوب(وسطيت) ..............................................................231

لغوي و اصطلاحي معنا: ...........................................................231

منځلاريتوب په قران او سنت کې:................................................232

لنډيز: ..............................................................................238

د نارينه او ښځو يوځايي زدکړې...................................................239

د حاکميت د بېلابېلو مفاهيمو توضيح.............................................247

د قربانۍ اساسي هدف .............................................................254

د دعا اهميت او اغېز ...............................................................260

د تکفير وبا.........................................................................266

لغوي او شرعي مفهوم:.............................................................266

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست/

له شرعي اړخه د تکفير قباحت: ................................................267

په دې اړه د علماؤ نظرونه:......................................................270

د تکفير په اړه د اهل سنتو اصل:.................................................271

اسباب يې: ...........................................................................273

نتيجه:..............................................................................275

موږ ته له دينه د واحد تفسير اړتيا ..............................................277

د شريعت او اخلاقو اړيکه ........................................................282

د کربوړي وژل، ثواب که خطا؟...................................................293

مراجع...............................................................................303

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

له الله سره مناسب حمد او لایق ثنا و صفت ټول د هغه متعال ذات دي او بې پایانه درود و سلام دې د هغه پر وروستي مهربانه رسول وي.

دغه کتاب زما د بېلابېلو مقاله ټولګه ده چې زیاتره یې پر دیني موضوعاتو لیکل شوې دي، ځینې که یې ټولنیزه او تاریخي محتوا ولري، بیا هم په یو نه یو ډول له دین سره اړیکه یې حتمن موجوده وي. په دې لحاض یې ګواګې ټوله محتوا له دیني موضوعاتو سره اړه لري.

دا مقالې زما د کلونو د زیار، لوست او هڅو نتیجه ده، په لیکنه کې زه د یوه خاص فکري مکتب پیروي نه کوم، نه د یوه ځانګړي فکري مکتب مقابلې او ټکولو ته مې کار ویلی. بلکې یوازې مې د خپل فکر لیدلوری لیکلی دی، هره مقاله د هغې خاصې موضوع په باب یوازې زما د فکر نمایندګي کوي، له دې هاخوا نه د یوه خاص فکري مکتب ملاتړ پکې شته او نه یې د رد په پار کښل شوې دي.

ځینې مقالې یې په تاند ویبسایټ کې خپرې شوې هم دي او زیاتره یې تر اوسه نه دي نشر شوې. د کتاب اوډنه د ځانګړې تګلارې له مخې نه ده شوې، دا پوښتنه ما له ځان سره نه ده کړې چې دغه مقاله ولې د کتاب په سر کې ده او هغه یې په اخیر کې؟ دا فکر مې هم نه دی کړی چې تر دې پلانۍ مقالې وروسته دې هغه پلانۍ راوړل شي چې د دوی ترمنځ خاص ارتباط موجود دی، داسې هیڅ نه دي شوي، بلکې څنګه چې راته اسانه وه، په هماغه بڼه مې د کتاب په بڼه اوډلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرې مقالې په اخیر کې سرچینې راغلې دي او د کتاب په اخیر کې مې ټول هغه مراجع معرفي کړي دي چې ما د لیکنو مهال ور نه ګټه اخیستې ده. زه د مطالبو په پیدا کولو کې زیاتره د مکتبې شاملې له کتابونو ګټه اخلم، نو د کتابونو معرفي هم له مکتبې شاملې څخه ور کوم.

زبیر افغان

۲۷/۳/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نورو ته زموږ د واعظانو لار ښوونې

زموږ د ټولنې ناصحان په خپل وعظ کې هر وخت بل ته نصيحت کوي، د خپل نصيحت په ډېره وړه برخه خپله عمل نه کوي. بل ته د خيرات توصيه کوي، خپله خيرات نه کوي، بل ته له تجسسه د ځان ساتنې توصيه کوي، خپله په ټول کلي پسې تجسس کوي، نورو ته د اخلاقياتو فضيلتونه بيانوي، خپله د بد اخلاقۍ نمونې وي.

زموږ په سيمه کې يو متل دی وايي: که ملا ويل هغه کوه او که ده کول هغه مه کوه. يا وايي: قاضي خپله بد کاري کوله او نورو ته يې لارښوونه کوله.

دا متلونه له دې امله پسې ويل شوي دي چې زموږ د ټولنې ملا، واعظ، قاضي و خطيب خلکو ته د ښو توصيه کوي، خو په خپلو ويناوو او نصيحتونو عمل نه کوي. خلك جنګو ته تشويقوي، نه خپله ورسره ځي او نه د خپلې کورنۍ کسان پکې لېږي، يوازې د بل زامن ورته مستوي.

ځانونه د رسول الله ص صلی الله عليه وسلم وارثان بولي، خو يوازې د هغې وينا په کولو کې چې دوی ته يې ګټه رسېږي. رسول الله ص ص زکات نه خوړی دوی زکات ته په لين کې ولاړ وي، رسول الله ص ص به خپله خيراتونه کول، دوی د نورو خيراتونو ته سترګې نيولې وي، رسول الله ص ص به خپله سرسايه ور کوله، دوی د نورو سرسايې په جيب کې اچوي، رسول الله ص ص به د بل مړي قرض پر خپله غاړه اخيستی، زموږ هغه که پوروړی هم وي، دوی يې د اسقاط په اخيستو او خيرات کولو، ختم کولو نور پسې وشکوي. رسول الله ص ص تر هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا مخکې خپله د قربانۍ ځای ته تلی جهاد يې کاوه، دوی يوازې نور ور ته مستوي. رسول الله ص ص د اخلاقو نمونه وه، د خلکو يې خيال ساتی حتا په لمانځه کې هم د قوم خيال ور سره و، د يوه ماشوم په ژړا يې د سهار لمونځ د ماښام د لمانځه په شان لنډ ور کړی دی، نورو ته يې توصيه کړې ده چې د امامت په وخت کې د کمزوري، اړمن او مريض خيال وساتئ. رسول الله ص ص د مړي کورنۍ سره غمرازي کړې ده، د مړي کورنۍ ته يې د خوراک ور کولو توصيه کړې ده، خو دوی د مړي پر کور ناست وي، له حلالو يې خلاص کړي.

د خپلې وينا او عمل د تضاد له امله يې اوس ويناوې او خطبې بې اغېزې شوې دي، په نه اغېز کې يې ښايي نور عوامل هم دخل ولري، اما که ټول عوامل يې شمار شي، يو به يې حتمي دغه وي.

زموږ د نصيحت تګلاره داده چې په تريو تندي، لوړ اواز او سختو کليمو نورو ته خطاب کوه، درته ناست خلک مخاطب کړه، ځينې کسان چې د واعظ تر نظر بد ورځي، ښه يې تحقير کړي، حتا داسې واعظان لا هم شته چې د مسجد په کوم کونج کې به هغه کس ناست و چې د ده به بد ځنې کېدل، له منبره به يې هغه کونج ته لاس نيولی و، د لاس په اشارې به يې ويل چې دغسې او هغسې مه کوئ، دا بد کارونه دي، خلګ يې پوه کول چې دغه بد کارونه دغه سړ کوي.

خلکو ته وايي دنيا د خدای په وړاندې هيڅ حيثيت نه لري، تاسو هم ډېر وخت مه ور کوئ، پر خدای توکل وکړئ، خدای مو له لوږې نه مړه کوي. خو همدغه واعظ صاحب به د کلي د ملک تر بل هر چا ډېر لحاظ کوي، د ماړه او شتمن ډېر خيال به ساتي، دومره غوړه مالي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره کوي چې حتا ماشوم به هم په پوهېږي او تر دې اندازې به بد ښکاري چې د ده پر ځای به بل کس د ده په غوږه مالي شرمېږي.

خلك چې د هغه د وینا او عمل فاراډوکس ووینې، بیا به ښه د هغه وینا تاثیر پر وکړي. دا خبره سمه ده چې دنیا به خدای ته حیثیت نه لري، اما دا چېرې دي چې خلك دې ډېر وخت نه ور کوي؟ دا چېرې راغلي دي چې له لوږې انسان نه مري؟ موږ خو اوس په نړۍ کې د میلیونونه انسانان وینو چې له لوږې سره مخ دي او نړۍ وال یې لاس نیوی کوي، اول کتار کې یې موږ خپله ولاړ یو.

خدای ته د دنیا نه اهمیت دا نه معنا چې موږ ته بې هم نه لري، ځکه موږ په همدې دنیا ژوندي یو. خیرات په همدې دنیا کې کوو، زکات ور کوو، حج په کوو، د بل کس لاس نیوی په کوو، لنډه دا چې دنیا او اخرت په ابادوو. خدای ورته اړتیا نه لري، ځکه ورته بې اهمیته ده، هغه چې اړتیا نه لري له دې امله خدای دی، که یې زموږ په شان اړتیاوې وای، بیا به خدای نه وای؛ البته زه چې یو اړمن انسان یم، اړتیا لرم، نو له دې امله دنیا ته وخت ور کوم، حیثیت راته لري، او دغه خدای امر راته کړی دی بیا په حلاله طریقه گټلې دنیا یې خپل فضل بللې ده، نو زه څنگه دنیا ته وخت ونه کړم؟ او ما ته دې حیثیت ونه لري؟

هدف باید یوازې د بل د اصلاح او یا پر بل نیوکه نه وي، تر هر څه لومړی انسان ته د خپل ځان اصلاح په گټه ورځي، بل ته ښوونه او خپله د هغې مخالفت د خطیب خپل حیثیت د نورو په نظر کې کموي، له وخت او مکان سره متضادې خبرې د هغه علمي او ټولنیز حیثیت تر پوښتنې لاندې راولي، د موضوعاتو داسې تشریح چې نه د هغه وخت چاپېریال، سیاق و سباق، شانزول او شانورود، د اوس وخت غوښتنې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه، کلتور، وخت او ځای او د نوي عصر چېلنجونه په نظر کې ونیول شي او نه خلکو په قانع کړای شي، تر ګټه یې تاوان څو چنده زیات دی، تر دې چې خطیب صاحب خلکو ته بیان ونه کړي، هم زموږ د ټولنې په ګټه دی، مه د دین او هم د خطیب په خپله. د وخت غوښتنه ده چې خطیبان او ویناوال مو باید په فکري او فزیکي لحاظ نور اپډېټ شي، پر همدې حال یې جام پاته کېدل د ټولنې، دین او خطیبانو په کامل زیان وینم.

۲۴/۳/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر شرعي تفسير د کلتور اغېز

**نوټ:** دين او شرعيت په خپل اصل نازل شوي شکل ايډيالوژي نه شي بلل کېدلای، اما که انسان له هغو تفسير وکړي، بيا ايډيالوژي بلل کېږي، ځکه چې هغه اصل شکل يې نه پاتېږي، حتمن د انسان خپله مالگه لږ ور گډېږي، که نه د لمانځه کيفيت در واخلئ چې څنگه د يوه مسلمان له بل سره توپير لري، د خدای رسول به حتمن يو رقم کړی وي، خو اوس د بشري مالگې ور گډېدو کيسه دغه ځای ته رسولې ده، نو دلته د ايډيالوژی نوم په دغه معنا استعمال شوی دی.

يوه ايډيالوژي چې د يوه کلتور په غېږ کې را پيدا شي، همدلته وده وکړي او همدلته د عمل جامه ور واغوستل شي؛ د هغې تفسير که نورو ژبو ته کېږي، په بله ټولنه کې هغه وړاندې کېږي او د يو بل کلتور غوښتنې و اغېزې پر اضافه کېږي، دا به د هغې ايډيالوژي پر اصل څېره او سم تفسير حتمن داسې تاثير کوي چې له خپله مسيره او ليکې يې ممکن بل لور ته واړوي.

اسلامي دين و شريعت هم په يوه ټولنه کې نازل شوي دي، همالته د کمال پوړی ته رسېدلي او عملي بېلگه يې هم د هغې ټولنې وړاندې کېږي. دلته دوه شيان مهم دي، يو د هغې ټولنې خپل کلتور دی چې د نزول، تکميل او تعميل مهال پام ورته کېږي او بل همدغه د يوه کلتور په غېږ کې پالل شوی قانون، شريعت او ايډيالوژي که بلې ټولنې ته وړل کېږي، د هغې ټولنې کلتور همداسې خپل تاثير پر کوي، خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتني لري او اړتياوې يې شته لکه د اولې ټولنې کلتور چې خپل اغېز کړی و، غوښتنو ته يې پام شوی او اړتياوې يې پوره شوې وې.

اوس موږ له بلې ستونزې سره مخ کېږو، د اولې ټولنې له کلتور څخه موږ پردي يو، په ايډيالوژي کې د هغې ټولنې کلتوري مسايل، اړتياوې او غوښتنې په نظر کې نيول شوې دي، موږ که خپلې ټولنې ته هغه ايډيالوژي واردوو؛ لومړی به څنګه کلتوري مسايل له اصلي مسايلو سره تفکيک کوو، دويم د هغوی غوښتنې زموږ له هغو سره توپير لري، اوس به په تفسير کې خپلې غوښتنې ور ننباسو او که به د هماغو په حکايت بسنه کوو او درېيم زموږ اړتياوې هم ډېرې شوې او هم ځنې بېلې دي، د غوښتنو په برخه کې له احکامو او مسايلو سره به څه ډول چلند کېږي؟

غير عرب د عربو کلتوري مسايل په اسانه نه شي بېلولای، له دې امله د شريعت په تفسير کې تر ننه هم عربي کلتوري مسايل پاته دي. په داسې حال کې چې قران کريم رسول په هغو احکامو و مسايلو کې غوره نمونه بللی دی چې د خدای له لوري يې راوړي وي(احزاب: ۲۱)، نه هغه فطري اعمال لکه خوراک، تګ، جامه اغوستل، ناسته پاسته، ولاړه، روغبړ او داسې نور اعمال چې هر انسان يې له هدايت پرته هم کولای شي.

د هغه وخت د عربي طبابت موافق چې په احاديثو کې څه لارښوونې راغلې دي، نن زموږ ځيني کسان د نبوي طب په نامه د هغو لارښونو تابعداري کوي او فکر کوي چې د شريعت طبابت تر عصري طبابت غوره دی، که څوک يې ورسره په بېلګو خبره وکړي، هغه ګمراه بولي؛ په داسې حال کې چې نه په شريعت کې د نبوي طب په نامه څه شته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یې د تابعدارۍ امر شوی دی، نه قران کریم د طبابت کتاب دی، د طب برخه انسان په خپله تجربه زده کولای شي، قران د هغه شي لارښوونه کوي چې انسان یې په تجربه نه شي زده کولای، له دې امله قران کریم پر هماغو مسایلو تمرکز کړی دی. نو د نبوي طب په نامه کومه پدیده په شریعت کې نه وه او نه شته، اما زموږ په فهم کې تېروتنه ده.

لومړی باید دا زده شي چې په شریعت کې موږ د رسول الله ص صلی الله علیه وسلم پیرو یو نه په کلتوري او فطري کارونو کې او نه د علم په هغه برخه کې چې په تجره تر لاسه کیږي، لکه ساینس. قران نه د کلتور کتاب دی، نه د فطري کارونو د ښودنې او نه د ساینس. اما له دې هم انکار نه شي کېدلای چې په قران کریم او نبوي احادیثو کې د دې هر یوه د ځینو بېلګو ذکر هم شته. قران بشري ټولنې ته د یوه شرعي قانون په توګه راغلی دی هغه ټولنه چې کلتور، فطرت او ساینس یې د ژوند نه جلاکېدونکې اجزاوې وې او دي؛ له دې امله قران کریم د خلکو د پوهاوي، استدلال او قناعت په برخه کې د هره یوه یادونه کړې ده. دغه یادونه نو د دې سبب باید نه شي چې کلتور د قران په رڼا کې تعریف شي، نه هم د دې چې فطري کارونه دې موږ ته قران کریم را زده کړي، یا دې ساینس په قران کریم کې ولټول شي.

انسان په خپله پوهه کې تر اوسه دومره کمزوری دی چې د هغه پر پوهه د چاپیریال او خپل رواني حالت اغېزو مخه نه شي نیولای او ډېری کسان د خپل علم په مټ ټولنې ته د یوې ایډیالوژۍ پر تفسیر چې یې چاپیریال او رواني حالت تاثیر کړی وي، په هغه نه پوهېږي او نه دا درک لري چې بشر په دغسې یوه حالت کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې موږ په دې برخه کې ناتوانه یو یا هم د اړتیا له مخې دا کار کوو، نو باید د شریعت مسایل د ماهیت له مخې پر دوو برخو ووېشو:
یو: هغه مسایل چې عبادتي او تعبدي اړخ یې پر ټولنیز او کلتوري ډېر وي، لکه: لمونځ، اودس، روژه، حج او... د شریعت د دې مسلو په تفسیر کې باید تر بشري وسه هڅه وشي د شریعت پر متن او عملي تواتر اتکا وشي.
دویم: هغه مسایل دي چې کلتوري او ټولنیز اړخ یې ډېر وي، لکه: نکاح، فاتحه یا تعزیت، د جنازې او مړي ښخولو مراسم، د خوشالۍ مراسم که څه هم اخترونه وي او... د دې مسایلو په تفسیر کې دې ټولنې، د عربو کلتور او زموږ د ټولنې کلتور ته له اوله سره پام وشي، ځکه په دې برخه کې د عربو کلتور هم خپل پوره اغېز کړی دی، زموږ کلتور یې هم کوي، نو تفسیر یې باید داسې وشي چې اساسي هدف پکې له منځه ولاړ نه شي، نور که شکل او بڼه یې بدله شي هم پروا نه کوي، خو باید زموږ له کلتور سره اړخ ولګوي، د شریعت اساسي هدف لاس ته راشي او ټولنیز حساسیتونه ونه پاروي. مثلن: په نکاح کې ایجاب و قبول دی، شرعي اړخ لري، لمانځل، ډلونه، درېې، میلمستیا، خپل و ناخپل رابلل، یوه ورځ یا څو ورځې لمانځل یې کلتوري مسایل دي چې باید د شریعت له اړخه ګوتې پکې ونه وهل شي او نه پر خلکو خپلې خوښې حرامې کړل شي.
تعزیت کې هدف له نورو سره غمشریکي او هغوی ته تسلیت دی، بڼه یې لازمي نه ده چې څنګه باید ورکول شي، ځکه دلته کلتور دومره ژور اغېز کړی دی چې که له هغه پېژندل شوي کلتوري ډول پرته تعزیت ور هم کړای شي، ممکن د خلکو د خپګان سبب شي. ما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه، کندهار او کابل کې د خلکو د تعزیت ډولونه له نږدې لیدلي دي؛ ټول پښتانه دي، اما ډولونو یې ډېر توپیر سره در لود، که په کابل کې یو څوک دغه ټکی درک نه کړي، په لوی لاس د خلکو غټې ټولۍ ته ورشي او د کوټې له رواج سره سم تعزیت ور ته وړاندې کړي، نو امکان لري چې هم په دې تعزیتي غونډه کې د شخړې سبب شي او هم که دا کسان د خپلوۍ یا انډیوالۍ اړیکې سره ولري، پر هغو منفي تاثیر وکړي. د شریعت هدف تسلیت دی، دا که د رواج سره سم نه شي، نو د تسلیت پر ځای د لا غمجن کېدو سبب کېږي او د شریعت هدف له منځه ځي.

جنازه او مړی ښخول د کیفیت له مخې حتمن توپیر سره لري، شرعي هدف یې انسان ته درناوی، ژر ښخول دي چې بوی ونه کړي او دخلکو په وړاندې خراب نه شي څو بشري کرامت ته یې صدمه ورسېږي، دا چې څنګه یې ښخوي، د خلکو له رواج سره تعلق لري، د شریعت په نوم باید د عربي کلتور د مړي ښخولو بڼې پر ونه تپل شي.

اخترونه دوه اړخه لري، یو یې شرعي اړخ دی چې لمونځ پکې کېږي، حج پکې شته، سرسایه او قرباني لري، دا اړخ یې پر خپل ځای، له دې ماسیوا څو ورځې لمانځل یې، د اختر مبارکي ور کول، نوې جامې اغوستل، میلمستیاوې کول، له خپل رواج او کلتور سره سم اختر او نورې خوشالۍ لمانځل باید د شرعي تفسیر په نوم پر خلکو حرام نه شي، خلک پرېښودل شي چې خوشالۍ ولمانځي او انسان ته خوشالي ور کول خپله یو هدف دی چې په ګڼو بانو یې د ترورلو لپاره اګاهانه او نااګاهانه تر مقدس چتر لاندې کار ونه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند لومړی باید په شرعي تفسیر کې د احکامو ماهیت او شکل سره تفکیک شي، د شریعت تر ډېره حده ټینګار پر ماهیت وي نه پر شکل، یوه مهمه نکته بیا دا هم ده چې احکام په خپل منځ کې هم توپیر سره لري، پر ځینو یې عبادتي صبغه غوړېدلې وي او پر نورو یې کلتوري و ټولنیزه، د تعبدي مسایلو په ماهیت او شکل کې دې لاسوهنه نه کېږي، لمونځ دې په هغه بڼه وشي چې شرعي متونو او د اسلامي امت عملي تواتر ځنګه رانقل کړی وي، اما د تعزیت په برخه کې دې یوه خاصه بڼه پر خلکو نه تحمليږي چې د تسلیت پر ځای ناست کسان درسره په مناظره اخته شي او تر تسلیت ورکولو په دې خوشاله شي چې مه یې راکوه زما د غم پر ځای جنجال مه راته جوړوه. دلته هدف ډاډ ورکول او ځان ورسره په غم کې شریک ګڼل دي، دغه هدف چې په هره بڼه تر لاسه کېږي، باید مخه یې ونه نیول شي او د شریعت په نوم د خلکو ترمنځ د شخړو او خپګان اسباب مهیا نه شي.

۱۹/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرده له میرمنو د حق اخیستلو پلمه

د پردې مسله، په عمومي ډول د مسلمانانو لپاره او په خاص ډول د پښتنو لپاره له دې امله ډېره جنجالي مسله ده چې تر ډېره حده د هغې پر تفسیر د کلتور او فرهنګ اغېز پرې وتلی دی.
له دې مسلې سره داسې چلند نه دی شوی چې یوازې شرعي متن یې په اړه څه ویلي وي، هغو ته په کتو د مسلې ماهیت بیان شي. دا کار د انسان لپاره ګران هم دی؛ ځکه انسان په خپل تفسیر کې خود مختاره نه دی، بلکې محدودیتونه لري. د وخت، ځای، ټولنې، رواج، علم زیاتوالی او کموالی، شخصي ـ رواني صفات، ملګري، خطرونه او اقتصادي ستونزې ټول هغه محدودیتونه دي چې د انسان پر تفسیر خپل اغېز پرېږدي.
اما که هر څومره په دې پوښو کې د پردې مسله ونغښتل شي، موږ یې په تفسیر کې بیخي ډېر افراط کړی دی. زه دلته د دې مسلې پر ماهیت خبرې نه کوم، ممکن ټولنو او وختو ته په کتو څوک پرده یوازې پړونی بولي، څوک یې د اوس وخت تور حجاب وبولي او څوک یې شنه چادري و ګڼي؛ د هر چا د پردې تفسیر ته په احترام، خو داسې باید ونه شي چې پرده له ښځو د حقونو اخیستلو بانه شي.
میرمن چې په ټولنه کې د پردې هر مجسم تفسیر غوره کوي، د هغوی خپل واک دی، اما نارینه حق نه لري چې د پردې په بانه د هغو زدکړې محدودې کړي، له کاره یې منعه کړي، په مسجد کې او عیدګاه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمانځه ځای ورته جوړ نه کړي، بازار ته له راوتلو يې بندې کړي او داسې نور موارد.

په دې مسله کې شرعي اړخ او کلتوري اړخ يو له بل سره غېږ په غېږ شوي دي. د يوې پدېدې په اړه هغه وخت نظر ور کول يا نيوکه کول ډېر سخت شي چې هم ديني جنبه ولري او هم کلتوري. زموږ د ټولنې حجاب دواړه اړخونه خپل کړي دي، هر شی که وي، نوم د پردې ور کول کېږي، اما د پردې عملي بڼه تر شرعي صبغې کلتوري هغې ته ډېره نژدې ده.

ستونزه دلته ده که د اصلاح له امله د اوسنيو چادريو بديل وغوښتل شي هم خلک اوازې ګډې کړي چې پرده نه مني. که په پرده کې د مخ پټولو مسله مطرح شي، بيا هم له ورته غبرګون سره انسان مخېږي، په داسې حال کې چې دا له ډېره وخته د پوهانو ترمنځ اختلافي پاته شوې ده.

ستونزې به په ډېرو مواردو کې وي، هم به د دې مسلې د ماهيت په بيان کې وي، هم به د خلکو په درک کې وي، هم به د موضوع په دوه جانبي بعدونو کې وي؛ خو زما په نظر لويه ستونزه له شرعي –کلتوري يا يوازې شرعي يا هم يوازې کلتوري مسلو سره احساساتي چلند خرابه کړې ده.

شريعت د يو چا شخصي ملکيت نه دی چې بل څوک پکې د خبرې حق نه لري او نه هم کلتور شخصي ملکيت دی. شريعت هم د ټولنې لپاره دی او کلتور هم ټولنه پنځوي. ستونزه دلته را پيدا شي چې موږ له دې دواړو سره داسې چلند کوو لکه زموږ شخصي ملکيتونه چې وي؛ که يو څوک په ديني يا کلتوري مسله کې له عمومي رواجي ذهنيت څخه يو څه جلا نظر ور کړي، خلک داسې غبرګون ښيي لکه د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصي ګټې ته چې زيان رسېدلی وي، نه يـوازې نظـر بـه يـې سـخت وي، بلکې کنځل، ټاپې وهل او حتا د فزيکي زيان رسـولو ګواښـونه او ان ګواښ عملي کول ورسره مله وي.

د ټـولنې ځيـنې برخـورد هـم د دې سـبب شـوی دی چـې د جنجـالي موضوعاتو او مسلو په اړه عام بحثونه ونه شي، خلـك نـوك نيـولي پـه دغسې مواردو کې نظر ښکاره کوي، يا يې هم په دومره پوښونو کې پټ کړي چې خلك يې ځنې را ايستلای نه شي.

د پردې پر شرعي اړخ ما تر اوسه کوم بيان/ليکنه ونـه ليـدل چـې د دې موضوع ماهيت يې تر خپله وسه روښـانه کـړی وي، پـه دې اړه راغـلي اياتونـه او حديثونـه يـې يـو پـه بـل پسـې راوړي، ترجمـه کـړي او لـه مجموعي نصوصو څخه چې کوم مفهـوم فهمـول کيـږي هغـه يـې پـه روښانه ټکو خلکو تـه بيـان کـړی يـا ليکلـی وي. لـه دې سره چـې پـه ټولنيزو رسنيو کې د پردې خبره راشي، هر کس له ديني اړخـه د پـردې خبره کوي، يو هم دا نه وايي چې پرده يعنې څه؟ پرده يعنـې چـادري؟ تور حجاب؟ لوی پړونی؟ چې پـه دې کـې مـخ پـټ وي کـه ښـکاره؟ لاسونه او پښې يې پټې کړې وي که ښـکاره وي؟ پـه دې خـبرو سر نـه خلاصوو، اما د شرعي پردې غوښـتنه هـر يـو کـوي. د ښـار تـر خلکـو کليوال ډېـر د پـردې لېـوال دي، خـو پـه عمـلي ميـدان کـې دوی شـنه چادري پرده بولي، که له دې پرتـه يـوه ميـرمن بـل شـی د پـردې لپـاره استعمال کړي، ممکن يو کليوال يې بې پردې وبولي.

خبره دا نه ده چې خلك زموږ په ټولنه کې د پر دې مخالف دي، هيڅا هم ښځه لڅه بهر ته نه ده را ايستلې، ان هغه کسان چې مسلمانان نه دي هم د کلتور تر اغېز لاندې دي، دغسې يو کار چې د ټولنې ټول وکـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نه کوي يوه وړه کتله خلك يې هم نه شي کولای. نو بيا د پردې جنجال ولې پېښ دی؟ ښځې ولې په دغه نوم له خپلو حقونو محرومېږي؟

ستونزه زموږ په ذهنيت کې ده، د ټولنې د زياتره وګړو ذهنيت د پردې په باره کې د شنې چادرۍ دی، له دې پرته هغوی فکر کوي چې حجاب يا پرده يې نه ده مرعات کړې. که زموږ په ټولنه کې د يوې شرعي کلتوري مسلې په تفسير کې عملي متنوعې بڼې ته اجازه ور کړل شي، زه فکر کوم نه به ستونزې په دې برخه کې پېښې شي او نه به له ميرمنو په دغه نوم د حق خوړلو بانې پاته شي؛ البته له دې سره تړلی يو بل مهم ټکی د زدکړو د مختلط نظام دی، په دې اړه به يوه بېله مقاله کې بحث وکړم، دغه نکته هم په دې برخه کې ډېر مهم رول لري.

ډېری کليوال له خپله رواجه دفاع کوي او د زياتره ښاري ښځو تور حجاب ورته هيڅ نه ښکاري، د ښار يوه برخه خلك په ښار کې له شنو چادريو بد وړي او يو ډول يې د ښځو بې عزتي ګڼي. څوك چې د دواړو پر ځای پړونی وکاروي، هغه بيا بيخي حجاب نه بلل کېږي، ممکن ښاري او کليوال دواړه په بد نظر ورته وګوري.

که داسې وشي چې هر څوك خپل کار ته پرېښودل شي، د ښار فرهنګ ته کليوال درناوی وکړي، د کليوالې پردې بڼې ته ښاري خلك احترام وکړي، هغه ميرمنې چې پړونی کاروي، هم باپردې وبللې شي او د خلکو له توندو نظرونو سره مخ نه شي، څوك چې مخ نه پټوي، د هغو ښځو او نارينه وو له لوري بې پردې ونه بللې شي چې خپله مخ پټوي يا هم د کور ښځې يې مخ پټولو ته مجبورې کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په نظر دغه عملي تنوعـو اخـر یـوه بلـه نتیجـه ښـایي ولـري چـې د کلیوالو او ښاري خلکو د ټولو له ذوق سره برابره وي. امـا اوس زغـم او تنوع منل زموږ لپاره تر ټولو اړین دي.

د بې حجابۍ په پلمه ښځې له کار او زدکړو منعه کول سـتونزې کمـوي نه، نورې یې زیاتوي. نه ښځې اوس په دې قانع کېږي او نه نوره نـړۍ. زموږ ټولنه په دې توګه هم لـه بهـره تـر فشـار لانـدې کېـږي او هـم لـه داخله. له کاره او زدکړو ممانعت یې د یوه بل نسـل سره ظلـم هـم دی، یوه تعلیم یافته میرمن تر نالوستې ښځې خپل ماشومان ښه تربیه کوي او که له تعلیم سره مال هم ولري، دا نور علی نور دی.

که کلیوال کلتوري ذهنیت په وروستیو کې ډېره وده کړې وي، نو حلالار دې ورته پیدا کړي نه دا چې د کار او تعلیـم حـق لـه میرمنـو واخیسـتل شي. دواړه د هغوی مسلم حقونه دي، اخلاقیات، قانون او شریعت ټول یې د هغوی حق بولي، نو په بانو حقداره وګړي له حقه محروموم به هم په دنیا کې بدې پایلې ولري او هم به یې مرتکبین په اخرت کې د الهـي عذاب مستحق شي.

۱۷/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په شخړو کې را ګیر ولس ته!

اوبه خړې کړه، ماهیانو پکې ونیسه، زموږ د پښتو یو متل دی، زما په اند به دا متل تر هغه وروسته ویل شوی او مشهوره شوی وي چې په ټولنه کې همدا عمل بار بار تکرار شوی وي چې حکومتونه، واکمنه طبقه او اشراف هر وخت غواړي تر دوی په اقتصادي، سیاسي او علمي لحاظ د کښتې طبقې خلک په ځینو وړو مسلو کې ښکېل کړي او دوی خپلو لویو اهدافو ته ځان ورسوي.

تاریخ پوه او مورخ ډاکټر مبارک علي د هند په اړه لیکنو کې بیا بیا دا یادونه کوي چې انګریزانو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره په هند کې مسلمانان د نورو مذهبونو له پیروانو سره په شخړو اخته کړو.

د فرقو ترمنځ شخړو ته حکومتونه د همدې لپاره هوا ور کوي چې تر شا یې دوی خپل اهداف پټ کړي وي. په هند کې د نورو مذهبونو له پیروانو سره د مسلمانانو اختلاف هم د هند د مسلمانانو په تاوان شو او هم د نورو هندوستانیانو، په همدې اختلاف کې وینې توی شوې، کورونه وران شول، مذهبي ځایونه سپک شول، مقدساتو ته سپکاوی وشو، هغه انرژي چې د یو ملك د ترقۍ لپاره به کار شوې وای، هغه د ډلې او فرقې د ترقۍ لپاره وکارېده.

د پښتنو په منځ کې د لسو، شلو او سلو مذهبي و نامذهبي ډلو پیدا کول، ترمنځ یې اختلافات، مناظرې او شخړې د همدې لپاره دي چې د پښتنو لپاره حیاتي مسلو ته د هغوی ور پام نه شي، له اساسي مسلو د پام اوښتلو لپاره یې سل داسې بانې او لارې ورته پیدا کړې وي چې هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلې ته خپلې ادعاوې، وړې مسلې او موخې اساسي ښکاري، په داسې حال کې چې دا مسلې د ملت هیڅ نه شي دوا کولای؛ بلکې نور یې هم پر ستونزو اړوي.

په هیواد کې د مشرقي او جنوب د پښتنو ترمنځ سیاسي، کلتوري، ټولنیز او د ژبې د لیکدود اختلافاتو ته لمن وهل، هوا ور کول او د ولس پام ور ته را اړول د همدې لپاره وي چې ولس، د یوې ژبې خلک، د یوه ملت غړي، د یوه دین پیروان په دې مسلو کې داسې سره بند کړل شي چې بیا ترې د وتلو او دې مسلو ته د حل لار پیدا نه کړي، هغوی باید له ترقۍ پاته شي، د تعلیم پر ځای خپله انرژي دلته مصرف کړي، د دې پر ځای چې هیواد یو موټی وي، تر یوې سیاسي رهبرۍ لاندې وي، د دې هیواد وګړي د دې هیواد پر مختګ او د ملت سوکالۍ ته کار وکړي، پر ځای یې باید یو د بل پښې وکاږي، واړه مسایل لوی وښیي، واړه خلک پکې وپړسول شي، نااهله خلک په دې همدې اختلافاتو کې ځانونه مطرح کړي او خلک ناسم لوري ته رهبري کړي، که د وطن رښتنی خادم او د ملت واقعي غمخوار ولس سم لوري ته د رهبرۍ چاره پر غاړه واخلي، نو د سیمې استخبارات، په حکومت کې واکمنې کړۍ، اشرافیان او د هغوی خادمان ټول په یوه خوله د هغه کس/ډلې د بدنامولو هڅې کوي او ملت ته یې په ناسمونو نومونو ور پېژني، دروغ پسې وایي، اوازې پسې ګډوي، تبلیغات پسې کوي او چې خلک حقیقت ته رسېږي نو یوه پېړۍ پر تېره وي، او هغه مبارز کسان ستړي شوي، له منځه وړل شوي او پیروان یې له مبارزې ستړي شوي یا منحرف شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ لپاره دا مسایل اړین او اساسي دي چې د حکومت پلانـی وزارت مشرقي وال ته ور کړل شوی دی که کندهاري وال او که د فساد پر ضد د ولس بړغ پورته کول؟

د سلفي د پنچپیري په نامه خلك نفرت رابلل، د مذهب او طریقت پـه نوم خلکو ته د نفرت درس او په مسلمانانو کې د بیلتون پیدا کولو مسلې راته حیاتي دي که په دیني، ملي او کلتوري ارزښتونو د ملت یـو مـوټی کول به زموږ په دنیا او اخرت کې په ګټه تمام شي؟

د ملا، پیر، سید، ملك، خان، سیکولر، ډیموکراټ او ملحد و بې دینـه په نوم د ولس ترمنځ د نفاق تخم کرل زموږ د ملت سـتونزې اواروي او که هر یو چې بل وزغمي، یـو بـل تـه لاس سره ور کـړي او د هیـواد او ملت د ترقۍ لپاره ګډ کار وکړي؟

زموږ په منځ کې د توخي خان، د اڅکـزو ملـك، د نورزیـانو مشر ـ د کـاکړانو بـدمعاش، د کاسـیانو زورواکـی، د الکـوزو، پـوپلزو، ترکـي، سلیمانخیلو او پلاني و پلاني قومونو په نوم ملکان، خانان، یـا اتحـاد و ټولنې د همدې پلان برخه دي، حکومتونـه او هغـه څـوك چـې د یـوه لوی قوم په توګه زموږ سمه ورځ نه په هیواد کې غواړي او نه بل ځای، هغوی موږ پر وړو وړو ډلـو سره ویشي ـ. تاسـو وګـورئ چـې د پښـتنو ترمنځ څومره سیاسي، مـذهبي، فرهنګـي، قـومي او... ډلـې موجـودې دي؟

په هیواد کې چې د ولسواکۍ تمثیل کېده یا بل ځای چې د جمهوریـت په نوم ولس غولول کېږي، که هغه وخت د قومونو ترمنځ پر قومي مسلو شخړې وای، نو د اشرافو او واکمنو طبقو باك نه پـه کـاوه، کـه خـبره د مذهبي مناظرې وای، بیا هم ستونزه نه وه، اما که دې د هغوی پـر عیـب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته ور ايښې واى، بيا دې د سر خطره هم وه، د مال د خسارې وېره هم وه، زندان ته به هم بيول کېدلې او په ټولنه کې په هم لعنت لړل کېدلې.

په کندهار کې که چا ګمرک د غلا خبره کړې واى، نو بله ورځ به يې يو بل ته د شهادت مبارکۍ ور کېدې، که دې پر چارواکو د فساد خبره کړې واى، بله ورځ به ورك وې، اما په همدې کندهار کې د ملايانو ترمنځ څومره مناظرې وشوې؟ څومره اختلافات د همدې مذهبي ډلو ترمنځ وو او دي؟ د سلفي، ديوبندي، حنفي، پريلوي او صوفي په نوم څومره انسانانو يو د بل له لوري سره بدنام شول؟ ولې دې حاکمې طبقې د دې اختلافاتو د مخنيوي لپاره عملي ګام نه اخيسته، عملي ګام خو لرې خبره ده حتا د دې د حل لپاره يې پر يوه طرحه هم کار نه دى کړى.

عيني مسلمه په پاکستان کې ده؛ که په نصاب کې د خپلې ژبې لپاره څوك اواز پورته کوي، د هغه ږغ په ستوني کې بندوي، اما د قوم، سمت او مذهب په نوم فرقې بيا تر سلهاو اوښتې دي، چې په جنجالونو يې ټوله نړۍ خبره ده، که د دې اختلاف د حل غوښتنه وشي، واى د بيان ازادي ده، اما که د خپل حق غوښتنه وکړې، بيا دې وژني دلته بيا د بيان ازادۍ سر خوړلى دى.

که غواړې چې له دين څخه خلك لرې کړې، نو د مذهب په نوم ډېرې ډلې جوړې کړه، که غواړې چې خلك د يوه ملت او قوم په کچه له اساسي، حياتي او ملي مسايلو او موضوعاتو لرې وساتي، نو په وړو اختلافاتو کې يې سره اخته کړه، د قوم، سمت، ولايت، ژبې او معياري ليکدود په نوم وړې ډلې ورته جوړې کړه، دوى خپله له حياتي مسلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وړو اختلافاتو خوشاله وي او د ولس هم اساسي شيانو ته نه پام کېږي. چارواکي دې غلاوې کوي، فساد دې کوي، قاچاق دې کوي، بازار دې مافيا په لاس کې نيولی وي، خدمات دې په هره برخه کې صفر وي، له هيواد څخه دې پانګه بل هيواد ته وړل کېږي، خيانت، دوکه، چلول او په نامناسبو لارو د نورو مال خوړل دې د خلکو کسب شوی وي، خو يو څو مزدورانو او دلالانو به د قوم او ملت پام بل لور ته اړولی وي.

زموږ ملا ته دا مسلمه ډېره مهمه ده چې خلکو ته ووايي ډېر اولادونه راوړئ د نبي امت ډېر کړئ، اما دا مسله چې ساتل به يې څنګه کېږي؟ تعليم به يې وشي که نه؟ سمه تربيه به يې وشي که نه؟ موږ دې ټولو خلکو ته د خوراک، ښکلاک توکي او نور اړين مواد چمتو کولای شو او که نه؟او که د دې هر څه لپاره نړۍ ته خواستونه کوو؟ شريعت خو وايي چې خيرات کوونکی لاس غوره دی تر اخيستونکي، موږ ولې له نړۍ سوال کوو، ولې خپله دومره باهمته نه شو چې هغوی ته يې ور کړو؟ دا هر څه زموږ له ناسمې محاسبې او د دين له غلط تعبيره را پېښ دي.

موږ ته د ټول ملت تر ګټې د خپل جيب ګټه مهمه ده، تر حق راته د خپل ملا د خولې خبره مهمه ده، تر بشري ارزښتونو راته د کلي او سيمې رواجونه مهم دي، له نورو سره په واک تر شراکت راته په زور د واک انحصاري کول ګټور برېښي، کلتور راته په دين بدل شوی او بدلون يې راته د قران د يوه توري تبديلي ښکاري په هيڅ توګه يې د بديل په اړه فکر نه کوو که هر څومره مې په تاوان هم وي، په زيارت کې ناسته ښځه چې په شناخته کې ميخ ټکوهي، يا له ملنګ سره په يوه خونه ننوتلې وي، زموږ لپاره د شرم خبره نه ده، که د پير و فقير په کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مو شپې او ورځې ور ایله کړې وي، غیرت مو نه را پارېږي، که د حلالې او متعې (صیغې) په نوم یې په خپله خوښه د لنډ وخت لپاره نورو ته ور کوو، پر غیرت مو داغ نه لګېږي، اما که مکتب او پوهنتون ته وته زما لپاره پېغور ده، که خپل کار وکړي، زموږ غیرت یې نه شي برداشت کولای، که یوازې بازار ته راشي د کور لپاره اړینه سودا وکړي، موږ ته بې ناموسي ښکاري چې ولې یې له خلکو سره خبرې وشې، بې پردې شوه، دین ور کړی حق او د پردې په نوم ور باندې تپل شوې رواجي چادري ته سپکاوی یې بولو، اما بل لور ته همدا غیور، مسلمان او په دنیا و اخرت کې د دوی په اند د خدای خوښ پښتانه ښځې په بدی کې ور کوي، د خور او لور حق په میراث کې نه ور کوي، د خور او لور ولور خوري، خور او لور په پیسو پر زاړه او کانه خرڅوي، پر یوه ښځه باندې یوه بله، دوې ان درې ښځې هم کوي، دلته بیا نه غیرت ودرته درېږي، نه یې د مسلمانۍ له امله د خدای امرونه په یاد وي او نه د دنیا او اخرت د بریا سودا د ده فکر ور خرابوي، بس چې د هوس او خواهشاتو ځپه مو په زړه کې را ولاړه شي، ټول هغه صفات په خپله وتوږو چې موږ ځان ته په خپله تراشلي وي.

موږ حقیقت ته تن نه ور کوو، هر وخت په هغو کارنامو خوشاله کېږو چې موږ نه دي کړې، خو زړه مو غواړي چې په همدې کارونو دي زموږ ستاینه وشي. که د پېغور په توګه څوک راته ووایي چې په ښځو تعلیم نه کوئ، نو هر پښتون خوا بدوي، اما که پوښتنه وشي، نو پنځه فیصده خلک هم د ښځو تعلیم ته زړه نه ښه کوي، که ورته ووایي چې پر یوه مشر نه سره را ټولېږي، د یوه ملت په توګه مو څوک پر یوه محور نه شي سره را ټولولای، ټول خپه وي، د بل دسیسې یې بولي، اما

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمل کې د یوه ولایت اوسېدونکي هم دا نه شي ښکاره کولای چې موږ سره متحد یو، د یوې کوڅې خلک په اتحاد د خپلې کوڅې د پاکولو په اشر هم نه شي ثابتولای چې موږ سره متحد یو؛ زه پر ډېرو داسې کوڅو تېر شوی یم چې هلته جوړ شوي کورونه هر یوه له یوه لکه بیا تر څو لکو ډالرو قیمت در لود، خو د کور مخ ته به یې د کثافاتو انبار و؛ یو څوک چې د خپل کور مخ نه شي صفا کولای، د خپل ښار سړک، کوڅې او نالې نه شي صفا کولای، هغه به څه د اتحاد او یووالي دعوه وکړي؟ څومره به یې خلک ورسره ومني؟

زموږ افکار تر ملي مسلو پر قومي، سمتي، کورنیو او د یوه کلي پر مسلو ښه کار کوي، زما په کلي کې د مسجد له ملا سره بد نیتي وي، د کلي له ملک سره مې اخیستې وي، زما لپاره دا حیاتي مسله ده په هر ډول چې وي، زه باید خپل هدف ته ورسېږم، اما د دغه سړي لپاره دا هدف نه وي چې په زوی تعلیم وکړي، لور دې مکتب ته ولاړه شي، د خپل اولاد ایینده دې ور سمه کړي، د خپل کلي خلکو ته دې مالي گټه ورسوي، یو کلی مو له بل کلي سره په جنگ دی، یو قوم له بل سره لاس و گریوان دی، یو ملک د بل ملک بد وایي، یو خان د بل په غیبت نه مړېږي، یو ملا د بل نوم ور بدوي، یو پیر د خپل ځان په صفت نه مړېږي، یو تجار مو ټوله گټه ځان ته غواړي، یو چارواکی مو د خپل راتلونکي نسل لپاره هم دغه چوکۍ غواړي، ښځې زموږ لپاره ملکیت دي، که زه به کور کې هر بد ور سره کوم هیڅ پروا نه لري، اما که بل پر چادري برسیره ورته وکتل، بیا زما غیرت پارېږي، ما ته د ناموس بې عزتي ښکاري، که په یوه پاکه میرمن پسې د دروغو ازاوه گډه شي چې په اخلاقي فساد کې ښکیله ده، گرده خلک خبرې پسې-

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، څوك يې د خپل ځان او خپلې کورنۍ لپاره نه خوښوي، اما نارينه مو په ډاگه هلکان گرځوي، له ښځو سره اړيکې ساتي، خو د همدې کس لپاره که د نکاح او رشتې بڼغ وشي، هيڅوك يې هم له دوستۍ منعه نه کوي.

موږ ته تر ټولو ډېر تاوان موږ خپله رسولی دی، که واکمنه د اشرافو طبقه موږ د خپلو اهدافو لپاره کاروي، دا خو د هغوی ملامتيا ده، اما زه ولې ټول ژوند دهغوی لپاره کار وکړم؟ زموږپه وېش کې د ډېرو حکومتونو، استخباراتو، اشرافو، مافيا، زورواکو او نورو و نورو گټې دي، ځکه نو واړه اختلافات لوی شي، مړي پر وشي، او په داسې بديو پسې واړوي چې لسگونه کلونه واخلي د يوه مړي کيسه په څو مړو پسې بدله شي او په کسات پسې کسات، د يوه انتقام ختمېږي، د بل د هغه وار وي. څه چې روان دي؛ د پښتنو لپاره په خاص ډول او د ټول ملت لپاره په عام ډول د زياترو په تاوان ده، يوه ډېره وړه ډله په دې اختلافاتو کې خپلې شخصي گټېويني، د نورو نه شخصي گټې پکې شته او نه د ولس لپاره په عمومي ډول گټې لري.

۲۲/۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په غونډو کې د قران کريم تلاوت

د غونډو په پيل کې د قران کريم تلاوت يو معمول جوړ شوی دی، دا توپير نه کوي چې غونډه سياسي انجنډا لري که ديني، قومي و قبيلوي صبغه يې پر غالبه ده که ملي، د ستاينې لپاره جوړه ده که د څېړنې، د يو چا تلين دی که د کتابونو مخکتنه؟ بس چې هر ډول غونډه وي، د قران کريم اياتونه به پکې ويل کېږي.
دا کار که يو لور ته له رسول الله ص صلی الله عليه وسلم څخه ثابت نه دی، بل خوا يې د قران کريم اهميت را کم کړی دی، د دې پر ځای چې خلک قران کريم په غور ولولي، پيغام ته يې متوجې شي، فکر پکې وکړي؛ دوی يې په غونډو کې وايي، تر يوه ښه قران پوه د دوی لپاره يو ښه اواز لرونکی مهم دی، تر هغه کس چې د قران کريم پيغام خلکو ته په سم ډول ورسوي، هغه کس مهم دی چې د غونډې په پيل کې د قران کريم څو اياتونه د تبرک لپاره تلاوت کړي، بيا د غونډې په اخر کې دعا وکړي؛ نور که د غونډې په جريان کې په عمومي ډول د قران کريم له لارښوونو هر څومره مخالفې خبرې وشي، په خاص ډول د هغو اياتونو له هداياتو چې د همدې غونډې په پيل کې تلاوت شي؛ هم پروا نه لري، يوازې د اياتونو تلاوت غونډې ته برکت ور کړ.
هر شی که د دې سبب شي چې د خلکو توجو د قران کريم له پيغامه بل لور ته کړي، هغه ډېر بد دی، که د عبادت په ډول وي، بدعت دی، که غير ديني وي، له بدوالي سره وسيلې ته تر هدف ډېر اهميت ور کړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قران کريم يوازې الفاظ جالب نه دي، لوی کمال يې په هغه پيغام کې دی چې د بشر لپاره يې راوړی او د هغه په عملي کېدای يې له بدو ورځو ښو ورځو ته د تګ زېری ور کړی دی.

قران کريم په ګڼو ځايونو کې خلك دې ته رابللي دي چې تاسو له فکره کار واخلئ، د قران په پيغام او اياتونو کې فکر وکړئ، يوازې د تبرك لپاره نه دی، يو کس که په سينه پسې ټوله شپه قران کريم نيولی وي، خو سهار يې په هداياتو عمل نه کوي، دې کس ته د قران کريم ګوتخڼدونه ده چې عذاب به ور کول کېږي، زموږ ټولنه يوازې دې ته اړتيا نه لري چې په قران کريم تبرك تر لاسه کړي، بلکې په هغه پيغام عمل ته اړتيا لري چې د بشريت لپاره په دې کتاب کې راغلی دی.

بدمرغي او منحوسيت د انسان په اعمالو کې دی، انسان ته هر څه له خپله عمله ور پېښ دي:{قَالُوا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ} [يس: 19].

ترجمه: دوی ويل: بدفالي له تاسو سره ده. يعنې ستا عمل د بدفالي او بدمرغي سبب کېږي.

موږ ته قران کريم يادونه کړې ده چې دين هغه څوك زده کولای شي چې کوښښ ورته وکړي(عنکبوت: ٦٩) او د خپل ځان حال هغه څوك بدلولای شي چې جمعي هڅې ورته وکړي(انفال: ٥٣، رعد: ١١)؛ مګر موږ د دغه پيغام عملي جنبې ته نه ګورو، يوازې د کتاب په ورقو برکت راته کافي معلومېږي. نبي عليه السلام خلك د قران کريم زدکړې ته هڅول: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ».(١)

ترجمه: يقينن الله تعالی په دې کتاب ځينې کسانو ته عزت ور کوي او نور بيا په رسوا کوي.

"اللهم علمه الكتاب" .(٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: اې الله! په کتاب يې پوه کړه.

څوک په دې کتاب عزت تر لاسه کوي، څوک خوارېږي؟ قران کريم په ګڼو ځايونو کې ويلي:

{إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْراً كَبِيراً} [الإسراء: 9]

ترجمه: دغه قران په رښتيا ډېرې غورې لارې ته هدايت کوي او هغو مومنانو ته چې نيک کارونه کوي د ستر اجر زېری ور کوي.

په قران کريم کې هدايت دی، د عمل لپاره پکې احکام دي؛ که څوک په هدايت نه پوهېږي او په احکامو يې خبر نه وي، نو عمل به له کومه شي؟ دغه کس به هم په غونډه کې قران کريم وايي چې هم دی برکت تر لاسه کړي هم يې غونډه برکتمنه شي.

قران کريم د عمل کتاب دی، څوک چې عمل په وکړي هغه برکت ځنې تر لاسه کوي، څوک چې عمل نه په کوي، تلاوت يې د هغه لپاره د لا زيات وبال سبب کېږي، د يهودو په صفاتو کې الله تعالی ذکر کړي دي چې دوی د کتاب تلاوت کوي، خو عملي اړخ يې کمزوری دی:

{وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَى شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَى شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ كَذَلِكَ قَالَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ}.

[البقرة: 113]

ترجمه: او يهودو ويل، نصارا په ديني لحاظ هيڅ شی نه دي، او نصاراوو ويل، يهود په ديني لحاظ پر هيڅ شي هم نه دي، په داسې حال کې چې دوی کتاب هم تلاوت کاوه، د دوی په شان خبرې هغو هم کولې چې علم يې نه در لود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د يهودو او نصاراوو د اختلاف ته اشاره شوې ده چې دوی په داسې حال کې يو د بل دين او تدين ردول چې د الله کتاب يې هم تلاوت کاوه، د هغه پر پيغام يې خوړ نه نيوی، د الله کتاب چې په دې اړه څه ورته ويلي وو، هغه يې نه عملي کول، د تلاوت ترڅنګ يې په دين کې يو له بل سره اختلاف و. قران کريم وايي: د مکې مشرکانو هم د دوی په شان ويناوې کولې، هغوی هم نورو ته نسبت کاوه چې تاسو په ديني لحاظ پر هيڅ دين نه يئ، زموږ دين حق دی.

جالبه به هغه وخت وي چې دقران کريم دغه پاسنی ايت د هغې غونډې په شروع کې تلاوت شي چې يوې مذهبي فرقې د بلې مذهبي فرقې په مخالفت کې جوړه کړې وي، د ايت تر تلاوت وروسته سمدستي مناظر اسلام ووايي چې بريلوی په ديني لحاظ هيڅ شی نه دی، زموږ تګلاره ډېره قران او سنت ته نژدې ده، سلفيان هم ډېر افراطيان دي، د هغوی لاره هم ناسمه ده، موږ اعتدال مرعات کړی، شيعه بيا تر دې يادو دوو ډلو ډېر ګمراهان دي، خوارج بيخي د اسلام له دايرې وتلي دي.

نن چې موږ سترې مذهبي غونډې وينو، په سر کې يې د قران کريم اياتونه تلاوت شي، ورپسې د قران کريم د پيغام رسونې په پار علماؤ ته د وينا بلنه ور کړل شي، عوام د دې لپاره ورته ناست وي چې د خدای د کتاب په پيغام پوه شي، دوی چې را ولاړ شي، همدغه کيسه ورته کوي چې موږ پر حق يو، زموږ فکري مخالفين ټول پر ناحقه دي، د شيخ القران والحديث په القابو نازول شوی کس هم د دې پر ځای چې خلك د الله په کتاب پوه کړي، د رسول الله ص صلی الله عليه وسلم تګلاره ورته بيان کړي، د قران کريم د زدکړې فضيلت ورته ذکر کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بدو اعمالو يې نفرت په زړونو کې پيدا کړي، په ټولنه کې يې نيکو کارونو ته وهڅوي، تعليم ته يې تشويق کړي، زغم او صبر ته يې را وبولي، د يوه مسلمان پر بل مسلمان حقوق ورته بيان کړي، پر هر مسلمان د ناحقه ټاپو لګولو او تهمت ويلو ګنا ورته روښانه کړي، دی هم د مذهبي اختلاف لمن ونيسي، د اسلام د روح پر ځای له خپلې تګلارې د دفاع په لار کې د خپل ځان کارنامې ورته بيانوي، د خدای د عظمت پر ځای د خلکو عظمت ورته بيانوي، د دين د حقانيت پر ځای د خپل ځان حقانيت ورته بيانوي.

الله دې رحم وکړي، له موږ سره دې ټولو ته سمه لار وښيي، د ټولنې لپاره د پوهانو کار دا وي چې هغه ټولنه له انتشاره وساتي، متحده يې کړي، د ټولو اقشارو، فکري مکتبونو او ډلو لپاره مشترک ټکي پيدا کړي او پر همدې نکتو يې د متحد ساتلو په پار هڅې کوي، زموږ بدمرغي داده چې عالمانو مو د ټولنې د انتشار لپاره ملاتړلې ده، د مذهب او دين په نوم دغه انتشار به د ټولنې لپاره ډېرې بدې پايلې ولري، هيله ده خلک د قران کريم پر پيغام سره راټول کړل شي، نه دا چې د قران کريم په نوم سره وويشل شي، د رسول الله ص صلی الله عليه وسلم د طريقې په نوم اتحاد ته را وبلل شي، نه دا چې هغه طريقه د اختلاف ذريعه جوړه شي. په دې توګه به هم ټولنه خرابه شي، هم به دين بد نامه شي او هم به پوهان و عالمان خپل حيثيت پکې وبايلي.

۳۱/۱/۲۰۲۲

**سرچينې:**

(۱)( صحيح مسلم، کتاب صلاة المسافرين و قصرها، باب فضل من يقوم بالقران ويعلمه... ح: ۸۱۷)

(۲)رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قران د پوهېدنې اصول او تفسيري تګلاره

په قران د پوهېدنې او د تفسير لپاره يې ځينې ټکي بايد په نظر کې ونيول شي چې له قران څخه مفهوم اخيستل او په مطلب يې پوهېدل لوستونکي ته اسانه شي.

اول: قران کريم بايد په قران کريم تفسير شي، دا ځکه چې د قران ځينې مجمل اياتونه بېرته په قران کريم کې مفصل راغلي دي چې د تفسير لپاره يې خپله دغه اياتونه کافي دي.

دويم: قران کريم ته بايد په خالي ذهن راشو، هيڅ مخکنی فکر و دريځ بايد له ځان سره ونه لرو او د يوه فکري مکتب په پلوي به د هغه تفسير نه کوو، قران دې يوازې په دې نيت وکتل شي چې خپله قران کريم څه وايي؟ نه دا چې له قران څخه د خپل دريځ او خپل فکري مکتب لپاره د تاييد دلايل وتراشل شي.

دريم: د قران يوه برخه دې په بله نه وهل کېږي، د هغه اياتونه ددې لپاره نه دي چې خپله د هغه د اياتونو ځواب په وشي، يو له بل سره ټکر وبلل شي، دواړه يا يو له عمل څخه وايستل شي، بلکې قران کريم د زمانې په يوه اوږده پړاو کې راغلی دی، چې طبعن يې احکام تدريجي دي، د يوه شي په اړه د زمانې، مکان او د ټولنې حالاتو ته په کتو بېلابېل احکام ورکول شوي دي، په دې د پوهاوي لپاره بايد د هر يوه حکم د نزول وخت، تقاضا او هغه شرايط وکتل شي چې دغه حکم پکې راغی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم: د قران کریم الفاظ، اصطلاحات، جملې، کنایې، اشارې، ضمني مفاهیم، استعارې او هر څه د عربي ژبې دي، که موږ غواړو چې په مفهوم یې ځان پوه کړو، نو لومړی به عربي ژبه زدکوو، دویم به د هغه تفسیر، د یوې کلمې معنا، د یوې جملې مفهوم، استعاره، کنایه او هر څه د هغه وخت په عربي، د حدیثو په کتابونو، د اصحابو په اقوالو او د عربانو په اشعارو کې لټوو.

پنځم: د قران کریم ایاتونه یو له بل سره تړلي دي، ربط سره لري، یو یو یې تفسیرول یا له قران کریم څخه د یوه یا نیم ایت را اخیستل او بیا یې تفسیر ناسم کار دی، له قران څخه به داسې مفهوم نه اخیستل کېږي چې د اسلام له عمومي روح او د قران کریم له عمومي تګلارې سره مخالف وي، بلکې د یوه ایت په تفسیر کې به د هغې موضوع اړوند د نوور ایاتونو مفهوم ته پام کېږي بیا به یې تفسیروي.

شپږم: د قران کریم د ایت، جملې یا توري ګڼې معناوې کول، ناسم تفسیر دی، دا سمه ده چې یو لفظ، یا جمله یا متل به د څو مفاهیمو لپاره استعمالیږي، اما هر ځای چې وکاریږي، هلته خپل ځانګړی مفهوم ور کوي، ټول هغه مفاهیم چې دی ورته کاریږي هغه په یوه مشخص ځای کې نه ترې اخیستل کېږي، په دې سره خلک د قران کریم په تفسیر کې شکمن کېږي او اصل هدف ورکیږي.

اووم: تر وسه به هڅه کېږي چې د قران کریم مفاهیم په هغه ډول بیان کړل شي لکه څنګه چې یې د الفاظو، جملو او سیاق و سباق غوښتنه وي، مګر که یوه قرینه راشي چې لفظ او جمله له خپل اصل مفهوم څخه اړوي او تر حقیقي یې مجازي مفهوم قران کریم او په مجموع کې د اسلام روح ته نژدې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم: قران کریم اصل او متن دی، سنت او حدیث يې تشريح کوي، نـو په شرحه باید د قران قاطع احکام مات نه شي او نـه زيـاتوب پـر وشي، يوازې د تشريح برخه کې سنت او حديث کفايت کوي.

۲۱/۳/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په منصوصي مسايلو د پوهاوي لپاره

د يوې تاريخي قضيې لپاره اړينه ده چې د هغه وخت شرايط په پام کې ونيول شي، که موږ نن د احمد شاه بابا د وخت پر تاريخي پېښو څېړنه کوو، ملامت او سلامت پکې پيدا کوو، نو د هغه وخت له شرايطو سره سم به قضاوت کوو، د نن په عينکو کې که ورته وګورو نو د هغه وخت بيخي زيات کارونه او فيصلې به ناسمې راته ښکاره شي، له دې امله پر تاريخي پېښو د قضاوت لپاره د هغه وخت په حالاتو او شرايطوباید پوه شو، ټولنه، مکان و زمان به په نظر کې نيسو، که نه له دې پرته قضاوت به هسې د ړانده لکړه وي که هر ځای ولګېده.

شرعي نصوص هم د زمانې په يوه خاص مقطع کې راغلي دي، يوې خاصې ټولنې ته راغلي دي، چې په ځانګړو زماني و مکاني، ټولنيزو، سياسي، اقتصادي او پوځي شرايطو کې يې قرار در لود، د هغې ټولنې يو خاص کلتور و، ځانګړې ژبه يې وه، چې طبيعي خبره ده هره ژبه به د سونو کلونو تر تېرېدلو وروسته د هغه وخت له ژبې سره په هره برخه کې توپير ولري، يو متل، يوه اصطلاح، يوه قاعده او... کله له خاصو حالاتو، ځانګړي وخت، يا مشخص مکان څخه را پيدا کېږي چې د هغه حالت، وخت او مکان يا تقاضا هم يو خاص حد وي، ټول وخت نه پاتېږي، له دې امله نو په شرعي نصوصو کې چې کوم احکام راغلي دي، کومې لارښوونې دي، توصيې شوې دي، ترټنې، وعيدونه او ګوتڅنډنې دي، يا بل لور ته ثوابونه، ښيګڼې او نيکۍ دي، دا حتمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت تر حالاتو، ټولنې، وخت و زمان پورې په يوه نه يو ډول اړه لري، چې پرې د پوهاوي لپاره پر دې يادو ټکو نظر ساتل اړين دی.
په دې هر څه د ښه پوهېدلو لپاره بايد موږ دغه ياد هر څه تر نظر تېر کړو، له دې سره به په عربي ژبه هم پوهېږو، ټول هغه وسيله وي علوم او ذرايع به له يادو نه باسو چې له موږ سره د شرعي متن په پوهاوي او ترې په اجتهاد کې مرسته کوي، تر دې هر څه وروسته موږ کولای شو چې له شرعي نصوصو تر ډېره حده سم او درست استنباط وکړای شو.
په دې تګلاره موږ د عمومي او خصوصي احکامو تفکيک په اسانۍ کولای شو، اوږد مهالي او لنډ مهالي احکام پېژندلای شو، د فرضو، واجبو، سنتو او مستحبو توپير کولای شو، فرد ته متوجې اوامر له هغو جلا کولای شو چې ټولنې ته متوجې وي، په حکمت او فلسفه يې ځانونه پوه کولای شو، د وخت او حالاتو سره سمون ور کولای شو، د مکان او ټولنې له غوښتنو سره سم تفسير کولای شو چې نه به بې منطقه ښکاري، نه به يې معقوليت ختم شوی وي، نه به د دين او شريعت له عمومي روح څخه لرې شوی وي او نه به يې د ټولنې خلکو ته ستونزې را ولاړې کړې وي.

**يو مثال:**

په بخاري او مسلم کې يوحديث دی چې د جامې له ځړولو څخه منعه کوي: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ».(۱)

ترجمه: له رسول الله ص صلی الله عليه وسلم څخه نقل دی چې ده ويل: لنګ چې تر بجلکو کښته شي هغه به په اور کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه روایت د پوهاوي لپاره اړینه ده چې د هغه وخت ټولنه مطالعه کړو، د شان ورود په اړه يې فکر وکړو، حکمت يې وګورو او د دې موضوع ټول روایات هم تر نظر تېر کړو.

که ددې روایت الفاظ وګورو، نو يو ډول نيوکه دا پر کېږي چې که انسان ته وعيد وای، نو بايد د «ما» پر ځای يې «من» ويلي وای چې ما غير ذوي العقولو ته کارېږي او من ذوي العقولو ته استعمالېږي، نو که جامه په اور کې اچوي، د دې وعيد نو انسان ته ولې وشي؟

دويم دا چې عربانو پخوا د تکبر له مخې يوه غټه جامه د شا له لورې ځروله، په دغسې احاديثو کې زياتره هماغې د تکبر ځړول شوې جامې ته اشاره ده.

درېيم دا چې په نورو حديثونو کې له غه کاره په هغه صورت کې منعه شوې ده چې د تکبر په نيت وي، په يوه حديث کې دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا».(۲)

له ابو هريره رض روايت دی چې رسول الله ص صلى الله عليه وسلم ويل: د قيامت په ورځ الله تعالی هغه کس ته نظر نه کوي چې د تکبر له مخې لنګ ځروي.

د امام بخاري رحمه الله نظر هم دغه دی چې که څوک د تکبر له مخې جامه ځروي، هغه تر دې وعيد لاندې دی، ځکه يې باب کې د خيلاء يادونه کړې ده.

د هغې قاعدې له مخې چې د قران کريم ځينې اياتونه د قران کريم په نورو اياتونو تفسيرېږي او د حديثو دا هم دغه ډول، نو د مخکې مجمل حديث حکمت په دې وروستي حديث کې ذکر شوی دی چې که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبر له مخې دا کار څوک کوي، نو د خدای له قهر سره به مخ شي، اوس خبره روښانه شوه چې د جامو له ځړولو او څکولو ولې منعه شوې ده؟

**لنډیز:**

دا یو مثال و، چې ما غوښتل د خپلې خبرې لپاره یې د سند په توګه وړاندې کړم، په قران کریم او خصوصن په حدیثونو د ځان پوهاوي لپاره اړینه ده چې یاد کړي ټکي ټول په نظر کې ونیول شي.

په قران کریم که د استوی علی العرش، الهي معیت، ساق، ید الله، وجه الله او دې ته ورته نور موضوعات دي چې که د تفسیر په اړه یې دغه تګلاره په نظر کې نیول شوې وای، نو هغه اختلافات او بېلابېل افراطي دریځونه به نه رامنځته کېدلای چې اوس یې په کتابونه کې لولو، د خلکو ویناوې یې په اړه اورو او پر همدې اختلافاتو د یو بل د تکفیر شاهدان یو.

عیني مسله د حدیثو هم ده؛ که سم روایاتو یې له ناسمو بېل شوي وای، د تفسیر او تعبیر لپاره یې منطقي، معقوله، قران کریم ته نژدې، د دین له روح سره سمون لرونکې تګلاره غوره شوې وای، نو د دې اختلافاتو او ټاپو لګولو شاهدان به نه وای، اوس هم وخت لرو چې په دې اړه فکر وکړو، سمه تګلاره تعقیب کړو، نه یوازې د اختلافاتو د حل لپاره؛ بلکې د الهي کتاب د سم تفسیر او نبوي احادیثو د ښه تعبیر لپاره هم دا کار اړین دی، په دې سره به د اختلافاتو او تکفیرولو لړۍ یو څه سلو شي او خلک به د ارام سا واخلي.

۲۱/۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرچينې:**

(۱)صحيح البخاري، كتاب اللباس، باب ما اسفل من الكعبين فهو في النار، ح: ۵۷۸۷)

(۲)(بخاري، كتاب اللباس، باب من جر ثوبه من الخيلاء، ح: ۵۷۸۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په نصاب کې تر وخت تېر موضوعات

زموږ د مدسو او پوهنتون په نصابونو کې لا هم داسې مضامين تدريسيږي چې په نړۍ کې مصداق نه لري او د مصداق د پيدا کولو لپاره يې څو سوه کاله شا ته تګ کوو؛ يا هم داسې مواد دي چې ځای يې تر هغه ښه بديل نيولی دی، لکه مسواک ته برس، په خاورو لاس مينځلو ته صابون، د استنجا د ډبرو يا لوټو پر ځای تشناب کاغذ او داسې نور.

په شرعي متن کې د موضوعاتو دوه بعده دي، يوه يې له دې امله ذکر شوې ده چې ورته اړتيا وه، تر دې ښه بديل وجود نه در لود يا هم يوازې د انساني ټولنې اړتيا وه، لکه د مسواک بديل نه وو او د غلام يادولو يوازې اړتيا وه ځکه ټولنه کې لويه فيصدي وه، مجبورن بايد يوه حللاره ورته پيدا شوې وای. بل خوا د موضوعاتو اروايي و تعبُدي بعد دی چې د انسان له نفس او د خدای له عبادت سره تړلی دی.

نو کوم موضوعات چې تعبدي او اروايي اړخ لري، لکه: لمونځ او ماثوره دعاوې و اذکار، دا مواد تر وخت نه تېريږي هر وخت په ټولنه کې ورته اړتيا شته او بايد تدريس شي. بل لور ته هغه موضوعات دي چې يا يې بديل وجود نه در لود، لکه: مسواک، په لوټو يا تيږو استنجا، په خاورو د لاس يا لوښي مينځل، دا هغه شيان دي چې په تېر وخت کې يې ښه بديل وجود نه در لود. اوس بايد په کتاب کې د مسواک ځای برس او کريم ونيسي او که مسواک ياد شي په څنګ کې د برس او کريمو يادونه هم وشي، دا به ښه وي. همدا شان تر لوټو او ډبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشناب کاغذ ډېر ښه دی، باید د ډبرو و لوټو پر ځای نور کاغذ یاد شي او هم د لاسونو و لوښو په مینځلو کې د خاورو ځای شامپو و صابون ونیسي.

د فقهې په کتابونو کې راغلي دي چې تر استنجا وروسته به لاسونه پر دېوال مښي یا که په لوښي کې سپي وخټل هغه به په خاوره وهي، دلته هدف د لوښي او لاس پاکوالی دی، نو که له خاورې پرته دا هدف یو بل شي په ډېر ښه ډول ترسره کاوه، بیا به هم خاورې یادوو؟ په حدیث کې یې ځکه یادونه شوې وه چې شامپو نه وه، که شامپو وای، حتمن به یې یادونه کړې وه او خاوره به چا څه کوله؟

بل اړخ د غلامانو د موضوع دی، غلام د عربي جاهلي ټولنې لا ینفک جز و؛ که په شرعي متن کې د هغوی د ستونزو په اړه هدایت نه وای ور کړل شوی هم د هغه خت ټولنه په زحمت اخته کېده. د غلام یادونه د دې لپاره نه وه چې خلك د غلام نیولو ته وهڅوي، بلکې هدف په ټولنه کې د شته غلامانو ختمول وو؛ ځکه به یې په هر شي کې د یوه غلام د ازادولو توصیه کوله. اوس چې په نړۍ کې د غلامانو هغه پخوانی ډول ختم شوی دی، نور باید بحث ور باندې ونه کړو، خپل وخت په داسې بحثونو کې تېر نه کړو چې هغه ګټه نه لري او د تاریخ برخه ګرځېدلي دي.

د بشري اړتیا له مخې په شرعي متن کې د خلافت یا امارت یادونه هم شوې ده. عربو د رسول الله ص صلی الله علیه وسلم په وخت کې ټولمنلی نظام نه در لود، هغوی قبیلې وې او هرې قبیلې ځان ته واکمني او پاچاهي پر یوه موټي ځمکه کوله. رسول الله ص صلی الله علیه وسلم پوهېده چې پر عربو د یوه نظام په نه شتون کې دوی بیا په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځي جګړو سره اخته کېږي، له دې امله یې د یوه نظام بنیاد کېښود، په حدیثونو کې یې د همدې اړتیا له مخې یادونه هم راغلې ده. اوس چې خلافت وجود نه لري، نو په نصاف کې د خلافت په اړه بحث لوستونکو ته څه ګټه لري؟

باید پر دې بحث وشي چې د اوس وخت اړتیا څه ده؟ نړۍ نوره د خلافت دورې ته نه ستنېږي، په اسلامي دنیا کې د ملتونو وېش ته په کتو نور تر یوه خلافت او یوه واکداره لاندې د دې ګڼو ملتونو را یوځای کول شوني نه برېښي، تر دې دا ښه ده چې ملتونه پر خپل ځای ومنل شي، د یوه خلافت پر ځای د ګڼو ملتونو یوه اتحادیه رامنځته شي، د خلافت تر موضوع دا هم نوې ده، هم اوسمهال ممکنه ده او اسلامي نړۍ تر بل هر چا ډېره اړتیا هم ورته لري.

زموږ غلطي دا ده چې د یوه عیني شي له منځه وړلو باندې انرژي مصرفوو، د یوه تېر شي راوړلو ته کار کوو، اما دا نه شو کولای چې له عینیت سره د ټکر پر ځای باید تعامل وکړو، له نویو حالاتو او شرایطو سره باید مخ شو او حللار ورته وباسو. موږ ته اوس هم نړۍ د کفر او اسلام ترمنځ وېشلې ښکاري، فکر کوو چې زموږ اسلامي ورونه او اسلامي امت به له موږ سره مرسته وکړي، لاس به راکړي، د نامسلمانو همکاري به ایله کړي، اما عملن داسې هیڅ نه تر سترګو کېږي بلکې بالعکس خبره ده. نړۍ اوس پر ملتونو وېشل شوې ده، د پخوا په شان دیني هویتونه اوس په نړۍ کې مهم نه دي، ملي هویت سرې کرښې دي، نو تش په خیالونو کې خپل ملي هویت د دیني هویت په جذبه کې قرباني کول، د ځان غلول دي نور په عیني شرایطو کې هیڅ بدلون نه راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دا نه سنجوو چې زما مبارزه په نړۍ کې شرایط بدلولای شي که نه؟ که ټوله نړۍ کې ملي هویتونه وي، لا هم موږ دا درک نه لرو چې نور د پښخوا په شان نړۍ پر دیني هویتونو وېشل له امکانه وتلې خبره ده، اوس تر دې هویت خلکو ته ملي هویت مهم دی او د خپلو ملي ګټو په رڼا کې خپلې سیاسي، کلتوري، نظامي، اقتصادي او ډیپلوماټیکې اړیکې تنظیموي.

بشر له پیله تر اوسه ورو –ورو د تکامل پړاونه وهي؛ دلته تکامل په هغه ډول نه یادوم چې ډاروین یې یادونه کوي، بلکې له تکامله مې هدف له وروسته پاتیوالي او غیر عصریتوب څخه چټکوالي او عصریتوب ته د نړۍ کړندی سفر، موخه ده.

حج ته پښخوا خلك د کاروان په شکل تلو، میقات ته په رسېدو به یې احرام تړی، په دې کې به میاشتې لګېدلې، اما نن په الوتکه کې په ډېر چټك، خوندي او اسانه ډول حاجیان وړل کېږي.

جنګ کې اسان، تورې، غشي، نېزې او ډالونه کارېدل، اما نن طیارې، توپونه، ټانګان، موټر، وړې او غټې وسلې کارېږي.

د کښت په برخه کې همدومره بدلون راغلی، د تعلیم په برخه کې هم، د صنعت برخه بیخي حیرانونکې ده، د ژوند ډولونه بدل شوي دي، لنډه دا چې په هره برخه کې ژور بدلون راغلی دی او دا هر څه د تکامل په نتیجه کې راغلی دی.

حتا هغه ډلې/اشخاص چې په یو ډول هم تکامل نه مني، د هغوی په نظریاتو کې هم له ورایه تکامل جوت دی. د طالبانو په تېره دوره کې ټلویزیون ته اجازه نه وه، اوس شته، عکس بند و، اوس اخیستل کېږي، ښځې له کاره بندې وې، اوس ان د ټلویزیون پر پرده راښکاره کېږي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په حکومت کې کار ورسره کوي. دا د هغوی په نظریاتو او عمل کې ښکاره او محسوس تکامل دی.

د مدرسو اوسنی درسي نصاب بيخي تر وخت تېر دی. مواد يې هم ټول زاړه دي، حتا د عربي د زدکړې په برخه کې هم بيخي ډېر کمزوری دی او هيڅوک تـه د عـربي د زدکـړې تـوان نـه لـري. فقهي برخه يې همداسې، د تفسير، حديثو، اصولو التفسير، حديث او فقه، تاريخ، اخلاقياتو، جديدو معاملاتو، نړی والو اړيکو، د سياسي نظام ترکيب او بالاخره له ټولنې او نظام سره د تعامل او برخورد برخه يې هم په صفر کې ضرب ده.

د پوهنتون برخه هم تر مدرسې ښه نه ده، دلته هم د نړۍ د پوهنتوني نصاب په کچه خورا زياتې نيمګړتياوې شته، هم نصاب کمی لري، هم يې استادان لري، هم شاګردان، هم چاپيريال لوړو زدکړو ته نه دی جوړ او هم يې وسايل کم دي.

د مکتب او مدرسې له اولې ورځې موږ خپلو ماشومانو ته غير ضروري، تر وخت تېر او تر سويه لوړ مواد وايو، ور زدکوو او ويلو ته يې مجبوره کوو.

زموږ په دې برخه کې ډېرو سمونو، زياتونو، کمونو، سکنېلو، اخيستلو، غورځولو، بدلولو او اصلاح کولو ته اړتيا ده.

۲۲/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انځور اخیستلو شرعي حیثیت

انځور اخیستل هم یوه اختلافي موضوع ده، په دې اړه ګڼ کتابونه د بېلابېلو فکري مکتبونو ته منسوبو کسانو لیکلي دي. د کم کیف له یو څه اختلاف سره زیاتره یې په دې اند دي چې له اړتیا پرته انځور ناروا دی.

زما په اند که د دې موضوع ټول احادیث سره یو ځای شي، مطلق یې د مقید په رڼا کې وکتل شي، د حدیث شان ورود تر نظر تېر شي، که د حکم خپل خاص مورد وي، په نظر کې ورسره نیول شي، د واقعې په اړه راغلي احادیث که مطلق راغلي وي که مقید، شوې پېښه د هغه تفسیر وګڼل شي او په همدې رڼا کې دغه روایت شوي ټول احادیث تفسیر شي، هیڅ یو یې له نورو مجرد او بېل تفسیر نه شي، یوازې یو حدیث یې د حکم اخیستلو لپاره کافي ونه ګڼل شي، په دې توګه اختلاف هم له منځه ځي، که بیخي ورک نه شي کمېږي حتمن، د نصوصو سم، منطقي او معقول تفسیر به هم وړاندې شي چې نه به واقعیت له نظره لوېدلی وي، نه به نصوص مجرد تفسیر شوي وي، نه به شانزول او شان ورود له پامه اچول شوی وي او نه به یو نص په بل وهل شوی او ترمنځ به یې ټکر ته په لوی لاس زمینه برابره شوې وي.

تر دې وضاحت وروسته زه د انځور اخیستلو په اړه هغه روایت راوړم چې شان ورود یې خپله پکې ذکر شوی دی او د حکم حیثیت یې هم ځنې معلومېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ، وَأُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أُولَئِكَ، إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ، فَمَاتَ، بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكِ الصُّوَرَ، أُولَئِكِ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».(١)

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې ام حبیبې رض او ام سلمې رض رسول الله ص صلی الله علیه وسلم ته کلیسا ذکر کړه چې دوی په حبشه کې لیدلې وه، په هغې کې تصویران وو، رسول الله ص ص ورته وویل: د هغوی چې به نیک سړی وفات شو، دوی به یې پر قبر عباتخانه جوړه کړه، د هغه انځور به یې پکې نقش کړ، نو دا به د قیامت په ورځ د الله په خوا کې ډېر بدترین کسان وګڼل شي.

دغه حدیث د انځور هغه علت په ډاګه کوي چې ولې حرام شوی دی، شان ورود یې روښانه کوي چې دغه حکم تر چیشي ور کول شوی دی او دا هم روښانه کوي چې ایا دغه حکم خاص دی که عام؟

هر هغه تصویر چې خلک یې عبادت کوي، یا د تقدس تر حده ورته احترام لري، دغه انځور هر وخت حرام دی. له انځور څخه منعه د همدې لپاره وه چې خلکو یوازې د هغه کسانو انځورونه ساتل یا یې اخیستل چې تقدس یې ورته در لود، رسول الله ص ص یې علت بیان کړ، چې دغه انځورونه د هغو نیکانو خلکو وو، چې له دوی سره یوځای یې ژوند کاوه، کله چې به مړه شوو، خلکو یې د یاد تازه کولو په پار انځورنه جوړول، بیا به همدا انځور وروسته نسل ته پاته شو، هغوی به د خپلو پلرونو هدف ورک کړ، فکر یې کاوه چې هغوی یې عبادت کاوه، نو دوی به یې هم عبادت پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې د انځور د نه ساتلو عامل همدعه کېدلای شي چې ایینـده د عبـادت وسـیله نـه شي، حتـا دومـره سـختي پـر شـوې ده چـې مطلـق انځورونه یې بند کړي دي، یعنې یو ځای حکم له علت پرته ذکر شوی دی، یا ممکن رسول الله ص ص مطلق حکم ور کړی وي، یا ښایي لـه راویانو څخه مطلق روایت شوی وي هغوی یې علـت او شـان ورود نـه وي روایت کړی.

له انځور څخه که هدف د خلکو گمراه کـول وي، مـثلن: یـا د خـدایي عبادت پر ځای، خلك د هغه عبادت هم پیـل کـړي یـا یـې همـدومره احترام وکړي، یا هم دا فکر خلکو ته ور کړل شي چې انسان هم کولای شي چې د خدای په شان مخلوق جوړ کړي، نو د انسان انځور وبـاسي او پـه دې توگـه د خلکـو پـه اذهـانو کـې د خـدایي عظمـت د کمولـو شیطاني هڅه کوي، له دې امله هغو کسانو ته هـم گوتڅنډنـه شـوې ده چې په دې هدف انځور سازي کوي، روایت کې راغلي دي:

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مُتَسَتِّرَةٌ بِقِرَامٍ فِيهِ صُورَةٌ، فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ، ثُمَّ تَنَاوَلَ السِّتْرَ فَهَتَكَهُ، ثُـمَّ قَـالَ: «إِنَّ مِـنْ أَشَدِّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الَّذِينَ يُشَبِّهُونَ بِخَلْقِ اللهِ».(۲)

ژباړه: له عائشې رض روایت دی، دې ویل: رسول اللـه ص ص مـا تـه راغی، ما د نري ټوکر یوه پرده ځړولې وه چې پر هغې انځور جوړ شوی و، د ده د مخ رنگ سره واوښت، بیا یې پرده څیـرې کـړه، وې ویـل: د قیامت په ورځ هغو کسانو ته سخت عذاب ور کول کیږي چې له الهـي تخلیق سره مشابهت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه حدیث روښانه کړه چې له الهي تخلیق سره مشابهت کول، د الهي تخلیق له عظمت څخه د مخلوق غافله کول دغسې حرام دي لکه څوک چې د خدای له عبادته خلک گرځوي.

اوس خبره صفا شوه، د انځور د حرمت دوه اساسي عوامل دي چې دواړه یې له شرک څخه د اسلامي ایمان د ساتلو لپاره دي. که نن هم څوک د عبادت لپاره انځور ځړوي، لکه ځینو کسانو د پیرانو عکسونه په موټر یا رکشه کې ځړولي وي چې بیا یې موټر له اوښتلو بچ شي یا هم غلا نه شي یا دې ته ورته، دا حرام او مشرکانه عمل دی، یا دا هدف ولري چې د خدای له تخلیق سره مشابه تخلیق کوي، د دې لپاره چې د الهي تخلیق له امله چې د خدای کوم عظمت د مخلوق په ذهن کې دی، هغه ته صدمه ورسوي، نو دا شیطاني عمل دی چې خلک د مخلوق له خالقه گمراه کوي، الله به یې سخته سزا ور کړي.

که د انځور په اخیستلو کې دا دوه علته وجود ونه لري، یا هم دومره ورته اړتیا وي لکه د نن زمانې په ډیجټل نړۍ کې، نو بیا انځور اخیستل حرام نه دي، بلکې په ټولنه کې د امن، استقرار او مجرمانو د نیولو لپاره اړین دي، د کاروباري چاپیریال د خوندیوب لپاره لازمه ده چې ډیجټل وسایل وکارول شي چې د معاملاتو په برخه کې ډاډ رامنځته شي؛ نو نه یوازې انځورونه حرام نه دي، بلکې اړین دي.

**۲۶/۳/۲۰۲۲**

**سرچینې:**

(۱)(صحیح مسلم، کتاب المساجد و مواضع الصلاة، باب النهي عن بناء المسجد على القبور واتخاذ الصور فیها... ح: ۵۲۸)

(۲)(صحیح مسلم، کتاب اللباس والزینه، باب لا تدخل الملائکه بیتا فیه کلب و لا صور، ح: ۲۱۰۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له اوسني افغان دولت سره جنګ زموږ په ګټه دی او که تعامل؟

په هیواد کې د نظام تر سقوط وروسته ډېری کسان چې یا په خارج کې دي یا هم یې په تېر نظام کې کار کاوه په دې فکر دي چې باید د اوسني دولت خلاف وسله وال مقاومت وشي او دا زموږ د هیواد په ګټه دی، دوی د دې لپاره مبارزه هم کوي، په ټولنیزو رسنیو کې د دې لپاره فعالیت هم کېږي او که یو ځای یو غلچکی برید شوی وي، نو دوی ورته هوا هم ور کوي.

خو جنګ د دوکان یوه سودا نه ده چې که ګټه یې کړې وي هم تر یوه کوره به محدوده پاته شي او که زیان یې وکړ هم تر هغه کوره به منحصره وي، جنګ یوه ټولنیزه پدېده ده چې تخریب، زیان او ورانی یې نه یوازې د هغې سیمې اوسېدونکو ته رسېږي بلکې له هغې سیمې لرې پراته قومونه یې هم له تاثیراتو خوندي نه پاتېږي. نو د یوه داسې کار لپاره ډېر فکر په کار دی، په ډېره سنجېده ګي باید په دې اړه خبرې وشي، خلکو ته مشوره ور کړل شي او دې فعالیت ته لاس ور واچول شي، اما موږ که له یوه جنګه ځانونه خلاصوو، بل ته لاس ور اچوو.

د دغه جنګ شرعي اړخ څنګه دی؟ ایا په شریعت کې د یوه برحاله نظام خلاف یوې ډلې ته د جنګ کولو اجازه ور کړل شوې ده؟ د جنګ لپاره په شریعت کې کوم شرایط دي چې په بشپړولو یې د جنګ لپاره شرعي سند تر لاسه کېدلای شي؟

په دې لنډه لیکنه کې د اوسني دولت خلاف د جنګ پر شرعي او عقلي اړخونو لنډ بحث کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په دې لیکنه کې د شریعت له اړخه د جنګ لپاره ټول شرایط نه لیکم، البته دا یادونه کوم چې شریعت د یوه کار د قبولیت لپاره حتمن شرطونه ایښي دي، حتا که هغه فردي عمل هم وي، مثلن: لمونځ دی، که بې وخته لمونځ وشي، نو قبولیت نه لري، که بې اودسه وشي هم یې نه لري، داسې نور شرایط، نو د فردي او ټولنیز عمل ترمنځ د ځمکې او اسمان هومره فرق دی، د جهاد لپاره اساسي او مهم شرط د نظام وجود دی، یو نظام کولای شي چې د جنګ اعلان وکړي، ملت د جهاد لپاره وپاروي او خپل دښمن ورته مشخص کړي، له دې پرته هیڅ ډله او ګوند نه شي کولای چې د جنګ شرعي اجازه نامه تر لاسه کړي. دا چې په هیواد کې د طالبانو تحریک په زور سیاسي واک نیولی دی، نو اوس یې پر خلاف نورې ډلې ټپلې د جنګ تابیا نیسي.، جنګ ته خلک را بولي او یا یې عملن په دې میدان کې اقدامات کړي دي، دا کارونه یې له شرعي اړخه هیڅ جواز نه لري، ځکه دوی دولت نه دي، پر یوه لویشت ځمکه واک نه لري، د مالي تمویل سرچینې نه لري، دوی د بل تر حاکمیت لاندې ساحه کې اوسي، په مالي برخه کې یې نور دولتونه تمویلوي چې هغوی بیا په دې کې خپلې ګټې لري، هیڅوک هم د خدای لپاره کار نه کوي، هر نظام چې د یوه برحاله دولت خلاف مقاومتیانو ته مالي کومک ور کوي، ځای ور کوي، په روانې جنګ کې د هغوی مټ پیاوړی کوي، تر څنګ یې حتمن خپل اهداف لري چې په دې اړودوړ کې خپل ټاکلي اهداف تر لاسه کوي. په دې برخه کې د رسول الله ص صلی الله علیه وسلم عملي سنت زموږ لپاره د لارې مشال دی چې رسول الله ص صلی الله علیه وسلم په مکه کې جهاد نه دی کړی خو مدینه کې یې کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د دې ملاتړ نه کوم چې طالبانو په زور د واک په تر لاسه کولو ښه کار وکړ، زه هغه وخت هم د دې ملاتړی وم چې له سیاسي جوړجاړي سره طالبانو د هغه وخت د برحاله نظام برخه شوي وای، اما دا چې اوس طالبان راغلي دي، د هیواد سیاسي واګې یې په لاس کې دي، نو د دوی خلاف مقاومت به هماغه پایلې ولري لکه د تېر نظام خلاف چې د طالبانو مقاومت در لودې یا د کمونستې د دولت تر ړنګولو وروسته چې د مجاهدینو مقاومت در لودې.

د نیابتي جنګ اول لوی تاوان دا وي چې د هغه دولت لپاره بدیل نه لري، دا اوس موږ طالبان وینو چې د تېر فاسد او مات وګړوب نظام بدیل نه شي کېدلای، د هغه نظام تشه نه شي ډکولای، مجاهدینو د کمونستانو د دولت تشه ډکه نه کړه، نو که بله ډله د یوه برحاله دولت خلاف مقاومت کوي، موږ یې باید لومړی پر دې فکر وکړو چې ایا ته یې بدیل کېدلای شي؟ عقلن دا محاله ده چې د یوه دولت خلا دې یوه ډله ډکه کړي، موږ یې هم تجربه کړې ده او هم عقلن دا کار محاله دی.

دویم لوی تاوان یې دادی چې د نړدې هیوادونو لاسوهنې ته لار جوړوي، دغه ډله چې نه د خپلې سرپنا ځای لري او نه د مالي تمویل لپاره مالي سرچینې، نو حتمي خبره ده چې هم به د بل نظام تر چتر لاندې اوسي او هم به یې مالي ملاتړ نور نظامونه کوي، دا کار هغوی د ثواب لپاره نه کوي، د خپلو ګټو لپاره یې کوي او پر دې ډله خپل شرایط مني، چې دا کار یې هم زموږ د ملت او هیواد په زیان دی او هم د هغې ډلې د راتلونکي واک او قدرت لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریېم زیان یې دادی چې د برحاله نظام توجو له خدمت، فساد سره لـه مبارزې، د خپلو کسانو له اصلاح، د ولـس د ستونزو لـه حـل کولـو او نورو مهمو چارو څخه یوازې د ځان دفاع او د جنـګ پـر ګټلـو شي، جنګ فساد ته لار جوړه کړي، نـا اهـل کسـان پـر واک راشي، تعلیم لرونکي او شتمن له هیواده وتښتي، د شیانو نرخونـه لـوړ شي ځکـه د ګنټرول لپاره یې څوک نه وي او واکمن کسان په جنګ اخته وي، مافیا په دې لړ کې نور هم هڅه کوي چې جنګ خونړی کړي څو دوی پـه خړو اوبو کې ماهیان ونیسي.

د اوسني نظام خلاف وسله وال مقاومت څلورم دا زیـان لـري چـې تـر سقوط وروسته یې یا داعش بدیل کېږي یا هم هغه خارجي افغانان چې له نورو مفسدینو او جنګسالارانو سره یې د تېر نظام ملا ور ماته کـړه، د طالبانو په نسبت هم داعش د ملت او هیواد په تاوان دی او هم خارجي افغانان، داعش ځکه زموږ په زیان دي چې یو خو به هیواد د نړۍ والـو جنګیالیو لپاره پټنځی شي، له دې ځایه بـه مـوږ د نـړۍ پـه شر واړوي، زموږ له کلتور او دود سره نا اشنا دي، افراطیت یې د نورو ډلو په نسبت اوج ته رسېدلی چې زموږ د هیواد تاریخي اثـار بـه لـه منځـه یـوسي، د خلکو کلتور ته به سپکاوی وکړي، د معتدل تدین پر ځـای بـه افراطـي تدین ته ښه په خرپ کار وکړي چې د راتلونکو نسلونو ژوند به مـو هـم ور خراب کړي.

خارجي افغانان هم د وطن له دې امله په تاوان دي چې هغوی له هیواد سره مینه نه لري، دوی دلته له خطرونو سره ځکه راغلي وي چې خپـل جیب ډکوي، په اروپا او امریکا کې د خپـل ښـه ژونـد لپـاره دلتـه ډالـر ګټي، ځیني یې د هغو هیوادونو د استخباراتو کسـان وي چـې دلتـه پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی لاس شر غواړي، نو تر ګټې یې موږ ته تاوان ډېر دی، البته په دې افغانان کې به یې وړه سلنه پر وطن او ملت مین کسان هم وي چې هغوی ترې مستثنا دي.

زموږ په اند موږ بیخي ډېره جنګي تجربه لرو، ګټه مو نه ده کړې، که د طالبانو پخوانی نظام پاته وای، تر اوسه به دوی له حکومتداري سره شناخته شوي وای، یو نسل به یې په ښارونو کې را لوی شوی وای چې هم به له ښاري فرهنګ سره بلد وای، هم به یې تعلیم کړی وای، هم به له حکومتداري سره په تعامل کې را ستر شوي وای نه له حکومت سره په جنګ کې؛ په دې توګه به طالبانو له اوس سره توپیر در لودی، نه به دومره ورانی کېدلای، نه به وژنې، نه افراطیت دومره وده کولای او نه به ملت دومره خوږ وای، د دې ټولو اشتباهاتو یوه برخه د طالبانو او یوه برخه یې د نړۍ والو وې چې موږ یې تر دې ځایه را ورسولو، نور باید د سوټي زور ازمویل ایله کړو، کړې تجربې زموږ د کړوسیانو لپاره لا کافي دي، نور د تعامل وخت دی، راځئ له طالبانو سره تعامل وکړو، که دوی هر څومره هم سختدریځ دي، توند دي، د واړه کار په وړاندې یې غبرګون سریع او توند وي، بیا هم زموږ تعامل به هغوی اړ کړي چې په ایینده کې نرم شي، د هر عمل په وړاندې نامناسب، چټک او توند عکس العمل ښکاره نه کړي، حکومتولي هغوی خپله حتمن نرمښت، له خلکو او نړۍ سره تعامل ته را بولي او په لنډ وخت کې به یې شاهدان شئ، د بل هیواد د استخباراتي سازمانو تر سختو شرطونو منلو زموږ لپاره دا ډېره اسانه ده چې له طالبانو سره تعامل وکړو، خطا یې ور په ګوته کړو، هلته د کادرونو رامنځته شوې خلا په خپله ډکه کړو، نورو هیوادونو ته د مداخلې چانس ور نه کړو، په دې سره به هم نظام وساتو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم به هیواد او ملت وساتو، هم به طالب تعامل ته اخیر اړ شي او هم به له نړۍ سره اړیکې ورغوو او د هغوی باور به تر لاسه کړو، که موږ هره ورځ یو نظام چپه کوو او بل واک ته رسوو، نو نه به ملت راباندې را ټول شي نه به نړۍ باور وکړي او په لوی لاس به د هیواد ټوله شته گاونډیو هیوادونو ته مفت ور کړو او اخیر کې به د هیواد شته جغرافیه هم د نورو ترمنځ تقسیم شي او موږ به ړدې سترگې ورته گورو لکه د احمد شاه بابا د لمسیانو جنگونو چې همدا پایلې در لودې.

۲۰/۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تکبر مفهوم

زموږ خلك د تكبر په مفهوم او مصداق خبر نه دي، لـه دې وجـې كـه دې ښه جامه اغوستې وه، متكبر دې بولي، كه دې ويښتان پاك او غوړ كړو، متكبر دې ګڼي، كه ښه موټر دې در لود، متكبر يـې، كـه دې پـه كاچوغه خوراك وكړ، متكبر يې، كه د په خوراكي شيانو كـې يـو شـى خوښ نه و، متكبر يې. زما په ياد دې چې مور ته بـه مـې ويـل، پلانـى شى زه نه خورم، زما نه دى خوښ؛ دې به ويل: دومره تكبر كوه، چـې ځان خواروې، دومره مه كوه چې جهان خواروې.

تكبر عربي تورى دى، د لغت له مخې لويي ته وايي، تكبر فلان، يعنې استكبر، معنا ځان يې لوړ وښـود، د شريعـت لـه مخـې چـې كـوم ډول تكبر حرام ګڼل شوى دى، د هغه په اړه يوه نبوي حديث كې راغلي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَـدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ» قَالَ رَجُلٌ: إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً، قَالَ: «إِنَّ اللهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ، الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ، وَغَمْطُ النَّاسِ».(١)

ژباړه: عبد الله بن مسعود رض له رسول الله ص ص څخه روايت كړى، ده ويل: د چا په زړه كې چې يوه ذره تكبر وي، هغه جنـت تـه نـه شي تلاى. يو كس ويل: سړى دا خوښـوي چـې جامـه يـې ښايسـته وي او څپې يې ښكلې وي،(دا تكـبر دى؟) ده ويـل: اللـه ښـكلى دى ښـكلا خوښوي، تكبر له حقه انكار او د خلكو سپك ګڼل دى.

حديث خبره روښانه كړه، څوك چې په حق له پوهاوي سره د هغه اتباع نه كوي، حتمن متكبر دى، څوك چې خپل ځان پر خلكو لـوړ بـولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک تحقیروي، ریشخند په وهي، ځان ورته ډېر اوچت او نورو تـه ورتـه پست ښکاري، هغه متکبر دی.

د شریعت له مخې دغه تکبر حرام دی، خلـک سـپک ګڼـل، لـه حقـه انکار کول، د یوه انسان په هر فعل او کړنه چې د نورو سپکاوی کیږي، خلک تحقیرېږي او دی ځان لوړ بولي، هغه تکبر دی او حـرام دی. دا نو د ټولنو تر رواجه تعلق لري، عربانو د اصحابو په زمانه کـې د اوږدې جامې کولې، پر جامو برسېره یې غټه کپړه اغوسته چې پر ځمکه به یـې کشوله، په دې توګه یې ځان د ټولنې مسکینو کسانو ته ډېر مصرفـي ور ښودی، دا د تکبر له امله هغوی کول، ځکه نـو رسـول اللـه ص ص تـر بجلکو کښته جامه حرامه کړه، هدف اصلن تکبر دی، په قران کریـم کې راغلي دي چې له یو چا سره که خبرې کوې، نو څنګ مه ور ګرځـوه، د رسول الله ص ص په اړه راغلي دي چې هغه به مخامخ له یو چـا سره خبرې کولې، په حدیث کې راغلي چې په وریـن تنـدي خـبرې کـول، ملاقات کول صدقه ده، دا ټول د تکبر د مخنیوي لپاره دي.

زموږ په ټولنه کې یو وخت خلکو د پایڅو د کښته کولو پر ځای به یـې دومره پورته کړې وې چې له ګونډو سره به یې درولې وې، ټول خلـک پوهېدل چې دغه کسان د نورو سپکاوی کـوي، پـر مـازي خـبره بـه لـه خلکو سره اخته کېدل، په خلکو پسې به یې نارې وهلې، له ښارا راغلي خلک به یې ښارایان بلل او سپکاوی به یې کاوه، خولۍ یې چپه پر سر کولې او پټو به یې یوه پیڅکه پر ځمکه ښکېده او بله به یې پـر اوږه را اړولې وه، دغه کسان طالبانو د خپل حکومت مهال بند کـړو، د طالبـانو تر واک وروسته په کندهار کې د حکومت له لوري هم بند شـوو او پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل کې به کله ناکله د يوه مشهور کس د تلين پر وخت را ښکاره کېدل.

يو بل ډول تکبر زموږ په ټولنه کې ډېر رواج دی چې خلکو ته خبرې کوي، ورته ګوري نه، مخ يې بل لور ته اړولی وي، بيا خبرې ورسره کوي، دا يو ډول سپکاوی دی، که يو شی در کوي، نو په لاس کې يې د درکولو پر ځای در غورځوي، د چا چې احترام کېږي، هغه ته شی په غورځولو نه ور کوي، څوک چې تر نظر سپک ورځي، هغه ته يې په ور غورځولو ور کوي.

په کاچوغه خوراک، ښې جامې اغوستل، ښې څپلۍ، ښايسته خولۍ، ښه ويښتان، بهترين موټر يا دې ته ورته شيان د تکبر په ټاپه بايد حرام نه شي، البته که څوک په موټر کې سپرېږي او پر لار د نورو خلکو د ناستې پر ځای يا د تلو پر وخت پر خلکو دوړې په کوي، دا بيا د خلکو سپکاوی دی، پر انسان دوړې کول، هغه ته اذيت دی او دغه موټر يې واقعن د تکبر نښه ده چې د خلکو سپکاوی د خپل موټر په وسيله کوي. له دې ماسيوا دغه شيان د خدای نعمتونه دي چې الله پر خپل بنده د خپل ور کړي نعمت اثر ليدل خوښوي، نو بايد اثر يې معلوم شي .

**۲۶/۳/۲۰۲۲**

**سرچينه:**

(۱)(صحيح مسلم، کتاب الايمان، باب تحريم الکبر و بيانه، ح: 91)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ثواب او عذاب نیمګړی تفسیر

د دیني تفسیر له زاویې زموږ د ثواب او عذاب تفسیر خورا ډېرې نیمګړتیاوې لري. زموږ واعظین د وینا لپاره مناسب کسان نه دي، نه یې د وینا طرز د ویناوال دی نه یې معلومات د دې دي چې د وینا پر ستېج/منبر دې ودرېږي، نه د وخت او حالاتو موافق موضوع انتخابولای شي، نه د ثواب او عذاب په بیان کې انډول ساتلای شي او د ګڼو نورو ستونزو ترڅنګ د ثواب او عذاب تفسیر یې له بې انډولۍ سره سخت نیمګړی هم وي.

نیمګړتیا یې دا وي چې د ثواب او عذاب په اړه راغلي نصوص یو د بل تر څنګ نه ږدي، د دې نصوصو په تفسیر کې د دین اوشریعت عمومي محتوا ته پام نه کوي، د اسلام اساسي پیغام له نظره وباسي او که د ثواب په اړه یوه جمله په درست ایت یا حدیث کې راغلې وي یا د عذاب، دوی یې سیاق و سباق نه ورسره ګوري، بس د همدې یوې جملې مفهوم بیان کړي او پسې ټاپه یې کړي. که دغه کار دې وکړ جنت ته ولاړې او که دې هغه کار وکړ، بېرته راووتې دوزخ ته ولاړې!!!

خطیب صاحب مبارکه! دغه ایت یا حدیث یوازې یوه کړۍ ده؛ یوه کړۍ له درست ځنځیر پرته بې معنا ده، کړۍ خپل ښه کار هغه وخت کوي چې له نورو کړیو سره وتړل شي، نو پوره ځنځیر ځنې جوړېږي او خورا ډېر کارونه ترسره کولای شي.

دغه هر ایت او حدیث به هم وړل کېږي، له خپل ځنځیر سره به یوځای کېږي؛ لکه یوه کړۍ چې د تړلو لپاره کار نه شي ور کولای، همدغه ډول یو ایت یا حدیث د جنت او دوزخ په پرېکړو کې هم کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شي کولای. په شریعت کې اصولي او اساسي موارد باید له جزي او فرعي مواردو څخه بېل کړل شي. له جزیاتو او فروعاتو سره تړلي نصوص په یوازې سر نه تفسیرېږي، که یې تفسیر کړي ناسم تفسیر به یې وړاندې کوي. د شریعت اصول به هر ویناوال و خطیب ته معلوم وي، که د فروعاتو یا جزیاتو خبرې کوي هیڅ نص به داسې نه تفسیروي چې له اصولي موضوعاتو سره ټکر وي، زموږ د یناوالو یوه لویه غلطي همدا ده چې خلک یې په وړو شیانو خوشاله کړي وي، بیا نو د بل حق دی نه ګڼي لکه تنزیهي مکروه. بل لور ته یې د ټلویزیون پر کتلو دومره سخت عذاب بیان کړی وي چې د خلکو یې هیلې ور مړې کړې وي خو د اخلاقیاتو، انسانیت او په ورین تندي له خلکو سره مخامختوب به یې نه وي ور ښودلی. تسبیح ویل د یوه سړي شخصي-کار دی، اما په معامله کې ناغېړي یې ټولنې ته زیان دی، تر تسبیح زدکولو لومړی د بل حق ور ښودل او ګنا یې بیانول اړین دي، عینن د ټي وي او اخلاقیاتو مسله ده؛ که یو څوک ټي وي ګوري خپل کار یې دی ټولنې ته یې زیان نه دی رسولی، په خپل کور کې په خپل مصرف یې له خلکو پټ ګوري، اما د بده اخلاقه او بد خویه انسان خو ټولنې او ځان دواړو ته غبرګ تاوان رسېږي.

د جنت اسباب دي که د دوزخ دا یو له بل سره قوي یا نسبتن ناقوي ارتباط لري؛ که یو څوک لمونځ کوي خو د یتیم حق نه ور کوي، دا ښه سړی دی؟ که یو څوک غل وي، خو پایځې یې تر نیمایي پنډۍ پورته کړې وي، دا جنتي دی؟ یو څوک نفلي روژې نیسي، اما په کور کې یوه خبره سمه نه کوي، تل یې سوټی په لاس کې وي او خپل کورنیان ډبوي، دا بزرګ دی؟ بل سړی په جګه غاړه حج ته روان دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حجه چې راشي له کور سره مسجد جوړ کړي، کله ناکله د یوه گاونډي کره یو خیرات هم ور لېږي، خو پیسې او گټه یې ټوله د قاچاقو ده؛ دا د جنت مستحق دی؟!

یوه بله ستونزه په ټولنه کې د لومړیتوب د نه رعایت ده، همدغه د ثواب او عذاب ویناوال چې له یوې خبرې سره یې د جنت کیلي په لاس کې وي، له بلې سره یې د دوزخ هغه تیاره درته نیولې وي، دا نه فهموي چې اخلاقیات مهم دي که دغه د جنت او دوزخ کیلیانې؟ معاملات لومړیتوب لري که سبحان الله خلکو ته ورښودل؟ له قتل او غلا خلک رامنعه کول د ټولنې په خیر دی که له ټې وي کتلو؟ د کرکیټ بدي خلکو ته بیانول ډېر اړین دي که د یوه ملت د عامه شتمنیو د ورانولو، غلا و چور د بدۍ بیان؟

د اختر او جمعې خطبې تر ډېره حده سیاسي بڼه لري، رسول الله ص صلی الله علیه وسلم پکې د سیاست او ادارې په اړه خبرې کولې، د وخت امیر او امیرانو به دا کار کاوه، ورو – ورو د امیرانو چارې زیاتې شوې، یو څه یې اعمال هم داسې شول چې خلکو یې تر شا لمونځ کول نه خوښول او بل یې پوهه هم دومره نه شوه پاتې چې خلکو ته بیان وکړي؛ نو منبر له سیاسته ازاد شو او د ناسیاسي اشخاصو لاس ته ورغی چې د امیرانو تر ستونزو یې ډېرې ستونزې وزیږولې. اوس یې حل دادی چې خطیب باید د دولت له لوري معرفي شي، تنخوا او منفک کېدل یې په دولت اړه لري، د بیان لپاره به یا لیکلې خطبې ور کوي یا به حدود و چوکاټ ورته ټاکي چې له دې حدودو به د خپلې وینا مهال نه وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ بدمرغي داده چې دولتونه مو پر هغه ځای نظارت نه کوي چې د ټولنې د خرابۍ او د ښه والي اساسي مرکز دی؛ پر يوه سنتي مذهبي ټولنه د منبر او مسجد اغېز دومره زيات دی چې بل هيڅ شی ورسره پرتله کېدلای نه شي. د مسجد امام او د منبر خطيب که د يوې ټولنې په خير کار وکړي، هغه ټولنه به نيکمرغه کړي او که يې بدبختۍ ته لاس واچاوه، بدمرغه کوي يې. دومره مهم ځای بې څارنې او ارزونې ايله کول نه بشري اخلاق ايجابوي، نه قانون او نه هم شريعت.

حالات، ځای، وخت، نظام او ټولنه د خپلو گټو او زيانونو لوری بدلوي را بدلوي، مثلن: کله يوه ټولنه بشري قوې ته اړتيا لري او کله يې تر اړتيا زياته وي؛ که دولت او ټولنه ورته اړتيا لري بايد خلک دې ته وهڅول شي چې اولادونه ډېر کړي او که په سرخوړي ورته بدلېږي، بيا دې د کمولو توصيه ورته وکړي.

د اولاد زياتولو مطلقې توصيې زموږ ټولنې ته په زيان هم تماميږي، د زيات اولاد راوړلو په اړه راغلي احاديث دوی نه دي کتلي چې دا په کومو شرايطو کې ويل شوي دي؟ داسې خو امکان نه لري چې رسول الله ص صلی الله عليه وسلم دې له ټولنې سره تړلې دومره مهمه موضوع له هر ډول ارتباط، مخکې او وروسته کلام پرته ويلې وي؛ نو د دې وينا نوره برخه چېرې ده؟ ولې يې کړې ده؟ په دې اړه نور نصوص څه وايي او اصحابو کرامو په نبوي دوران کې له دې موضوع سره څه ډول چلند کړی دی؟ د دې حديث سند په کوم حال کې دی؟ ايا دا خبره په همدې سند تر رسول الله ص صلی الله عليه وسلم پورې رسيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل اړخ یې دادی چې اوس زموږ د ټولنې په خیر د زیاتوب توصیه ده که د کمې؟ حالات کوم ډول توصیه ایجابوي؟ دولت او ټولنه د دې لپاره څه کوي؟ که ټولنه او نظام دې د زیاتو کسانو بوج نه شي پورته کولای، د تعلیم غم یې نه خوړل کیږي، خوراك ورته نه رسیږي، کار یې نه پیدا کیږي، د یوې گولې لپاره یا نړۍ والو ته زارۍ کوو چې موږ له لوږې مرو، کومك راسره وکړئ یا هم د کډوالو سیلابونه نورو هیوادونو ته روان وي، دا اولاد چې ډېر شي مور و پلار، ټولنې، وطن، نظام، دین، شریعت او بالاخره په قیامت کې به یې رسول الله ص صلی ته څه گټه ورسیږي او هغه به یې په کومه کارنامه ویاړ وکړي؟ د نورو امتونو په نسبت خو یوازې ډېرښت د ویاړ لپاره کافي نه دی، که ډېر وي او قاتلان وي، غله وي، خدای ناترسه وي، له دینه لرې وي، بد اخلاقه وي، بې تعلیمه و تربیې وي، کار نه لري، ژوند یې په فقر تېر شوی وي، جنت ته د تلو لپاره ورسره هیڅ نه وي، خو د دوزخ لپاره یې ښه ډېره تیاري کړې وي؛ په دې امت به رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو امتونو مخ ته ویاړ وکړي که به د امت پر حال افسوس؟!

د یوه ملا بیان یو چا په را واورېدی، خلکو ته وایي، که څلوېښتو یا سلو کسانو د یوه مړي په جنازه کې گډون وکړ، الله یې بخښي.

دا له حدیثو او په مجموع کې له شریعت او دین څخه ناسم فهم دی. پر یوه انسان که د بل انسان حق وي، یا یې قتلونه کړي وي، غلا و فساد یې کړی وي، جامعې ته یې ضرر رسولی وي، چې دوه میلیارده انسانان یې د ښه والي شاهدي ور کړي، هم نه بخښل کیږي. لومړی به د خلکو حسابونه تصفیه کیږي، بیا به وروسته د الله او د هغه ترمنځ معامله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتېږي، چې که يې بخښي هم د هغه خپله بنده دی او که يې نه بخښي هم يې خپل مخلوق دی.

اولاد ډېر کړئ! ثواب وګټئ که بند يې کړئ ګنهګار به شئ؛ نور د ټولني ظرفيت په پام کې نه نيسي. حالات نه سنجوي، د نصوصو روايت او درايت ته نه ګوري، د تعليم، خوراک، جامې، کار، روزنې، ګټې او بالاخره دنيا کې د بري اسباب او د اخرت د بريا اسباب يې نه سنجوي، راوړل يې پر دوی دي نور دې پر لار خدای برابر کړي، په داسې حال کې چې د هدايت، ګمراهۍ، ګټې وټې، زيان، تعليم، روزنې او هر څه په اړه د خدای اصولو بيخي واضح دي، تر دومره وضاحت وروسته د خپل اولاد روزي، تعليم، کار، اخلاق، ګټه وټه، په دنيا ا اخرت کې برى د الله لور ته حواله کول د هغه له دينه ناخبري ده، زموږ خلک دغې ناخبرۍ ته د توکل نوم ور کوي په داسې حال کې چې د خدای په دين کې د دغه توکل يوه نمونه او يوه لاربښونه هم نه شته.

۲۵/۲/۲۰۲۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمعې او اختر خطبې

د جمعې او اختر لمنځونه خلکو ته د پيغام رسولو بهترين فرصتونه دي، د مسلمانانو زياتره کسان يوه ځای ته را ټولېږي، نارې، پسپسکی او د توجو اړولو شيان نه وي؛ ويناوال په خلاص مټ خپله خبره تر ناستو کسانو رسولای شي.

خطبه عربي لفظ دی، د خاء په پېښن د بيان معنا ور کوي او د خاء په زير ښځې ته د مرکې په معنا دی.(۱)

بيان د دې لپاره کېږي چې خلکو ته دنيوي يا ديني پيغام ورسول شي، د يوه هيواد چارواکي ستيج يا ټلويزيون ته د همدې لپاره راځي چې ملت ته خپل پيغام ورسوي، خطيب د همدې لپاره منبر ته پورته کېږي چې خلکو ته بيان وکړي، خلکو ته د پيغام په رسولو خپل ديني مسووليت ادا کړي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د همدې لپاره خطبې ور کړې دي، د هغه ناست مخاطبين عرب وو؛ د رسول الله ص صلی الله عليه وسلم هم بله ژبه نه وه زده، له دې امله هغه په عربي بيان کاوه. رسول الله ص صلی الله عليه وسلم په يوه خطبه کې خپل ټول پيغامونو خلکو ته نه رسول، بلکې اسلام تدريج ته پام کړی دی، نو لنډه خطبه يې ويله، په حديث کې د نبوي خطبو په اړه راغلي دي:

«إِنَّ طُولَ صَلاَةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ، مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ، فَأَطِيلُوا الصَّلاَةَ، وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ».(۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: د يو كس اوږد لمونځ او لنډه خطبه د هغه د پوهې نښه ده، نو لمونځ اوږد كړئ او خطبه لنډه كړئ.

زموږ په ټولنه كې ولې خطيبان يوځل په پښتو خبرې كوي او بيا په عربي خطبه وايي؟

دا نه يوازې د خطبې له ماهيت څخه ناخبري ښيي، بلكې د خطبې اساسي هدف په دې وركېږي چې خلك پښتو بيان ته نه راځي، ځكه ډېر اوږد وي، كله چې عربي شروع شي خلك را پيل شي او لمونځ وكړي بېرته ځي، دلته خلك له ثوابه هم محروم شول، له بيانه هم محروم شول، د خطبې هدف هم له منځه ولاړ او خلك په دې اوږدو اوږدو بيانو ستړي شول او په دې سره زموږ خطيبانو تر ماهيت د شكل يوه برخه غوره كړه، په داسې حال كې چې د رسول الله ص صلى الله عليه وسلم خطبه به لنډه وه، د دوى خطبه اوږده ده، ځكه يوځل پښتو وايي بيا عربي، د پښتو بيان يې ډېر اوږد او خسته كوونكى وي، په دويم قدم كې هغه لمونځ اوږد ور كاوه، دوى لمونځ په انا اعطينا ور كوي، هغه به په روښانه ټكو خپله خبره تر خلكو رسوله، زموږ خطيبان عربي وايي خلك نه په پوهېږي.

دلته ګڼې تېروتنې كېږي، خلك په شكل پسې مښتي دي، خو ماهيت يې هېر كړى دى. خطبې اوږدې دي، خلك خسته كوي، د دوو خطبو له امله خلك پر وخت مسجد ته نه راځي، د عربي د خطبې مهال راځي چې په عربي دوى نه پوهېږي، نو پيغام هغوى ته نه رسېږي او په دې توګه هم د وختي راتګ له ثوابه محروم شول او هم له دې چې له بيانه به يې يو څه ديني زدكړه كوله، هغه هم پر ودرېده. يوه بله تېروتنه په عربي خطبه كې دا ده چې يو خطيب په خپل ټول ژوند كې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربي خطبه وايي، هغه هم له کتابه وايي، نو رسول الله ص صلی الله علیه وسلم که خطبه په عربي ورکوله، نه يې له کتاب ويله او نه يې ټول ژوند يوه خطبه ويله، دوی دا په کوم ايت يا حديث کې موندلي دي؟

که په رښتيا د نبوي خطبې تابعداري کوي، نو هرې جمعې ته دې نوې عربي خطبه تياروي، لنډه به يې وايي، د خطبې مهال به يو لرگی هم په لاس کې نيسي، په پښتو به خطبه نه وايي، خطبه يې بايد تر لمانځه اوږده نه وي او له کتابه دې نه وايي؛ بلکې له خپل حافظې دې ووايي. دا نبوي خطبې شکل دی.

خطيبانو ته دا واک ور کول چې د بيان لپاره موضوع او د بيان مواد دې په خپله تياروي، په لوی لاس له دين او شريعته د ناسم تفسير لار جوړ وي. ځکه ټول خطيبان د دې وړتيا نه لري چې له وخت سره سمه موضوع وټاکي او بيا دې د هغې په اړه ټول مواد يو ځای کړي، بيا دې مجموعي يو مهفوم ځنې واخلي چې د شريعت له اساساتو او عمومي اهدافو سره ټکر نه وي، له دې امله نو اړينه ده چې يا خطبيانو ته تيارې خطبې ور کړل شي، يا دې په اړه کتابونه وليکل شي چې په معيار پوره وي، خطيبان دې اړ شي چې يوازې له همدې کتابونو خطبې ووايي، څو د ناسم تفسير مخه ونيول شي او له دې زاويې د را پيښېدونکو ستونزو، نيوکو او پوښتنو مخه ونيول شي.

که غواړي چې هدف پسې ولاړ شي، تر شکل ماهيت مهم وګڼي، لکه د سرسايې په اړه چې يې همدا تګلاره غوره کړې ده؛ نو بيا خطبه په پښتو، دري، اردو يا بله ژبه چې د دوی مخاطبين په پوهېږي، ووايي، خطبې ته دې تياري وکړي چې خبرې يې لنډې، واضحې، پيغام رسونکې او پر خلکو نه بوجيدونکې وي، عربي خطبه نه قران کريم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبري کړې ده او نه حدیثو، عربي دې پرېږدي او ځای یې پښتو یا د بلې ژبې بیان نیسي، خلکو ته دې د هغوی په ژبه خبرې وشي چې هم ثواب شي هم خورما. خلک به دین زده کړي، وختي به راشي، وخت به یې نه ضایع کیږي، خسته کیږي به نه او دوی به خپل مسوولیت ادا کړي، پیغام به ډېرو کسانو ته ورسوي او په عملي توګه به خلکو ته درس ورکړي چې شریعت کې تر شکل ماهیت مهم دی.

۲۶/۲/۲۰۲۲

**سرچیني:**

(۱)(معجم اللغة العربیة المعاصره: ۱۶۴۳، لفظ خ طا ب ماده)
(۲)(مسلم، کتاب الجمعه، باب تخفیف الصلاة والخطبه، ح: 869)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دین او شریعت په تفسیر کې تېروتنې

د دین او شریعت ترمنځ شته توپیر ته نه پام، د هر یوه داسې بېل تعریف چې په دیني و شرعي متن کې له هر یوه سره د تړلو مسلو او موضوعاتو ربط جوت شي او پر خلکو شته ګډوډي او ختلاط ختم شي؛ نه شتون او ګڼ نور لاملونه د دې سبب شوي دي چې د دواړو په تفسیر کې ستونزې ایجاد او د تېروتنو سبب شي. پر لاملونو به یې په یوه بله مقاله کې بحث وکړم، دلته له دواړو په تفسیر کې پر تېروتنو بحث کوم.

د دین او شریعت بېلوالي ته په قران او سنت کې ګوته نیول شوې ده، په قران کریم وایي:

{إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ} [الأنبياء: 92].

ترجمه: دغه ستاسو یو امت دی او زه مو رب یم زما عبادت کوئ.

په دغه الفاظو ایت په سورت المومنون(ایت: ٥٢) کې هم شته، دواړه ځایه د ګڼو نبیانو تر کیسو وروسته راغلی دی، هدف یې په ملت سره د ټولو نبیانو مشترك دین ته اشاره ده چې د ټولو الهي پیغمبرانو دین یو دی. همداشان د شریعت جلاوالي ته هم قران کریم ګوتې نیولې ده:

{لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً} [المائدة: 48].

ترجمه: موږ ستاسو هر امت ته ځانګړی شریعت او تګلاره در کړې او که د الله خوښه وای ټول به یې په شریعت کې هم یو امت کړي وئ.

په دې اړه صحیح مسلم کې یو حدیث روایت شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلاَّتٍ، وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى، وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ.(۱)

ترجمه: نبيان پلرني ورونه چې مندې يې ګڼې دي او دين يې يو دی.

د نبيانو د يوه دين يادونه د حديث په متن کې هم شوې ده، خو د شرايعو بېلوالي ته يې د ګڼو مندو په لفظ اشاره وکړه. له دې څخه موږ ته جوتېږي چې دين يو اسماني دين دی، البته شرايع د وخت، ځای، ټولنې او اړتيا له مخې له يوه بل سره توپير لري.

دغو نصوصو ته په پام د دين او شريعت ترمنځ توپير او د هر يوه بېل تعريف هم اسانه کېږي، د نبيانو ترمنځ مشترک ټکي دين دی او اختلافي يې شريعت دي، يا په بل عبارت پر خدای ايمان، د هغه تعظيم، د کتاب، نبي، فرشتو او اخرت باور دين دی، دغه ټکي د نبيانو ترمنځ مشترک هم دي؛ اما شريعت ورځني مسايل دي چې لويه برخه يې لنډمهالي هم وي.

د دين او شريعت دغه توپير او تعريف ته په کتو زموږ لپاره ډېری ستونزې چې سوء تفاهم ايجاد کړې وې، په خپله حلېږي. يوه اساسي ستونزه د ژوند د ټولو چارو ديني و شرعي حل و چې خلکو به يې استدلال له قران کريم څخه کاوه. خلک وايي؛ الله تعالی په قران کريم کې ويلي چې دين مو بشپړ کړی دی، که د هرې مسلې حل پکې نه وي، بيا بشپړ نه دی. دا چې په ژوند کې ډېری داسې مسايل شته چې مسلماني ټولنې يې هم د وضعي قوانينو جوړولو ته له دې امله اړې شوې دي چې په دين کې يې حل نه و؛ زموږ لپاره د سرخوږي سبب نه شي کېدلای؛ ځکه قران کريم د دين په اړه د تکميل يادونه کړې ده شريعت يې نه دی بشودلی.

يوه لويه غلط فهمي د دين او شريعت په تفسير کې دغه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره مې بیخي پر ډېرو منبرونو او سټېجونو اورېدلې ده چې د ټولـو ستونزو حل یوازې په دین کې دی، دغه ناسم قضـاوت لـه دې املـه را پیدا وو چې د دین او شریعت پولې نه وې سره بېلې شوې.

په همدې اساس اسماني دین ته د جمعـې صـیغه ادیـان کـارول لـه دې حقیقت څخه د ناخبرۍ علامه ده، البته د شریعت په اړه د جمعې صیغه پروا نه کوي، همدا شان موسوي دین، عیسـوي دیـن او محمـدي دیـن اصطلاحات کارول هم مناسب کار نه دی، خو د شریعت په اړه کـولای شي چې دغه اصطلاحات وکاروي.

د دین او شریعت لـه گـډوالي یـوه بلـه تېروتنـه دا هـم را پېښـه وه چـې پخواني ادیان/دین منسوخ شوي دي، پـه داسـې حـال کـې چې قـران کریم یې د نسخې پر ځای د تایید خبره کوي، دغه لوړ ایاتونه د همدې خبرې روښانه لاسوند دی. د تېرو نبیانو دین ته یې په مفرده اسم اشاره، اشاره وکړه او هغه یې زموږ دین وباله، نو که د تېرو نبیـانو دیـن منسـوخ وای، بیا یې زموږ لپاره څنگه په قران کریم کې دین بالی؟ دغه خبره که د شریعت پـه اړه وشي، مصـداق بـه یـې ځکـه سم وي چې شرایـع د ټـولنې، وخـت، ځـای او ضرورت لـه مخـې تغییـر کـوي؛ نـو زمـوږ د شریعت وخت له نورو پخوانیو شریعتونو سره فرق لري، ټولنه یـې جـلا ده، ځای یې بدل دی او اړتیـاوې یـې بېلـې دي، لـه دې املـه پخـواني اسماني شرایع یې د ټولو له ځواب ویلو عاجز دي، نو باید نوي احکـام نازل شي، که څه هم د تېرو شریعتونو ځینې احکام به یې هـم د تعمیـل وړ بللي وي.

یوه بله تېروتنه په مسلمانانو کې یو پر بل د کفـر او بطـلان ټـاپې دي، د دین او شریعت نه جلاوالي دا وهم را پیدا کړی دی چې څوک ځینـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرعي کارونه په یوه ډول وکړي نور يې په بل ډول، یا هم له ځینو شرعي احکامو مخالفت واقع شي؛ نور مسلمانان د کفر او الحاد ټاپو ته زور ور کړي. په داسې حال کې چې د شریعت له ځینو چارو مخالفت د کفر او گمراهۍ سبب نه کیږي؛ پر دین ټول مسلمانانو سره متفق دي، مخالفت هر وخت په شرعي امورو کې وي او د شرعي امورو مخالفت د کفر تر بریده څوك نه رسوي، بیا هغه څوك چې د یوه اجتهاد او لاسوند پر بنسټ یو کار کوي، یو اصل رامنځته کوي، ځینې احکام له نورو بل ډول تفسیروي یا هم ځینې احکام له عمله ایستل کیږي، لکه د حج لپاره میقاتونه، د غلامۍ پای، د اس، تورې او غشي- پر ځای د ټانگ، طیارې او مرمیو استعمال او...

په مسلمانانو کې داسې هیڅ ډله نه شته چې د شریعت له ټولو احکامو دې منکره وي، هره ډله د شرعي احکامو ځینې عملي نمونې لري؛ له ځینو د مخ اړونې او په ځینو کې له نورو سره د مخالفت لپاره بیا هره ډله خپل شرعي دلایل هم لري چې له همدې امله یې یا مخ ځنې اړولی یا هم له نورو سره په تفسیر کې د نظر اختلاف لري چې خطا و ناخطا یې بېل بحث دی.

د دې وضاحت په رڼا کې زما په اند تر مخالفو ټکو د مسلمانانو ترمنځ مشترك ټکي زیات دي، ټول مسلمانان په اصولو کې سره متحد دي، یو الله، یو کتاب، پر قیامت ایمان، د رسولانو او فرشتو باور، د تیرو نبیانو او رسولانو پر حقانیت ایمان راوړل، یوې قبلې ته لمونځ کول، دیني چارې دي چې ټولو مسلمانان یې په اتحاد او اتفاق مني او عمل په کوي. پاته شوه د شریعت احکام، په دې احکامو کې هم هیڅ ډلې ټول معطل کړي نه دي؛ هره ډله یې یوه برخه عملي کوي او له بلې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو دلایلو پر بنا اعراض کوي چې د هیڅ د کفر سبب نه شي کېدلای.

له شرعي متنه د ګڼو تفسیرو امکان یوه فطري ځانګړتیا ده چې د ګڼو ترڅنګ نقصان هم لري. ګټې یې دادي چې وختونه، ځایونه، ټولنې او اړتیاوې د تنوع تقاضا کوي؛ که بشر له یو مقدس متن څخه د متنوعو غوښتنو لپاره د متنوعو ځوابونو توان ونه لري، نو ژوند به له ستونزو سره مخ شي، له دې امله بشر ته دا ځانګړتیا ور کول شوې ده چې یو بشر له یوه متن څخه خپلو اړتیاوو ته په کتو ګڼ تفسیرونه کولای شي څو خپلو اړتیاوو ته پرې ځواب تر لاسه کړي او نقصان یې دادی چې د همدې همعقیده، هم ایمانه، هم دینه، هم شریعته او هم مقصده انسانانو ترمنځ د نظر اختلاف تر فزیکي شخړو ورسېږي، یو د بل په مقابل کې ودرېږي، بشري خواخوږي ختمه شي، د مشترکاتو پر ځای اختلافاتو ته لمن وهل کېږي، د زغم ځای تنګ نظري ونیسي.، د رحم ځای بې رحمۍ ته پاته شي، د دین او شریعت د کلي او انساني اهدافو پر ځای جزي او استثنائي احکامو باندې تمرکز زیات شي؛ په نتیجه کې یې د مسلمانانو ټولنه دړې وړې شي، اخلاقیات پایماله شي، د مقدساتو تقدس ته زیان خپله مسلمانان ورسوي، د خپل هیبت جنازه په خپلو لاسونو واخلي، پر خپل حق دین د ناحقوالي دلایل همدوی دښمنانو ته په لاس ور کړي، لنډه دا چې له وړې او نه خبرې څخه خبر جوړه کړي او د ستر زیان سبب یې کړي.

۸/۲/۲۰۲۲

**سرچینه:**

(۱)(مسلم، کتاب الفضائل، باب فضائل عیسی علیه السلام، ح: ۲۳۶۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د میرمنو مشري او پر ښځو د نارینه د سرپرستۍ سهي تفسیر

په نر واکه او نر سالاره ټولنه کې د مقدسو متنو سره دا ظلم کېږي چې د نرانو د مطلق افضلیت او نر سالارۍ تفسیر ځنې کېږي او له ښځو سره دا تېری کېږي چې د هغوی د واک کمولو او تر نارینه د کم ښودلو لپاره یې په مقابل کې له مقدس متن څخه ګټه اخیستل کېږي.
د قران کریم له دې لاندې ایت سره په تفسیر کې همدغه ظلم شوی دی، هم یې د ایت تفسیر له سیاق و سباق سره په ټکر کې کړی دی او هم یې د دې ایت مفهوم داسې اخیستی چې د قران کریم نور موارد یې په نظر کې نه دي نیول شوي، له ښځو څخه د خپل ځان د واک اخیستلو لپاره یې یوه ښه وسیله دغه ایت هم دی چې نرواکه ټولنه ور څخه اسفاده کوي او یو بل حدیث دی چې ددې مقالې پر وروستیو برخه کې به زه بحث پر وکړم. ایت دادی:
{الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ} [النساء: 34].
ژباړه: نارینه د ښځو ساتونکي او له دې امله په مالي چارو کې سرپرستان دي چې الله د دوی ځینو ته پر نورو غوراوی ور کړی او چې دوی له خپلو مالونو نفقه کوي.
په دغه ایت کې د قوامون له توري څخه دا فهم اخیستل شوی چې نارینه پر ښځو واکداران دي، په داسې حال کې چې قوام دلته په یوه خاص سیاق و سباق کې ذکر شوی دی چې د مطلق واکدار مفهوم ترې اخیستل بې انصافي ده ، قوام د لغت په کتابو کې دغسې معنا شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



متولٍّ للأمور، حسن القيام بها "قـوَّام عـلى ممتلكـات- {الرِّجَـالُ قَوَّامُـونَ عَلَى النِّسَاءِ}: يقومون بالنَّفقة عليهنَّ والذّبّ عنهنّ-.(۱)

ژباړه: د چارو سـمبالونکی، د چـارو ښـه تـرسره کـوونکی، د ملکيتونـو چارسمبالی، نارينه پر ښځو قوامين دی يعنې نفقـه يـې ور کـوي او لـه دوی څخه دفاع کوي.

د ايت په دغه ځای کې د قوامون توری خپل مفهوم لري چې عمـومي سرپرستي نه ده ځنې مراد، لکه د لغتو کتاب چې وايي نفقه ور کـوي او حفاظـت يـې کـوي، مېـړه د ښـځې پـه نفقـه مـامور دی او د سـاتنې مسووليت يې هم لري.

په دغه ايت کې هر نارينه او هره ښـځه هـدف نـه ده، يعنـې عمـومن د ټولنې نارينه د ټولنې پر ښځو سپرستان نه دي، نه د ټولنې ښځو ته نفقـه ور کوي، په دغه ايت او تر دې وروسته ايت کې د مېړه او ماينې پـه اړه بحث شوی دی، قران کريم دلته د نفقې او مال يادونه کـړې ده چـې د قوامون مفهوم په دغه ځای او جمله کـې د مـالي سپرسـتی او حفاظـت دی نه عمومي او هم د مېړه او ماينه بحث دی نـه د هـر نارينـه او هـرې ښځې. قران کريم قوامين الفاظ دوه ځايه نور هم ويلي دي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ} [النساء: 135].

ترجمه: اې مومنانو! د الله لپاره ښه عادل شاهدان شئ.

{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ} [المائدة: 8].

ترجمه: اې مومنانو! د الله لپاره انصاف کوونکي غوره شاهدان شئ.

په دغو اياتونو کې قوام لفظ هغه مفهوم نه لري چې په هغه لوړ ايت کې يې ور کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه ازاد انسان دی، د ازادۍ حق لري، قران کريم د نارينه ملکيت نه ده کرځولې، نر سالاره ټولنه خپله پر هغوی ولکه کوي او د هغوی حقوق په يوه او بله پلمه نه ور کوي. د قران کريم په همدې بحث کې راغلي چې که مېړه او ښځه اختلاف ولري، نو د نارينه او ښځې له کورنۍ دې دوه پرېکړه کوونکې وټاکل شي هغوی دې منصفانه پرېکړه وکړي، که په سر کې مور ښځه د نارينه ملکيت کړو، واک يې نارينه ته ور کړو، سلطه د هغه پر چلېږي، هغه يې د هرې چارې سرپرست شي او دا حکم د ټولنې د ټولو ښځو لپاره د ټولو نارينه وو ته عمومي شي، نو بيا دلته ښځې ته دا واک ور کول چې د خپل ځان د حق غوښتنې لپاره دې خپل حکم له کورنۍ وټاکي او له خپله مېړه دې حقوق تر لاسه کړي، د بحث سر او پای نه سره لګېږي، په سر کې يې ملکيت وه، هيڅ واک يې نه و او په اخېر کې يې ازادي ور کړه حتا له خپل مېړه سره لا د خپلو حقونو پر سر جنجال کولای شي او د خپل ځان په اړه خپله واک لري.

په ايت کې ذکر شوی فضيلت په عمومي ډول د نارينه پر ښځو نه دی، بلکې دلته هدف هغه مالي فضيلت دی چې يو مېړه يې پر ميرمن لري، ځکه د ميرمنې د نفقه پر مېړه لازمه ده، همدغه فضيلت ته اشاره ده؛ که دغسې تفسير ونه شي، بيا نو ډېرې ښځې شته چې پر ډېرو نارينه وو بهترې دي، لکه مريم عليها السلام، نبوي ميرمنې، صحابيات رضي الله عنهن او داسې نورې. زما په نظر دغه ايت بايد له خپل سياق و سباق سره سم تفسير شي او مفهوم يې بايد د قران کريم د نورو اياتونو له مفهوم او عمومي و کلي مفاهيمو سره ټکر را نه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قران کریم د همدې ایت په اړه زما دغه نظر دی چې دلته مې درسره شریک کړ. پاته شوه د ښځو د مشرۍ مسله؛ په دې کې یو حدیث راغلی چې د هرې ټولنې او فکر خلک ور څخه د خپل فکر او رواج سره سم تفسیر کوي. لومړی به دغه حدیث راوړم:

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: لَقَدْ نَفَعَنِي اللَّهُ بِكَلِمَةٍ سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَّامَ الجَمَلِ، بَعْدَ مَا كِدْتُ أَنْ أَلْحَقَ بِأَصْحَابِ الجَمَلِ فَأُقَاتِلَ مَعَهُمْ، قَالَ: لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ، قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى، قَالَ: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً».(۲)

ژباړه: له ابو بکره رض روایت دی، ده ویل: د جمل د جنګ په ورځو کې هغه حدیث ګټه راته وکړه چې ما له رسول الله ص صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی و؛ تر هغه وروسته چې نژدې وه د جمل د جنګیالیو په ډله کې ور ګډ شم له هغوی سره یوځای جګړه وکړم. ده ویل: رسول الله ص ص ته چې دا خبر ورسېد فارسیانو د کسرا لور ته خپله پاچاهي ور کړې ده، نو ده وویل: هغه قوم(فارسیان) چې خپلې چارې یې یوې ښځې ته ور له غاړې کړې دي، هیڅکله به بریالي نه شي.

دغه حدیث په خپله دغه بڼه بیخي واضح دی، نور حدیثونه چې له دې مفصل حدیث څخه کم شوي وي، یا دا کیسه ټوله پکې نه وي، باید چې د دغه حدیث په رڼا کې له هغو څخه مفهوم واخیستل شي. دلته د حدیث وروستۍ جمله د مخکې کیسې په رڼا کې ویل شوې ده. رسول الله ص ص د فارسیانو او رومیانو حالات څارل، د فارسیانو خپل منځي اختلافات، د کسرا مرګ او تر دې هر څه وړاندې د عربو له لوري په یوه جګړه (ذي قار) کې فارسیانو ته ماتې ټول هغه اسباب وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ص ص يې په رڼا کې دغه جمله ويلې ده، دا يو شرعي حکم نه دی، دا يوه وړاندوينه ده، د يوه هيواد سياسي، نظامي او ټولنيز حالات چې يو ځېرک مشر ـ تر نظر لاندې ونيسي ـ، هغه يې په اړه وړاندوينه کولای شي؛ رسول الله ص ص يوه دقيقه وړاندوينه وکړه، فارسيانو يوه داسې مشره ټاکلې وه چې نه يې تجربه در لوده او نه د هيواد له حالاتو څخه باخبره وه، د مشرانو او نظامي مسوولينو د نه جوړجاړې له امله هغوی اړ شول چې يوه ښځه د واکمنې په توگه ومني که څه هم د هغه وخت شرايط د دې ميرمنې د مشرۍ لپاره مناسب نه وو.

د دې حديث په کوم ځای کې يادونه شوې ده چې دا يو شرعي حکم دی، دلته خو واضح بيان شوي چې د فارسيانو د خبر په تر لاسه کولو رسول الله ص ص دغسې يوه خبره وکړه، دا خو يې نه دي ويلي چې شرعن دا کار حرام دی، قران کريم د سبا د ملکې يادونه کړې ده، نه قران کريم يادونه کړې ده چې د ښځې واکمنول ناسم کار دی او نه رسول الله ص ص ويلي دي، له دې ټولو ور هاخوا نن په نړۍ کې د ډېرو ملکونو مشرانې ښځې دي؛ هغوی د خپل هيواد بريالی مديريت کوي، هيواد يې د ښځې په مشري کې ترقي کړې ده، نو که دا حديث عمومي شرعي حکم شي؛ بيا به له واقعيت سره ټکر راوړي، د حديث الفاظ او شان ورود يې د حکم له عمومي کولو او شرعي کولو سره سمون نه لري.

**٢٦/٣/٢٠٢٢**

**سرچينې:**

(١)معجم اللغة العربية المعاصرة (3/ 1877)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)(صحیح البخاري، کتاب المغازي، باب کتاب البني ص الی کسری و قیصر، ح: ۴۴۲۵)

## د نورو له عمل سره د خپلې ایډیالوژۍ پرتله

یو ملګري مې یوه ورځ د میلاد النبي په غونډه کې بیان کاوه، د رسول الله ص صلی علیه وسلم د جنګو له مړو او زخمیانو سره یې د اول او دویم نړۍ والو جنګو د مړو او زخمیانو پرتله کوله. ما بیا بل وخت ورته وویل چې په دې دواړو جنګو کې مسلمانان هم ورسره ګډ وو، دویم دا چې که د بل د امتي او خپل د نبي پرتله سره کوو، نو بیا عیسی علیه السلام هیڅ جنګ نه دی کړی، او که د نورو د عمل او خپلې ایدیالوژۍ پرتله سره کوئ، نو بیا یوځل زموږ اعمال هم د هغوی له ایډیالوژۍ سره پرتله کړئ.

د پوهنتون او مدرسې د درسونو مهال به هم هر وخت استادانو د رسول الله ص ص عمل یا هم د اسلام نظریه بیانول او بیا به یې د نورو مذهبونو د پیروانو له عمل سره پرتله کوله، په دې ډول به یې د خپل ځان اوچتوالی ثابت کړ.

اصلن باید د د بل مذهب له نظریاتو سره د اسلامي نظریې پرتله وشي، د عمل او نظریې ترمنځ هر وخت توپیر موجود وي. یو انسان چې څه وایي، په خوله د خپلې کړې وینا په نیمایي که عمل هم وکړي، نو نړۍ به ګل ګلزار وي.

پرېکړه د عمل له مخې کېږي یوازې وینا کفایت نه کوي، که موږ د نورو اعمالو محاسبه کوو، باید د مسلمانانو له عمل سره یې محاسبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، کـه د هغـوی نظریـات را اخلـو، نـو د اسـلام نظریـه بایـد د هغـو ترخنګ ورسره کښېږدو.

دا ناسمه تګلاره ده چې له خپلې نظریې سره د بل عمل مقایسه کوو. په دې توګه به موږ خپل خلك په ناسم فکر اخته کړي او غلطفهمـي کـې وي، سم فکر نه شي کولای. د انصاف غوښتنه دا ده چې عمل له عمل سره او نظریه له نظریې سره مقایسه شي.

په دې ډول موږ خلك له ناسم فکره را باسو او يو څوك د واقعیـت پـه درك کولو خپله تګلاره ټاکي. يو څوك که دې په پټو سترګو يو ځـای ته روان کړی وي، نو هر ځای چې يې واقعیـت درك کـړ، هماڵتـه دې ایله کوي او بل په نه پوهاوي کـې هغـه ډول خـدمت نـه کېـږي لکـه د پوهاوی او حقیقت تر درك وروسته چې يې څوك کوي.

موږ که واقعیتونه د خلکو مخ ته کښـېنږدو، سـبا يـې زمـوږ مخـالف پـه ناسم ډول خلکو ته بیانوي، بیا چې کله حقیقت راڅي دروغو به میـدان لاس کړی وي.

زموږ يوه وېره دا ده چې ځینې نسبتن مشکل ځایونه که خلکـو تـه بیـان شي، نو سـتونزې بـه پیـدا کـړي. امـا دا حـل نـه دی، خلـك اخیـر پـه خبرېږي، حل يې دادی چې باید خبر شي، خو په حقیقي بڼه يې نه په مسخه شوې بڼه يې.

زموږ مخالف کس که د اسلام ایډیالوژي معرفي کـړي، حـتمن بـه يـې مسخه کړي او که موږ خپله د حقیقي بڼې ښکارولو تـه کـار ووايـو، نـو هم به خلك نه شکمن کېږي او هم به مو حقیقت روښانه کړی وي.

۱۲/۳/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوه ناسم فقهي اصل سمونه

د تېرو پوهانو هر څه ته په تقلیدي انداز کتل د دې سبب کېږي چې له هغوی شوې تېروتنې همداسې په کتابونو کې پاته شي؛ نه یوازې به پاته وي، بلکې خلك به يې په نورو کتابونو کې نقل کوي او د زدکړې په پار به په مدرسو او پوهنتونو کې تدریسېږي هم. له دې امله اړينه ده چې هر کار يې له شرعي، اخلاقي او قانوني ليد لوري اورزول شي، که پر معيار پوره وي، منل يې ښه دي او که پوره نه وي، رد يا اصلاح يې اړينه ده.

له دې امله زه د یوه فقهي اصل ناسموالی ته متوجيه شوی یم، دغه اصل چې له کوم ایت څخه اخیستل شوی دی، د هغه ایت له ټول مضمون او بیان سره پوره سمون نه لري. په اصولو الفقه کې دغه اصل داسې بیانېږي:

الضَّرُورَاتِ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ.(١)

ترجمه: اړتیا شرعي ممنوعات روا کوي.

په داسې حال کې چې د روایښت خبره يې په قران کریم کې نه ده راغلې، لومړی به د قران کریم دغه ایت تر نظر تېر کړو:

{إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ} [البقرة: 173]

ترجمه: یقینن پر تاسو مړژګه، وينې، د خنزير غوښه او هغه څه چې د الله له نوم پرته ذبح شي، نو که څوك مجبور شو، چې نه تر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې شروع کوونکی او نه تېرې کوونکی وي، پـر هغـه ګنـا نـه شـته ځکه الله بخښونکی مهربانه دی.

دغه مطلب یې د مائدې په ۳، د انعام په ۱۴۵ او د نحل په ۱۱۵ ایـاتونو کې بیا بیان کړی دی چې ګنا نه لري ځکه الله بخښونکی مهربانـه دی، او په قران کریم الله تعالی دا هـم ویـلي چـې پـه دیـن کـې سـختي نـه شته(حج: ۷۸)، له دې امله نو د سختې لوږې یا اړتیا په صورت کې کـه له دې حرامو استفاده وشي، ګنا نه لري او نه الله تعالی سزا ور کوي؛ اما دا خبره په قران کریم کـې نـه شـته چـې حرمـت یـې ختـم شـوی دی، حرمت یې پر خپل حال پاته دی، یوازې ګنا نه لري او د ایـت پـه غـور کتل زموږ یوې بلې نکتې ته هم ور پام کوي چې هغه تر وخت مخکې پیل او تر اندازې زیاته استفاده ده، که یې حرمت ختم وای، بایـد دغـه نکتې پکې نه وای.

د دې مثال داسې دی لکه لمانځه ته د اودس لازمي کول، اما که اوبه نه وې، ځای یې تمیم نیسي، دا مطلب یې څوک نـه اخـلي چـې د اودس لزومیت ختم شو، یا هم په سفر کې د څلور رکعتیز لمانځه دوه کول، په دې سره څوک ادعـا نـه شي کـولای چـې د څلـورو رکعتونـو فرضـیت ختمېږي، فرض پر خپل ځای دی، که همدغه مسافر بېرته خپل کور ته ستون شي، څلور رکعته لمونځ به کوي.

د فقهاؤ په اصل کې دا خبره شته چې اړتیـا حـرام حلالـوي، پـه داسـې حال کې چې حلالوي یې نه، اما که یې موږ وکړو پر دې مو سزا نه شته البته حرمت یې پر خپل حال پاته دی. دغه اساني الله تعالی ځکه کړې ده چې بخښـونکی دی، مهربانـه ذات دی، لـه خپلـو بنـدګانو څخـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی تر توان لوړ احکام نه غواړي، له دې امله د یوه محظور کار په کولو هم مواخذه نه کوي.

له دې امله باید اصل داسې وای چې الضرورات ترفع اثم المحظورات، یعنې اړتیا دشرعي ممنوعاتو ګنا ختموي، که څوک د اړتیا له امله حرامو ته نژدې شي، ګنا نه لري نه یې الله تعالی سزا ور کوي.

همدې اصل ته په کتو ځینو کسانو د حرامو وېش کړی دی، یو هغه حرام دي چې دایمي او مطلق حرام دي او بل هغه دي چې مطلق نه وي، په داسې حال کې چې د شریعت په چوکاټ کې دایمي او موقتې حرام نه شته، یو شی چې په قطع الثبوته او قطع الدلالته نصوصو ثابت شي، هغه تل حرام دی حرمت یې وخت ناوخته نه ختمېږي.

۱۲/۲/۲۰۲۲

**سرچینه:**

(۱)الموافقات: الطرف الاول: في الاجتهاد: ۹۹/۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرعي حرام که قانوني ممنوع؟

د بشر ښېگڼه د قانون او شريعت لپاره معيار دی، په همدې اساس شريعت ځينې وختونه د انسان لپاره د حرام شويو شيانو د استعمال اجازه ور کړې ده؛ لکه: د مړزگې او خوگ غوښه خوړل. (بقره: ۱۷۳)
همدې معيار ته په کتو رسول الله ص صلی الله عليه وسلم په مدينه کې د سپيانو د وژلو امر ور کړی و(۱)، کله چې د هغوی خطر کم شو، بېرته رسول الله صلی الله د سپيانو د وژلو تگلاره بدله کړه (۲)، دا نن هم که په ښارونو کې د سپيانو خطر زيات شي حکومتونه د سپيانو د وژلو لپاره لاس په کار کېږي.
قانون هم دغه معيار په نظر کې نيولی دی، په ځينو هيوادونو کې د اونۍ دوې ورځې د څارويو ذبح کول ممنوع دي، دا منعه د شريعت له اړخه نه ده، بلکې حکومت دا کار د انسانانو د گټې لپاره کړی دی. پر چپ لاس يا راسته لاس د موټر او نورو وسايلو د چلولو امر شريعت نه دی کړی، خو انسانانو ته د اساني او د بشري زيان د مخنيوي لپاره قانون پر خلکو دا جبري کړې ده چې پر چپه يا راسته لاس به ځي، څو نورو انسانان د دوی له خطر څخه محفوظ وي.
ځينې کارونه د شريعت او قانون دواړو له اړخه حرام او ممنوع بلل شوي وي؛ لکه نشيي توگي، د بشريت د گټې لپاره دغه کار هم شوی دی، نشه نه يوازې د انسان فزيکي وجود ته زيان رسوي، بلکې روحانيت او د ده اقتصاد هم د هغه له زيانه خوندي نه دي. له دې امله بايد په شريعت او قانون کې ممنوع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ځیني وختونه نشیي توکو ته انسان اړتیا هم لري؛ لکه د ناروغ د نشې لپاره، دا چې معیار د انسان ګټې دي، له دې امله دومره مقدار نشیي مواد چې د همدې لپاره کفایت کوي، باید شرعن او د قانون له مخې یې کرل او تجارت جواز تر لاسه کړي. د دې لپاره چې عام نه شي، انساني ټولنې ته په زیان وانه وړي، باید د معلوم مقدار د تر لاسه کولو لپاره یې دولتونه لاس په کار شي، مثلن: د جرمني د درمل جوړولو یوه کمپنۍ لس ټنه تاریاکو ته اړتیا لري، د افغانستان له دولت سره په دې اړه خپله موضوع شریکوي چې په قانوني ډول موږ ته دومره مقدار تاریاك راکړئ موږ یې په درملو کې استعمالوو. د افغانستان دولت له هغوی څخه د کمیت او کیفیت په اړه پوره معلومات اخلي او بیا د خپل هیواد بزګرانو ته د ټاکلي مقدار او کیفیت په نظر کې نیولو سره امر کوي چې په دغه ولایت کې دې پر دومره جریمه ځمکه تاریاك وکرل شي، یا دې په دومره ولایتونو کې دومره ځمکه د دې لپاره ځانګړې شي، کله چې تاریاك رسېږي، د دولت تر نظارت لاندې هغه محصول اخیستل کېږي، تر پروسیس وروسته د شوي قرارداد له مخې د جرمني کمپنۍ ته سپارل کېږي، په دې ډول یې هم زیان ټولنې ته کمېږي، هم یې ولس او حکومت دواړو ته مالي ګټه رسېږي او هم د درملو د کمپنۍ اړتیا پوره کېږي چې دا درمل ممکن زموږ د هیواد روغتیا پالانو ته هم په ښه ور شي او د نورو هیوادونو ډاکټرانو ته هم.

په دې کار کې دوه شیان په نظر کې نیول شوي دي، د شریعت د حرمت امر او بل خوا د انسان اړتیا. د شریعت امر ته په درناوي، په عمومي ډول د نشیي موادو کرل او راکړه ورکړه ممنوع اعلان شوې ده او انساني اړتیا ته په کتو، بیا یوه خاصه اندازه تاریاك له دې امره مستثنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلل شوي دي. په دې توګه هم د شریعت امر ته غاړه کېښودل شوه او هم د قانون. شریعت دغه توکي ځکه حرام کړي چې انسان ته زیان لري او قانون یوې خاصې اندازې ته ځکه جواز ورکړی چې بشري ټولنه ورته اړتیا لري؛ دا شو د دواړو امرونو ته د ټولنې د احترام عملي نمونه.

د یوه هیواد صادرات او واردات که په نظر کې ونیول شي، شرعن د صادراتو او وارداتو په اړه ځانګړی امر نه شته، اما که د یوه هیواد دولت تصمیم نیسي چې زموږ هیواد ته دې لبنیات نه واردېږي، ځکه زموږ د لبنیاتو خاوندان په خپله پانګونه کې زیان کوي، یا د چرګ غوښې له دې امله ممنوع کړي چې د خپل هیواد د فارمونو غوښه خرڅه شي، دا د وخت او ټولنې حالاتو ته په کتو د دولت تصمیم دی چې قانوني بڼه لري اما منصوصي شرعي نه ده.

د وخت او حالاتو په اساس دولت د مالیې د لوړولو او کښته کولو تصمیم هم نیسي، همدا شان د ځینو شیانو مالیه معافولای هم شي، ځینې وختونه پر یوه خاص شي ټیکس لوړ کړي څو یې هیواد ته د زیاتو راتلو مخنیوی وکړي، دولت یو وخت د ځینو شیانو ممنوع کول او بل وخت یې جواز ورکول، د ټولنې حالاتو ته په کتو کوي، چې د قانون غوښتنه ده، دې ته قانوني ممنوع ویلای شو، خو منصوصي حرام نه دي.

له هیوادونو څخه د معلوم مقدار حاجیانو منل د سعودي د دولت غوښتنه ده، په قران کریم کې راغلي دي چې تاسو حج ته د تلو وس لرئ، حج وکړئ. اما که زموږ په وطن کې دوه لکه کسان په یوه کال حج کول غواړي، دولت یې خپلو امکاناتو او د سعودي له دولت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترون ته په کتو نه شي کولای چې حج ته یې بوزي، له دې امله به هغوی انتظار کوي. دا شریعت کې نه دي راغلي، اما د سعودي دولت خپل وس ته ګوري، هغوی هر کال د معلوم مقدار حاجیانو خدمت کولای شي، تر دې مقدار زیاتوب د حاجیانو د ځاني زیان سبب کیږي چې له امله یې هیوادونو باندې معلوم مقدار حاجیانو ایښې څو یې دوی خدمت ته رسیدګي وکړي او د بشري زیان مخه هم ونیسي. دا قانوني ممنوع دی شریعت یې په اړه هیڅ نه دي ویلي.

د خپل دولت له هغو تګلارو باید ولس ملاتړ وکړي چې د ټولنې په زیان نه وي، دا که د منعې وي یا جواز، ځکه د قران کریم امر دی چې د خپلو امیرانو(نظام) اطاعت وکړئ(نساء: ۵۹) او رسول الله ص صلی الله علیه وسلم هم د نظام د اطاعت امر کړی دی.(۳)

له دې پاس بېلګو معلومیږي چې نه د هر شي د هر بعد په اړه شریعت هدایت کړی دی او نه قانون په ټولو شرعي منصوصي مسلو کې ګوتې وهي. مقدس قانون د ځینو شیانو په اړه د حرام او حلال حدود ټاکلي دي او ځینې نور یې د انسانانو خوښې ته ایله کړي دي. په یوه حدیث کې دي:

فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلاَلٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ ".(۴)

ترجمه: هغه چې الله حلال کړي هغه حلال دي او چې حرام کړي یې دي هغه حرام دي، له کوم شي چې یې خاموشي غوره کړې هغه معاف دی.

یعنې کول یې ګنا نه لري بلکې الله تعالی د انسان خوښې ته پرې ایښی دی.

۲۳/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرچيني:**

۱)مسلم، كتاب السلام، باب قتل الحيات وغيرها، ح: ۲۲۳۳)
۲)ابن ماجه، كتاب الصيد، باب قتل الكـلاب الا كلـب الصـيد والـزرع، ح: ۳۲۰۰)
۳)(صحيح مسلم، كتاب الامـارة، بـاب وجـوب اطاعـة الامـراء في غيـر معصية... ح: ۱۸۳۵)
۴)ابوداؤد، كتاب الاطعمه، باب ما لم يذكر تحريمه، ح: ۳۸۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صبر او توکل

صبر په لغت کې منعې ته وايي، لغت پوهان وايـي: صـبرَ نَفْسَـه: ثبَّتها، حبسها وضبطها.(۱)

ژباړه: د صبر نفسه معنا ده ځان يې ټينګ کړ، بند يې کړ او کنټرول يې کړ.

عربي ويکيپيډيا وايي چې هو الوقوف على البلاء بحسـن الادب. يعنـې غم په ښه ډول تېرول، چې نه انسان په ټولنـه کـې خپـل حيثيـت د دوو پيسو کړي او نه داسې شي چې بيخي په غم غمجن نـه شي. ويکيپيـډيا وايي، د صبر درې ډوله دي، صبر پر عبادت، صبر له ګنا او پر غم صبر دی، تر ټولو بهتر يې له ګنا صبر دی.

يو حديث چې امام بخاري نقل کړی دی، يوې ښځې له قبر سره ژړل، رسول الله ص ورته ويل: له الله وډار شه، صبر وکړه. دې ورته ويل: لـه ما لرې شه. هغه يې نه دی پېژندلی، بيـا چـې خبره شـوه، کـور تـه يـې ورغله عذر يې وړاندې کړی، رسول الله ص ص ورته وويل: صبر د غم په اول وخت کې وي.(۲)

لـه دې حـديث څخـه معلـومېږي چـې دغـې ښـځې د خپـل عـرف او اسلامي هداياتو موافق کار نه وو کړی، ځکه رسول الله ص ورته د صبر وويل.

ويکيپيډيا د ابو ميمون په نوم له يوه کـس څخـه نقـل کـړی چـې صـبر شرطونه لري: دا بايد معلومه کړي چې څنګه صـبر وکـړي؟ د چـا لپـاره صبر وکړي؟ له صبر څخه هدف څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که انسان باور ولري او د غم په وخت کې يې خپلوان و ملگري ورته راشي، نو دا د صبر کولو ښه طريقه ده، صبر به د خداى لپاره کوي، هدف به يې ورڅخه اخروي ثواب او په دنيا کې ښه بدله وي. که يو انسان له دې پرته د صبر توصيه کوي، نو هغه اصلن صبر نه پېژني. په حديث کې هر ځاى راغلي دي چې فاصبر واحتسب، يعنې د ثواب په نيت صبر وکړه.

صبر او توکل په خپل ذات کې ډېر مهم دي، زموږ په ټولنه کې هر څوك د همدې دواړو توصيې نورو ته کوي، د غم او ستونزو په وخت کې صبر او توکل هر څوك درته وړانديزوي.

صبر او توکل په شرعي متونو کې هم ياد شوي دي، متوکل او صابر د الله خوښ بندگان دي، الله تعالى ډېر ځاى د صبر او توکل امر هم کړى دى.

ستونزه له صبر او توکل څخه زموږ په فهم کې ده؛ موږ توکل او صبر ناسم فهمولي دي، له دې دواړو مو خلکو ته داسې فکر ور کړى دى چې له هر ډول اسبابو لاس اخيستل او يوازې له مادي اسبابو پرته د خداى په تمه ناسته توکل دى، همدا شان صبر له هر نوعه وسايلو او اسبابو پرته د هر څومره غم په وخت کې زړه ته گونډې ور کول دي چې هيڅ اه او اوه به نه کوي، بلکې لاس تر زنې به ناست وي، نه به د صبر اسباب برابروي او نه د توکل، همدغه کس صابر او متوکل گڼل کيږي.

دې ډول فهم زموږ په ټولنه کې ستونزې جوړې کړې دي، ښه مې په ياد دي چې د عبد الله ذاکري صاحب په نامه يو ديني عالم او پير و، هغه سخت ناروغ شو، زامنو يې ډاکټر ته بيوى، دى نه ورسره تلى، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بې هوښه شو، نو زامنو يې روغتون ته يو وړی، هغه دا کار له صبر او توکل سره ټکر بالی.

دا فکر د شريعت له سرچينو نه دی تر لاسه شوی، پر دې باندې د نورو شيانو اغېز شوی دی او د اصل شرعي توکل او صبر مفهوم يې داغداره کړی دی. قران کريم خلکو ته امر نه دی کړی چې د الهي توکل په نيت کور کېنه او الله به په همدې توکل تاته خوراک در کړي، نه يې دا ويلي دي چې که دې پلار ومړ، ته اوښکه مه تويوه، غم مه کوه، دا الهي پرېکړه وه.

که د قران کريم اياتونه وکتل شي نو د صبر او توکل ډېرې لارښوونې پکې شته، الله د صابرانو مل دی، مومنان دې پر الله توکل وکړي، دغه ډول اياتونه په قران کريم کې تکرار شوي دي. د انفال سورت په ٦٥ او ٦٦ اياتونو کې د صبر په اړه راغلي دي چې که ستاسو شل صابر کسان وي، پر دوه سوه دښمنانو غلبه مونداى شي، او د ٦٦ په اخر کې وايي الله تعالى د صابرانو مل دی.

دا ايت موږ ته دا وايي چې تاسو له وسايلو پرته جنګ ته ورځئ شئ، په تش لاس د دښمن مقابله وکړئ او صبر وکړئ الله له صابرانو سره دی؟ که هر چا ته دا خبره د دې ايت په استناد وشي، نو هغه به يې نه يوازې رد کړي، بلکې تمسخر به يې هم کړي.

د انفال په ۴٦ ايت کې الله تعالى وايي تاسو د الله او رسول اطاعت کوئ، ترخپل منځ شخړې مه کوئ چې ناکامه به شئ او هيبت به مو ختم شي، بيا يې د صبر امر کړی دی او صابرانو ته يې د خپلې ملتيا ډاډ ور کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د ایت اولې برخې ته وکتل شي، الله تعالی د صبر اسباب بیان کړي دي، صبر څنګه وکړي؟ دوی باید سره متحد شي، خپلمنځي شخړې یې د دې سبب نه شي چې اخر اتحاد یې مات او دښمن ته په ګونډو شي، هیبت و رعب یې له منځه ولاړ شي، که په دې لار کې تاسو ته سختي راځي پر هغو صبر وکړئ، ځکه دلته دوه انتخابه دي، یو یې د همدې سترو اهدافو لپاره استقامت دی او بل یې په بې صبري تر دې تېرېدل دي. د اتحاد په شتون کې که سختي وي پر هغو صبر په کار دی، د سترو اهدافو لپاره باید د مسلمانانو صف متحد وساتل شي، دلته اسباب راغلي دي بیا د صبر توصیه ده.

د بقرې په ۲۴۹ ایت کې دي چې د طالوت ډلې د جالوت لښکر مات کړ، بیا یې ویلي چې الله د صابرانو مل دی. هغوی څنګه جالوت مات کړ؟ په تش لاس یې جنګ ورسره وکړ او مات یې کړ؟ نه؛ اسباب به دې په لاس کې وي، بیا که سختي راتله پر هغې به صبر کوې، نو دا صبر دی.

د بقرې ۱۵۳ ایت د صبر په اړه ډېر جالب دی، دلته الله تعالی وایي تاسو په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ، یقینن الله تعالی د صابرانو مل دی. خلک له دې ځایه فکر کوي چې صبر تر اسبابو لوړ دی، صبر باید له اسبابو اوچت وي نو صبر دی که نه صبر نه دی اسباب دي. اصلن په نړۍ کې هر څه د اسبابو شا ته دي، که ذهني ارامي وي، د دې لپاره هم ګڼ اسباب شته، یو مومن کس یې د خدای په عبادت کې لټوي، یو بل کس یې ممکن میلې ته په وتلو کې وغواړي، نور بیا په نورو شیانو کې. دا ایت موږ د نورو په رڼا کې ګورو، قران د هیڅ شي لپاره له اسبابو پرته امر نه دی کړی، د رزق په اړه الله ژمنه کړې ده، اما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسبابو تر کارونې وروسته، همدا شان یې د صبر لپاره طریقه داده چې شته وسایل به پر کار اچوې، که تر دې وروسته سختي وي د هغې په وړاندې استقامت صبر دی، هیڅ کار په دنیا کې له ستونزو خالي نه وي، نو که ذهني ارامي غواړې، هغه به عبادت کوې، تر دې وروسته به صبر هم کوې، د خدای په لار کې به سختي وي، ذهن به ګډوډ وي، په دې هر څه تر پوهېدلو وروسته چې ته صبر وکړې، ذهني ارامي به تر لاسه کړې. صبر په تمرین زیاتیږي، همدا شان له صابرانو سره ناسته پاسته هم د صبر پر پیدا کولو او زیاتولو اغېز کوي، که په دې اړه مطالعه وشي هم ګټوره تمامیږي.

صبر د وقوع او محل په اعتبار دوې نوعې لري: بدني او رواني، دواړه د اختیار او اضطرار له مخې دوې نوعې لري چې ټولې څلور شوې. اول: بدني اختیاري: لکه سخت کارونو باندې صبر کول. دوهم: بدني اضطراري: پر مرض، زخم او درد صبر. دریيم: رواني اختیاري: له هغه کاره ځان ساتل چې د عقل او شرعې له مخې یې کول ښه نه وي. څلورم: رواني اضطراري: د معشوق او محبوب ترمنځ چې یې کوم شی بیلتون راولي، نو دی په ډېر تکلیف صبر وکړي.

توکل په لغت کې ور کول، باور او اعتماد دی او شرعي معنا یې الله ته د چارو د نتیجې سپارل دي. عربي ویکیپیډیا وایي: والتوکل مقرون بالسعي والحرکة، وعند مبادئ الأمور، و في سائر الاحوال، ولا یتحقق معناه بغیر عمل، فمن اراد الرزق او النجاح بذل الجهد متوکلا علی الله.

ژباړه: توکل له هڅې او حرکت سره یوځای وي، د کارونو په پیل او ټولو حالاتو کې وي، له عمل او کار پرته توکل معنا نه لري؛ که څوک روزي او بریا غواړي، پر الله له توکل سره به خپل ټول وس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له توکل سره د صبر معامله شوې ده، د توکل په اړه هم د قران کريم مفهوم له اسبابو لوړ ګڼل شوی دی، يعنې له هيڅ سبب پرته بايد پر خدای توکل وشي، زما په اند دا مفهوم يې د قران کريم په هيڅ ايت کې نه دی ذکر شوی، لومړی به ځينې اياتونه وګورو چې په څنګه سياق و سباق کې يې د توکل يادونه کړې ده:

{إِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ غَرَّ هَؤُلَاءِ دِينُهُمْ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ } [الأنفال: 49].

ترجمه: هغه وخت چې منافقانو او هغو کسانو چې په زړونو کې مرض و، ويل: دغه کسان په خپل دين باتېږي او څوک چې پر الله توکل وکړي، نو الله غالبه د حکمت خاوند ذات دی.

{فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ذَلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا () وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا } [الطلاق: 2، 3].

ترجمه: کله چې دوی خپلې نېټې ته ورسيږي، نو يا يې له قانون سره سمې وساتئ يا يې له قانون سره سمې خوشې کړئ، ستاسو دوه عادلان کسان شاهدان کړئ او د الله لپاره شاهدي ور کړئ، څوک که پر الله او قيامت ايمان لري دا د هغوی لپاره نصيحت دی او که څوک الهي تقوا غوره کړي هغه به د خلاصون لار ورته ومومي او له هغه ځايه به روزي ور کړي چې دی يې محاسبه نه وي کړې، او څوک چې پر الله توکل وکړي، هغه ورته کافي دی بېشکه الله خپلې چارې بشپړوي يقينن هغه د هر شي لپاره اندازه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دوو اياتو کې که وکتل شي نو توکل له اسبابو پورته نه وي، دلته يې توکل تر هغه وروسته ياد کړی دی چې د يوې ټولنيز موضوع د حل لپاره يې ګڼې لارښوونې وکړې، د بالقوه جنجال د مخنيوي لپاره يې هدايات ور کړل، تر هغه وروسته يې د خلاصون او روزي يادونه وکړه، ايا له دې دا فکر اخيستلای شو چې خلاصون او روزي به له هر ډول اسبابو لوړه وي؟ د ايت په اخر کې راغلي دي چې د هر شي لپاره خپله اندازه ده، هر شی د اصولو په پام کې نيولو سره يا له منځه ځي يا را منځته کيږي، قدر دلته د قوانينو هغه مجموعه ده چې الله تعالی د کايناتو لپاره ټاکلي دي.

په لومړي ايت کې راغلي چې منافقانو مسلمانانو خطا وتلي بلل، بيا الله وايي: څوك چې پر الله توکل وکړي هغه غالبه د حکمت خاوند ذات دی. دلته پوښتنه دا ده چې اصحابو د دې منافقانو او نورو دښمنانو مقابله څنګه وکړه؟ توکل يې پر الله تعالی څنګه کړی و؟ اسباب يې وو او که له اسبابو پرته يې دا هر څه وکړل؟ همدا يوه پوښتنه د توکل په اړه زموږ سره شته مفهوم بدلوي او اصل مفهوم يې موږ ته په لاس راکوي.

رسول الله ص ص له خپلو اصحابو سره متوکلين وو، خو هغوی اسباب کار کړې دي، دا سمه ده چې الله له هر ډول سبب پرته يو کار کولای شي، مګر دا دينا الله تعالی پر دې اصولو ودان کړې ده چې د هر شي تر شا يو سبب وي، الله تعالی د اسبابو امر کړی دی، کار و عمل پر انسان دی او نتيجه پايله يې د الهي قوانينو له لورې کيږي. يعنې انسان به کار کوي، د نتيجې په اړه به يې له پيله پر الله توکل کړی وي.

له دې سره موافق په يوه حديث کې هم راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْقِلُهَا وَأَتَوَكَّلُ، أَوْ أُطْلِقُهَا وَأَتَوَكَّلُ؟ قَالَ: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ».(۳)

ترجمه: يو کس وويل: د الله رسوله! اوښه وتړم بيا توکل وکړم او که ايله يې پرېږدم او توکل وکړم؟ ده ويل: گونډه يې وتړه او توکل وکړه.

په دې حديث کې په ډاگه شوه چې توکل تر اسبابو وروسته کېږي، توکل ستا ذهني ډاډ دی، ستا باور دی، له خدای سره ستا رابطه ده، چې اسباب دې په لاس کې وي، دماغ دې ارام وي، زړه دې ډاډه وي، نو وران کارونه انسان رغولای شي، او که زړه دې مات او دماغ دې گډوډ وي، نو روغ کارونه له سري وران شي؛ توکل د انسان په عمل کې دومره مهم دخل لري. دا هغه څه دي چې ما د نصوصو تر کتلو وروسته د توکل په اړه له قران او نبوي احاديثو څخه فهمولو دي.

۲۶/۲/۲۰۲۲

**سرچينې:**

(۱)معجم اللغة العربية المعاصرة (2/ 1263)

(۲)بخاري، کتاب الجنائز، باب زيارة القبور، ح: ۱۲۸۳)

(3) (ترمذي، ابواب صفة القيامة والرقائق والورع، باب، ح: ۲۵۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قران کریم نثر دی که شعر؟

د قران کریم د ژبې په اړه زه د مدرسې له وخته ګنګس وم، د بلاغت په کتابونو کې راغلي و چې د خدای کتاب معجز دی، له دې امله هغه نه نثر بلل کیږي او نه شعر، بلکې له دې دواړو ما ورا دی، دغه یې د اعجاز نکته بلله.

دغه ګنګسیت تر ډېره وخته را سره پاته و او بیا هغه وخت ختم شو چې په قران کریم کې مې فکر وکړ، د قران کریم په هغو ایاتو کې مې سوچ کاوه چې قران په عربي ژبه بولي، د عربي ژبې واضح کلام یې ګڼي؛ نو زما پوښتنه حل شوه.

د عربي کلام دوې نوعې دي: یوه یې نثر یادیږي او بله یې شعر، قران له دې دواړو ماسیوا بلل، د قران کریم اعجاز نه دی، بلکې پر قران کریم د خلکو نیوکو ته لار پرانیستل دي. په دې ځای کې باید یادونه وکړم چې ځینو کسانو د درییمې نوعې خبره هم کړې ده، اما که سم فکر وشي، هغه یا د نثر برخه ده یا د شعر، که د شعر اصول یې مرعات کړي وي، شعر دی او که دا نه وي بیا نثر دی. د نیمه نثر او نیمه شعر په اصطلاح دریيمه نوعه د واقعیت له مخې سهي نه ده که څه هم دا اصطلاح ځینو کسانو ورته رامنځته کړې ده.

الله تعالی خپل کتابونه انسانانو ته را لیږلي دي، که انسان د هغه په کتاب پوه نه شي، پیغام یې درک نه کړي، بیا یې رالیږل هیڅ معنا نه لري. دا خبره هر مسلمان درک کولای شي چې الله تعالی له نثر او شعر پرته هم داسې کلام ایجادولای شي چې د یوه صدق به نه پر کیږي، اما په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلام به موږ نه پوهېږو، دلته هدف د یوه داسې معجز کلام اثبات نه دی چې انسان نه په پوهېږي، یا د خدای دا وړتیا خلکو ته روښانه شي چې الله تعالی داسې له انساني انواعو بېل په بله نوعه کلام هم پنځولای شي؛ هو! دا کار الله کولای شي، اما که له هغه کلام څخه د انسان پوهاوی او په یوه پیغام خبرېدل هدف نه وای، بیا به دغه ډول یو کلام راغلی وای، خو دلته هدف د انسان پوهاوی دی. قران کریم معجز کلام دی، خو داسې معجز نه دی چې د کلام له دواړو نوعو وتلی دی، بلکې منثور مجعز کلام دی، خلك یې پېژني چې نثر دی، اما د هغه په شان پرمحتوا له بلاغت و فصاحته ډك د بشریت د ګټې لپاره پیغام لرونکی کلام عربانو نه شوای پنځولای، په همدغه ځای کې یې معجز و او دی.

له دې امله باید داسې یو کتاب ورته راشي چې د انسان تر درك لوړ نه وي، په هغه ژبه وي چې انسان په پوهېږي، د ژبې ټول پېژندل شوي اصول یې مرعات کړي وي، خلکو ته یې په املا او انشاء کې ستونزې نه وي، چې انساني پوهې ته خنډونه ایجاد کړي. نه یې عقل له فهمه عاجز شي او نه بشري توان د هغه د عملي کولو یا د مفهوم په اخیستلو کې بشر ته منفي ځواب ور کړي.

قران کریم د کلام په دوو نوعو کې کوم یو دی؟ شعر دی که نثر؟ که د قران کریم ایاتونه تلاوت شي په ډېر روښانه ډول ځنې ثابتېږي چې قران کریم منثور کلام دی، د شعر تعریف د هغه پر ایاتونو نه شي صادق کېدلای او ورسره د قران شعر بلل او د رسول الله ص صلی الله علیه وسلم شاعر ګڼل قران کریم رد کړي دي؛ اما د منثور کلام ځانګړتیاوې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته به سوال پیدا وو چې که قران کریم د کلام له دغو دوو نوعو وزي، نو بیا څه شی دی او کوم نوم باید ور کړل شي؟ تر اوسه خو لـه شـعر او نثر پرته د انسان په ژبه کې بله نوعه کـلام نـه دی راغلـی، کـه د خـدای کتاب له دې دواړو ماورا وګڼو بیا به هغې نوعې ته چې قـران د کلامـي نوعې هماغه ډول دی، څه نوم به ور کوو تر اوسه خو موږ بله نوعـه نـه ده پیژندلې؟!

جالبه داده چې قران کریم په خپل متن کـې هـیڅ ځـای دا خـبره نـه ده کړې چې له نثر او شعر پرته د کلام یوه بله نوعه ده، اما انسـانانو چـې د خدای د کتاب ستروالي ته کتلي، هڅه یې کړې ده چې د انساني کـلام له انواعو یې بېل کړي، لکه څنګه چې د دغه کتـاب رالیږونکـی خـالق دی، له بشري ټولنې بهر او لوړ دی، باید کلام یې هم زمـوږ د کـلام لـه پیژندل شویو انواعو بېل او جلا وي.

خو دې ته فکر نه دی شوی چې دا ادعا یې نه د قران کریم لـه ایـاتونو سره سر خوري او نه هغه هدف بیا تر لاسه کېږي چې دا کتاب یې د تر لاسه کولو لپاره راغلی دی. قران کریم وایي: په څرګنده عربي ژبه نـازل شوی دی(شعراء: ۱۹۵) کـه قـران کـریم پـه عـربي ژبـه وي، بایـد هغـه اصول، ګرامر، اصطلاحات، متلونه، انشاء او املا یې مرعات کړي چـې په عربي کې شته، څو عرب په دې کتاب پوه شي، که دا هـیڅ مرعـات نه شي د قران کریم دغه ادعا چـې پـه واضـحه عـربي ژبـه دی، ناسـمه ثابتیږي (العیاذ بالله).

دویمه موخه خلکو ته لار ښوونه او هدایت دی، قران کریم ادعا کـوي چې دا کتاب بهترینې لارې تـه هـدایت کـوي(الاسراء: ۹)، کـه پـه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب کې هدایت موجود وي، خو خلك يې له فهمولو عاجزه شي، بيا د دې هدایت رالېږل څه معنا لري؟

له دې امله باید په پرېکنده توگه هغه خبره مردوده وگڼل شي چې قران کریم د کلام له پېژندل شویو انواعو څخه باسي، قران کریم د عربي ژبې منثور کلام دی، په خپل جوړښت کې يې د بلاغت او فصاحت اصولو ته پوره پاملرنه شوې چې عربان يې هم جوړښت ته گوته په غاښ پاتېږي. پیغام يې له نن څخه نژدې څوارلس نیمه سوه کاله وړاندې یوې غیر متمدنې قبایلي ټولنې ته راغلی دی، چې نن هم د یو معتدل مقدس قانون بڼه لري او لا هم یو نیم میلیارد انسانانو ته هدایت کوي او د شرعي قانون کار ور کوي.

یوه مهمه نکته دا هم ده چې د قران کریم چیلنج په هغه پیغام کې دی چې بشر ته يې د رب له لوري راغلی او دغه پیغام چې کومو الفاظو ادا شوی دی؛ نه یوازې د کلام په الفاظو کې؛ ځکه په الفاظو کې يې د بلاغت او فصاحت په چیلنج یوازې د عربي ژبې څو مخصوص کسان پوهېږي، له دوی ماسیوا نه امي عرب په پوهېږي او نه غیر عرب وگړي، اما پیغام ټول درك کولای شي او اساسي هدف هم د کتابونو له رالېږلو څخه پیغام وي چې په بشري ټولنه کې خلك له تیارو رڼا ته راولي نه الفاظ چې یوازې د یوه قوم له ژبې سره اړه لري.

دا سمه ده چې قران کریم په منثور کلام کې معجز دی، که یو څوك د قران کریم په شان ایاتونه یا سورتونه نه شي جوړولای دا معنا نه لري چې قران کریم منثور نه دی، که قران کریم د شعر او نثر له دوو نوعو بیله بله نوعه شي نو هغو انسانانو ته چې له دې دوو انواعو پرته بله د کلام نوعه نه پېژني چیلنج ور کول معنا نه لري. ځکه چیلنج په هغه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ور کول کېږي چې هغه په پوهېږي، زده یې وي، پېژني یې، اما لـه دې سره د هغه په شان کار نه شي کولای، قران کریم په واضحه منثـوره عربي لیکل شوی دی، اما له دې سره د بلاغـت او فصـاحت وروسـتۍ نکتې ته رسېدلی دی چې په دغه برخه کې یې هم عـرب چیلـنج کـړي وو. ځینو کسانو د قران کریم چیلنج د دې دلیل بللی دی چـې هغـه نـه منثور کلام دی او نه منظوم، اما دا خبره سمه نه ده. د شعریت خبره یـې قران کریم هم رد کړې ده، خو د نثر په برخه کې قران کریم هیڅ نه دي ویلي، ځکه داسې یو منثور کـلام دی چـې عـرب یـې پېـژني، کـه یـې پېژندل ورته له وسه وتلي وای، بیا نه چیلنج ګټه در لوده او نه انسـان پـه مکلف و.

قران کریم وایي چې هر قوم ته رسول د هغوی په ژبه د دې لپاره ورغی چې هغوی په پیغام ښه پوه کړي(ابراهیم: ۴)، عرب له شعر او نـثر پرتـه په ژبه کې بله نوعه نه لري، که قران کریم له دې دواړو نوعـو بېـل وي، یوه درېیمه نوعه وي، چې نوم هم نه لري، نو عـرب بـه ځنګـه پـه پـوه شي؟ د قران کریم دغه ادعا چې د دوی په ژبه دی او د ښه پوهاوي لـه امله په دغه ژبه دی، نو دا خو بیا العیاذ باللـه ناسـمه ثابتـه شـوه؟ کـه پـه عربي ژبه وي، ګونګ هم نه وي روښـانه وي، راغلـی هـم د دې لپـاره وي چې خلك په پوه شي او بیا یې فکر کولو تـه هـم رابللـي دي چـې تاسو په دې قران کې فکر نـه کوئ(نسـاء: ۸۲، محمـد: ۲۴)، کـه قـران کریم له نثر او شعر پرته یوه درېیمه نوعـه وای، د دغـو ډول ایـاتونو پـه ځواب کې ولې عربانو نه ویل چې موږ نه په پـوهېږو؟ د روښـانه عـربي دعوه یې ولې نه ور ردوله چې نه روښانه دی او نه زموږ په پېژندل شویو انواعو کې پر یوه نازل شوی دی؟ د هغه وخت د عربانو چوپوالی خپلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ثابتوي چې قران کریم په متعرفه منثوره عربي ژبه نازل شوی، ټول گرامري اصولو يې مرعات کړي، د بلاغت وروستۍ نکتې ته رسېدلی، پیغام یې د بشر لپاره د دنیا او اخرت گټې لري او په دې هر څه عربان پوهېدل.

۱۷/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له دين او شريعته ناسم تفسير لاملونه

په دې مقاله کې به هڅه وکړم چې له دين او شريعته د ناسم تفسير ځينې لاملونه په ګوته کړم. زما کوښښ دادی چې ټول يې په ګوته کړم، خو ممکن ځينې يې له ما هېر وي، يا مې ور پام نه شي، يا زموږ په سيمه کې نه وي، له دې امله مې ځينې لاملونه وويل.

**کمعلمي**

انساني ټولنې هر وخت له جهالت څخه رنځ وړی دی، کمعلم د بدبختيو سبب کېږي. انسان چې نه پوهېده د طبيعت له جبره به رنځېدی، د طبيعت جبر ته يې د عبادت سر ټيټ کړ، بيا چې له طبيعي افتونو سره د مقابلې يو څه توان يې په ځان کې وليد، دغه عبادت يې ايله کړ، خو اوس په عادت بدل شوی و، بيا يې هم بدلول او د خلکو پوهاوی اسانه کار نه و، ان په انساني ټولنو کې تر اوسه هم دغه ډول عبادتونه شته.

کمعلمه هم ځان ته زيان رسوي او هم نورو ته، هم مفاهيم خرابوي او هم ارزښتونه، د خپل نه پوهاوي له امله تر ماهيت شکل ورته مهم وي، تر کلي مفهوم جزي ورته ارزښت لري، تر هدف يې وسيله ټينګه نيولې وي، تر انسان د هغه لپاره د ده د نيمګړي علم نيمګړی ديني و شرعي تفسير ډېر د اهميت وړ وي.

د کمعلمۍ د مرض زيان دادی چې مريض په خپله ناروغي اعتراف نه کوي، له دې امله يې تداوي هم نه کېږي، د خپل کمعلم او کم فهم له امله به په خپله فتوا خلکو ته زيان رسوي، فتوا به يې هم د شرعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولو په رڼا کې سهي نه وي، تعبیر به یې هم زوړ وي، د فتوا مکان او زمان به یې هم خطا کړي وي، ټولنې ته د ګټې فکر به هم نه کوي، بس لکه د ړانده لکړه چې هر ځای ولګېده، هماغه به یې ځای وي.

**ناسم اقتصادي وضعیت**

اقتصاد د ژوند ډېر مهم جز دی، ښه اقتصاد د انسان پر فزیکي وجود او رواني دواړو ښه تاثیر کوي او خراب اقتصاد دواړه خرابوي. ښه اقتصاد د یوې ښې، امن لرونکې، سوکالې او پر مختګ تللې ټولنې ضمانت ور کوي او خراب یې د خرابۍ. د ښې ټولنې غړی به له شریعته د سوکاله ژوند، خوشالې ټولنې، ښې دنیا و غوره اخرت تعبیر وکړي او د خرابې ټولنې غړی به د دنیا او اخرت د خرابوالي تفسیر وړاندې کړي.

په فردي لحاظ څوک چې مسکین وي د بل تر احسان لاندې وي، هغه د حق خبره نه شي کولای، هغه خبره کوي چې پر ده احسان کوونکی په خوشاله شي. له دین او شریعته تفسیر د هغه د ښو او ښېګڼو ګرو وي، په خپلو ښو یې هرې خوا ته سر ور پېچلای شي.

که څوک بل ته اړتیا ونه لري، هغه شرعي اساسات او انساني نیمرغي په نظر کې نیسي، بیا خپل تفسیر وړاندې کوي. د هغه د تفسیر د یو چا د شتو تر احسان لاندې نه وي، بلکې پر خپلو معیارونو ولاړ او متکي وي، که خطا هم شي خپل معیار، اصول، تګلاره، ماخذ و مرجع یې معلومه وي، اما هغه څوک چې د بل په خوښه تفسیر کوي، د هغه نه ماخذ معلومیږي نه یې مرجع، نه یې اصل پر اصل پاتېږي او نه یې فرعه پر فرعې، نه معیار معلوم وي او نه تفسیري تګلاره، بس هر څه تر یوه احسان جار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مجموع کې د انسان شخصيت د هغه پر تفسير تاثير لري، پښتانه وايي؛ څوک چې په ځان کې څه ويني، هغه په جهان کې هم ويني، تفسير د هر انسان د شخصيت هنداره ده، که فقيره، متشدده، ظالمه، خشونتگره او وروسته پاتې ټولنه وه، تعبير به يې هم له دې ټولو شيانو ډک وي، که سوکاله، امن پسنده، عادله، له زورزياتي لرې او پرمختګ خوښونکې ټولنه وه، په ديني وشرعي تفسير کې به يې هم دا هر څه له ورايې څرګند وي.

## د دين له ژبې پرديتوب

يو غټ مشکل زموږ د عجمو لپاره د دين له ژبې لرېوالی او حتا پرديتوب دی. زموږ هغه مرکزونه چې د دين لور ته منسوب دي، د عربي په زدکړه کې دومره کمزوري دي چې حتا تر لس کاله زدکړو وروسته هم يو کس نه شي کولای چې په عربي ژبه خبرې وکړي. د کراچي د يوه غټ شيخ مولانا سليم الله خان رحمه الله په اړه يوه شاګرد يې مولوي عبد الحکيم صاحب راته خبره کوله چې عربي يې په خوله نه شوای ويلای، يوه بل طالب چې په ابن عباس مدرسه کې يې عربي کورس ويلی و، د هغه ترجماني کوله او بل لور ته همدې شيخ د کشف الباري په نوم د بخاري يوه اردو شرحه ليکلې ده.

د يوې ژبې زدکړه له هغې په ترجمه او تفسير کې ډېره مهم ده، د هغې ژبې اصطلاحات، محاوره، متلونه، امثال او نور ټول د دې ژبې تر زدکړې تعلق لري. پښتانه د يوه سخي سړي په اړه وايي چې پلانی ډېر ښه سترخوان لري، هدف يې د ښکلي او غټ سترخوان در لودل نه دي، پښتون د دې جملې په اورېدلې کې ستونزه نه لري، خو غير پښتون حتمن له مشکل سره مخېږي. زما يو دري ژبی ملګری و، د هېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ځای به یې ویل، له یاده مې ولاړی، ما به بیا ورته ویل چې هېر مې شو، ده اصلن خپله دري را ترجمه کوله چې از یادم رفت، خو په پښتو کې یې خوند نه کاوه.

د ژبې په اړه موږ له خورا غټ مشکل سره مخ یو، زموږ همدا ستونزه ده چې د قران وجهه، رضاه، ذاته، یده، نفسه، ساق، یداه او دې ته ورته نور قراني الفاظو کې موږ اختلاف لرو، حتا د گمراه، بدعت او نورو گڼو ټاپو ته د همدې الفاظو پر تعبیر سره رسېدلي، په داسې حال کې چې دا الفاظ له خپل سیاق و سباق سره روښانه مفهوم ور کوي او هیڅ اړتیا نه شته چې د ناسم مفهوم په اخیستلو اختلافات جوړ کړو او پر خلکو ټاپې ولگوو.

زموږ د مذهبي طبقې یوازې دا مشکل نه دی چې عربي یې نه ده زده، د هغې زمانې له ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، نظامي حالت سره شناخت نه لري چې دین پکې نازل شوی دی، بلکې خپله ژبه یې هم نه ده زده، د عربي داسې ترجمه کوي چې ولاکه د عوامو خلکو سر په خلاص شي چې دا اوس څه وایي؟ یوه ملا د سبحانه وبحمده ترجمه داسې کوله: ده لره پاکي ده متلبس دده له حمد سره. په دې پښتو زه ولاکه پوهېدم چې دا اوس څنگه ترجمه ده، نو عوام به څه پوه شي؟

یو بل مشکل دادی چې دوی په مدرسو کې زدکړې کوي، کار نه لري، تجارت نه کوي، په حکومت کې وظیفه نه لري، د کور په چارو کې گډون نه کوي، په دې توگه له کار روزگار، ټولنې، بازار، له خلکو سره له اختلاط او لنډه دا چې د عیني شرایطو له درک کولو بیخي گوښه وي، دوی په مدرسه کې یو څه وایي او دلته په ټولنه کې بل څه موجود دي، دوی چې را بهر شي تعبیر یې یو لور ته زوړ وي، بل خوا د ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له عیني شرایطو سره سمون نه لري، د خپلې ژبې د نه زدکړې او نه شناخت له امله یې په بیان او لیکلو کې ګڼې ستونزې وي او د عربي د سمې نه زدکړې له امله د اصل مفهوم په درك کې ګڼې ستونزې ایجادوي.

## د دین د نزول له زماني لرېوالی

یوه بله ستونزه داده چې د دین د نزول ډېره زمانه شوې ده، په هغو شیانو کې چې نن موږ پکې اختلاف لرو، د اصحابو په زمانه کې یې چا پوښتنه هم نه ده کړې. هغوی پوهېدل چې د وجهه رضاه او ذاته و نفسه څخه څه هدف دي؟ موږ چې په عربي بلد نه یو، تر مفهوم یې ټکي په ټکي معنا خوند راکوي او دا وېره را سره وي چې که لفظ په لفظ یې ترجمه نه کړم، ګنهګاره به شم، نو ګڼې ترجمې وکړو او بیا په دې سره هم ځان را څخه کې ورك شي او هم جهان، اختلافاتو ته لار جوړه کړو او د دین د سم تعبیر په لار کې خنډونه ایجاد کړو.

د زمانې په دې اوږد واټن کې ډېر امکان شته چې پر اصل مفاهیمو د خلکو د ډېرو تعبیرونو له امله دوړې پرېوتلې وي، ځینې مثالونه، اصطلاحات او جملې له خپل اصل مسیر څخه لرې وړل شوي وي، پر ځینو بیا د مذهب او فرقې ټاپې لګېدلې وي چې بل تعبیر کول یې په هغه سیمه کې مطلق ناروا وي او د خپل اصل په اړه یې معلومات له نشت سره برابر دي.

## د دین او شریعت د چارو له نورو څخه نه بېلوالی

دا هم یو سرخوږی دی چې د دین او شریعت چارې له نورو څخه نه دې بېلې شوې. که په حدیث یا ایت کې هر څه راغلي وي، بس خلك یې د دین او شریعت احکام، مسایل، اداب او هدایات بولي. خو که

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران کريم ته وکتل شي يا هم د رسول الله ص ص اصل سنتو او کره احاديثو ته، نو په ايت يا حديث کې د هر شي يادونه د هغه د دين پر جز ګڼلو دلالت نه کوي. حتمي نه ده چې زه دې د نس درد ولرم، نو دې د علاج لپاره له عسلو ګټه واخلم، ممکن زه ګولۍ وخورم، زه ډاکټر ته ولاړ شم، شونې ده زه مې د مور په لاس جوړه شوې کپه وخورم، يا هم هيڅ ونه کم، خپله جوړ شي. خو بل لور ته ځينې کسان د نبوي طب په نوم پر خلکو دا تحميلوي چې که دې نس درد کوي، نو رسول الله ص ص يو کس ته د عسلو ورکولو امر کړی دی، بايد عسل وخوړل شي؟!

دلته دا سره ګډه وډه ده چې نبي د ډاکټرۍ او طبابت لپاره راغلی دی که د ديني او شرعي چارو لپاره؟ هغه يو روحاني لار ښود و، که طبيب هم و؟ دا کرښې بايد واضحې او څرګندې شي چې کوم شيان دين او شريعت دي او کوم يې له دين او شريعت سره کار نه لري، په شرعي متن کې د هغو يادونه يوازې يو اتفاقي امر دی، نور د هغو شيانو په اړه خلك له خپل وخت سره سم عمل کولای شي.

**تنګنظري او مذهبي تعصبونه**

فرقه پالنې هم د دين ناسم تعبير ته لار اواره کړې ده. خلك د دې غم نه دي اخيستي چې له دينه سم تفسير وشي، خو د دې غم ورسره دی چې زما له مذهب، فرقې او عقيدې سره برابر تفسير بايد وشي. دلته ستونزه دا پيښيږي چې د مذهب او ډلې بنسټ خو يوه انسان ايښی دی چې اصول، تعبير او تګلاره يې د هر وخت له حالاتو سره سر نه خوري، نه د يوه مذهب لمن دومره غوړيدلای شي چې د درست دين او شريعت تعبير دې وکړای شي، خو ديني او شرعي متن د دې وړتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري چې د نړۍ په هر ګوټ کې د هر وخت له حالاتو سره ځان عيار کړي او داسې تعبير يې په نوي ډول وشي چې خلکو ته ستونزې ايجاد نه بلکې اوارې کړې. که د مذهب زاړه اصول د نوي وخت لپاره کار نه ورکوي، نو دې نوي شي، د زړو پر ځای دې نوي اصول وضع شي، پر زړه تګلاره دې بيا غور وشي، سمونې، ايسته کونې او نوي ابتکارات دې وشي چې له دين و شريعت څخه د نوي تعبير او تفسير لپاره لار جوړه کړي.

## د ټولنې او محيط تاثيرات(پر کلتور د مذهب او پر مذهب د کلتور اغېزې)

يو مهم لامل يې پر انسان د خپل چاپيريال او ټولنې تاثير دی چې خلک له يوه مسير څخه بل ته برابروي. دلته څو مسايل دي چې يوه بل ته سره په غېږ ورغلي دي. يو پر ديني و شرعي متن د عربو د کلتور اغېز دی چې طبيعي خبره ده پر موږ هم تاثير لري، بل زموږ د خپل کلتور اغېز دی چې يو انسان يې له تاثيره وتلای نه شي، کله چې له داسې متن څخه تعبير کېږي چې هغه د خپلې ټولنې تر کلتوري فشار لاندې تکامل ته رسېدلی وي، بيا يوې داسې ټولنې ته تفسيرېږي چې د هغې تاثير به يې پر تفسير حتمن وي، نو دلته خبره ډېره پېچلې کېږي او د هر چا د وس کار نه دی چې د دې معضلې د حل لپاره داسې انساني او شرعي معيارونه وضع کړي چې د بشر او دين و شريعت دواړو ارزښتونو ته يې تفسير ژمن پاته شي.

له دې امله نو په اوس وخت کې د تفسير لپاره د يوې ټولنې اړتيا ده چې په هيواد کې له دينه د تعبير او تفسير چارې به مخته وړي. هغوی ته به واک ورکول کېږي چې نورکسان به ستاسو په ادرس ستاسو ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او متحد و همږغی تفسیر خپروي. په دې توګه به د ګڼو تفسیرو مخه ونیول شي، اختلافت به حل شي او بل لور ته چې خلک دیني مسلو ته اړتیا لري دا غوښته به هم پوره شي او دا تګلاره اوس یوازې زموږ لپاره نه، بلکې د هر اسلام هیواد لپاره اړینه ده چې د خپلو اړتیاو په رڼا کې داسې تفسیر وکړي چې هم د ټولنې غوښتنې پر نظر کې ونیول شي او هم دیني تفسیر جام او ولاړ پاته نه شي.

۲۴/۳/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له قبیلوي پېژندګلوي تر ملي

دوکتور جواد علي په خپل کتاب المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام کې لیکي چې په عربو کې ځکه قبیلوي پېژندګلوي مهمه وه چې هغوی د ځان د حفاظت ذریعه بلله، هغوی ته دا پېژندګلوي د هغوی هویت وه، ځکه دوی یو حکومت نه درلود چې د هغوی له حقوقو یې دفاع کړې وای، نو دوی د دفاع یوازینۍ وسیله همدا قبیله وه، له دې امله یې خپل نسبونه یادول، د پلار او نیکه په کړنو به یې فخر کاوه، د ده په وینا چې غیر عربو ته دا کار ځکه دومره مهم نه وو چې هغوی حکومتونه درلودل، خلکو ته وطن او دولت مهم وو، د هغوی د اواز اورېدلو لپاره دولتي محکمې موجودې وې، پوځ وو، پولیسي ـ اداري وې، هغوی به د یوه نظام تر چتر لاندې را ټول وو، نو دوی د یوې قبیلې پر ځای په خپل پوځ، وطن، ملت او نظام نازېدل، فخر یې په کاوه، فارسیانو فارس درلود، رومیانو روم درلود، همدا لامل وو چې هغوی ته د انسابو یادول، یا قبیلوي پېژندګلوي مهمه نه وه.(۱)

د عربو دغه حالت قران کریم هم یاد کړی دی:

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13].

ژباړه: اې انسانانو! تاسو مو له نارینه او ښځې پیدا کړې یئ او خیلونه و قبیلې مو د دې لپاره کړي یئ چې سره وپېژنئ، یقینن الله تعالی ته ستاسو متقیان غوره دي، بېشکه الله ډېر پوه او خبرداره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ټول پوهېږو چې قران کريم د عربو هغې ټولنې ته نازل شوی دی چې خلکو ته يې قبيلوي او د خيلونو پېژندګلوي ځکه مهمه وه چې نظام يې نه درلود، قبيلوي ژوند يې وو، خلکو د خپلو قبيلو د ګټو لپاره کار کاوه، قران دا يادونه ورته وکړه چې پر قبيلو او خيلونو د انسانانو جلا کول د معرفت لپاره دي لکه تاسو چې دا کار کړی دی، اما الله ته څوک د قبيلې له مخې نه نژدې کېږي، که يو څوک غواړي چې الله تعالی ته نژدې شي، نو تقوا دې وکړي، په تقوا کې هم يو هغه تقوا ته چې زموږ په نظر وي، يا که يو څه نور سپين وو‌ايم زموږ د پښتنو په نظر تقوا وي، هغوی خو ملنګ چې په کال يې غسل نه وي کړی، تړانګې کالي يې اغوستي وي، تل فقر کوي، هم متقي او د خدای دوست ورته ښکاري، يو هغه تقوا ته چې الله تعالی ته مقبوله ده، الله د عليم او خبير صفات د همدې لپاره ذکر کړي دي چې زه پوهېږم څوک متقي دی او څوک يوازې د متقي پېښې کوي، الله تعالی د يو چا په هويت نه خطا کېږي، لکه څنګه چې هويت مهم نه دی همدا ډول يې جنسيت هم ورته مهم نه دی، ځينې نارينه له دې امله خدای ته نژدې بولي چې نارينه دی، ښځه د خپل جنسيت له امله د دې وړ نه بولي، قران کريم په دې عمومي الفاظو کې دا ډول فکرونه مردود وګڼل.

د قران کريم له نزول څخه ډېر کم وخت تېر شوی و، چې عربانو قبيلوي ژوند ايله کړ او د يوه نظام تر چتر لاندې سره را غونډ شول، يوه لويه امپراتوري يې جوړه کړه، د قبيلو پخوانی رواج ورو ورو کمزوری شو، خبره اول د عرب و ناعرب شوه، په دې منځ کې د مسلمان او نامسلمان خبره هم يادېده، نوی له قبيلوي پېژندګلوي څخه مذهبي او قومي پېژندګلوي ته ورسېده، عربو ځانونه غوره بلل، نورو يې د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانو په نسبت عجمیان بلل، فارسیانو د خپلې لویې امپراتورۍ او لرغوندي کلتور له امله ځانونه تر عربو هم بر بلل، مسلمانانو ته خپل دین حق معلومېده، په مقابل کې يې یهودو او نصاراوو خپل دین ښه باله، هندو ته خپل دین ښه ښکارېدی او داسې نور هم.

دغه وضعیت نورو انسانانو هم تجربه کړی دی، په هره ټولنه کې حکومتونه تر دغسې حالاتو وروسته جوړ شوي دي، نو دې حالت ته په راتلو نړۍ له یوه حالته بل ته ولاړه، چې تر پخوا يې بیا هم ډېر توپیر ونه کړ، د عربو د برترۍ لپاره د ډېرو عجمیانو ککرۍ له تنو بېلې شوې او د عربو د مغلوبیت لپاره ډېرو عجمیانو خپل ځانونه قربان کړل، بیا هم وینې توی شوې، ښه په لویه پیمانه، د بشر لپاره اساسي هدف ته بیا هم ونه رسېدل، که د قبیلې د ساتنې په پار ځینو انسانانو د نورو عزتونه، مالونه او شته لوټل هم بد کار و، او که د مذهب او قوم په نوم وي هم بد کار دی، د همدې سلسلې په لړ کې د قوم او دیني هویت ځای ملي هویت ته پاته شو، په ملي هویت کې بیا هم لکه د قوم او مذهب هویت چې ډېر شمېر کسان يې په چوکاټ کې راځي، نوره ګټه نه لري، هماغه د قران کریم خبره ده چې یوازې پېژندنه ده، یو افغان دی، بل ایرانی، بل پاکستانی، بل چینایي، بل هندوستانی او داسې نور.

هغه اساسي هدف چې د قران کریم په یوه مختصره جمله کې ذکر شوی دی چې کتاب انزلناه الیک له تخرج الناس من الظلمات الی النور، بیا هم تر لاسه نه شو او لا هم ورک دی، اوس د ملي هویت د ساتنې لپاره مبارزې کېږي، یو انسان بل انسان وژني، ملي هویت هم د ښه انسانتوب نښه نه ده، یو څوک له دې امله ښه انسان نه دی چې عربستانی دی، یا ایرانی دی، یا افغان دی، بلکې د ښه انسان د ثبوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره نور معیارونه شته، خدای ته د نژدېکت لپاره معیارونه شریعت بیان کړي دي، که پر هغه معیار څوک پوره نه وي، نه ملي هویت د هغه د ښه انسانیت لپاره کفایت کوي او نه قوم، نسب او مذهب.

هغه مهال به د قبیلې پر ملکي سره شخړه وه، یوه قبیله به له بلې سره د مالونو د څرځای پر سر، ښکر په ښکر وه، تر دې وړو شیانو وروسته کله چې انسانان یو څه پوه شول، نو د وړو شیانو پر ځای یې غټ را پیدا کړل، د هغو پر سر یې شخړه پیل کړه، تر بل هر شي د انسان لپاره لوی خطر له واک او دولت څخه ور پېښ شوی دی، د واک لپاره انسان هره وسیله کار کړې ده چې واک ته ورسېږي او د مال د تر لاسه کولو لپاره هم انسان له هیڅ وسیلې لاس نه دی اخیستی، خبره ورو ورو ِ غټېده، ان چې د نن ملي هویتونو ته ودرېده، د یوه کس، یوې ډلې، یوه درست قوم ان ملت به له دې امله بد ویل کېږي چې د هغوی هویت به له ده څخه بېل وي، نه عقل دا راته وایي چې د انسانیت معیار ملي هویتونه کېدلای شي، نه دین راته وایي، نه په قانون کې شته او نه اخلاقیات دا راهنمایي کوي.

خبره که د پرون ده که د نن ده، هماغه کیسه ده چې تنې ډېرې سر یې یو دی، پرون که د قبایلو پر څرځای سره جنګ و، نو چې زیات کسان سره په شخړه شوي وي، زر او دوه زره به وو، اما نن په میلینو خلک تر څرځای پر یو څه غټه موضوع د نورو همدومره کسانو په مقابل کې درېږي، په لکاوو وژل کېږي، که پرون په زرهاوو مړه کېدل، موضوع یې وړه وه، نن په لکاوو دي، اما موضوع یې یو څه غټه ده. ملي مسایل او سیمه ییز مسایل د حکومتونو او واکداره طبقو له لوري د دې لپاره کښته او پورته کېږي چې خلک په خطا کړي، غلول شروع دي، که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې پرته چې خلک په وغلول شي، يو د بل په مقابل کې استعمال شي، ملي مسايل حل کېدلای شي. په دې مسلو کې يې دومره فکر بند شي چې خپل تعليم ځنې هېر شي، خپل شخصي مسايل يې هېر شي، د سيمې په کچه ستونزې هېرې کړي، د ټول انسانيت په کچه دښمن (طبيعت) ځنې هېر شي، بس هغه دښمن ته يې سترګې وي او انرژي مصرفوي چې واکمنه طبقه يې ورته معرفي کوي. دوی هر وخت له اساسي مسلو د خلکو پام جزي او غير اساسي مسلو ته اړوي، هغه دومره وپړسوي چې خلکو ته غټ ښکاري، اما په اصل کې هغه دومره واړه مسايل وي، چې اصلن په فکر بندولو نه ارزي، دا خو څه کوې چې وخت، پيسې او انرژي ورته ولګول شي.

انسان وږی د همدې انسان له لاسه دی، دې ته خلک نه متوجې کيږي چې د ځمکې دومره منابع چا غلا کړې دي چې ميلينونه انسانان وږي دي؟ انسان د انسان له لاسه بې کاره دی، د انسان له لاسه بې تعليمه دی، د انسان له لاسه لڅ دی، په ستونزو کې را ګير دی، طبيعي افتونو په مخه کړی دی، حتا هغه يو د استقرار ځای چې د ټول بشر راتلونکی ورسره تړلی دی لکه ځمکه، هغه هم د دوی له لاسه د ضياع لور ته خپل مزل لنډوي، زه نه وايم چې ملي مسايل دې هېر شي، په سيمه ييزه کچه مسايل دې نه حليږي، اما د سونه کلونو خشونت اميزه حل پر ځای سوله ييز او لنډ حل هم لري، واړه مسايل دې پړسول کيږي نه، انسان دې د انسانيت د بقا لپاره کار وکړي، د انسانيت پر استعدادونو دې کړی نه تاويږي چې يوازې به د دې لپاره کار کوي او بس.

مسايل که هر څومره د جنجال او خشونت لور ته وړل کيږي، عينن همدومره شونتيا يې د سوله ييزتوب لور ته هم شته، که څومره پړسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، بالکل همدومره احتمال د کمېدو هم لري، که څومره غزول کېږي، دا امکان يې هيڅ وخت نه ردېږي چې په لنډ وخت کې دې حل شي؛ مګر ولې داسې نه کېږي؟ ځکه نه غواړي، په لوی لاس دا کار کېږي، هغه ادارې چې په بې ځايه، بې وخته او غير اړينو موضوعاتو د انسانانو مصروفول غواړي، که خپل دغه شته امکاناتو د انسانيت په ګټه د مسايلو لپاره ولګوي، ايا بيا به هم دومره انسانان له ستونزو او مشکلاتو سره لاس او ګرېوان وي؟ د نړۍ ډېره سرمايه لس فيصده خلکو اخيستې ده او پاتې کسان د هغوی د غلامانو رول ادا کوي، ايا هغوی غواړي چې د دې نيوي فيصده خلکو دي همدې مهم ټکي ته ور پام شي؟ دا خبره که د ټولې نړۍ په ګټه صحت لري، د يوه هيواد په اړه يې هم لري، په يوه هيواد کې هم لويه برخه خلک فقيران وي، وړه برخه خلک سرمايه لري، هغوی واک هم لري، پيسې هم لري، په دې دوو شيانو هغوی د يوه بسته ملت په برخليک هر وخت لوبې کوي. دا نن د هيواد حالاتو ته وګورئ، ګراني چا جوړه کړې ده؟ د تېر دولت خلاف وسله والو مخالفينو ته چا پيسې ور کولې؟ نن د دولت خلاف مخالفينو ته څوک وسلې او پيسې ور کوي؟ دغه کيسه د امريکا په نظام کې هم شته، هلته هم د شتمنو او واکدارو څو ډلې دي، چې کله يوه غالبه شي د نړۍ لپاره يو ډول نقشه جوړه کړي او کله بله غالبه شي، پر هغه پخوانۍ چليپا را کش کړي، نوې وړاندې کړي، ترمنځ يې انسانان د هغوی تر پښو لاندې دل کېږي او هغوی خپل ساتېرى پر کوي.

۲۷/۱/۲۰۲۲

**سرچينه:**

(۱)( ياد تاريخ: الفصل الحادي عشر: انساب العرب، دويم ټوک ۱۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له مادیت څخه محرومه ټولنه

څېړنې ښيي چې مادي محرومیت په انسان کې د کمترۍ احساس پیدا کوي.
مادي محرومیت نه یوازې د انسان پر روان منفي اثر کوي، بلکې پر فزیکي وجود يې هم منفي تاثیرات لري. دا هم ثابته ده چې یوازې پر فرد يې اغېزې منفي نه وي، پر ټولنه هم بد اثر کوي؛ ځکه ټولنه له افرادو جوړه ده، که افراد په فزیکي او ذهني لحاظ روغ نه وي، هغه ټولنه به هم د فزیکي جوړښت له مخې او هم له رواني پلوه نورماله نه وي.
یو انسان/ټولنه چې د نورو په مقابل کې د کمترۍ احساس وکړي، بیا د خیال غېږې ته پنا وړي. د انسان په دماغ کې د تخیل برخه هم د انسان لپاره نعمت دی او هم منفي اړخ لري. د کمترۍ په وخت کې د تخیل نړۍ موږ ته کاذب ډاډ راکوي، موږ له خپل شاوخوا ناخبره له ځان سره خوشاله یو، ما/موږ له ځان سره دنګې مانۍ جوړې کړې وي، شانداره ښارونه مو وي، ښه ژوند لرم/لرو، هغه کسان چې زه یې په وړاندې د کمترۍ احساس کوم، هغوی مې/مو همدې حالت ته اړ کړي وي؛ خو د عینیت په نړۍ کې بیا هر څه د دې برعکس وي. په انسانانو کې یوه برخه يې د مادي نړۍ پر بدلون او اسبابو فکر نه کوي، بس دی د خیال په نړۍ کې ځان ته کاذب ډاډ چمتو کوي، چې د تخیل د ذهني برخې یو منفي اړخ دغه هم دی.
د مادیت په نړۍ کې هر څه په مادي اسبابو اړه لري، د هر پر مختګ تر شا مادي اسباب وي، کله چې دې اسبابو ته لاس رسی ونه لرو، بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمترۍ احساس را کې پیدا کېږي او څومره چې زمانه پر تېرېږي، موږ له دې اسبابو محروم پاتېږو، د کمترۍ ګراف هم ورسره لوړېږي.

په دې مرض اخته کسان یا پوچې ادعاوې کوي، یا د خیال په نړۍ کې ژوند کوي، یا له مادي محرومیت څخه پیدا شوی بحران په تشو وعظونو کابو کوي، زموږ د ټولنې د تشو ادعاوو یو لامل همدا دی.

هغه ټولنې چې حال یې خراب او ایینده تیارهویني، هغوی په ماضي کې ژوند کولو باندې خوښ وي، د شخص حالت هم له ټولنې بېل نه وي. د مسلمانانو او په خاص ډول د افغانانو حالت د دې خبرې ژوندی مثال دی. مسلمانان چې د غربیانو د مادیت په وړاندې د کمترۍ په احساس اخته دي، څو ډوله عکس العملونه یې پارولي دي:

اول: له مادیت څخه کرکه په روحانیت خوشاله کېدل؛ په وروسته پاته او د کمترۍ په مرض اخته ټولنې او اشخاص له مادیت څخه ظاهرن کرکه کوي او د روحانیت لور ته پر پاملرنه ډېر فوکس کوي. د دغه تمرکز عامل یې هم په اصل کې له مادیت څخه محرومیت وي؛ محرومیت په بشر کې د ګڼو ستونزو لامل کېږي، د هغه پر روان تاثیر کوي، د هغه پر فزیکي وجود یې اغېزې جوتې وي، د هغه کردار او ګفتار یې اغېزمن کړي وي، له نورو سره پر چلند یې اثرات ثابت وي او... لنډه دا چې محرومیت د بشر د ژوند هر اړخ متاثره کوي.

د روحانیونو دغه ډله بیا له مادي محرومیت څخه ټولنې ته ور پېښ بحران په وعظونو او نصیحتونو کابو کوي؛ په ژوند کې دواړه مهم دي او خپل رول لري، اما له مادیت څخه را پېښه ستونزه په روحانیت له منځه وړل، یا د مادیت اثرات په روحانیت ختمول، د ځان خطا ایستل دي. زموږ ټولنه د دې ښه مثال دی، یو څوک چې په جومات کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ کوي، خو تر راوتلو وروسته د لمونځ کوونکو بوټ غلا کوي، په حرم شریف کې د حاجي همایني وهي، د جومات په محراب کې خپله جنسي تنده سړوي، د جومات له منبره خپله کرکه او غسه ښکاروي، عقده سړوي او په وینا کې یې مادي محرومیت له ورایه ځرګندیږي.

ځان غلطول هم د ځان په تاوان دي او ټولنه خطا ایستل هم د ټولنې په زیان، زموږ د ټولنې روحانین دواړه کاره کوي، د ځان له غولولو سره ټولنه هم غولوي؛ دا سمه ده چې مادیات هم د بشر لپاره منفي او مثبت اړخونه لري او بل دا چې منفي او مثبت تر ټولنو توپیر هم کوي، یو شی چې موږ ته منفي جنبه لري، ممکن په بله ټولنه کې مثبت اړخ ولري؛ له دې هر څه سره له مادیاتو د انسان چاره هم نه شته. بل لور ته دغه واعظین دې ته فکر نه کوي چې زموږ په ټولنه کې له دې محرومیت څخه څومره بدۍ را پیدا شوې دي؟ خپل عیب ته پام نه کوي، د بل یوه عیب ته یې ګوته نیولې وي. په ټولنه کې د هر شي د ګټې او زیان اړخونه به سنجول کیږي، که یې ګټه زیاته وي، ټولنه باید ورته تشویق شي او زیاته ګټه یې خپله پر واړه نقصان پرده غوړوي.

یو بل عیب مو دادی چې د مادیت په نړۍ کې هره راغلې نوې پدیده موږ ته تر هغو له روحانیت سره په ټکر کې ښکاري چې اخیر زموږ خپل شخصي ژوند او د کورنۍ ماحول مو ځنې متاثره شي بیا موږ ورته تسلیمیږو. لکه: راډیو، ټیلیفون، ټلویزیون، بانک...

دویم: ماضي ته پنا وړل؛ که یوه ټولنه یا شخص شانداره او د یادولو وړ ماضي ولري، نو د حال او ایینده د خرابېدو په صورت کې هغه د خپلې ماضي ډېره یادونه کوي، دغه یادونه به یې هم له مبالغې او زیاتوبه خالي نه وي، په حال کې د هرې نوې پدیدې په اړه به یې عکس العمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماضي ته تګ او مبالغه وي. د مسلمانانو او په خاص ډول د مذهبي قِشر تمرکز پر دې دواړو برخو زيات دی.

دریيم: په خیالونو کې ډوبېدل؛ ځینې کسان مې لیدلي چې د نورو په وړاندې د کمترۍ احساس کوي، دی نور څه نه شي کولای، نو خیالي دنیا ځان ته جوړه کړي. تخیل د هر انسان د دماغ یوه فعاله برخه ده، چې هر انسان په بېلابېلو وختونو کې ور څخه ګټه اخلي. شاعران وايي؛ د هر شاعر د تخیل قوه چې څومره پیاوړې وي، د هغه شعر ډېر ښه وي. شعر او شاعري بیا په محرومو ټولنو کې ډېره غوړېږي، ځکه دوی له شعر پرته هم د تخیل پر قوه فشار راوړي، په همدې موډ کې یې ځینې وګړي د شعر په ژبه د خیال د نړۍ یوه وړه برخه موږ ته بیان کړي، چې موږ ورته لاسونه خوځوو، چکچکې ورته کوو او هی و هوی مو جوړ کړی، دا په حقیقت کې هیڅ نه بدلوي، یوازې څو شېبې نور خلک هم خیال پلوه کړي. په خیالونو کې یو څوک هغه وخت زيات ډوب وي چې فارغه وي، یو مصروف کس/ټولنه د خیالونو لپاره زيات وخت نه لري، له دې امله یې د تخیل پر ځای پر مادیاتو نظر وي.

څلورم: د محرومیت پر اسبابو فکر کول؛ ځینې وختونه اړتیاوې انسان د بدلون او تغییر اسبابو ته متوجې کوي. دغه ډله محرومیت د تقدیر پرېکړه نه بولي، چې لاس تر زنې ورته کېني؛ بلکې هغوی د نور پرمختګ ګوري، چې تر شا یې مادي اسباب پیدا کوي، له دې امله دوی هم د خپل ځان/ټولنې هغه نیمګړتیاوې پیدا کوي چې په مادي دنیا کې یې د دوی د پرمختګ مخه نیولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند کې دا ډېره مهمه ده چې يو څوک په خپله نيمګړتيا پوه شي؛ هغه يې پر عامل فکر کوي، کله چې يې عامل پيدا کړي، د ايسته کولو لارې چارې يې لټوي. په مادي دنيا کې ټول تغييرات د ماديـاتو پـه وسيله ممکن دي؛ له دې پرته د بل شي په تمه کېناستل او د تغيير تمه کول د اوبو پر سر ليکې کښل دي چې هيڅ نتيجه به ونه لري.

۳/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له محرم پرته د میرمنو سفر

د حديثو په کتابونو کې له محرم پرته د میرمنو د سفر په اړه ممانعت راغلی دی، يوه حديث کې دي چې که میرمن د يوې ورځې او شپې سفر کوي بايد محرم ورسره وي، په بل کې دوې ورځې او په بل کې درې ورځې او شپې راغلي دي. مناسبه ده چې لومړی په دې اړه راغلي احاديث تر نظر تېر کړو، بیا به يې پر مفهوم او احکامو بحث وکړم:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ، تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، تُسَافِرُ مَسِيرَةَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ». (۱)

ژباړه: عبد الله بن عمر رض له رسول الله ص ص څخه روايت کړی، چې ده ويل: يوه میرمن چې پر الله او اخرت ايمان لري، له محرم پرته د درو شپو سفر کول ورته جواز نه لري.

«لَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ يَوْمَيْنِ مِنَ الدَّهْرِ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا، أَوْ زَوْجُهَا». (۲)

دوې ورځې به يوه میرمن سفر نه کوي، مګر چې محرم يا مېړه يې ورسره وي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُسَافِرِ امْرَأَةٌ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ». (۳)

ژباړه: له ابو سعيد الخدري رض روايت دی چې رسول الله ص ص وويل: ښځه تر درې ورځې اضافه يوازې له محرم سره سفر کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ لَيْلَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا رَجُلٌ ذُو حُرْمَةٍ مِنْهَا».(۴)

ژباړه: يوې مسلمانې ښځې ته روا نه ده چې د يوې شپې په اندازه له محرم پرته سفر وکړي.

دا ډول ګڼ روايات شته چې ښځې يې د محرم له وجود پرته له سفره منعه کړې دي.

«لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ، وَلاَ تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ إِلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ».(۵)

ژباړه: يو سړی دې د محرم له وجود پرته له پردۍ ښځې سره نه يوازې کيږي او نه دې يوه ميرمن له محرم پرته سفر کوي.

دلته بيا د هر ډول سفر ممانعت راغلی دی. په دې حديثو د پوهېدلو لپاره که يوځل د عربي نړۍ د هغه وخت حالاتو ته وکتل شي، نو دا لارښونې پر ځای معلوميږي، د رسول الله ص ص په ژوند کې عربي جزيره ناامنه وه، خو د يوه قوي دولت بنسټ چې رسول الله ص ص کېښود، د اصحابو په شان د قوي عزم او پياوړې ارادې خاوندان خلک يې ورته وروزل؛ نو باوري شو چې دغه جزيره به يو وخت امن کيږي، اما تر هغو چې امن شوې نه وي، د ميرمنو لپاره همدغه حکم دی چې له محرم سره يوځای به سفر کوي، څو له شوکمارو، غلو، لار شکونکو، د قومي بديو د خاوندانو، جګړه مارو او نورو بدو خلکو لاس ورته ونه رسيږي، خو که امن شي نو رسول الله ص ص يې په اړه داسې هم ويلي دي:

قَالَ «فَإِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ، لَتَرَيَنَّ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الحِيرَةِ، حَتَّى تَطُوفَ بِالكَعْبَةِ لاَ تَخَافُ أَحَدًا إِلاَّ اللَّهَ.(۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: رسول الله ص ص ویل: که ته ژوندی پاته شوې، نو یوه ښځه به وویني چې د حیره له ښاره به په سفر روانېږي؛ څو پر کعبه طواف وکړي، له الله ماسیوا به د بل چا وېره نه وي ورسره.

په دغه حدیث کې رسول الله ص ص یادونه وکړه چې د عراق له حیره ښاره به یوه میرمن کعبې ته ځي، عربي جزیره به داسې امن شوې وي چې دغه میرمن به تر کعبې ځان رسوي، طواف به کوي، پر ټوله لار به یوازې د الله وېره ورسره وي، نور به هیڅوك د هغې د ډارولو هڅه نه شي کولای او دا به په پوره امن او ډاډ خپل سفر کولای شي.

په تهذیب الکمال کې امام مزي(مړینه: ۷۴۲) وایي چې عدي بن حاتم رض د دغه حدیث راوي، په اوومه هجري د شعبان په میاشت کې مسلمان شوی دی.

د دې حدیث له متن او د راوي له اسلام منلو څخه یې ښکاري چې د ښځو په اړه د رسول الله ص ص په پاسنیو احکامو کې یې دغه وروستنی دی، دویمه خبر داده چې عدي رض ته وایي، که ته ژوندی پاته شوې، نو له حیرې به یوه ښځه کعبې ته سفر کوي، په داسې حال کې چې حیره د دې خبرې کولو مهال د فارسیانو د لاسپوڅو تر واك لاندې وه، نو دا معنا لري چې که وېره موجوده نه وي، میرمنو ته پر لار خطر نه متوجې کېږي، هغوی کولای شي چې له محرم پرته هم سفر وکړي.

پاس راوړل شوي احادیث یوه ورځ یوه شپه، دوې ورځې دوې شپې درې ورځې درې شپې او یا هم تر درې ورځو او شپو اضافه وخت په ګوته کوي، له دې معلومېږي چې لومړی د ښځې سفر کول بیخي ممنوع و، بیا چې حالات یو څه ښه شوو، بیا د یوې ورځې یا شپې په اندازه اجازه ور کړل شوه، کله چې زیاتې سیمې د مسلمانانو په کنټرول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې راتلې، د غلو، دښمنانو، مشرکانو، لار وهونکو او نورو خطرونو شتون کم شو، رسول الله ص ص ښځو ته د زيات سفر اجازه ور کوله، اخير يې درو يا تر درو اضافه ورځو ته جواز اوږد کړی دی، په اخير کې يې ويلي چې ان که له حيرې څخه تر کعبې سفر وکړي، لار امنه وي، ستونزې ورته پېښ نه شي، نو باك نه لري، شرعن د هغې د سفر مخه يې څوك نه شي نيولای.

لکه په دې حديثونو کې چې له وخت او مکان سره سم بېلابېل احکام او هدايات ور کړل شوي دي، همدغه ډول نور وختونه او ځايونه هم د جلا جلا احکامو غوښتنه کوي. له دې امله فقهاء کرام وايي چې احکام د زمانې او مکان په تغيير سره تغييرېږي.

اوس حالا تر پخوا ډېر بدل شوي دي، هغه پخوانی خطر نه شته، ښځې په الوتکه، اورگاډي، موټر او نورو وسايلو کې ښه په امن سفر کولای شي؛ نو اړتيا نه شته چې له ښځې سره دې حتمي محرم ملگری وي. ښځې دندې لري، زدکړې کوي، تجارت لري، د قريبانو کره ځي او سل نورې اړتياوې لري؛ په نوره دنيا کې يوه ميرمن هره ورځ له يوه ښاره بل ته په خپل کار پسې ځي، نو که مېړه يا بل محرم له هغې سره تگ راتگ کوي، تر واده به يې پر ډلو ډېر ولاړې شي، لازمه ده چې د وخت، ځای، ټولنې او نړۍ عيني شرايط درك شي او د احکامو په په جاري کولو او فتوا ور کولو کې تجديد نظر وشي، نه دا چې د نوې عصر لپاره چې غوښتنې، حالات او وسايل يې ټول نوي دي، انسانان او افکار يې نوي دي، خو احکام دې هماعه د زرو کلونو وړاندې احکام ورته بسنه وکړي او هماعه دې له هر ډول تغيير او تبديل پرته پر عملي او پلي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مهمه نکته دا هم ده چې په درې ورځې موده کې یوه میرمن پر ټوله نړۍ را گرځېدلای شي او بېرته خپل کور ته هم راتلای شي. نو که درې ورځې وخت په حدیث کې جواز لري، بیا خو پر ټوله نړۍ د گرځېدلو جواز هم لري؟ هغه میرمن چې هر سهار له یوه ښاره بل ته په کار پسې ځي، ماښام بېرته خپل کور ته راستنېږي، هغه خو د همدې حدیثو له مخې هیڅ ډول ممانعت نه لري، ځکه په حدیث کې یوه ورځ، یوه شپه وروستی کم وخت ذکر شوی دی چې باید له دې په اضافه وخت کې دې میرمن له ځان سره محرم ملگری کوي، نو دا چې یوه ورځ هم نه لگېږي، بیا خو تر دې حکم لاندې نه شي راتلای، په داسې حال کې چې هغه به هره ورځ د پخوا په نسبت د څو ورځو او شپو سفر هره ورځ کوي.

که په سفر کې له محرم پرته د نورو غیر محرم کسانو وجود ددې لامل بلل کېږي چې باید محرم ورسره وي، نو دا خو موږ ته ثابته ده چې د افغانستان او پاکستان هیڅ کور داسې نه شته چې په هغه کې دې دوه ورونه یوځای ژوند نه سره کوي، لېور د ورېنداري څه دی؟ حدیث کې یې مرگ بللی دی، نو که لېور له ورېندارې دورمره لرې او غیر محرم وي، بیا نو په یوه کور کې د لېور وجود هم باید داسې عامل وبلل شي چې خلك کورونه سره جلا کړي او حدیث کې باید ددې لارښونه راغلې وای، ځکه د رسول الله ص ص په زمانه کې هم خلك یوځای اوسېدل، که د ورېندار په شتون کې غیر محرم لېور په کور کې شرعي ستونزه نه پېښوي، نو د نورو انسانانو شتون یې ولې پېښه کړي؟

د نصوصو له گڼوالي سره په دې موضوع کې د مذاهبو ترمنځ اختلاف شته، که د اوس وخت حالاتو ته وکتل شي، نو زموږ د ټولنې مذهبي واکمنې طبقې ته د مالکیانو مذهب هم یوه غوره نمونه ده چې په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهب عمل وکړي او د ټولنې ښځو ته اجازه ور کړي چې سفر وکړي او د سفر مهال ستونزې ورته ایجاد نه شي.

دوی باید د جبري احکامو چې له وخت، مکان او ټولنې سره سمون نه لري، په ورکولو نه د دین څېره مسخه کړي او نه خپل ځانونه بدنام کړي، جبري احکام به یو څه وخت خلک عملي کړي، خو په وړاندې یې عکس العمل هم حتمي دی، دلته دوه زیانه موږ ته رسېږي، یو دین ورسره بدنامېږي او بل د ټولنې وګړي له ستونزو سره مخېږي، درېیم تاوان یې دوی ته دی چې ښایي په وړاندې یې ملت او نړۍ تونند غبرګون څرګند کړي چې که نور نه وي، هغوی له مالي او ډیپلوماټیکو ستونزو سره مخ کړي.

یا خو باید له نویو حالاتو سره نوي احکام ور کړل شي یا هم د نصوصو دغه ډول تعبیر وشي چې ښځو د کار، زدکړو، وتلو او سفر مهال ستونزې ایجاد نه کړي.

۲۶/۳/۲۰۲۲

**سرچینې:**

(۱)(صحیح مسلم، کتاب الحج، باب سفر المراة مع محرم الی حج و غیره، ح: 827)

(۲)(تېره حواله)

(۳)(تېره حواله)

(۴)(تېره حواله)

(۵)(تېره حواله)

(۶)(بخاري، کتاب المناقب، باب علامات النبوة في الاسلام، ح: ۳۵۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مذهبي و نامذهبي

زما د عمر هغه برخه چې په څه نه پوهېدم د مهاجرو په یوه کمپ کې تېره شوه، بیا وطن ته کډه شوو، هلته مې په کلیوال چاپیریال کې د مذهبي نامذهبي، مقلد و غیر مقلد الفاظ نه اورېدل، یوازې د کلي ملا صاحب چې قاعده راته ویله، نو د امام صاحب د مذهب پیروان یې کړو، موږ ته یې په خوله دا راکول چې د چا په مذهب یې؟ د امام صاحب!

تر دې وروسته پاکستان ته ولاړم، هلته له ورتلو سره سم د دیوبند، بریلوي، پنچپیري او سلفي له نومونو سره اشنا شوم، موږ په خپل وطن کې یوازې دا پېژندل چې د امام صاحب په مذهب یو، نور نه پوهېدلو چې په مذهب کې هم مذهبونه او ډلې شته.

زموږ د عوامو ډېری کړنې د بریلویانو خوا ته نژدې وې، خو کوټې په راتلو زموږ ناسته پاسته له دیوبندیانو سره شوه، نو د بریلي پر ځای مو د دیوبندي فکري بهیر ملګري شو.

هغه ادرسونه چې دیني علوم پکې تدریسېږي، هلته د نومونو خبره ډېره مطرح ده، بریلی په دیوبندي مدرسه کې درس نه وایي، نه دیوبندی په سلفي مدرسه کې تعلیم کوي، هر فکري مکتب ځان ته تعلیمي مراکز لري او هلته د خپل مسلک په وسله ځوانان سمبالوي.

له بده مرغه په دې اختلافاتو کې عوام هم ور ننوتي دي، دوی هم پر دې نومونو سره وېشل شوي دي. په داسې حال کې چې عوام د یوه مذهب په اصولو او فروعو خبر نه دي، نو دوی د هیچا په مذهب هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، دوی یوازې د هغه مفتي په مذهب دي چې دوی فتوا ځنې غواړي او هغه فتوا ورکوي.

دا خبره یوازې پر هغو عوامو نه پاتېږي چې په عمومي ډول عوام بلل کېږي، بلکې ډېری هغه کسان چې له دیني مرکزونو ځانونه فارغ بولي هم په دې فهرست کې حسابېږي. دوی هم د مذهب په اصولو خبر نه دي، نه یې فروع په دقت پېژندلي دي، بس چې هر څه یو څه ویلي، دوی په پټو سترګو منلي دي. نو دوی هم ګواکې د هیڅ په مذهب نه دي، د هغه چا په مذهب دي چې دوی ترې د مسلې په توضیح کې استفاده کړې ده.

مذهبي و نامذهبي اصطلاح اصولن باید د ډېرو کمو کسانو لپاره وکارېږي، د مذهب په کره و ناکره، صحیح و سقیم چې څوک نه پوهېږي هغه به څه مذهبي وي؟ هغه چې د مذهب اصول له فروعو نه شي جلاکولای هغه به څنګه یوه مذهب ته پابند پاته شي؟ علمي خلا دلته لوی زیان رسولی دی، ځینې شیان دومره ناحقه پرسول شوي دي چې هغسې باید نه وای. د مذهبي او نامذهبي نومونه باید هغو پوهانو ته کار شي چې یوه ډله یې د یوه فکري مکتب په ټولو اړخونو تر پوهاوي وروسته هغه د ځان لپاره یو مسلك غوره کړي او نامذهبي هغه عالمان دي چې یوه خاص مسلك ته پابند نه پاتېږي، بلکې حکمت د مومن ورکه بولي چې هر ځای یې ومومي اخلي یې. دغه دواړه ډلې له قران او سنت څخه د خپلو دریځونو لپاره دلایل لري چې زه نور پر دې بحث نه کوم.

زما په نظر هغه کسان چې دغې کچې ته نه وي رسېدلي او ځانونه غیر مذهبي بولي، هغوی اصلن خطا کړل شوي دي. دا سمه ده چې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د امام صاحب په مذهب نه وي، د شافعي صاحب په مذهب به نه وي، اما د خپل جومات د امام په مذهب دي، لکه د امام صاحب د مذهب پیرو چې د امام صاحب مذهبي نه دی، بلکې د خپل کلي و جومات امام چې څه ورته غوره وګڼل دی یې هم غوره بولي، نو دی به د چا په مذهب وي؟ اصولن خو د هیچا په مذهب نه دی، نه د کلي د ملا په مذهب دی او نه د امام صاحب ځکه د کلي زیاتره ملایان خو یې معینه تګلاره نه لري او نه د خپل مذهب په اصولو په هغه ډول پوهیږي چې باید یو مذهبي کس په وپوهیږي او نه د امام صاحب په مذهب بلل کیږي، وجه یې داده چې د هغه د مذهب اصول هم نه ور معلومیږي، نو دې کسانو ته له دې امله د حنفي مذهب پیروان ووایو چې دوی ځانونه ورته منسوبوي، نور که اصولن دا نوم پر تصدیق کیږي یا نه، هغه بېل بحث دی، بیا تر یوه حده سره لګیږي.

همداشان هغه کسان چې په بازار کې د رومیانو ریړۍ چلوي او ځان ته د مجتهد نوم غوره کوي، هغه هم اصولن مذهبي دی؛ ځکه دی نه په قران کریم پوهیږي او نه په حدیثو، نه په فقه پوهیږي او نه یې په اصولو، نه یې عربي ژبه لږ زده او نه ډېره، نو مجتهد څنګه شي؟ غیر مقلد څنګه شي؟ نامذهبي یې څنګه وبولو؟ د اصولو له مخې هغه هیڅ مذهبي نه دی او د هر چا په مذهب هم دی. وجه یې داده چې دوی له هر چا پوښتنه کوي، نو هر یوه چې فتوا ور کړه تر یوه حده د هغه په مذهب دی او هیڅ مذهبي له دې امله نه دی چې که د هغې خلاف فتوا یې پیدا کړه بیا هغه بله ایله کوي، او بلې ته ټوپ اخلي، نو هیڅ مذهبي نه دی، یعنې هغه ښایي یوه ورځ هم پر یوه موقف تېره نه کړي، بلکې تبدیل یې کړي، له دې امله نو هیڅ مذهبي نه دی. اما که د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې خبره ومنو، چې ځانونه غیر مقلد او نامذهبي بولي، نو سمه ده تر يوه حده به دا خبره د هغوی د ادعا له امله ورسره ومنو.

يوه ستونزه چې علمي خلا رامنځته کړې ده، هغه د عوامو ترمنځ د مذهبي نامذهبي په نوم وېش دی، اصولن بايد عوام په دې اختلافاتو کې نه وای راغلي، که هر فکري مکتب ته منسوب هم وای، دومره کش بايد نه وای ور کول شوی چې يو د بل مسجد ته نه ورځي، يو د بل لمونځ سهي نه بولي، يو له بل سره کار وبار نه کوي، يو له بل سره دوستی نه کوي، يو پر بل بد نومونه ږدي.

له شرعي متن څخه د هر چا تعبير سوچه د خدای او د رسول شريعت نه پاتېږي، هر څوک چې تعبير ځنې وکړي، هغه د حق و ناحق شتونتيا لري، نو سل سلنه ځان حق او نور ناحق بلل، په مسلمانانو کې د يوه فکري مکتب حق هم نه جوړېږي. له دې امله بايد عوام او خواص ټول تعامل سره وکړي، هر څوک په دې هڅه کې شی چې که په حقه خبره زه پوه شوم، ټولنيز او کورني مشکلاتو ستونزې نه ايجادوي، هغه به منم. ځکه د دوی ترمنځ په شرعي فرعي مسلو کې اختلاف دی، هيڅوک د خدای د وجود په اړه اختلاف نه لري، د هيڅ نبي په اړه اختلاف نه لري، د کتابونو په اړه يې نه لري، د اخرت و حساب و کتاب په اړه يې نه لري، عبادات ټول مني، يوازې د کيفيت اختلاف يې پاتېږي، په دې وجه بايد تعامل سره وکړي، اتحاد وساتي، اختلاف پرېږدي، دغه انرژي چې په وړو ډلو يا انفرادي توگه يې يو د بل په مقابل کې لگوي، هغه دې د ټولې ټولنې او هيوادونو د ښېگڼو لپاره ولگوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلن: په یوه کوڅه کې سلفي، دیوبندي، بریلوي، پنچپیري، مماتي او حیاتي ټول اوسي، که دوی تر خپل منځ د مناظرو او د حق و ناحق د ټاپو پر ځای ټولنیزو ښېګڼو ته توجو وکړي دا به تر هغه اولني کار هم په دنیا او هم په اخرت کې ورته غوره وي. لومړی کار دی الله دی چې معلومه کړي څوک حق دی او څوک ناحق، دین هم د هغه دی، سزا یې هم هغه ور کوي، حساب یې هم د ځان مسوولیت بللی دی، موږ ته یې دا حق نه دی راکړی، موږ ته چې څه راپاته دي په هغو عمل دی، بس خلاص. اما که دا کسان خپله کوڅه پاکه وساتي، دا هم دنیا شي هم دین، د نظافت امر په شریعت کې هم شوی دی او انساني مزاج یې هم غوښتنه کوي، که د یوې ډلې مړی وشي، ټول یې تجهیز او تکفین ته راشي دا به تر دې ښه وي چې هره ډله خپل کار وکړي. یوه جومات کې لمنځونه به یې تر دې غوره وي چې په څو مسجدونو کې لمنځونه وکړي، یو بل ته د ګټې هڅې به یې تر دې غوره وي چې یو بل ته د زیان لپاره کوښښونه وکړي.

زما په نظر دغه اختلافات ټول فرعي او لفظي جنجالونه دي، که په واقعیت یې څوک ځان خبر کړي، د ګټې او زیان پرتله یې وکړي، حتمن دې نتیجې ته رسېږي، چې نه یې په وړه کچه یوې کوڅې ته خیر رسېږي، نه درست هیواد ته او نه ټول امت ته؛ بلکې اختلافات هم د کوڅې په زیان دي، هم د هیواد او هم د ټول امت. له دې هر څه سره د دین او شریعت بدنامي هم پکې نغښتې ده. موږ په خپلو اختلافاتو نه یوازې ځانونه بدناموو، وطن ته زیان رسوو، د اسلامي امت وحدت و اتحاد ختموو؛ بلکې دین او شریعت دواړه هم مسلمانو او هم نامسلمانو ته بدناموو چې په دنیا او اخرت کې به یې مسوولیت ټول موږ ته متوجې وي.

۲۰/۲/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مومن او مسلمان څوک دي؟

د مسلمانۍ او مومنتوب ادعاوې به ډېرې اورو، ظاهرن خلک د مسلمانۍ ښکارندويي هم کوي، ږیره ایله کول، جومات ته په ځغاسته تګ، پایڅې لوړې ساتل، په خبرو کې ځان د خدای دین ته نژدې بلل او ځینې نور ریاکارانه کړنې موږ مشاهده کوو، البته که د مسلمانۍ او مومنتوب غوښتنو ته ځیر شو، د اخلاقیاتو په چوکاټ کې د دې خلکو کړنې راولو، نو ډېرى اعمال به یې نه له مسلمانۍ سره سر خوري او نه به اخلاقي جواز لري.

د مسلمان او مومن د پېژندنې لپاره به هغه تعریف راوړم چې په حدیث کې راغلی دی:

تَدْرُونَ مَنِ الْمُسْلِمُ؟ " قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ "، قَالَ: " تَدْرُونَ مَنِ الْمُؤْمِنُ؟ " قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " مَنْ أَمِنَهُ الْمُؤْمِنُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ.(۱)

ژباړه: تاسو پوهېږئ مسلمان څوک دی؟ دوی ویل: الله او رسول یې ښه پوهېږي، ده ویل: هغه دی چې مسلمانان یې د ژبې او لاس له زیانه خوندي وي، بیا یې ویل: تاسو پوهېږئ چې مومن څوک دی؟ دوی ویول: الله او رسول یې ښه پوهېږي، ده ویل: هغه دی چې مومنان یې پر خپلو ځانو او مالونو امنتدار وګڼي.

اوس پوه شوو چې د دین له مخې مسلمان او مومن څوک دي؟ که موږ له ځان سره دغه معیار وساتو، په خپله ټولنه کې به څو مسلمانان او مومنان پر دغه معیار پوره وخېژي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولنیز اعمال د مسلمانۍ او مومنتوب لپاره د پېژندګلوي معیار وبلل، که یو څوک په خپل شخصي ژوند کې ټول لمنځونه په جومات باندې کوي، حتا تهجد هم کوي، د قران کریم تلاوت هم نه ایله کوي، اما خپل ګاونډی ځنې په تکلیف وي، دا ښه مسلمان دی؟ د دغه تعریف له مخې هغه په ښو مسلمانانو یا تقوادارانو کې شمارل کېږي؟ که له همدې کس څخه خپل نژدې همسایه ډار لري چې زما مال غلا نه کړي، د کاروبار شریک یې پر خپل مال امین نه بولي، د کور د یوه دېوال شریک یې خپل ناموس ځنې خوندي نه ګڼي، د دې مومن د ډېرو لمنځونو، تلاوتونو، د شپې د تهجد، اذکارو او نورو شخصي اعمالو ټولنې ته څه ګټه رسېږي؟ هغه په دې سره دین ته ګټه رسولې ده که تاوان؟ خلک به د هغه له امله نور کسان چې له شخصي اعمالو سره ټولنیزو ته هم پام کوي، هم بدناموي، نه یوازې دغه دوه رنګه اعمال یې دین ته ګټه نه لري، بلکې هغه ته شخصن هم تاوان کوي، څکه هغه څوک چې د الله یو امر مني او بل یې صرف نظر کوي، په قران کریم سخته ګوتڅنډنه ورته شوې ده، قران کریم ورته وایي تاسو د کتاب پر یوه برخه ایمان لرئ او له بلې انکار کوئ؟(بقره: ۸۵) دغه اعمال الله تعالی د یهودو ګڼلي، له دې امله نو دغه کار یې هم د ټولنې په زیان دی، هم د دین په تاوان دی او هم خپله د هغه شخص.

قران کریم که د یو قوم د هلاکت کیسه کړې ده، نو د هغوی ټولنیز بد اعمال یې د دې سبب ګڼلي دي، نه فردي اعمال، د یوه فرد اعمال تر هغه پورې منحصر پاتېږي، اما ټولنیز اعمال یې نورو ته سرایت کوي، خلک ځنې زیانمنېږي، د معاشرې په تاوان تمامېږي، له دې امله نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ص صلی الله علیه وسلم د مسلمانۍ او مومنتوب معیار ټولنیزې کړنې وګڼلې.

د یو شخص بډیره که وي که نه، ټولنې ته یې څه زیان رسېږي؟ اما که دوکه باز وي، خلکو ته زیان رسوي، یو څوک که د قران کریم تلاوت کوي که نه؟ زموږ یې په څه، ځان ته ګټه رسوي، خو که شیطان وي، ټولنې ته نقصان رسوي، پایڅې لوړې ساتي که ټیټې، خلکو ته یې څه؟ اما که غل وي، یا د بل میرمنو ته په بد نظر ګوري، خلک ځنې په تکلفیږي. نور ټولنیز او فردي اعمال دې پر همدغو قیاس شي!

۲۷/۱/۲۰۲۲

**سرچینه:**

(۱)(مسند احمد، مسند عبد الله بن عمرو بن العاص، ح: ۶۹۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حدودو نفاذ د چا مسوولیت؟

حد، د حدود مفرد دی. لغت کې مانع ته وایي، د بدایع لیکوال وایي، پیردار ته هم ځکه حدّاد ویل کیږي چې خلګ له دخوله منعه کوي. د لیکوال په وینا چې حد هم انسانان د ګناوو له ارتکابه ډاروي. لیکوال یې شرعي تعریف داسې کوي: ټاکل شوی لازمي عقوبت دی چې یوازې د خدای حق دی، د تعزیر او قصاص برخلاف ځکه تعزیر ټاکلی نه دی او قصاص د بنده حق دی.(۱)

د (۲۰۱۸/ د جون/ ۲۸) تاریخ ماښام د بي بي سي رادیو راپور ورکړ چې طالبانو د هیواد په مغرب زون کې پر یوه میرمن د زنا حد جاري کړی چې ویډیو یې ټولنیزو رسینو ته راوتلې او ناسته میرمن په درو وهل کیږي.

دلته غواړم دوې خبرې راوسپړم. یوه دا چې په شریعت کې هدف د حد جاري کول دي او که اصلي موخه له حد څخه بل څه ده؟ دویمه دا چې ایا طالبانو غوندې یوه ډله واک لري چې شرعي حدود نافذ کړي؟

د لومړۍ خبرې په اړه د قران کریم دوه ایاتونه را اخلم:

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ (۲)

ژباړه: او د غله و غلې لاسونه ور پرېکړئ، د دوی د عمل سزا او د خدای له لوري عبرت.

په دې ایت کې د (نکالا) نکره لفظ ثابته کړه چې له حد څخه هدف د خلکو عبرت دی او اصلي موخه د جرایمو مخنیوی دی. ځکه له نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه (۱۴۵۰) کاله پخوا د یوه سیستم لـه لارې لـه جرایمـو د مخینـوي چاره نه شوای عملي کېدای، نو لازمه وه چې که پر یو چـا جـرم ثابـت شي او د تردید هیڅ عوامل یې نه وي، په ایینده کې د عبرت پـه خـاطر هغه کس ته سزا ور کوله کېده چې ټولنه په دې ډول له جرایمو خوندي شي.

یو بل ایت کې هم وایي:

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَـةَ جَلْـدَةٍ وَلاَ تَأْخُـذْكُمْ بِهِـمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُـونَ بِاللَّـهِ وَالْيَـوْمِ الآخِـرِ وَلْيَشْـهَدْ عَـذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (۳)

ژباړه:زانیه او زاني هر یو سل درې ووهئ، د الهـي دیـن لـه مخـې پـر دوی نرمي مه کوئ که رښتیا پر الله او اخرت باور لرئ او د دوی عذاب ته دې د مومنانو یوه ډله حاضره شي.

له دې ایتونو څخه څو خبرې ثابتې شوې؛ غل او زاني هغه چا ته ویل کېږي چې دواړو دا دواړه کارونه کړي وي؛ یانې سـل فیصـده بـاور بـه موجود وي چې دې کسانو دا جرمونه کړي دي، کله چې موږ په ټولنـه کې یو چا ته غل وایو، نو تر هغو یې غل نه بولو چې پر دې کار یې ونه وینو، د شریعت په برخه کې نور هم احتیاط اړین دی. ځکه دلته د یـو چا عزت او ځان له خطر سره مخېږي، له دې امله چې سـل سـلنه بـاور موجود نه شي تر هغو هیڅوک هم د حد جـاري کولـو شرعـي واک نـه لري.

په لومړي ایت کې د (نکالا) او په دویم ایت کې دا امر چې د مومنانو یوه ډله دې د هغوی حد ته حـاضره شي دا جوتـوي چـې حـد خپلـه د هغه مجرم او نورو انسانانو د عـبرت لپـاره یـوه وسیله ده. د مومنـانو لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضري څخه دا هم فهمېږي چې يوازې مومنان دي ورتـه راشي څکـه هغوی پر دې حد بـاور لـري، نـو د هغـوی د عـبرت سـبب کېـږي او د طائفة له توري معلومېږي چې د دې کار لپاره به ځـانګړي اعلانونـه نـه کېږي، بلکې د مسلمانانو يوه ډله به راځي او په پر ټلويزيون يې نشرول يا هم ويډيوګانې تر ثبتول، ناسـم کـار دی. څکـه ټلويزيـون او ويـډيو يوازې تر ځانګړې ډلـې پـورې محـدود نـه پـاتېږي او نـه د مسـلمان و نامسلمان قيد پکې ځايېږي. نامسلمان چې کلـه دا کـار لـه لـرې څخـه ګوري، نو د دين په اړه ناسمه انګېرنه ترې اخـلي او د مسـلمانانو پـه اړه هم بد تصور ور سره پيدا کېږي. له دې امله بايـد پـر رسـنيو د حـدودو ويډيو رانه شي.

د حدودو په نفاذ کې خارجي او داخلي عوامـل د منعـې موجـب هـم کېدای شي. مثلن: يو څوک د وچ مجبوريت له مخې غلا کوي، ايـا دا کس چې د ځان د ژوندي پاتېدای يا د کورني مجبوريت له مخـې يـې غلا کړې ده، دا هم د حد لايق دی او بايد حـد پـرې جـاري شي؟ يـو څوك د چا د فشار له امله يو جرم کوي، ايـا دا هـم د حـد وړ دی؟ يـو څوک په بدني لحاظ کمزوری دی، د حد د زغملو وړتيا نـه لـري، کـه حد پر جاري شي نو د هغه ژوند له خطر سره مخېږي، ايا بيا به هم حـد جاري کېږي؟

قران کريم د انسان ژغورنې په خاطر د حرامي غوښې د خوړلـو اجـازه ور کړې ده، نو که څوک د مجبوريت له مخې غلا وکړي، د حد وړ نـه دی. يا هم د فشار له امله څوک يو داسې جرم وکړي چې بايد حد پرې جاري شي، خو د فشار له امله قـران کـريم د کفـر ويلـو اجـازه هـم ور کړې، نوکه په جبر جرم ته اړويستل شي حد بيا هم نه شته يا که څـوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزوری وي، د حد زغم نه لري، نو هم حد باید پرې جاري نه شي. ځکه یو خو انسان پکي وژل کېږي او دا کار شرعـن روا نـه دی، بـل دا چې که زیان زیات وي او ګټه کمه، بیا فقهي اصل دا دی چې د زیـان مخه نیول لومړیتوب لـري. حـد هـم د شریعـت غوښتنه ده او د انسـان ژوند ساتل هم، نو انسان تر حد مهم دی، د دې کس لپاره بـه د وخـت علماء اوقاضیان د نغدي جبیرې یا بلې سزا وړاندیز کوي، اما حـد بایـد پرې جاري نه شي.

د جرایمو مخنیوی نن په سیستم ډېر ښه کېدای شي. یعني کله چې په ټولنه کې څوک وږی نه وی، ټولنیز عوامل یې جرم ته نـه هڅـوي، تـر دې وروسته بیا سیستم ورته جوړ شي چې تر جرم مخکې هغـه کـس د سیستم له مخې یا رسوا شي او یا د نیولو لوی خطر ورسره وي او بیا تر جرم وروسته هغه په ټولنه کې انزوا ته ټېل وهل شي چې په دولتي ادارو او خصوصي سکتور کې ورته کاري فرصـتونه کمېږي، دا ټـول د هغـه سیستم برخه دي چې نن یې د جرایمو په را کمولو کـې ډېـر مهـم رول لوبولی دی. پوښتنه دا ده چې که هدف د جرم مخنیوی وي، نو بیـا تـر حدودو باید پر سیستم ډېر ټینګـار وشي او تـر وسـه انسـان لـه جسـمي خسارې څخه وسـاتل شي. خـدای هـم د جـرم مخنیـوی غـواړي نـه د انساني بدن خساره. له دې امله اړینه ده چې لومړی په خارج کـې هغـه عوامل له منځه یووړل شي چې د جرم هڅونکي وي. مثلا: د فقر په لـه منځه وړلو کې پـوره هڅـې وشي. کلـه چـې ټولنـه د غربـت لـه کرښـې راووزي، بیا خلګ لېوني نه دي چې په لوی لاس غـلا وکـړي او ځـان هم ټولنې او هم خدای ته مجرم کړي.

د قران کریم څو ایاتونه د دې پاس خبرو ځواب وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ (۴)

ژباړه: او الله پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي.

دا ایت په قران کې پنځه واره تکرار شوی دی. له دې څخه معلومیږي چې الله پر دې موضوع ډېر ټینګار کړی دی او په هیڅ صورت هم د بنده زورولو ته اجازه نه ور کوي.

مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا (۵)

ژباړه: که چا یو کس د بل له بدلې پرته قتل کړ او یا یې په ځمکه کې فساد وکړ، ګواکې ګرده انسانیت یې قتل کړ او که چا یو نفس ژوندی کړ، نو ګواکې ټول انسانیت یې ژوندی کړ.

مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ (٦)

ژباړه: که چا تر ایمان وروسته له الله انکار وکړ، مګر هغه چې اړ ایستل شي او زړه یې په ایمان ډاډه وي.

الله تعالی پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي، ډېر مهربان دی، له دې امله یې په ټولنه کې د جرمونو د مخنیوي قانون جوړ کړی، کله چې انسان یو داسې سیستم رامنځته کوي چې جرم بیخي له منځ یوسي یا یې ګراف را کم کړي نو ایا د خدای به دا خوښ نه وي؟ اصلي موخه تر لاسه شوه چې په انساني ټولنه کې د جرم مخنیوی وو، په دې سره هم ټولنه خوندي شوه او هم د شریعت موخه تر لاسه شوه. په حدودو کې داسې هم کیږي چې بې ګنا کس پکې ومري، بیا په اوس وخت کې چې یوه ډله دا کار کوي او هیڅ ډول د جرم ثابتونې وسایل په لاس کې نه لري، امکانات یې نه شته، قاضي یې لازمې زدکړې نه لري، تورن ته په محکمه کې د ځان سپینوني اجازه نه ور کوله کیږي، په دې صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نه خدای د حد امر کړی دی او نه عقل اجازه ور کوي. دا مهال که هر څوک حدود جاري کوي یوازې دین او مسلمانان بدناموي نور یې هیڅ لاسته راوړنه نه شته. په وروستي ایت کې ثابته شوې ده چې انسان تر ایمان مهم دی، که ایمان مهم وای، نو خدای چا ته اجازه نه ور کوله چې په ظاهره کفر وکړي. له دې جوتیږي چې تر وسه باید د جرم په ورکولو کې انساني جمعي هڅې وشي چې لویه برخه یې باید په بهر نړۍ کې د هغو عواملو له منځه وړل وي چې انسانان یې له امله جرمونو ته اړ کیږي. تر دې وروسته دولتي سیستمونه دي چې خلګ له جرمه بندوي او که تر دې هر څه وروسته ثابته شي چې جرم یې کړی دی، دې سزا ور کړله شي.

امام بخاري یو روایت نقل کړی چې یو کس په روژه کې له خپلې ښځې سره جماع وکړه. تر دې وروسته رسول الله ص ته راغلی، خپل حال یې بیان کړ. هغه د ٦٠ روژو ورته وویل، ده ویل په وس مې نه دي، هغه د غلام د ازادي ورته ویل، ده بیا هم د کمزوري اقتصاد یادونه وکړه، هغه د ٦٠ مسکینانو د خوراک ورته وویل، ده بیا هم ناتواني وښوده. تر دې وروسته رسول الله ص هغه ته له ځانه خورما ورکړه او پر مسکینانو یې د وېش ورته وویل، خو هغه د خپل وږي اهل یادونه وکړه، رسول الله ص ورته وویل، خپل کور ته یې ور وړه.(٧)

له دې روایته معلومه شوه چې د حدودو په نفاذ کې خارجي او داخلي عوامل رول لري چې په بېلابېلو ډولونو ممکن رامخې ته شي او له امله یې حد یا بیخي له منځه یووړل شي یا یې بڼه بدله کړای شي.

د غله او زاني له الفاظو ثابتیږي چې هغه مهال به حد جاري کیږي چې یو څوک زاني او غل وبلل شي. د شک له مخې چا ته دا نوم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ورکول کېدای. شریعت کې شک حرام بلل شوی، ان گومان یې گنا بللې ده او په ټولنیز ژوند کې بیا شکونه شخړې را پیدا کوي. یعنې نه شریعت شک ته اجازه ورکوي او نه ټولنه. نو معلومه شوه چې سل سلنه به یو څوک غل یا زاني بلل کیږي او بیا به حد جاري کیږي.

د طالبانو غوندې یوه ډله په کومو امکاناتو یو کس مجرم ثابتوي؟ قاضي یې د یوې ونې لاندې، د غره په یوه لمن کې هغه ثبوتونه له کومه کوي چې له امله یې یو کس سل سلنه مجرم ثابت کړي اوبیا شرعي حد پر جاري کړي؟ د زنا لپاره یوازې دا ثبوت بس نه دی چې له یو پردي کس سره ښځه یوازې ولیدل شي، یا له یوه کس سره میرمن وتښتي، یا یې پلار او بل قریب راولي او د زنا تور پرې پورې کړي. دا یو هم د شریعت له مخې د حد ثابتونې شواهد نه شي بلل کېدای.

د ټولو فقهاؤ پر دې اتفاق دی چې حدود جاري کول د امام کار دی. امام قرطبي په خپل تفسیر کې د بقرې د قصاص تر ایت لاندې کاږي:

الرَّابِعَةُ- لَا خِلَافَ أَنَّ الْقِصَاصَ فِي الْقَتْلِ لا يقيمه إلا أولو الْأَمْرِ، فُرِضَ عَلَيْهِمُ النُّهُوضُ بِالْقِصَاصِ وَإِقَامَةُ الْحُدُودِ وَغَيْرُ ذَلِكَ، لِأَنَّ اللَّهَ سُبْحَانَهُ خَاطَبَ جَمِيعَ الْمُؤْمِنِينَ بِالْقِصَاصِ، ثُمَّ لَا يَتَهَيَّأُ لِلْمُؤْمِنِينَ جَمِيعًا أَنْ يَجْتَمِعُوا عَلَى الْقِصَاصِ، فَأَقَامُوا السُّلْطَانَ مَقَامَ أنفسهم فِي إِقَامَةِ الْقِصَاصِ وَغَيْرِهِ مِنَ الْحُدُودِ. (٧)

ژباړه: څلورمه مسله، په دې کې هیڅ اختلاف نه شته چې د قتل قصاص یوازې امیر اخیستی شي، پر دوی د قصاص، حدودو او نورو اقامه فرض شوې ده، ځکه الله ټولو مومنانو ته د قصاص خطاب کړی دی، د قصاص لپاره د ټولو مومنانو راغونډول ممکن نه دي، نو د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو پر ځای د قصاص او حدودو په اقامة کې سلطان ځای ناستی شو.

امام قرطبي د بقرې له (۱۷۸) ایت څخه دا حکم استنباط کړی وو چې حدود د امام کار دی. که ډلې ټپلې دا کار وکړي نو ګڼې بدۍ ترې پیښیږي. په ټولنه کې انتشار جوړیږي، مجرم ته د سپیناوي وخت نه ور کول کیږي، وکیل نه شي نیول کېدای، د قاضي او محکمې معلوم ادرس نه شته، قاضیان هغه علمي وړتیاوي نه لري چې نن د یوه قاضي لپاره اړینې دي، د جرم ثابتونې هغه ډول امکانات چې یو دولت یې لري ډلې یې نه لري، له دې امله ډېر امکان شته چې بي ګنا کسان تر حدودو لاندې ونیول شي، په دې سره به هم د هغه حیثیت ته زیان ورسیږي او هم به له شریعت څخه مخالفت شوی وي، دا ډلې هغه شبهې او ګڼ منعه کونکي عوامل نه مرعاتوي چې فقهاؤ د حدودو د نفاذ لپاره اړین بللي دي. د حدودو ثابتونه نن ډېره سخته ده. طالبان زیاتره د زنا په تور کسان محکمه کوي، په داسې حال کې چې دا جرم دوی ته ثابتول که ناممکن نه دی، نو بیخي ډېر سخت خو دي؛ ځکه خلك په خپله اقرار نه کوي او شاهدان به یې په داسې حالت کې سره ویني لکه ستن او سپڼسی، دا هیڅ امکان هم نه لري، د یو چا اقرار هغه مهال د شریعت له مخې د منلو وړ دی چې خپله راشي او دا کار وکړي، نه دا چې بل یې محکمې ته راوړي او بیا محکمه له هغه اقرار واخلي. رسول الله ص ماعز اسلمي ته څو واري وویل چې زنا به دې نه وي کړې، بلکې مچه به دې اخیستې وي او په غیږ کې به دې نیولې وي. له دې ښکاري چې هغه تر وسه د حد له اقامې ځان ساته، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د وخت ډلې کوښښ کوي چې یو څوک حد ته برابر کړي. له دې امله رسول الله ص امت ته داسې لارښوونې کړې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا، إِلاَّ سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ " (8)

ژباړه: ابوهریرة رض له رسول الله ص روایت کړی چې ده ویل: یو بنده د بل بنده (عیب) په دنیا کې نه پټوي، مګر الله به دی په قیامت کې مستور کړي.

په دې اړه په مسند احمد کې له عبد الله بن عمر او هم له عقبه بن عامر څخه روایات نقل شوي.

له دې روایاتو دا ثابتیږي چې که یو څوک په ټولنه کې کوم ناسم کار وکړي، نو لازمي نه ده چې محکمې ته خبره یووړله شي؛ بلکې که ټولنیز فساد یې نه زیږاوه، ښه او افضله خبره دا ده چې پرده پرې وغوړوله شي. رسول الله ص یو بل حدیث کې هم دا توصیه کړې ده:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَعَافُّوا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ، فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ»

ژباړه: له عبد الله بن عمرو بن العاص څخه روایت دی چې رسول الله ص وویل: تر خپل منځ مو حدود معافوئ، که ماته د یوه حد خبر ورسیږي بیا واجبیږي.(۱۰)

امام ابو یعلی په خپل مسند کې یو روایت نقل کړی چې د یوه حد مهال اصحاب له رسول الله ص پوښتنه کوي:

قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلاَ عَفَوْتَ عَنْهُ؟ قَالَ: «ذَاكَ سُلْطَانُ سَوْءٍ الَّذِي يَعْفُو عَنِ الْحُدُودِ، وَلَكِنْ تَعَافَوْا بَيْنَكُمْ» (۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: دوی وویل: ای د الله رسوله! ته دی نه معافوې؟ ده وویل: هغه به ډېر بد سلطان وي چې له حدودو معافي کوي، لاکن تـر خپـل مـنځ حدود سره معافوئ.

له دې روایاتو معلومه شوه چې د یو مسلمان عیـب بایـد وسـاتل شي، دوهمه خبره دا ثابته شوه چې حدود د امام کار دی. ځکه نو رسول الله ص ته په راتلو حد واجبېده نه دا چې هر کس بـه دا کـار کـاوه. پـه دې وروستي حدیث کې رسول الله ص د سلطان یادونه کړې ده، ځکه حد د هغه مسوولیت دی، هغه به تر ټولو شواهدو وروسـته دا کـار کـوي؛ د رسول الله ص لوړه خبر همده ته متوجې ده.

**سرچینې:**

(۱)بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، کتاب الحدود: ۷/ ۳۳، د ابو بکر علاء الدین الکاساني لیکنه، د دار الکتب العلمیة دویم چاپ)

(۲)المائـده: ۳۸) (۳)النـور: ۲) (۴)ال عمـران: ۱۸۲) (۵)المائـده: ۳۲)(٦)النحل: ۱۰٦)

(۷)تفسیر قرطبي(الجامع لاحکام القران) د بقرې (۱۷۸) ایت تفسیر: ۲/ ۲۴۵)

(8)صحیح مسلم, کتاب البر والصلة والاداب، باب بشارة من ستر اللـه عیبة في الدنیا، بان یُستر علیه في الاخرة: ۲۵۹۰)

(۹)ابوداؤد کتاب الحدود، باب العفو عن الحدود مالم تبلغ السلطان: ۴۳۷٦)

(۱۰)(ابـوداؤد، کتـاب الحـدود بـاب العفـو عـن الحـدود مـا لم تبلغ السلطان ح: ۴۳۷٦)

(۱۱)مسند ابي یعلي، مسند علي ابن ابي طالب: ۳۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سود مفهوم اود شرعي نصوصو وضاحت

سود ته په عربي کې (ربا) وايي، د المعجم الوسيط ليکوال وايي: د لغت له مخې ربا زياتوب ده، شريعت کې (فضل خال عن عوض شرط لاحد المتعاقدين) له بديل پرته هغه زياتوب دی چې په طرفينو کې پر يوه شرط کېږي. په اقتصاد کې سود دادی چې پوروړی به د د خاصو شرطونو له امله تر اخيستې اندازې زيات مبلغ ادا کوي.(۱)

د زياتوب په معنا قران کريم کې هم استعمال لري: ويربي الصدقات، معنا صدقې زياتوي، بل ځای وايي: وما آتيتم من ربا ليربو فی اموال الناس فلا يربو عند الله. يعنې تاسو سود د دې لپاره ور کوئ چې له خلکو زيات مالونه په تر لاسه کړئ خو د الله په خوا کې نه زياتېږي.

لسان العرب کې راغلي چې ابو اسحاق ويل: دفع الانسان الشيء ليعوض ما هو اکثر منه، يعنې انسان يو شی ور کوي ددې لپاره چې بدل کې يې تر هغه زيات تر لاسه کړي. لسان العرب کې دا هم راغلي: كـلُّ قَرْض يُؤْخَذُ بِهِ أَكثرُ مِنْهُ أَو تُجَرُّ بِهِ مَنْفَعة فَحَرَامٌ. هر پور چې زيادت پرې واخيستل شي يا هم د بلې ګټې ذريعه شي حرام يا سود دی.(۲)

د سود د نوعيت په اړه خورا زيات اختلاف موجود دی. د سود يو شکل د ډېرو علماؤ ترمنځ متفق عليه دی چې پر پور له پوروړي څخه زياتوب دی، په نورو ټولو ډولونو کې يې خورا زيات اختلاف دی. حتا عمر فاروق ته يو قول منسوب دی چې هغه بيخي ويلي رسول الله ص مړ شو او موږ ته يې د سود پوره مفهوم روښانه نه کړ، ځکه په دې اړه خورا متعارض احاديث راغلي دي. دا پوره تاريخي ثبوت لري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکیانو تر اسلام مخکي سود کاوه، رسول الله ص د حجة الوداع په خطبه کې یادونه هم وکړه چې زه لومړی د خپل تره سود حراموم، له دې امله ابن عباس د خپل ځان په اړه ویلي هم دي چې سود موږ کاوه او ډول یې هم تر نورو موږ ته ښه معلوم دی.

زما په اند پر پور د زیاتوب په اړه قران کریم هم وضاحت کړی دی چې فقهاء ورته ربا النسیئه وایي، قران وایي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ () فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ () وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} [البقرة: 278 - 280]

ژباړه: ای مومنانو! له الله وډار شئ او که رښتیا مومنان یاست نور سود ایله کړئ، که مو دا کار ونه کړ نو د الله او رسول له لوري درته د جنګ اعلان دی او که مو توبه وکړه بیا تاسو ته یوازې خپل راس المال دی نه به تاسو ظلم کوئ او نه به پر تاسو ظلم کېږي، که پوروړی تنګ لاسی وي نو د اسانۍ تر وخته دې وخت ور کول شي او که صدقه وکړئ بیخي درته غوره ده البته که پوهیږئ.

له دې ایت ښخه معلومه شوه چې دلته همدا د پور پر سر زیاتوب غوښتل کېده چې الله منعه کړ او د مال خاوند ته یې یوازې د راس المال اجازه ور کړه چې په دې ډول به نه د مال پر خاوند ظلم کېږي او نه به پوروړی تر ظلم لاندې کېږي.

یو بل ځای هم وایي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} [آل عمران: 130]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای مومنانو! په چندونو سود مه خورئ، له الله وډار شئ ګوندي بريالي شئ.

له دې ايته هم معلومېږي چې هغوی پر راس المال خورا ډېر زياتوب کاوه چې د ټولنې يوه طبقه يې بيخي استئصال کوله، له دې امله الله منعه کړل چې دا کار د انسانيت او اسلاميت خلاف دی.

ابن کثير تر دې ايت وروسته کاږي:

يَقُولُ تَعَالَى نَاهِيًا عِبَادَهُ الْمُؤْمِنِينَ عَنْ تَعَاطِي الرِّبَا وَأَكْلِهِ أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً، كَمَا كَانُوا يَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ -إِذَا حَلَّ أَجَلُ الدَّيْنِ: إِمَّا أَنْ يَقْضِيَ وَإِمَّا أَنْ يُرْبِيَ، فَإِنْ قَضَاهُ وَإِلَّا زَادَهُ فِي الْمُدَّةِ وَزَادَهُ الْآخَرُ فِي الْقَدْرِ، وَهَكَذَا كُلُّ عَامٍ، فَرُبَّمَا تَضَاعَفَ الْقَلِيلُ حَتَّى يَصِيرَ كَثِيراً مُضَاعَفًا.وَأَمَرَ تَعَالَى عِبَادَهُ بِالتَّقْوَى لَعَلَّهُمْ يُفْلِحُونَ فِي الْأُولَى وَالْأُخْرَى.(3)

ژباړه: الله تعالی خپل مومن بندګان په چندونو د سود له اخيستلو او خوړولو منعه کوي، کله چې به د پور وخت راغی نو دوی په جاهليت کې ورته ويل، يا به پور پرې کوي يا به زياتوب مني ، که به يې ادا کړ (خو ښه)که نه د مال خاوند به موده وغزوله او پوروړي به په مال کې زياتوب ومانه، دا به هر کال همداسې کېدل، ډېر ځله به لږ مال څو چندونو ته ورسېد. نو الله تعالی خپل بندګان په تقوا امر کړل چې دنيا و اخرت کې بريالي شي.

زه چې څومره پوهېږم په دې اياتونو کې يوازې د پور ربا(ربا نسيئه) ياده شوې ده هغه ربا چې دوی ربا الفضل ورته وايي قران کې هيڅ ځای نه ده ياده شوې وې. د ربا الفضل په اړه لومړی څو روايات را اخلم او بيا يې د متن په اړه خپل ملحوظات شريکوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، أنّ رسول الله ص - صلّى الله عليه وسلّم - قال: (لا تبيعوا الذّهب بالذّهب، إلا مثلاً بمثل، ولا تَشفوا بعضها على بعض، ولا تبيعوا الوَرِق بالورِق إلا مِثْلاً بِمِثْلٍ، ولا تَشفُّوا بعضها على بعض، ولا تبيعوا منها غائباً بناجز). والمقصود بالنّاجز أي الحاضر، وبالغائب أي ما هو مؤجّل(۴).

ژباړه: ابو سعید خدري رض روایت کړی چې رسول الله ص وویل: سره په سرو مه ور کوئ مگر مثل په مثل، ځینې یې پر نورو مه زیاتوئ، سپین په سپینو مه ور کوئ مگر مثل په مثل او ځینې پر نور مه زیاتوئ او مه یې هم غایب په حاضر بدلوئ. له ناجز څخه هدف حاضر او له غایب څخه موخه ایینده ادا کېدونکی دی.

وعن عثمان بن عفان رضي الله عنه، أنّ رسول الله ص - صلّى الله عليه وسلّم - قال: (لا تبيعوا الدّينار بالدّينارين، ولا الدّرهم بالدّرهمين).(۵)

ژباړه: عثمان بن عفان رض روایت کړی چې رسول الله ص ص ویل: یو دینار په دوه دیناره او یو درهم په دوه درهمه مه پلورئ.

عن عبادة بن الصّامت رضي الله عنه قال: قال رسول الله ص صلّى الله عليه وسلّم: (الذّهب بالذّهب، والفضّة بالفضّة، والبرّ بالبرّ، والشّعير بالشّعير، والتّمر بالتّمر، والملح بالملح، مثلاً بمثل، سواءً بسواء، يداً بيد، فإذا اختلفت هذه الأصناف فبيعوا كيف شئتم، إذا كان يداً بيد).(٦)

ژباړه: عباده بن صامت رض ویل چې رسول الله ص ص وویل: سره په سرو، سپین په سپینو، غنم په غنمو، اوربشې په اوربشو، خورما په خورما او مالکه په مالکه مثل په مثل، برابر او لاس په لاس(خرڅ کړئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د دې اصناف سره تغییر شي بیا چې مو خوښه وي هغه ډول یې خرڅ کړئ مګر لاس په لاس.

د دې حدیثونو په اړه څو پوښتنې را پورته کیږي:

۱/ سره په سرو یا سپین په سپینو یا هم دینار په دوه دیناره یا هم درهم په دوه درهمه که د جنس له مخې تفاوت سره ولري، نو بیا خو یو په خپل ذات کې لوړ قیمت لري او بل ټیټ؛ نو بیا یې مثل په مثل بدلول یوه ته زیان او بل ته ګټه لري او که دواړه د یوه جنس یې یو پر بل په خپل ذات کې غوراوی ونه لري، نو بیا د یوه درهم په بل بدلول، د یوه دینار په بل اخیستل یا هم سپین و سره څه ګټه لري؟ دا خو داسې مثال لري لکه نن چې یوه افغان یا هم یو ډالر په عیني همداسې بله افغانۍ یا هم ډالر بدل کړي، نو په دې کې سود د چیشي ده او ګټه یې څه ده؟ اجناس یا هم درهم و دینار خو د دې لپاره بدلیږي چې د سودا او لاس پر لاس کیدا یې یو بل ته ګټه ورسیږي، که نه دا لاس پر لاس کیدا یې بې معنا ده!

۲/ په حدیث کې د دې شپږو شیانو یادونه ولې شوې ده؟ د سودا لپاره خو تر دې ډیر زیات نور شیان هم وو، ولې یې یوازې دا څو شیان یاد کړي، ایا دا خو به د یوه اوږده بیان یوه ټوټه نه وي چې په سیاق و سباق کې یې ددې په اړه کومه بله یادونه شوې وي چې هغه دلته نه ده را اخیستل شوې او د مفهوم ګونګوالی له همدې نیمګړي بیان څخه رامنځته شوی دی؟ د حدیثو په نقل او افهام کې دا ډول تېروتنې خورا زیاتې شوې دي چې مفاهیمو ته یې خورا لویه صدمه رسولې ده.

۳/ خورما او دا نور یاد شیان که سره ورته وي او هیڅ ښه والی په خپل ذات کې نه لري، نو بیا یې لاس په لاس او مثل په مثل بدلول څه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او که توپیر ولري نو بیا خو به یو جم ښه وي او بل کمزوري او حتمي خبره ده چې د ښه په مقابل کې به کمزوری زیات ور کول کېږي، دلته څنګه خبره ګونګه شوې ده او دا نه ده روښانه شوې چې هدف یې څه دی؟ یو ډول خورما او دا یاد شیان یې هدف دي که هر ډول وي خو مازې به یې جنس سره یو وي او زیاتوب پکې حرام دی؟ که زه عجوه خورما ولرم او له بل سره یې په یوه کیلو بل ډول خورما بدلوم، نو حتمي خبره ده چې هره خورما که ښه وي هغه کمزورې به یې په مقابل کې زیاته ور کوله کېږي ځکه قیمت یې هم د یوې زیات او د بلې دا کم دی، نو د عیني جنس په بدلولو کې به یې ولې توپیر نه کېږي؟ او که بیا یو ډول وي؛ نو په بدلولو کې یې ګټه جانبینو ته څه ده؟

۴/ زما په ګومان له دې حدیثونو څخه چې کوم مفهوم په عمومي ډول اخیستل شوی دی دا نه د عقل پر تول پوره دی او نه د قران له بیان سره اړخ لګوي، له دې امله حتمي خبره ده چې له دې حدیثونو هغه مفهوم واخلو چې هم یې عقل مني هم قران ته نژدې وي او هم یې نور حدیث تایید وکړي، د ابن عباس په یوه روایت کې داسې راغلي:

عن أبي صالح قال: سمعت أبا سعيد الخدري رضي الله عنه يقول: (الدّينار بالدّينار، والدّرهم بالدّرهم، مثلاً بمثل، فمن زاد أو استزاد فقد أربى، فقلت له: إنّ ابن عباس يقول غير هذا، فقال: لقد لقيت ابن عباس فقلت له: أرأيت هذا الذي تقول، أشيء سمعته من رسول الله ص صلّى الله عليه وسلّم، أو وجدته في كتاب الله عزّ وجلّ؟ فقال: لم أسمعه من رسول الله ص صلّى الله عليه وسلّم، ولم أجده في كتاب الله، ولكن

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدّثني أسامة بن زيد أنّ النّبي - صلىّ الله عليه وسلّم - قال: الرّبا في النّسيئة) (٧).

ژباړه: ابو صالح ويل له ابو سعيد خدري رض مي واورېدل ويل يې: دينار به په دينار او درهم به په درهم وي، مثل په مثل، که چا زيادت وکړ يا يې زياتوب طلب کړ نو سود يې وکړ. ما ورته وويل چې ابن عباس رض بل ډول بيان کوي، نو له ابن عباس سره مخ سوم، ورته ومې ويل: ته خبر يې چې دغه څه وايي؟ ايا داسې شی تا له رسول الله ص اورېدلی يا دې هم د الله په کتاب کې ليدلی دی؟ ده ويل: ما نه له رسول الله ص داسي څه اورېدلي او نه مې د الله په کتاب کې ليدلي دي، مگر ماته اسامه بن زيدرض حديث بيان کړ چې رسول الله ص ويل: سود په نسيئه کې دی.

د ابن عباس رض حديث روښانه کړه چې د عباده رض په حديث کې ياد شوي شيان هم د نسيئې ربا برخه دي، په دې معنا چې په دې شيانو کې هم زياتوب کول سود دی. يو کس څخه نن يو درهم اخلي سبا دوه ور کوي، دا د ناچارۍ په وخت کې يو کار دی چې تير وخت هم خلکو کړی دی او نن هم له ناچارۍ پنا ور وړي؛ مگر الله پر انسانانو د مهربانۍ له مخې دا کار حرام کړ او امر يې وکړ چې صدقه يا قرض بايد ور کول شي چې انسان د نن اړتيا په پوره کړي او سبا ته تر پورو هم لاندې نه شي. همداشان خورما او ياد نور شيان ټول په همدې بڼه ياد شوي دي؛ په حديث کې دغه شپږ شيان ښايي له دې امله ذکر شوي وي چې زيات تبادله کيدل او د هغه وخت مشهور خوراکي يا د زياتې اړتيا توکي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تيرو حديثو لپاره همدا يوه تشريح داسې ده چې هم يې له قران كريم سره سمون راولي او هم له دې حديث سره، هم يې عقل مني او هم تر نيوكو لاندې نه راځي. ابن عباس رض د مكې دى او اسامه رض هم په مكه كې اوسېدلى دى، هغوى د مكې په حالاتو تر بل غير مكي ښه خبر دي، نو د دوى خبره نسبت بل ته د منلو وړ ده. د قران د ايت په تشريح كې همدا د ابن عباس رض فكر ښه خوند كوي او د عباده بن صامت رض حديث بيخي ور سره ټكر دى.

بيه يا سودا اصلا داسې وي چې يا يو جنس په بل ور كول كيږي او يا هم د جنس په مقابل كې كرنسۍ استعمالېږي يا هم يوه كرنسۍ په بله بدلېږي، نو كه يو څوك زر افغانۍ را اخلي بيرته له بل څخه د همدې زر افغانۍ لوټ غواړي دا نه سودا ده او نه ګټه لري! خو كه يو څوك سل ډالر واخلي په مقابل كې يې افغانۍ وركړي نو دا هم ګټه لري او هم دا نن په بازار كې رواج ده. د دې لپاره چې د ربا فضل په اړه راغلي روايات هم له ځمكنيو حقايقو سره ولګېږي او هم يې د قران سمه تشريح كړې وي او هم د نيوكو مخه بنده شي همدا تشريح ورته كافي ده چې دا هم د ربا نسيئې په اړه دي؛ ځكه د نصوصو تشريح ته دا قاعده ده چې ګونګ او متشابه نصوص به په محكمو او واضحو نصوصو تفسيرېږي، دا چې د عباده رض يا عثمان رض حديثونه څو داسې عمده ستونزې لري چې بل ډول يې حل ممكن نه وو، له قران سره د نه توافق له امله يې ځينې كسان ردوي، له حديثو سره د تصادم له كبله هم بعضي كسان پاملرنه نه ورته كوي، نور بيا دعقل له نګا ورته ګوري او هغوى د عقل پر تول پوره نه خېژي، له دې امله اړينه ده چې داسې تعبير يې پيدا شي چې هم عقلي نيوكې باندې ونه شي او هم يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له قران و حدیث سره تصادم ختم شي. موږ تر خپله وسه دلته هڅه وکړه چې همدا تعارض ختم کړو او په عیني حال کې حدیثو ته هم یو داسې تعبیر ومومو چې د عقل خاوندانو ته د منلو ترڅنګ په عملي و عیني ژوند کې د پیښېدو وړ وي. مثلن: عجوه خورما په عیني همدې خورما څوک نه بدلوي، مګر داسې کېږي چې نن یې له تا په پور واخلي او سبا عینن همدومره خورما درته راوړي، مګر که څوک په دې کې ظلم وکړي او د یوې کیلو پر ځای سبا دوه کیلو وغواړي دا حرام او سود دی. همدا شان یوه توله سره یا سپین نن غواړي سبا همدومره بیرته در کوي خو که تر دې اضافه طلب کړي بیا سود دی او دارنګه دا پاته ټول شیان او بل هر شی هم پر دې قیاس کېدای شي.

یوه ستونزه د همدې روایاتو په مفهوم کې وه چې ظاهرا نه له عقل سره لګېدل او نه قران یا نورو حدیثونو سره. دویم مشکل په دې کې دی چې سود څو ډولونه لري؟ زما په اند همدا یوه نوعه سود او بل هر شی چې د همدې نسیئه سود په تعریف کې داخلېږي هغه هم سود دی که څه هم نن وجود ونه لري خو یو مهال په بله بڼه را پیدا شي. سود دومره پیچلی کول چې د بیې ډولونو ته هم شامل شي اصلي مصداق یې له خلګو څخه ورک شي هم خلګ سرګردانه کول دي او هم د نصوصو سهي تعبیر نه کېږي.

بله ستونزه د ځینو کارونو په اړه ده چې ایا سود دي که نه؟ مثلن: د یوه کس موټرسایکل دی، که نغدې روپې ور کړل شي دیرش زره افغانۍ غواړي او که د درو میاشتو پور وي، بیا څلویښت زره غواړي. ایا دا کار سود دی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند دا سود نه دی، دا د کاروبار یو ډول دی. دلته زیادت له عوض پرته نه دی، بلکې جنس ته یې دوه قیمته ټاکلي دي او هر څوک چې په خپله خوښه ترې اخلي وړای یې شي. د دې او قرض ترمنځ باید شته توپیر له پامه ونه باسو. دلته د جنس قیمت دی، زیادت د دې جنس د هغې استفادې په مقابل کې غواړي چې په دې وخت کې یې دا مشتري ترې اخلي او د دې بل سړي مال یې له کاروباره بند کړی دی چې باید عوض یې ور کړي. دا د سودا یو ډول دی او هلته قرض وي، کله چې د خدای لپاره قرض ور کړل شي او بیا د پوروړي په خپل وخت کې اداینه په وس کې نه وي نو د زړسوي وړ دی نه د دې چې نور هم تر پښو لاندې شي.

یو بل ډول سودا اوس هم رواج ده او فقهاؤ هم بحث پر کړی دی. یو کس بل ته جنس ور کوي خو قیمت یې لوړ ورته ښیي، بیرته همدا مال ځای پر ځای ځینې اخلي په کښته بیه، ایا دا سود دی که نه؟

زما په گومان دلته دوه صورته دي؛ یو دا چې دا مال خپله د مال مالك بیرته واخلي بل دا چې دا مهال بل کس ته په ارزانه نرخ ور کړي. که مالك د بادامو من په پنځه سوه افغانۍ لومړی پر یو کس خرخ کړي خو بیرته یې همدا من له هغه په درې سوه افغانۍ رانیوی، نو دا سود ته نژدې یو صورت دی؛ ځکه که د مال قیمت پنځه افغانۍ وي نو بیا یې مالك ولې په درې سوه رانیسي او که درې سوه وي نو پر هغه یې ولې په پنځه سوه شمار کړی دی؟ دلته اصلن جنس نه ور کول کیږي خبره ټوله د نغدو پیسو ده، کله چې پیسې ور کړي نو هغه خپل حاجت په پوره کوي نو تر دې سودا قرض ښه دی. که یو څوك د یوې میاشتې لپاره همدا معامله کوي نو که نن هغه د مال رانیولو پیسې نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جنس په لوړ قيمت د دې لپاره اخلي چې بيرته يې په ټيټ قيمت د دې لپاره خرڅ کړي چې پيسې لاس ته راوړي نو ارو مرو د هغه جنس ته اړتيا نه ده بلکې پيسې غواړي خو دا چې مخامخ د سود غوښتنه نه شي کولای، نو دا يې يو ډول يا يو بل شکل ورته ټاکلی دی.

2018/11/13

**سرچينې:**


(۱)(المعجم الوسيط، باب الراء: ۳۲٦/۱)

(۲)(لسان العرب، فصل الراء المهمله: ۳۰۴/۱۴)

(3) (تفسير ابن كثير ت سلامة (2/ 117)

(۴)بخاري، کتاب البيوع، باب بيع الفضة بالفضة، ح: ۲۱۷۷)

(۵)مسلم، کتاب المساقات، باب الربا، ح: ۱۵۸۵)

(٦)مسلم، کتاب المساقات، باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقدا، ح: ۱۵۸۷)

(۷)مسلم، کتاب المساقات، باب بيع الطعام مثلا بمثل، ح: ۱۵۹٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو محور یو تعبیر

په قران کریم کې الهي وینا ده:
وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا .(۱)
ژباړه: او ټول د الله پر رسۍ منګولې ښخې کړئ او اختلاف مه کوئ.

له دې ایت څخه معلومه شوه چې اختلاف ناسم او اتفاق د خدای تعالی موخه ده. اما دا چې قران کریم یو جاري متن دی، د یوه کس تعبیر د خپل محیط، غوښتنو، علم، رواني و مالي حالت، زمان او مکان ته په کتو له بل څخه توپیر لري، له دې امله له دین او شریعت څخه د انسانانو تعبیرونه هم توپیر لري. په مسلمانانو کې ګڼ مذاهب د دې ادعا ژوندي ثبتونه دي. یعنې اختلاف یوه طبیعي پدیده ده؛ تر یوه حده ګټه هم لري، اما کله بیا په زیان اوړي. له دین څخه په یوه خاصه جغرافیه کې، د یوه ملت ترمنځ چې زیاتره کسان یې د یوه مسلک پیروان هم وي، اختلاف او ګڼ تعبیرونه په تېره بیا هغه چې ټولنیزي شخړې ور سره تړلې وي او په ټولنه کې د حساسیتونو د را پورته کولو سبب کېږي؛ د ګټې پر ځای زیان لري.

د یوې زمانې شرایط له بلې سره توپیر لري، حتمي خبره ده چې له دین څخه انساني تعبیر به هم فرق کوي. د یوه چاپیریال اغېز له بل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرق کوي؛ ديني و شرعي تعبير هـم ور سره هممهالـه بـدلېږي، د يـوې ټولنې غوښتنې د بلې معاشرې له تقاضاؤ څخـه جـلا وي، لـه دې املـه چې انساني علم د خپل کلتور، ټـولنې او محـيط لـه محـدوديت څخـه ځان تر اوسه نه دی خلاص کړی؛ د شريعت او دين له متن څخه تعبيـر يې هم د دې اجباري شرايطو تر سيوري لاندې کېږي او پسې غوړېږي.

اوس که ټولنه همداسې خپل طبيعي مسير ته ايله کړله شي؛ نو د عقـل او مشاهدې له مخې جامعه ورو- ورو انتشار ته نژدې کېـږي؛ ځکـه هـر کس چې له بل سره په رنګ، قد، ظاهري جوړښت کـې څـومره تـوپير لري همدومره تـوپير د فکـر، علـم، رواني حالـت، تحليـل و تجزيـې، بشري تجربې، د زمان و مکان اجباري حـالاتو او د کـورنۍ و ټـولنې د توپيري شرايطو او... له مخې هم لري.

دا ياد ټکي هغه حقيقتونه دي چې نن به څوك انکار ترې ونـه کـړي. دا ټول شيان له يوه متن، د يوه کس له شخصيت، له وينا، د يوې پيښې له مشاهدې او نورو څخه د يوه کس تعبير لـه بلـه بېلـوي. عينـي همـدا معامله د دين اوشريعت له متونو سره هم کېږي او هم شوې ده؛ مـوږ د دې هر څه شاهدان يو. زموږ په هيواد کې دا نن پر يوه وخت د ديـن او شريعت له ادرسه ځينې شيان د يوه، دوو يا بسته ډلې له لوري ناروا دي او بل لور ته بيا همداسې کسان او ډلې شته چې عينـي همـدا شـيان روا بولي. په يوه ټولنه کې خلګ د دې کسانو د مختلفو تعبيرونو له امله پـه دوه کې حيران شي. له دې امله په يوه هيواد کې د ملـت او وطـن دواړه په ګټه د پوهانو اختلاف نه؛ بلکې د نن غوښتنه اتحـاد دی.اوس مهمـه دا ده چې له دې حالت سره څه بايد وشي، څنګه دا روان وضعيت کابو کړای شي او حللار يې څه کېدای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند نن زموږ ملي، بشري او شرعي اړتیا دا ده چې په ټول هیـواد کې له دین او شریعت سره د ټړلو مسلو په اړه تعبیـر یـو محـوره شي. دا کار غیر شرعي نه دی، بلکې زموږ د بشري اړتیا له مخې عیني شریعـت دی. فقهي قاعـده ده( "الحاجـة تنـزل منزلـة الضرـورة، عامـة کانـت أو خاصة" )(۲) یعنې حاجت د ضرورت ځای ناستی دی، عـام او خـاص یې توپیر نه لري. د ضرورت مهال بیا د ممنوعه شیانو استعمال ته جـواز ور کول کېږي. (۳)

یو محوره تعبیر په څه معنا؟ زما هدف دا دی چې د ټول هیواد په کچه دې یـوه داسـې اداره جـوړه شي چې لـه دینپوهـانو رانیـولې بیـا تـر ټولنپوهانو، تاریخپوهانو، روانپوهانو، اقتصاد پوهانو، د نړۍ والو اړیکو تر سپیشلستانو، سیاست پوهانو او... ټول پکې را غونـډ وي او د هـرې مسلې په اړه تر هر اړخیز بحث وروسته یوه فیصله وشي او هغه پـه ټـول هیواد کې له هر ډول تبعیض، تعصب او توپیري چلند پرته عملي شي.

دا کار څوک کولای شي؟ دا کار یوازې دولت کولای شي او نن یې د ټولنیز امن، سیاسي استقرار، له انتشاره د مخنیوي، اقتصادي ګټـو، مـلي مسایلو او له دین، هیواد او ملت څخه د دفاع په خاطر دنـده ده چې دا ډول یو محور جوړ کړي او ټول هیواد یې د عامه پوهـاوي لـه لارې پـه ارزښت پوه کړل شي او خلګ د دیني، ملي، قانوني او بشري و اخلاقي مسوولیت له مخې دې ته وهڅول شي چې ټولي پوښتنې دې ادارې تـه وړاندي کړي او په ټول هیواد کې یوازې د همدې ادارې لـه لـوري ور کول شوې فتواوې د عمل وړ وبللې شي.

**د دې کار ګټې به څه وي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټې يې ښې ډېرې دي، خو زه يې دلته يوازې څو ځانګړې فايدې ذکر کوم. لکه مخکې مي چې وويل، د يوه ځای شرايط نسبت بل ځای او هيواد ته فرق کوي، د يوه قوم کلتور او عادات و عرف له بله جلا وي، له دې امله شرعي تعبير هم ور سره بدلېږي. که موږ په هيواد کې د شريعت له حساسې او اساسې پديدې سره همدغسې برخورد وکړو لکه د هغه ارزښت او اغيز ته په کتو چې ور سره مناسب دی، نو کولای شو چې هيواد ته د را واردېدونکو شرعي تعبيرونو مخه ونيسو. خو لوستونکي به دا پوښتنه دلته کوي چې ولې يې بايد مخه ونيسو؟ ايا دا کار مخينه هم لري؟ ځواب يې د يوه فقهي عالم په دې الفاظو کې دی:

وكثيرٌ من فتاوَى الفُقهاء بُنيَتْ على مُراعَاة الزَّمانِ الَّذي كانو فيه، والبَلَد الَّذي عاشُوا فيهِ، فلا تصلحُ تعديَةُ ما أَثَّر فيه العُرفُ من الفتاوى والأحكامِ إلى غيرِ أهلِ العُرفِ الَّذي أثَّر فيها، إنَّما تُعتبرُ خاصَّةً بذلكَ الزَّمانِ أو المكانِ، ويُراعَى العُرفُ المستجدُّ في تطبيقِ الأحكامِ على ما يُناسبُهُ. (۴)

د فقهاؤ ډېرې فتواوې د هغې زماني زېږنده دي چې دوی پکې وي او د هغه ښار (حالت په نظر کې نيول) شوی چې دوی پکې اوسي. نو هغه فتواوې او احکام چې کلتور (عرف) پکې اغيز کړی وي؛ د دې وړ نه دي چې د دې اغيزناک کلتور له اهل څخه يې دې بل قوم ته يووړلې شي؛ بلکې دا يوازې په هغه زمانه او مکان کې د اعتبار وړ دي او د احکامو په تطبيق کې چې څنګه مناسبه بلل شوې د هماغه موجود کلتور رعايت شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلن: زموږ په ټولنه کې دیني ارزښتونه خلك د خپل سر په بيه پالي؛ كه موږ خپلو خلگو ته شرعي ارزښتونه داسې ور وپيژنو چې د زمانې له غوښتنو، د مكان له تقاضاؤ، د كلتور له مسايلو او خلكو لـه محـيط سره د تصادم پر ځاى توافق راشي، نو ايا دا تعبير بـه شريعـت تـه نـژدې، د خداى تعالى خوښ، د ملت او هيواد په گټه او كـه هغـه تعبيـر چـې نـه زموږ شرايطو ته پكې پام شوى وي، نه زموږ غوښتنې ور معلـومې وي، نه زموږ له كلتوره خبر وي، نه زموږ ملت او ولـس د دې تعبيـر غوښـتنه ځني كړې؟ بلكې هغه تعبير يو پردى دى، په دې معنا چې زموږ لپاره نه دى شوى، بلكې د هغه لومړى هدف، بل هيواد، بل ملت، د بل گټـې، د بل كلتور او د بل ملت شرايط وو؛ نو بناء زموږ هيڅ په پام كې هلته نه دې نيول شوي، له دې امله دلته په راواردولو يـې زمـوږ ملـت او هيـواد يوازې زيان ويني.

په واردېدونكي تعبير كې يو ټكى دا هم دى چـې زمـوږ لـه هيـواده د زدكړو لپاره كسان يوه هيواد ته نه ځي چې ټول زدكـونكي پـه يـو رنگـه شرايطو، محيط، مكان، غوښتنو او د يوه مذهب له تگـلارې سره سـمه زدكړه وكړي، بلكې د تحصيل په موخه زموږ هيوادوال بېلابېلو هيوادونو ته ځي چې د هر هيواد ديني تگلاره جلا ده، سياسي غوښتنې بېل دي، كلتوري، محيطي او معاشرتي مسايل توپير كوي، ان نن ځينې مسـلمان هيوادونه يو د بل په مقابل كې ولاړ دي او دې شخړو د دين او شريعت پر تعبير هم ژور اغېز كړى. زمـوږ زده كـونكي چـې كلـه راسـتنېږي، د هغوى پوره اغېز ورباندې وي او دلته په ټولنه كـې كوښـښ كـوي چـې هغه څه خلكو ته ور زدكړي او تر يوه حده يې عملي كړي چې د خپلو تحصيلاتو په دوره كې يې په بل هيـواد كـې زده كـړي وي، نتيجـه يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ټولنه کې انتشار، یو د بل تکفیر، نه زغم، شخړې، اختلاف، د ولسونو ترمنځ بې اتفاقي، د تاریخي اشارو له منځه وړل، کلتوري و عنعنوي مسایل په لخته وهل، د خپل هیواد او ملت شرایط په پام کې نه نیول، زمان و مکان له پامه اچول، تر خپل ملت، هیواد او پوهانو د بل هیواد، ملت او پوهانو ته درناوی در لودل او حتا جنگونو و وژنو پورې خبره ورسېده؛ دا ټول د راواړېدونکي شرعي تعبیر نتیجه ده چې موږ یې نن شاهدان یو.

د عباداتو، حلال و حرام او ثواب و عذاب په برخه کې به ولس په دې توگه له ذهني گډوډۍ او اختلاف څخه وساتل شي؛ ځکه د هرې مسلې او پدېدې په اړه به یوه فتوا وي، د مسلې او پدېدې هر اړخ، حساسیت او ارزښت به په نظر کې نیول شوی وي او یوازې د یوه عالم فتوا به نه وي، د هیواد په کچه به جید علماء را ټول وي، په شرایطو پوره او وړ کسان به وي، ور سره جوخت به د نورو اړوندو علومو متخصصین هم ناست وي چې د مسلې او یوې پدېدې پر ټولو اړخونو رڼا واچوي او تر متفقه رایو یا اکثریت رایو وروسته له باوري دلایلو سره ور کول شي. د دې فتوا د اوږمهالي توب او لنډمهالي والي واک به هم له دې ادارې سره وي او ټولې دولتي و نادولتي ادارې به د دې ادارې د فتوا په عملي کولو مکلف وي(۵).په دې توگه به ولس ته یوه معتبره دیني مرجع په لاس ور شي، خلک به له اختلافه وساتل شي، د عباداتو، حلالو، حرامو، نیکۍ او بدۍ بریدونه به د ټولو لپاره یو ډول وټاکل شي.

د هیوادوالو د مالي زیان مخنیوی به وشي؛ ځکه اوس زموږ ملت په یوه وخت کې د گڼو هیوادونو تر اغېز لاندې دی او د یوه شرعي تعبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه ټول ملت سره یوه خوله نه دی. له دې امله هر څوک چې د کوم هیواد تر اغېز لاندې وي هغوی خپل کسان او هغه څوک چې خبره یې پر چلېږي د زده کړو او فتوا لپاره د هغه هیواد مدرسو او ادارو ته لېږي چې په دې سره زموږ له هیواده پانګه وزي او د نورو په هیوادونو کې مصرفېږي. د دې زده کونکو که احصایه وشي او مصارفو ته یې دقیق حساب وشي، نو زما په اند میلیونونه ډالر به مو هر کال له هیواد څخه بهر ته وزي او دا زموږ د ملت لپاره په اوسنیو شرایطو کې یوه نه جبرانېدونکي ضایعه ده.

په هیواد کې د ظرفیتونو کچه ور سره لوړېږي؛ که موږ په شعوري توګه دې کار ته ملا وتړو، په هیوادوالو کې مو پر خپلو ځانو او خپلو علماؤ باور زیاتېږي او خلک به مو د خپلو ظرفیتونو پر لوړولو فکر وکړي. موږ ته به دیني رهبران د خپل هیواد وي، زموږ د ولس دیني ایډیال کسان به مو خپل وي، ظرفیتونه به مو خپل وي او هر هنر او کمال به د دې هیواد او ملت له منځه وي او د دې هیواد و ملت لپاره به په مصرف رسېږي.

خلکو ته به په پوښتنه کې او علماؤ ته به یې ځواب ور کولو کې اساني وي؛ یو لورته به پوښتونکي په خپله ژبه له خپلو علماؤ څخه له هر ډول ډار او خوف پرته مسلې پوښتي او بل لور ته به یې د محیطي شرایطو تشریح، د زمان و مکان محدودیتونو بیان، د کلتوري مسلو توضیح او نورو دې ته ورته ټکو بیان ته اړتیا نه وي، ځکه علماء به هم د دې ځای وي او په دې ټولو شیانو به پوهېږي. په دې توګه به د علماؤ پوهاوی او بیا د علماؤ له لوري د ولس پوهاوي کې د پام وړ اساني رامنځته کېږي چې دا مهال ورته سخته اړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار کولای شي چې زموږ هیواد او ملت تر شرعي پوښښ لاندې د نورو له فرهنګي او اخلاقي یرغلونو څخه خوندي کړي؛ ځکه موږ به د هغوی وارداتو ته اړتیا نه لرو په هیواد کې دننه بـه خپـل تعبیـر د خپلـو ظرفیتونو په مټ پوره کولای شو. په دې توګه به وتوانیږو چې د نورو له فرهنګي او اخلاقي یرغلونو ځان هیواد او ملت خوندي کړو.

ولس به له روحي شکنجې خلاص شوی وي؛ عوامو ته د یوه شي پـه اړه مختلف نظرونه د هغوی د اذیت سبب کیږي، کله یو ملا ورته وایي، دا حرام دي، بل بیا ورته وایي، نه روا دي. عوام د دیـن پـه اړه شـکمن شي، ذهنن زوریږي او له ملایانو په خپلو منځو کې شکایتونه لري. کـه په هیواد کې د فتوا او دیني تعبیر لپاره یو محور جوړ شي او هر څـه لـه دې یوې لارې نشر شي، نو عوام به له دې لوی امتحان او مشکل څخه ساتل شوي وي.

د علماؤ حیثیت ته دې حالت سخته صدمه ورسوله؛ که په هیـواد کـې دا کار یوه اداره پر غاړه واخلي او د ملـت و دولـت دواړو مرسـته ورسره وي، نو د علماؤ حیثیـت بـه ور سره وسـاتل شي او پـه ټولنـه کې بـه د هغوی په اړه د منفي نظر کچه کمه شي.

دا اداره به د نویو ظرفیتونو د تولید یوه ښه ذریعه وي؛ له دې لارې بـه تجربه شوي، روزل شوي او په هـره برخـه کـې مـالوم شـوي وړ کسـان ټولنې او دولت ته وړاندې کیـږي. د امامـت لپـاره بـه لـه دې ځایـه پـه شرایطو پوره کسان تاکل کیږي. د خطابت او ویناؤ لپاره به له دې ادرسه اهل کسان معرفي کیږي او د شرایطو له پوره کېدا سره به د هغـوی ټولـه ماضي له ادارې سره ثبت وي، په ټولنه کې د ور سپارل شوي کار په اړه به یې څوک اندیښنه نه لري ځکه هغه له وخته د همدې ملي ادارې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیږ کې پالل شوی، د همدې ملت او هیواد د خدمت لپاره او خپلو خلگو ته د الهي پیغام رسولو په خاطر؛ ځکه به نو ملت او دولت دواړه پر دې کسانو د دندو په ور کړه کې باور کوي او هغوی به هم په پوره صداقت، ایمانداري او مسوولیت وظیفه مخته وړي.

دین به له بدنامۍ وساتل شي؛ دلته دا اوس هم داسې شرعي تعبیرونه وجود لري چې یو بل سره ردوي، تر خپل منځ سره ټکر دي؛ ان له دې امله جگړې رامنځته کېږي، په دې سره بیا ځینې کسان پر دین نیوکې کوي او په نړۍ واله کچه هم سوالونه پیدا شوي دي چې ولې د یوه دین او یوه هیواد و ملت وگړي د یوه بل په وړاندې د جنگ میدان ته شوه کېږي؟! که موږ هر چا ته اجازه ور نه کړو، نو اختلاف کمېږي او تر ډېره بریده د شخړو مخه نیول کېږي او دا نیوکې به هم تر ډېره حده کمې شي.

له دینه د خلکو د بې زارۍ گراف هم ور سره کمېږي؛ د کابل په صدارت څلور لارې کې چې چاودنه وشوه، زیات ملکي کسان یې شهیدان کړل او میرمنې و ښځې هم پکې وې؛ تر دې وروسته یوه ویډیو پر رسنیو راغله چې یو کس له دینه د بې زارۍ اعلان کوي، سبب یې همدا خشونت بولي، دی فکر کوي چې اسلام د همدې کارونو اجازه ور کړې او همدا امر کوي؛ دا نو یوازې یوه پېښه نه ده؛ بلکې که ټولنیزې رسنۍ تعقیب شي، نو ډېر کسان به پیدا شي چې پر دین به همدا نیوکه په مستقیم یا نامستقیم ډول کوي. دا خبرې تر عوامو او هر قشر پورې رسېږي او په ټولنه کې له دینه د انکار گراف هم ور سره لوړېږي او یو ډول تشنج او شخړو ته لار هوارېږي. ځینې کسان بیا د خپلو مخالفینو په وړاندې له دې تور څخه کار اخلي او خبره د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر کسانو وژلو ته رسېږي. لکه په کابل کې فرخنده او په پېښور کې مشال خان. که تعبير او فتوا له يوه محوره شي، نو داگراف به په لنډ وخت کې ور سره راکم شي.

پر وخت به خلکو ته د پوښتنو ځوابونه په شرعي قانع کونکو دلايلو ور کول کېږي؛ د معقوليت و منطقيت معيار ته به پکې پام کېږي او له مسلو سره به احساساتي چلند نه کېږي. د مسلو په ځواب کې به د يوه مسلك د حتمي حق ثابتونې پر ځاى به د حق و حقيقت پله درنه وي او ځمکني حقايق به په پام کې نيول کېږي، د يوه فردي تمايل پر ځاى به د يوه جمعي شعور نمايندګي کوي. د يوه فرد په توګه به يې له نتايجو او حساسيتونو بې تفاوته نه وي، بلکې له پيله به د فتوا حساسيت او پايلې په پام کې نيول کېږي.

پر روانو حالاتو د کابو کولو ښه تګلاره زما په اند همدا ده چې د شرعي تعبير يوه مرجع رامنځته کړل شي او په دې توګه به يې دولت د کنټرول، مديريت کولو او په شرعي برخي کې ور څخه د خدمت اخيستلو زمينه هم اسانه کړې وي.

۲۰۱۸/ ۵/ ۲۴

**سرچينې:**


(۱)(ال عمران: ۱۰۳)

(۲) القواعد الفقهيه وتطبيقاتها في المذاهب الاربعة، القاعده: ۵۲، مخ: ۳۵۵/ ج: ۱، د محمد مصطفى الزحيلي ليکنه)

(۳)الفتح القدير، کتاب الصلح، مخ: ۴۰۹، ج: ۸، د علامه ابن الهمام تاليف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)تیسر علم اصول الفقه، الدلیل السابع العرف: ۱/ ۲۱۳ ، د عبد الله بن یوسف الجدیع لیکنه)

(۵)شرعي احکامو کې اوږدمهالي او لنډ مهالي د خلکو د حالاتو موافق رامنځته کیږي. یوه حدیث کې دي چې رسول الله ص خلک هدیرو ته له تلو منعه کړل، څه مهال وروسته یې بیا اجازه ور کړه. ځکه د حالاتو غوښتنه همدا وه.(سنن الترمذي، ابواب الجنائز، باب ما جاء في زیارة القبور: ۱۰۵۴) د مکې مکرمې له هغه ډول جوړېدا څخه هم رسول الله ص مخ واړاوه چې لومړي ابراهیم علیه السلام جوړه کړې وه. لامل یې د مکیانو نوي مسلمانېدل بلل چې هسې نه پر خلکو یې ورانی او بیا نوی تعمیر منفي اغیز وکړي. (صحیح مسلم، کتاب الحج، باب نقض الکعبة وبنائها: ۱۳۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عاشورا په رواياتو کې

د عاشورا روژې، فضايل، وختونه او شمېر يې هغه څه دي چې د اهل سنتو او شيعه ډلې ترمنځ پکې زښت زيات اختلاف شته، تر دې هم ورهاخوا خپله د اهل سنتو ترمنځ هم ټول مذهبونه او ديني فکري مکتبونه سره په يوه خوله نه دي. څوک يوه د لسم روژه نيسي-، څوک نهم او لسم دواړې، يو شمېر يې لسم او يولسم نيسي، البته داسې څوک لا هم شته چې يوه مخکې او يوه وروسته ترې نيسي.

په دې اړه تر دومره ستر اختلاف وروسته انسان فکر کوي چې کوم لورى غوره کړم او د کومو دلايلو له مخې؟ په دې مقاله کې هڅه کوم چې د موضوع اړوند ټول صحيح الاسناده روايات راړوم، يو د بل تر څنگ يې کښېږدم، د درايت او روايت په اصولو يې وتلم.

د رواياتو له مخې رسول الله ص په مکه کې  د عاشورا روژه نيوله، ځکه په دې ورځ مشرکانو هم روژه نيوله او د کعبې غلاف يې هم بدلاوه.

خو بل لور ته وايي چې رسول الله ص مدينې ته راغی نو يهودو روژه نيوله له پوښتنې وروسته ورته جوته شوه چې دا ورځ د موسی ع د بري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ ده له دې امله دوی روژه نیسي، نو رسول الله ص ص هم روژه کړه او خلکو ته يې د روژې امر وکړ.

په مسلم کې له عائشې رض څخه روایت دی:

أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصِيَامِهِ.(١)

ژباړه: قریشو په جاهلیت کې د عاشورا روژه نیوله بیا يې رسول الله ص هم د نیولو امر وکړ.

له دې ښکاري چې رسول الله ص په مکه کې د عاشورا روژه نیوله او هم يې خلکو ته امر کړی و، خو بل لورته بیا وایي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَوَجَدَ الْيَهُودَ صِيَامًا، يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي تَصُومُونَهُ؟» فَقَالُوا: هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، أَنْجَى اللهُ فِيهِ مُوسَى وَقَوْمَهُ، وَغَرَّقَ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ، فَصَامَهُ مُوسَى شُكْرًا، فَنَحْنُ نَصُومُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَنَحْنُ أَحَقُّ وَأَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ فَصَامَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ».(٢)

ژباړه: ابن عباس رض وایي رسول الله ص چې مدینې ته راغی یهود يې ولیدل د عاشورا د ورځې روژه نیسي.، وې ویل: په دې ورځ روژه ولې نیسئ؟ دوی ویل: دا ډېره ستره ورځ ده، دا هغه ورځ ده چې الله بني اسرایلو او موسی ع ته نجات ورکړ او فرعون و دده قوم يې غرق کړو. نو موسی علیه السلام د مننې په پار روژه ونیوله، موږ هم روژه نیسو؛ رسول الله ص وویل: زه تر تاسو موسی ع ته نږدې یم، دی وایي؛ رسول الله ص روژه کړه او امر يې هم په وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ښکاري چې رسول الله ص په مدينه کې د دې روژې امر کړی دی او هم يې خپله روژه کړه.

البته په دې اړه له ابن عباس رض څخه بيا داسې روايت دی:

حِينَ صَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ يَوْمٌ تُعَظِّمُهُ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَإِذَا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ إِنْ شَاءَ اللهُ صُمْنَا الْيَوْمَ التَّاسِعَ» قَالَ: فَلَمْ يَأْتِ الْعَامُ الْمُقْبِلُ، حَتَّى تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.(۳)

ژباړه: کله چې رسول الله ص د عاشورا روژه ونيوله او امر يې هم په وکړ، اصحابو وويل: دالله رسوله! يهود او نصارا د دې ورځې درناوی کوي؟ نو رسول الله ص وويل: راتلونکی کال به د نهم روژه هم ورسره نيسو. راوی وايي: تر راتلونکی کال وړاندې رسول الله ص ومړ.

له دې څو خبرې ښکاري: رسول الله ص روژه کړه خلکو ته يې امر هم وکړ، البته په دې خبر نه دی، چې يهود هم د دې ورځې درناوی کوي، کله چې خبر شو، نو دمخالفت له وجې يې د نهم روژې امر هم وکړ، په داسې حال کې چې مخکې وويل شول، رسول الله ص له يهودو پوښتنه وکړه، دوی ځواب ور کړ او تر دې وروسته رسول الله ص روژه کړه. يعنې د روژې سبب له موسی عليه السلام سره موافقت و، څکه هغه په دې ورځ روژه نيوله، دا يې د الله شکر ادا کاوه، يهودو همدا سنت ژوندی وساته، نو د نهم روژه خو د موسی له سنتو مخالفت دئ، هغه مخالفت څه گټه لري چې د نبي سنت پکې ترک شي؟ يو بل ټکی دا هم دی چې عبادت خو د الله لپاره وي، نه د دې لپاره چې د يو قوم مخالفت پکې وشي، نو د نهم روژه ولې اضافه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله پوښتنه دا ده چې نصاراؤ ولـې روژه نيولـه؟ او همدارنگـه مشرکانو ولې نيوله؟ رسول الله ص په مکه کـې روژه کـړه او کـه پـه مدينـه کـې؟ لاندې روايت بيا بالعکس خبره کوي:

عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْـهُ، قَـالَ: كَـانَ أَهْـلُ خَيْـبَرَ يَصُـومُونَ يَـوْمَ عَاشُورَاءَ، يَتَّخِذُونَهُ عِيدًا وَيُلْبِسُونَ نِسَـاءَهُمْ فِيـهِ حُلِـيَّهُمْ وَشَـارَتَهُمْ، فَقَـالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَصُومُوهُ أَنْتُمْ».(۴)

ژباړه: ابو موسى ويل: د خيبر خلکو(يهودو) د عاشورا روژه نيولـه، دا ورځ يې اختر کوله خپلو ښځو ته يې گېڼې ور کولې او ښې جـامې يـې په اغوستلې، نو رسول الله ص وويل: تاسو يې هم روژه کړئ.

ښه! د يوې موضوع اړوند دا روايات څنگه سره تطبيق کړو؟ پـه مکـه کې يې د روژې پيل وکړ، که مدينې ته چـې راغـی؟ د خيـبر تـر پېښـي وروسته او که مخکې يې روژه نيوله؟ خو د يهودو په دې کار بيخي خبر نه وو تر خبرېدا رووسته يې د مخالفت امـر وکـړ؟ دا څنگـه ممکنـه ده چې رسول الله ص دې اته کاله په مدينه کې وي، خيـبر يـې هـم فتحـه کړ، په مدينه کې يې هم درې ځلې له يهودو سره سترې جگړې وکړې، بنديان يې هم ترې ونيول، البته په دې پېښه چـې يهـود د عاشـورا روژه نيسي او د دې روځې درناوی کوي، په نهم کال خبر شـو او راتلـونکی کال په عمل کې د هغوی تر مخالفت مخکې ومړ؟ دا پېښې دومـره يـوه له بلې سره تعارض لري چې د عقل خاوند ورته حيرانيږي، که يـې هـره يوه ومنو، نو نور روايات مو رد کـړل. د نصـارا او مشرکانوله دې روژې سره څه کار وو؟ د دوی د هرې ډلې نبـي بېـل و، مشرکانو د ابراهيمـي ملت دعوه کوله او نصارا وو د عيسوي، نـو دا ورځ او روژه يـې د څـه لپاره وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



روایات دا خبره هم کوي چې د عاشورا روژه اصحابو په ماشومانو هم نیولې، ان هغه کسانو هم روژه کړې ده چې د ورځې له پیله یې روژه ما ته کړې وه، خو وروسته د روژې امر ورته شوی دی:

عن الرُّبيع بنت معوِّذ رضي اللَّه عنها قالت: "أرسل رسول اللَّه صلى الله عليه وسلم غداة عاشوراء إلى قرى الأنصار التي حول المدينة : من كـان أصبح صائماً فليتم صومه، ومن كان مفطراً فليـتم بقيـة يومـه، فكنّـا بعـد ذلك نصومه، ونصوِّمه صبياننا الصغار، ونـذهب إلى المسـجد، فنجعـل لهم اللعبة من العهـن، فـإذا بـكى أحـدهم أعطيناهـا إيـاه، حتـى يكـون الإفطار" .

وفي رواية: " فإذا سألونا الطعام أعطيناهم اللعبـة تلهـيهم، حتـى يتمـوا صومهم". (۵)

ژباړه: ربیع رض وایـي رسـول اللـه ص د عاشـورا پـه سـهار د مـدینې شاوخوا د انصارو کلیو ته استازی ولېږه چـې کـه د چـا لـه سـهاره روژه وي، پسې پوره دې کړي او کـه چـا ماتـه کـړې وي؛ نـو پاتـه ورځ دې بشـپړه کـړي، نـو مـوږ تـر دې وروسـته روژې نیـولې او پـه خپلـو وړو ماشومانو مو هم نیولې، جومات ته به تلو له وړی به مو د لوبو شی ورته جوړ کړ، چې کله به یـې ژړل مـوږ بـه هغـه ورکـاوه تـر روژه مـاتي مـو همداسي کول. په بل روایت کې دي چی کله به یې خوراک طلـب کـړ موږ به دلوبو شی ور کړ چې مشغول به یې کړل، څو به یې روژه بشـپړه کړه.

په دې روایت کې یوه بله خبره هم د حیرانتیا وړ ده، د عاشورا په ورځ یې دا کار ولې وکړ، ولې یې وختي په دې اړه اعلان نه کاوه؟ ان دومـره لازمه یې ګڼلې چې ماشومانو نیولې؟ که فرض هم وای، خو ماشوم ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص و؛ نو دلته بیا د ماشوم روژه څه معنا؟ د هغه کس روژه څه ګڼه چې لوږې یې ما ته کړې؟ د روژې خپل وخت او خپله طریقه ده، چې هغه مرعات نه شي نو بیا یې ګڼه څه ده؟

د پام وړ یوه نکته دا هم ده چې محرم د هغه کال د میاشتې نوم دی چې د رسول الله ص له هجرته وروسته یې موږ په هجري قمري یاد وو او د یهودو سنه یا تاریخ شمسي دی، که فرضن د محرم لسمه د شمسي کال له هغې ورځې سره برابره شوې هم وي چې موسی ع پکې نجات موند؛ لکن هر کال بیا داسې نه کیږي، ځکه قمري او شمسي ـ کلونه توپیر سره لري.

هرات- افغانستان

۲۰۱۵

**سرچینې:**

(۱)بخاري، کتاب الصوم، باب وجوب صوم رمضان، ح: ۱۸۹۳)

(بخاري، کتاب الصیام، باب صوم یوم عاشوراء، ح: ۱۱۳۰)

(۳)(تېره حواله)

(۴)(تېره حواله)

(۵)بخاري، کتاب الصوم، باب صوم صبیان، ح: ۱۹۶۰، مسلم: ۱۱۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلام کې د مریيتوب او اسارت قانون

ليکوال: عبد الغفور پیروز او زبیر افغان

په بشري تاریخ کې دین د یوې ټولنیزې پدیدې په توګه ژور ځواک درلودلی او احکام یې د تقدس له امله زیاترو ته د منلو وړ دي، همدا وجه ده چې ګڼو ډلو او اشخاصو تر بل هر شي دین د خپلو شخصي-ټولنیزو، سیاسي، نظامي او مالي چارو لپاره ډېر کارولی چې له دې څخه اسلام هم مستثنا نه دی.

ټول پوهېږو چې د اسلام کره، خوندي او د باور وړ سرچینه قران دی، له دې پرته احادیث، تاریخي روایات، اسلامي فقه، نبوي سېرت، تفسیر، د سترو مسلمانانو ژوند لیکونه او په ټوله کې د اسلامي نړۍ سیاسي، علمي، نظامي، ټولنیز، اقتصادي او... تاریخ هغه سرچینې دي چې پکې د مسلمانانو د ژوند د بېلا-بېلو اړخونو په اړه کره او ناکره مالومات موندلای شو خو د دې ځمکې پر سر د الله وروستی قانون، حجت او رالېږل شوی کتاب قران دی. د ابراهیمي ملت دوام بیا یوه بېله لړۍ ده چې د زمانې په اوږدو کې راپاتې دیني احکام چې ترمیم ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیتا نه درلوده هماغسې پلې شوي او یا پکې د خلکو بدلونونه او تحریفونه اصلاح شوي هغه اصل شکل يې پلی شوی دی، خو په هر حال دا مهال د اسلام کره سرچینه قران دی، احادیث د دې معتبر متن د تشریح کار ورکوي.

په لرغوني تاریخ کې مربوط اړودې ریښې لري او د اسلام د ظهور پر مهال په عربو کې هم ښه په درز موجود وو. د مریانو او مینځو د ترلاسه کولو بېلابېلې سرچینې وې، جنګي بندیان، له کوره تښتول شوې او د اقتصادي بوج له امله پلورل شوي ماشومان، په بدو کې ورکول شوي افراد او بالاخره د پور له امله راوستل شوي پوروړي دا ټولې هغه سرچینې وې چې په تېر تاریخ کې ورځخه مرییان او مینځې تر لاسه کېدې چې دې کار د ټولنې په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې ژور تاثیرات درلودل او د هغه وخت د ژوند یوه نه بېلېدونکې برخه وه.

کله چې په عربي جزیره کې رسول الله ص ته د نبوت او رسالت چاره وسپارل شوه هغه مهال عربي ټولنه له دیني، ټولنیز، اخلاقي، سیاسي او مالي پلوه په سخت بحران اخته وه، هیڅ ډول مرکزي نظام وجود نه درلود، کورنیو جګړو هر څه ویجاړ کړي وو، د خلګو عزت، مال او ناموس نه وو خوندي، بې دریغه قتلونه روان وو، هیچا د امن احساس نه کاوه او عرب د اوږدې ګډوډۍ له امله د ځناورتوب په دوره کې وو، یوازې مکه له دې امله یو څه په امن وه چې د هغه وخت د دیني فکر پر بنسټ يې دیني تقدس درلود او اوسېدونکو ته يې په درنه سترګه کتل کېدل. سوداګري، کرکیله، مالداري او چور چپاول د عربي ټولنې مهمې اقتصادي سرچینې وې چې په دې ټولو کې مریتوب هم غوښنه ونډه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عربو او په مجموع کې د ټول انسانیت دا حالت د رحم او زړه‌سوي وړ و، له دې حالته د را ایستلو لپاره الله تعالی خپل رسول له خپل باوري کتاب او حجت سره را ولیږه.

قران د حالاتو له غوښتنې سره سم لږ- لږ نازلیده، مرییان یا مینځې نیول د عربو مخکنی رواج و، کله چې د مسلمانانو او دښمنانو ترمنځ یې جګړې وشوې او په دې کې مسلمانانو له خپلو دښمنانو څخه اسیران ونیول، نو دلته د جنګي بندیانو مسله رامنځ ته شوه چې اوس به څه ور سره کیږي؟ قران د محمد په سورت کې مسلمانانو ته په دې اړه داسې لار ښوونه وکړه:

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا. (محمد: ۴)

ژباړه: نو چې کله له کافرانو سره مخ شئ د غاړو وهل دي، ان چې دوی مو ښه وځپل بیا ټینګ تړل (ستاسو دنده ده) وروسته یا احسان پرې وکړئ او یا ترې فدیه واخلئ څو چې جنګي وضعیت ختمیږي.

په جګړه کې نیول شوي خلک جنګي اسیران دي چې په اړه یې قران واضحې لارښوونې وکړې، دا حکم دومره ښکاره دی چې په هیڅ ډول سترګې نه شي ځنې پټېدای.

رسول الله ص اړ وو چې د بندیانو په اړه به د قران همدا حکم مني، هغه هم خپله دا کار څو ځایه وکړ او هم یې خپلو ملګرو ته امر کړی و. د بدر له بندیانو فدیه واخیستل شوه، د مکې تر فتحې وروسته جنګي بندیان ټول معاف شول، ثمامه د بنو حنیفه مشر تر بند وروسته له څه شرط او قید پرته ایله کړل شو، د حنین په جنګ کې نیول شوي کسان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسیرانو په توګه اصحابو ته وسپارل شول چې ساتنه یې وکړي او ګڼې نورې بېلګې.

د قران له پورتني ایت او د رسول الله ص له کړنلارې ثابتېږي چې په اسلام کې د چا غلام یا مینځه کول جواز نه لري. اسلام خلکو ته د هر مذهب ازادي ور کړې ده. که یو څوک د دین پر سر نور نه زوروي، نو د خپلې عقیدې او دین پالنې په برخه کې هر دین پال ازاد او هیڅوک یې د مخ نیوي حق نه لري.

په جګړو کې د نارینه او ښځو غلامي هم د جاهلي عربو رواج و او هم ور سره د شاوخوا پروتو عجمو. د اسلام راتګ دا کړۍ ماتې کړې، پر خلکو لګېدلي بندیزونه یې لرې کړل، د مذهب په نوم یې د هر چا پر زورونه بندیز ولګاوه. قران خلك د الله بندګان وبلل ان رسول یې هم د الله بنده بللی دی، له دې ښکاري چې انساني بندګي او هم غلامي نوره باید ختمه شي.

قران د نور په سوره کې دا موضوع داسې روښانه کړې:

وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ.(نور: ۳۳)

او ستاسو تر لاس لاندې کسانو که مکاتبه وغوښتنه نو مکاتبه(د بدلې په مقابل کې ازادي) ور سره وکړئ که مو ټولنې ته غوره ګڼل او له هغه ماله کومك ور سره وکړئ چې الله در کړی دی.

دې ایت د مریيتوب لړۍ ته د پای ټکی کېښود، اسلام له پیله د مریي نیولو تعلیم نه دی ور کړی؛ بلکې د مریي یادونه ځکه شوې ده چې له پخوا څخه موجود و خو اوس یې د هغو د ازادۍ امر هم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخواني رواج له مخې خلکو له مينځو سره تر نکاح مخکې هم جنسي اړيکې نيولاى شواى او مينځې د همدې لپاره کارېدې، ان دا يو داسې رواج او ديني چاره جوړه شوې وه چې هيچا يې پر خلاف اقدام نه شواى کولاى. البته قران د ښځو، غلامانو او مينځو په اړه عمومي لارښوونه وکړه:

وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ.(النور: ٣٢)

ژباړه: او ستاسو بې ودو (نارينه وي که ښځه) ته نکاح ور وکړئ همدارنګه مو نيکو غلامانو او مينځو ته هم.

له ازادې ښځې سره تر نکاح مخکې څوک جماع نه شي کولاى او که يې وکړي نو ګنا بلل کېږي، دا ځکه چې قران له ازادو ښځو سره د نکاح امر کړى دى، نو که د ازادو ښځو سره تر نکاح مخکې جماع د دې امر له امله روايښت نه لري عيني همدغه امر الله د غلامانو او مينځو په اړه هم کړى دى، بايد له مينځې سره هم تر نکاح مخکې جماع ونه شي او که يې څوک وکړي هغه ډول ګنا بلل کېږي لکه له ازادې ښځې سره تر نکاح مخکې جماع.

يو مهم اړخ دلته دا هم دى چې که له مينځې سره د مينځيتوب له امله تر نکاح مخکې هم جماع روا وي نو عيني همدا معامله بايد د مسلمانې ښځې له لوري له هغو غلامانو سره هم وشي چې دوى ته په برخه ورغلي وي؛ مسلمانه ښځه بايد له نکاح پرته له خپل مريي سره جماع وکړي، خو په مسلمانانو کې تر ننه هم څوک دې حکم ته په دې ډول نه دي تيار شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته له سړي سره دا پوښتنه پیدا کیږي چې قران خپلو پیروانو ته امر کړی چې جنګي بندیان یا د احسان له مخې ازاد کړي او یا فدیه څنې واخلي، نو بیا له مینځې سره د نکاح دا احکام د څه لپاره وو؟

له دې حقیقت څخه څوك سترګې نه شي پټولای چې د رسول الله ص په وخت کې زیات شمېر غلامان او مرییان له پخوا څخه موجود وو، د قران دا وروستی حکم د همدې موجودو مرییانو او مینځو لپاره وو نه دا چې ایینده دې نور هم ونیول شي. یعنې په ټولنه کې دا خلك وو، لازمي خبره ده چې قران یې باید یو حل وړاندي کړی وای، نو الله امر وکړ چې پخوانی رواج مات دی، له دوی سره به هم نکاح کیږي څو د ټولنې د فساد مخ نیوی وشي او هم د دوی نفسي غوښتنو ته سم عادلانه ځواب ویل شوی وي.

البته قران یو دم د دې ټولو د ازادۍ امر ځکه ونه کړ چې اسلام خپل پیروان یو دم له زیات فشار سره نه مخ کول، د هر دود او رواج په وړاندې یې تګلاره سوله ییزه او سوله غوښتونکې وه، که یې یوځل امر کړی وای نو ممکنه وه چې یوشمېر کسانو مخالفت کړی وای او په ټولنه کې یو ډول بې نظمي را پیدا شوې وای چې قران هیڅکله هم دا حالت نه غوښتی.

د غلامانو او مینځو په قضیه کې خلکو ته ناسم فهم د قران له یو شمېر ایاتو او هغو روایاتو ور ولاړ شوی چې یا خو ناسم تعبیر شوی او یا هم له اره ناسم دي. قران یو ځای وایي:

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ () إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيرُ مَلُومِينَ. (المومنون: ٥، ٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او هغه چې خپل فرجونه ساتي مگر له خپلو ښځو او هغه چې د دوی راسته لاسونه يې مالکان دي بې شکه دوی( په دې کې) ملامت نه دي.

خلك فکر کوي چې له ښځو سره د مينځو يوځای يادول دا ثابتوي چې له نکاح پرته جماع روا وي ځکه ښځې تر نکاح وروسته ښځه بلل کيږي او مينځه خو داسې نه ده، بلکې په جگړه کې تر نيولو وروسته هغه مينځه ده او جماع هم وروسته روا شوه. خو دا فکر ناسم دی، د قران يو شمير مجمل اياتونه خپله قران تشريح کوي، قران بل ځای وايي:

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا. (النساء: ۳)

ژباړه: که له دې ويريدئ چې د يتيمو په اړه به انصاف ونه کړئ نو له ښځو (يتيمو) چې مو کومې خوښې شي په نکاح يې کړئ، دوې، درې او څلور، بيا که ډاريدئ چې عدل به ونه کړئ نو يوه ده او يا ستاسو وينځه دا نژدې ده چې تاسو به تيری نه کوئ.

که دې ايت ته ځير شو نو ښکاره امر يې کړی چې د يتيمانو په اړه بايد احتياط وکړو، که د بې انصافۍ ويره وي، دوې، يا درې او يا څلور دې په نکاح شي، البته که د دې ويره وه چې عدل به نه شئ کولای نو بيا يوه ځني وکړئ او يا له مينځې سره نکاح وکړئ. تر مينځې مخکې (فواحدة) لفظ راغلی چې يوه ښځه تری هدف ده او بيا( ماملکت ايمانکم) راغلی چې مينځه ښيي، نو که د مينځې جماع بې نکاح روا وي بيا خو د يوې يتيمې ښځې جماع هم بې نکاح شوه ځکه له دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د نکاح امر خو همدلته لنډ نه دی شوی، که تر دې مخکې امـر تـه ځو نو بیا دواړه تر هغه حکم لاندې دي.

له پاس ایت سره یوه لویه بې عدالتي دا هم شوې چې خلکـو لـه دې څخه مطلق دا حکم اخیستی چې قران هر چا ته له یو شمېر ښځو سره د نکاح جواز ور کړی. په داسې حال کې قران دلته د تعدد ازواج موضوع نه څېړي، بلکې له یتیمو نجونو سره د بې انصافۍ مخنیوی کوي. د قران له مخې هغه څوک د بلې ښځې جواز لري چې له داسې حالت سره مخ شي لکه قران چې بیان کړی، نه دا چې هر څوک، هـر وخـت، لـه هـر ډول ښځې سره نکاح کولای شي. یو مهم ټکی دا هـم دی چـې کـه د ښځو ترمنځ عدالت نه شي کولای بیا خو په مطلق ډول بلـه ښـځه ورتـه حرامه ده، که څه هم له یاد حالت سره مخ هم وي.

د النساء سورې له دې ایت سره هم تېری شوی:

وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلاَّ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ كِتَابَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ.

(نساء: ۲۴)

ژباړه: او مېړه داره ښځې(درباندې حرامې دي) مگر ستاسو مینځې پـر تاسو د الله حکم دی.

له دې ایت څخه داسې تعبیر شوی چې گواکې مېـړه لرونکـې ښـځې حرامې دي البته نه هغه مېړه لرونکې چې مینځې وي، بلکې مینځـه کـه مېړه هم ولري له نکاح پرته جماع ورسره روا ده.

دا تعبیر ډېر کمزوری، له عقله لرې او له قران سره متصـادم دی، قـران دا نه دي ویلي چې له مینځې سره تر نکاح مخکـې هـم جـماع روا ده، بلکې مینځه چې په عربو کې تر اسلام مخکې هم موجودې وې نو حل لار یې دا په گوته شوه چې مینځه که څه هم مېړه یې په روم، فـارس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا بل ځاى کې وي البته دا وس ترې ګوښه کړل شوې ده نو لـه دې سره چې مېړه لرونکې ده؛ خو د ټولنې د اصلاح په خاطر يې نکاح روا ده نه دا چې تر نکاح مخکې جماع.

ځکه دلته بحث د نکاح شروع دئ، له د ۲۲ نمـبر ايـت څخـه همـدا موضوع پيل شوې چې دا حرامه ده مه يې نکاح کوئ او هغه حرامه ده، نو په دې ضمن کې يې مينځه هغه مهال بېله کړه چې مېړه داره ښځه يې حرامه کړه؛ ستونزه به دا پاتېده چې مينځه مېړه لري، خو دلته نه شته، نو که نکاح يې ونه شي ښايي چې د ټولنې د فساد سبب شي، د همـدې شر د دفعې په خاطر يې له مېړه لرلـو سره نکـاح روا کـړه، نـه تـر نکـاح مخکې جماع.

د مرېيانو او مينځو په اړه راويانو دې ته په پام نه دى کـړى دا روايـات يې ټول له قران، نبوي سنتو او احاديثو سره په ټکر کـې دي، قـران کـې الهي وينا ده:

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ [البقرة 190]

ژباړه: د الله پـه لار کـې لـه هغـو سره وجنګېـږئ چـې لـه تاسـو سره جنګېږي او تېرى مه کوئ بېشکه الله تيريګر نه خوښوي.

د قراني اصل له مخې به هغه چا سره جګړه کېږي، نيول کېږي به او ان وژل کېږي به چې له مسلمانانو سره جنګ کوي، ښځه، ماشـوم، بـوډا، عابد او دې ته ورته نور له لومړي سره ازاد دي او هيڅ مسلمان حـق نـه لري چې يا مالي تاوان ور ورسوي، يـا يـې بنـدي کـړي او يـا يـې هـم ووژني. د قـران يـو بـل عـام قـانون دا هـم دى: وَلاَ تَـزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى.(فاطر: ۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او یو بارونکي د بل بار نه شي وړلای.

دا د لمر په شان ښکاره اصل دی چې کوم څوک گنا وکړي هغه ته به یې سزا ور کوله کېږي، یعنې له هغه چا پرته چې په جگړه کې گډون لري یا هم مالي مرستې ور سره کوي نور څوک دي نه ازارېږي. یوه روایت کې دي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: «وُجِدَتِ امْرَأَةٌ مَقْتُولَةً فِي بَعْضِ تِلْكَ الْمَغَازِي، فَنَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ».(١)

ژباړه: ابن عمر رضی الله عنه وايي: په یوه غزا کې کومه مړه ښځه وموندله شوه، نو رسول الله ص د ښځو او ماشومانو له وژلو منعه وکړه.

ددې ټولو قراني ایاتونو، نبوي حدیثونو، د اسلام عمومي روح او انساني عقل ته په پام ویلای شو چې د غلام نیولو په اړه راغلي روایات نه قراني ماخذ لري، نه د رسول الله ص له سنتو او اخلاقو سره اړخ لگوي، نه د اسلام عمومي لار ښوونې داسې دي او نه انساني فطرت و عقل داسې وايي.

د غلام نیولو په اړه راغلي ټول روایات پر قران، الله، رسول او اصحابو د اسلام د دښمنان او هغو امیرانو و حکمرانانو له لورې تړل شوې افتراوې او دروغ دي چې یا د اسلام بدنامول غواړي او یا د دې روایاتو پر بنسټ یې ځان ته جواز پیدا کاوه چې مینځې ونیسي- او د گاونډي ملکونو سیمې یې د جهاد په نوم د همدې هدف لپاره لاندې کولې.

کندهار- افغانستان

٢٠١٦

**سرچینه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1)مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب تحريم قتل النساء والصبيان في الحرب، ح: ۱۷۴۴)

**د مشرکينو اولاد، بېلابېل اندونه ( څېړنيز جاج )**

د کافرانو او مشرکانو د ماشومانو په اړه دا پوښتنه را سره ده چې دوی به په جنت کې وي که په دوزخ؟ که يې معلومات راکړئ!

حافظ محمد اسحاق روحاني

-------------

روحاني صاحب!

دوزخ او جنت ور کول د الله له لوري په انساني اعمالو پورې اړه لري، که انسان ناوړه اعمال وکړي، نو الله د دوزخ سزا ور کوي او که ښه اعمال وکړي نو الله يې په بدل کې جنت ور کوي.

همدې اصولو ته قران کريم داسې اشاره کړې:

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ(ال عمران: ۱۰۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: په هغه ورځ چې ځينې مخونه سپين او ځينې مخونه تور وي، نو هغو ته به چې مخونه يې توري وي ( وويل شي) ايا تر ايمان وروسته مو کفر کړی؟ نو د خپل کفر له امله عذاب وڅکئ.

يو بل ځای وايي:

وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ.

(ال عمران: ۱۰۷)

ژباړه: مگر هغه چې مخونه يې سپين وي، نو دوی به په تل پاتي الهي رحمت کې وي.

د عذاب په اړه يې د انسان عمل ته د انعام سورې په (۳۰) نمبر ايت کې بيا هم اشاره کړې، د همدې سورې په (۹۳) ايت کې بيا هم همدا خبره ده او د اعراف په (۳۹) کې هم، بلکې که د قران کريم دا ډول اياتونه وشمېرو نو گڼ ځايونه به يې ومومو.

خو بل لورته د جنت په اړه هم داسې اصول ږدي، د اعراف په (۴۳) ايت کې يې جنت د انساني اعمالو پايله بللې، په النحل (۳۲) کې بيا هم داسې په گوته کوي، د السجدې په (۱۹) ايت کې يې بيا هم جنت د اعمالو نتيجه گڼلی.

نو دې عمومي اصولو ته په کتلو ويلای شو چې د مشرکانو او کافرانو ماشامان به دوزخ ته نه ځي، ځکه هغوئ هغه اعمال نه دي کړي چې الله يې د هغو د سزا په توگه جهنم ور کړي.

الله وايي:

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً(الاسراء: ۱۵)

ژباړه: او موږ عذاب ور کوونکي نه يو څو يو رسول ونه لېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دلته پوښتنه پیدا کېږي چې کـه دوی د دوزخیـانو اعـمال نـه دي کړي، نو د جنتیانو اعمل خو یې هم نه دي کړي، بیا یې ولې جنت تـه داخلوي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې د الله رحمت پـر قهر غالب دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَـالَ: قَـالَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَلَّمَ: «لَمَّا قَضَى اللَّهُ الخَلْقَ كَتَبَ فِي كِتَابِـهِ فَهُـوَ عِنْـدَهُ فَـوْقَ العَـرْشِ إِنَّ رَحْمَتِي غَلَبَتْ غَضَبِي.(١)

ژباړه: له ابو هریرة رضی الله عنـه څخـه روایـت دئ چـې رسـول اللـه صلی الله علیه وسلم وویل: کله چې الله د مخلوق پرېکـړه وکـړه لـه ده سره پر عرش لوړ کتاب کې یې ولیکل: بې شکه رحمت مي پر غضـب غالب دی.

د بخاری په یوبل روایت کې دي چې رحمت مي تر غضب وړانـدي دی. دې احادیثو او د قرآن کریم هغو آیتونو ته چې هر ځای یې د الله د رحـیم، رحمـن، روف، غفـار او عمـومي فضـل، احسـان، نعمـت او پېروزینې صفات ذکر کړي، په پام ویلای شو چې الله خپلو بندګانو تـه د عمل نه کولو پر مهال هم جنت ورکوي، خو دوزخ تر هغو نه ورکوي چې ناروا اعمال او د شریعت خلاف کړنې یې د عمل پـه ډګـر کـې تـر سره کړې نه وي.

په یو بل حدیث کې دي:

«جَعَلَ اللَّهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ، فَأَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ جُزْءًا، وَأَنْـزَلَ فِي الأَرْضِ جُزْءًا وَاحِدًا، فَمِنْ ذَلِكَ الجُـزْءِ يَـتَرَاحَمُ الخَلْـقُ، حَتَّـى تَرْفَـعَ الفَرَسُ حَافِرَهَا عَنْ وَلَدِهَا، خَشْيَةَ أَنْ تُصِيبَهُ.(٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله رحمت پر سلو برخو وېشلی، نهه نیوي یې له ځان سره ساتلې او یوه یې ځمکې ته نازله کړې، د همدې په وسیله مخلوق پر یو بل رحم کوي، ان اس له خپل بچي سَوَهْ پورته کوي چې خوږ یې نه کړي.

مگر د کفارو د ماشومانو په اړه څو روایات شته چې د خلکو په ذهنونو کې یې شکوک رامنځ ته کړي، له هغو داسې ښکاري چې دوی به دوزخ ته ځي. لومړی به دا روایاتو راوړم:

سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَرَارِيِّ المُشْرِكِينَ، فَقَالَ: «اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ».(۳)

ژباړه: له رسول الله ص د مشرکانو د ماشومانو په اړه پوښتنه وشوه نو ده وویل: الله په هغه څه ښه پوهېږي چې دوی به یې کوي.

په دې روایت کې رسول الله ص توقف وکړ، نه یې د دوی د جنت په اړه خبره روښانه کړه او نه د جهنم په اړه، بلکې وایي: الله ښه په خبر دی.

د دې ترجمې لپاره موږ دوه دلایل نور هم وړاندي کولای شو چې دلته خبره د الله علم ته سپارل شوې ده، نه دا چې الله دوی ته د ائنده اعمالو په سبب سزا ور کوي، یو روایت یې په بخاري کې په داسې الفاظو راغلی چې مسله ښه روښانه کوي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَوْلَادِ الْمُشْرِكِينَ، فَقَالَ: «اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ إِذْ خَلَقَهُمْ».(۴)

ژباړه: ابن عباس رض وایي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د مشرکینو د اولاد په اړه پوښتنه وشوه، نو ده وویل: الله په هغه څه ښه خبر دی چې دوی به یې کوي ځکه الله پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د معجم کبیر الفاظ دي، د بخاري په روایت کې یوازې دومره خلاف دی چې علت (اذ خلقهم) یې مخکې ذکر کړی.

نو له دې الفاظو په ډاګه کیږي چې دا مهال له رسول الله ص سره د دې مسلې په اړه ځواب نه و، له دې امله یې توقف کړی او خبره یې الله ته سپارلې.

له دې روایت څخه ابن عباس رض خپله هم دا مفهوم اخیستی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ وَأَنَا أَقُولُ: أَوْلَادُ الْمُسْلِمِينَ مَعَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِينَ مَعَ الْمُشْرِكِينَ، حَتَّى حَدَّثَنِي فُلَانٌ، عَنْ فُلَانٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سُئِلَ عَنْهُمْ، فَقَالَ: " اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ "، قَالَ: فَلَقِيتُ الرَّجُلَ فَأَخْبَرَنِي، فَأَمْسَكْتُ عَنْ قَوْلِي.(۵)

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنه وایي: پر ما داسې وخت راغلی چې ویل به مې: د مسلمانانو اولادونه به له مسلمانانو سره وي او د مشرکانو اولادونه به له مشرکانو سره وي، ان چې ما ته فلانی له فلانی حدیث بیان کړ چې له رسول الله ص د دوی په اړه پوښتنه وشوه نو ده وویل :الله په هغه څه ښه خبر دی چې دوی به یې کوي، ده ویل: بیا زه له یو کس سره مخ شوم هغه ما ته خبر راکړ نو زه له خپلې وینا منعه شوم.

په دې روایت کې مو ولیدل چې کله ابن عباس رضی الله عنه ته دا روایت ورسېد نو ده هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څېر توقف وکړ او له خپل مخکیني هغه دریځ څخه چې د مشرکانو اولادونه یې په جهنم کې بلل، تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه یو بل روایت له خدیجې رضی الله عنها څخه هم نقل دی چې د اسلام له عمومي قوانینو سره اړخ نه لګوي:

قُلْتُ: فَأَيْنَ أَطْفَالِي قَبْلَكَ؟ قَالَ: «فِي النَّارِ».(٦)

ژباړه: ما(خدیجې) وویل: نو تر تا مخکې زما ماشومان به چیرې وي؟ رسول الله ص وویل: په اور کې.

لکن دا روایت صحیح نه دی، له خدیجې رضی الله عنها څخه چې ځوک نقل کوي هغه عبد الله بن الحارث نومی راوي دی چې له خدیجې سره ملاقات نه لري، له دې امله ذهبي روایت مرسل بللی، او الباني ورته منقطع ویلي.(٧)

عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا نُصِيبُ فِي الْبَيَاتِ مِنْ ذَرَارِيِّ الْمُشْرِكِينَ، قَالَ: «هُمْ مِنْهُمْ».(٨)

ژباړه: مصعب بن جثامه وایي ما وویل: اې د الله رسوله! زموږ څخه په شپه کې له قصد پرته د مشرکانو اولادونه وژل کیږي؟ ده وویل: دوی له هغوی څخه دي.

دا روایت یو شمیر کسان له عمومي ضوابطو، قراني ایاتونو او حدیثي لاسوندونو سره متصادم ګڼي، خو که د دې روایت ټولې طریقې وګورو نو هیڅ تضاد نه شته، د دې روایت نور متنونه په دې ډول دي:

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ لَهُ: لَوْ أَنَّ خَيْلًا أَغَارَتْ مِنَ اللَّيْلِ، فَأَصَابَتْ مِنْ أَبْنَاءِ الْمُشْرِكِينَ؟ قَالَ: «هُمْ مِنْ آبَائِهِمْ».(٩)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل شول: که سپاره په شپه کې برید وکړي، نو د مشرکانو زامنو ته زیان رسوي؟ ده وویل: دوی له هغوی څخه دي.

په بل کې داسې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُبَيَّتُونَ فَيُصِيبُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ "(١٠)

ژباړه: دوی د شپې برید کوي نو د مشرکانو ښځو او اولادونو ته زیان رسوي.

له دې ټولو روایاتو او طریقو څخه یې جوتېږي چې دا پوښتنه یې تر قیامت او عذابه اړه نه لري، بلکې مجاهدینو لـه رسـول اللـه ص څخـه پوښتنه کړې چې یو لورته په جګړه کې د ماشومانو له وژلو منعه شوې او بل لور ته یې موږ په شپه کې توپیر نه شو کولای چې ماشوم دی، ښځه ده او که جنګیالی مشرک؟

نو رسول الله ص ورته روښانه کړه چې په شپه کې د جګړې پـر مهال یې حکم یو دی، که ووژل شي نو مجاهدین نه پرې نیـول کېږي او نـه هم تر نیوکې لاندې راتلای شي ځکه دا حالت جګړه ییز وي او په دې اضطراري حالت کې که په نافهمي ماشوم ووژل شي نو پر اصحابو یـې ګنا نه شته.

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: دُعِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَنَازَةِ صَبِيٍّ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ طُوبَى لِهَذَا، عُصْفُورٌ مِنْ عَصَافِيرِ الْجَنَّةِ لَمْ يَعْمَلِ السُّوءَ وَلَمْ يُدْرِكْهُ، قَالَ: «أَوَ غَيْرَ ذَلِكَ، يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ أَهْلاً، خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ، وَخَلَقَ لِلنَّارِ أَهْلاً، خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ».(١١)

ژباړه: عائشه رضی الله عنهـا وایـي: رسـول اللـه ص د انصـارو د یـوه ماشوم جنازې ته وبلل شو ما وویل: اې د الله رسـوله! دغـه تـه خوښـي ده، د جنت له مرغیو یوه مرغۍ ده، نه یې بدي کـړې او نـه یـې بیخـي موندلې. ده وویل: او یا له دې پرته، اې عائشې! بې شکه الله جنت تـه اهل پیدا کړی، په داسې حال کې یې ورته پیدا کـړي چـې هغـوی لا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلرونو په شاګانو کې وو او اور ته يې اهل پيدا کړی، په داسې حال کې يې ورته پيدا کړي چې هغوی لا د پلرونو په ملاګانو کې وو.

دا روايت هم په دې اړه شکونه را ټوکوي، يو شمېر کسان لـه همـدې په استناد پر نورو کره رواياتو نيوکه کـوي، ځينـې يـې بيـا لـه هغـو کـره رواياتو سره ټکر بولي، په داسې حال کې چې دا روايـت د اصـولو لـه مخې د هغو نورو په پرتله ډېـر کمـزوری او ان د ټکـر پـه تعريـف کـې بيخې داخلېدای نه شي.

د دې روايت په سـند کـې دوه روايـان دي چـې يـو شـمېر محـدثينو کمزوري ګڼلي، يو يې طلحه بن يحيی او بل يې علاء بن المسيب دي، د لومړي په اړه پوهان وايي:

قال علی ابن المدينی ، عن يحيی بن سعيد القطان : لم يکن بالقوی ، و عمرو بن عثمان أحب إلی منه .و قـال البخـاری : منکـر الحـديث . و ذکره ابن حبان فی کتاب " الثقات " ، و قال : کان يخطیء .

ژباړه: علي بن المديني د يحيی په حواله ويل: پياوړی نه وو او عمـرو بن عثمان تر ده ما ته خوښ وو. بخاری ويل: منکر الحـديث دئ. ابـن حبان په کتاب الثقات کې راوړی او ويلې چې خطا کېدی.

حافظ د تهذيب التهذيب په 5 / 28 کې ويلي:

بقية کلام أحمد : بريد له أحاديث منـاکير ، و طلحـة إنمـا أنکـر عليـه حديث عصفور من عصافير الجنة .

و قال يعقوب بن شيبة أيضا : لا بأس به ، فی حديثه لين .

و قال الساجی : صدوق ، لم يکن بالقوی .

ژباړه: حافظ په تهذيب کې ويلي:( امام احمد يو ځای تاييد کـړی او دلتـه يـې پـاتې خـبرې نقـل شـوې) بريـده(چي بـل راوي دئ) منـاکير

(c) ketabton.com: The Digital Library



احادیث لري او د طلحه د عصفور من عصافیر الجنه روایت منکر بلـل شوی.

یعقوب بن شیبه ویلي: باك پرې نه شته خو په حدیثو کې یې ضـعف شته، ساجي ویلي: رښتنی دئ، خو پیاوړی نه و.

د دویم راوي په اړه هم دې ته ورته نیوکې شوې، ازدي وایي په ځینـو روایاتو کې تېروتی، نو پر داسې سندونو به څرنګه بـاور وشي چـې هـم یې متن منکر وي، له قران او حدیثو سره اړخ نه لګـوي او هـم یـې پـه سند کې کمزوري راویان وي، په داسې حال کې چې موږ د دې مسلې د حل لپاره هم په قران کې دلایل لرو او هم یې د حل په اړه لـه رسـول الله ص څخه مرفوع کره احادیث راغلي چې دا مسله یې له کوم مشکل او ستونزې پرته په ډېر غوره ډول حل کړې ده؟

په العلل و معرفة الرجال کې هم امام احمد دا روایت منکر بللی.(۱۲)

په ترمذي او مسند احمد کې هم لـه ابـو سـعید خـدري څخـه مرفـوع روایت نقل شوی چې وایي رسول الله ص وویل:

أَلاَ إِنَّ بَنِي آدَمَ خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى.

ژباړه: خبردار! بې شکه د ادم زامن پر بېلا بېلو طبقو پیدا شوي.

وروسته دوې داسې جملې وایي:

وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِراً وَيَحْيَا كَافِراً وَيمُوتُ كَافِراً.

ژباړه: او ځیني کافر زیږي، کافر ژوند کوي او پر کفر مري.

وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِراً وَيَحْيَا كَافِراً وَيمُوتُ مُؤْمِنًا.(۱۳)

ژباړه: او ځینې یې کافر زیږي، په کفر کې ژوند کوي او مومن مري.

خو دا روایت سخت ضعیف دی، په مسند کـې محقـق او څېړنـدوی شعیب الارنووط پرې داسې کاږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



إسناده ضعيف، لضعف علي بن زيد: وهو ابن جُدْعان.

ژباړه: سند یې د علي بن زید بن جدعان له وجې ضعیف دی.

یو بل روایت چې په مسند احمد او نورو کې نقل شوی وایي د قیامت په ورځ څلور کسان ازمویل کېږي:

رَجُلٌ أَصَمٌّ لاَ يَسْمَعُ شَيْئًا، وَرَجُلٌ أَحْمَقُ، وَرَجُلٌ هَرَمٌ، وَرَجُلٌ مَاتَ فِي فَتْرَةٍ.

ژباړه: کوڼ چې هیڅ نه اوري، بې عقل، ډېر بوډا او هغه سړی چې (د انبیاؤ) د فترت په زمانه کې وي.

هرم هغه بوډا دی چې د ډېر بوډاتوب له امله یې عقل لـه منځـه تللـی وي او فترت د انبیاؤ ترمنځ هغـه زمانـه ده چـې ور پسـې نبـي لا نـه وي راغلی.

دا څلور واړه کسان به الله ته عذرونه وړاندي کړي، د روایت اخیر کې داسې الفاظ دي:

فَيُرْسِلُ إِلَيْهِمْ أَنْ ادْخُلُوا النَّارَ.(۱۴)

ژباړه: نو دوی ته به پغام ولېږل شي چې اور ته داخل شئ.

بیا وایي که ور داخل شوي وای؛ نو په یخني او سلامتي کې به وو.

البته دا روایت هم ضعیف دی، قتاده راوي یې مدلس دی او پـه عـن یې نقل کړی، همدارنگـه یـې لـه خپـل اسـتاد احنـف بـن قـیس څخـه اورېدنه نه ده ثابته، په یو بل سند کې یې د عطیه پـه نـوم راوي ضـعیف دی.

څېړونکی شعیب الارنووط پرې لیکي:

هذا إسناد ضعيف لانقطاعه، قتادة: وهو ابن دعامة السـدوسي مـدلس وقد عنعن، ثم إن سماعه من الأحنف بـن قـيس مستبعد، لأنـه ولـد في

(c) ketabton.com: The Digital Library



البصرة سنة (60هـ) على أحد الأقوال، وتوفي الأحنف سنة (67هـ) على أصح الأقوال.

ژباړه: دا سند د انقطاع له وجې ضعیف دی، قتاده بن دعامه السدوسي مدلس دی او روایت یې په (عن) کړی، له احنفه یې اورېدنه هم سمه نه ښکاري، ځکه دی له یو قول سره سم په بصره کې د (۶۰ هـ) پر مهال زیږېدلی او له کره روایت سره سم احنف په (۶۷هـ) کې مړ شوی.

له کفارو د پیدا شویو ماشومانو د دوزخي کېدو په اړه پورتني یاد شوي روایات یا ضعیف او کمزوري دي او یا یې مطلب داسې بیان شوی چې د حدیث له اصلي محتوا سره اړخ نه لګوي.

لاندې به هغه احادیث راوړو چې ښیي د کفارو ماشومان به جنت ته ځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُمَجِّسَانِهِ.(۱۵)

ژباړه: له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویل یې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هر ماشوم پر فطرت پیدا کېږي، نو مور وپلار یې یا یهودي، یا نصراني او یا اور لمانځونکی کړي.

بخاري په باب تعبیر الرؤیا بعد الصبح کې یو بل رویت هم راوړی چې رسول الله ص د شپې د یوه اوږده خوب یادونه وکړه د دې په ترڅ کې یې وویل چې ما یو شیخ ولید چې شا و خوا یې هغه ماشومان وو چې پر فطرت مړه شوي، مسلمانو ورته وویل: اې د الله رسوله!

وَأَوْلاَدُ المُشْرِكِينَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَأَوْلاَدُ المُشْرِكِينَ.(۱۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د مشرکانو اولادونه هم؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: د مشرکانو اولادونه هم.(يعني دوی هم له ابراهيم عليه السلام سره وو)

په لنډو ويلای شو چې د قرآن کريم د عمومي اصولو او څرګندو نبوي احاديثو له مخې به د کفارو ماشومان جنت ته ځي، ځکه الله پر خپل مخلوق مهربان دی، احسان پرې کوي او فضل يې د خپلو سننو يوه نه بېلېدونکې برخه ده. پاتې شول د هغوی د دوزخي کېدو په اړه راغلي روايات نو ټول يې مجروح، ګُوته او د حديثي اصولو خلاف دي.

۲۰۱۳م

**سرچينې:**


(۱)(بخاري، کتاب بدء الخلق، باب ما جاء فی قول الله تعالی: وهو الذی يبدأ الخلق... ح: ۳۱۹۴)

(۲)(بخاري، کتاب الادب، باب جعل الله الرحمة مائة جزء ح: ۶۰۰۰)

(۳)(بخاري، کتاب الجنائز باب ما قيل فی اولاد المشرکين ح: ۱۳۸۴)

(۴)(بخاری ح: ۱۳۸۳)

(۵)(مسند احمد ح: ۲۰۶۹۷)

(٦)(معجم کبير ح :۲۷)

(۷)(سلسله الضعيفه)

(۸)(مسلم، کتاب الجهاد والسير، باب جواز قتل النساء والصبيان في البيات من غير تعمد، ح: ۱۷)

(۹)(تېره حواله)

(10)(تېره حواله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(١١)مسلم، كتاب القدر، باب معنى كل مولود يولد على الفطرة...ح: ٢٦٦٢)

(١٢)(العلل ١٣٨٠، ٢/ ١١)

(١٣)(مسند احمد مسند ابى سعيد الخدرى ح: ١١١٤٣)

(١٤)(مسند احمد حديث الاسود بن سريح، ح: ١٦٣٠١)

(١٥)(بخاري باب ماقيل فى اولاد المشركين ح: ١٣٨٥، مسلم باب معنى كل مولود يولد على الفطره... ح: ٢٦٥٨)

(١٦)بخاري، كتاب التعبير، باب تعبير الرؤيا بعد صلاة الصبح، ح: ٧٠٤٧)

## د اسلامي ثقافت په اړه زما اند

**لغوي مانا:**

ثقافت د (ث ق ف) له مادې جوړ دى، په لغوي اعتبار يې څو ماناوې شوې دي:

١/ هغه آله چې نيزه يا غشي په سموي. د لسان العرب ليكوال وايي:

الثِّقافُ: حَدِيدَةٌ تكُونُ مَعَ القَوَّاسِ والرَّمّاحِ يُقَوِّمُ بِهَا الشيءَ المُعْوَجَّ.

ژباړه: ثقاف هغه اوسپينزه اله ده چې له لينده يا نېزه جوړونكي سره وي او د يوه شي كوږوالى په سموي.

د يادولو، زدكولو، بريا او مخامختيا په مانا هم كارېږي. د لسان العرب ليكوال بيا هم ليكلي:

يُقَالُ: ثَقِفَ الشيءَ وَهُوَ سُرعةُ التَّعَلُّمِ. ابْنُ دُرَيْدٍ: ثَقِفْتُ الشيءَ حَذَقْتُه، وثَقِفْتُه إِذَا ظَفِرْتَ بِهِ. قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: عرب ژر زدکولو ته ثقف الشئ وايي، ابن دريد ويلي: ثقفتُ الشيء معنا زده مې کړ يا هم تر برلاسي وروسته عرب وايي: ثقفتُه. الهي وينا ده: که ته پر دوی په جنگ کې بريالی شوې...يا هم که ته له دوی سره په جنگ کې مخ شوې...(١)

**اصطلاحي مانا:**

په اصطلاحي معنا کې يې دوې معناوې د پام وړ دي، يوه يې د مطلق ثقافت ده او بله يې د اسلامي ثقافت شوې ده. معجم اللغة العربية المعاصرة ثقافت داسې تعريفوي:

مجموع ما توصَّلت إليه أمَّة أو بلد في الحقول المختلفة من أدب وفكر وصناعة وعلم وفن، ونحوها؛ بهدف استنارة الذِّهن وتهذيب الذَّوق وتنمية ملكة النَّقد والحكم لدى الفرد أو في المجتمع.(٢)

ژباړه: په مختلفو وختونو کې چې يو ښار يا امت د ادب، فکر، صناعت، علم، فن او نورو په برخه کې کومو شيانو ته رسيږي همدا ثقافت دی چې هدف ورڅخه د ذهن تنوير، د ذوقونو ښايسته کول او په ټولنه و فرد کې د انتقادي قوې پياوړي کول دي.

د الثقافة السلامية کتاب ليکوال يې داسې تعريف کړی دی:

مجموعة المعارف و المعلومات النظرية، والخبرات العملية المستمدة من القران الكريم والسنة النبوي، التي يكتسبها الانسان، ويحدد على ضوئها طريقة تفكيره و منهج سلوكه في الحياة.(٣)

ژباړه: د نظري معلوماتو، معارفو او هغو عملي علومو ټولګه ده چې له قران کريم او نبوي سنتو انسان اخيستي او د همدې په رڼا کې د ژوند مهال د فکر او سلوك لار ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوم په دویم تعریف کې ثقافت له خپل لوی مفهوم څخه را کوچنی شوی دی، زما په اند په اسلامي ثقافت کې هم یوازې د علم او معارف په اړه خبرې باید نه وي، په اسلامي ثقافت کې د مسلمانانو کلتور، فنون، علوم که دیني وي یا په نورو برخو کې، تاریخ یې، دودونه او رواجونه اسلام ته یې نسبت کیږي که نه؛ ځکه په یوه اسلامي ټولنه کې وي چې که اساسن اسلام کې ریښه هم ونه لري، خو بیا هم په مسلمانانو کې د وجود له امله یې اسلامي ثقافت کې ځایولای شو.

تر دې وضاحت وروسته غواړم ځینې ټکي د اسلامي ثقافت په اړه دلته ذکر کړم چې زما په اند د اسلامي ثقافت د تدریس مهال یې ذکر اړین دی:

۱/ د ثقافت عمومي تعریف او په خاص ډول د اسلامي ثقافت تعریف باید د کتاب په لومړي سر کې وشي. تر هر بحث مخکې د یوه شي تعریف ضروري دی. د تعریف په برخه کې دې یوازې پر نقل اکتفا نه کیږي، بلکې د خپلې ټولنې شرایطو ته په کتو دې ځینې تعریفونه خپله هم جوړ کړي او دا لاره دې همداسې خلاصه پریږدي چې راتلونکی وخت نور کسان هم ګامونه پر واخلي. د دې تر څنګ دې دا هم واضحه شي چې موږ ولې اسلامي ثقافت وایو؟ اړتیا یې څه ده او ګټه یې څه ده؟

۲/ د اسلامي دین او اسلامي شریعت د اصلي او فرعي منابعو پېژندنه د اسلامي ثقافت د تدریس مهال تر ټولو لومړی ټکی دی چې باید توجو ورته وشي. شاګرد باید دا وپېژني چې د شرعي و دیني مسایلو په حل کې پوهان لومړی او په دویم قدم کې کومو منابعو ته رجوع کوي؟ کوم مسایل باید له اصلي منابعو ثابت وي؟ او هغه مسایل کوم دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له فرعي منابعو ثابت شي هم پروا نه لري؟ د اسلامي سرچینو په اړه باید بحث هر اړخیز وي، اساسي منابع هم باید د خپلو مرتبو له مخې هغه ډول تشریح شي چې ورسره مناسب وي او له دې سره په ترتیب باید فرعي منابع هم د خپلې درجې له مخې تشریح شي چې د هرې یوې په بحث کې یې مقام، اړتیا او له دې څخه د مسایلو په حل کې چې څنګه ګټه اخیستل کیږي؛ هغه هم باید توضیح شي.

۳/ دریم بحث زما په اند دا اړین دی چې د اسلامي ثقافت مواضع باید معلوم شي. په اسلامي ثقافت کې له کومو شیانو بحث کیږي؟ یوازې عقیده؟ ورسره عبادت؟ اخلاقیات؟ او که تر دې اضافه نور مجالات هم شته چې باید د اسلامي ثقافت د تدریس مهال ورته پام وشي؟ که بحث یوازې په لومړۍ یا دویمه یا ورسره دریمه کټګورۍ کې را خاص شي نو بیا د اسلامي شریعت نوم تر ثقافت ښه ورسره لګیږي؛ ولې بیا د اسلامي ثقافت نوم ور کړی دی؟ او که داسې وي چې له اسلامه څنګه تعبیر هم شوی دی، چا کړی دی، په څه وخت کې شوی دی، څنګه نتیجه پرې راغلې ده، د کومو اصولو په نظر کې نیولو سره یې کړی دی، د اسلامي شریعت اغیز پر کلتور څه و؟ د ټولنې په نظم کې څه رول لري؟ اقتصادي برخه کې څومره مهم دی؟ د غم و ښادي په وخت کې څه وایي؟ همداسې هغه مواضع باید په ګوته شي چې د اسلامي شریعت څخه اغیزمن شوي وي او دا ټول په ثقافت کې داخلیږي.

۴/ د ثقافت مضمون باید د معرفت سبب شي نه د تجاهل، همداراز باید خلک افراطیت ته سوق نه کړي، بلکې دلته چې څه ورته تدریس شي هغه یې د لا روښانتیا او زغم سبب شي نه دا چې د نورو په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرکې او نفرت تخم پکې وکري. له بده مرغه چې د ثقافت مضمون اوس په مسلکي ډول نه دی عیار شوی او څوک چې یې تدریسوي هغه هم پر خپل مضمون بشپړ برلاسی نه لري له دې امله د ښه پایلې پر ځای منفي نتیجه ور کوي.

په ډېر افسوس باید په دې اعتراف وکړو چې اسلامي ثقافت کې د نن پر ځای پر پرون زیات زور راوړل کېږي؛ د دې پر ځای چې د د شریعت پر اساساتو مناسب بحث وکړي، لا یې نورو پیچلی کړي چې محصلین یې په زدکولو کې له ستونزو سره مخېږي. یو بل مشکل د عیني ژوند او ذهني تصور ترمنځ را پیدا کوي؛ ځکه د ثقافت مضمون تر حال پر تېر ډېر بحث کوي چې شاګردان او لوستونکي د نن پر ځای پرون ته توجو کوي او له دې امله د عیني شرایطو او هغه تصور چې له شاګرد سره پیدا کېږي یو ډول ټکر رامنځته کوي او دا د ژوند حقیقت هغوی ته تریخ کړي.

۵/ د دې مضمون یوه بله نیمګړتیا داده چې په محصلینو کې د فکر وړتیا نه زیاتوي. دوی نه د مسلمانانو د تاریخ، نه د اوسنیو ستونزو د حل، نه له تاریخ څخه د زدکړې او نه هم د اسلام د تعبیر او سرچینو په اړه سم پوهاوی تر لاسه کړي. د یوه مضمون چې اساسي هدف همدا د اسلامي شریعت پېژندنه وي، د هغه پر تاریخي سیر باندې ربړا اچول وي، د تعبیرونو او سرچینو په اړه یې بحث وي، اما بیا هم یو محصل تر لوست وروسته په دې یوه هم پوه نه شي، نو حتمن په دې مضمون کې ستونزې شته چې جدي حل غواړي.

۶/ ثقافت که په لنډ ډول تعریف کړو نو د اوسني امت یو ژوندی انځور راته کاږي. که دا مضمون په دې اړه بحث کې ناقص وي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو ته هم څه نه شي ور کولای، تر ټولو مهمه داده چې لـه دې مضمون وروسته طالب العلم پوه شي چې اوس د امت په مخ کې ستر خنډونه څه دي او حل يې څه دی؟ موږ د شريعت پروني تعبير تـه نـن زياته اړتيا نه لرو، خو د نن له شرايطو سره سم ورته اړتيا لرو، نو کـه پـه مضمون کې د نن پر ځای پرون ډېر فشار راوړل شوی وي دا د امت پـه اوسني حالت کې فايده نه لري او بايد فوري يې پر بديل فکر وشي.

7/ اسلامي ثقافت بايد د هغو باورونو، عقايدو او ارزښـتونو پـه اړه لـه اسلامي ليدلوري بحث وکړي چې په يو نه يو ډول له ديـن يـا شريعـت سره تړاو لري.

۸/ په اسلامي ثقافت کې بايد د هغو فرقو پـه اړه هـم ځـانګړی فصـل موجود وي چې له اسلام څخه خپـل تعبيـر لـري. دوی حـتمن د خپـل تعبير لپاره ځانګړي اصول لري، تګلاره يې لـه نـورو بيلـه وي. اسـلامي ثقافت بايد د هرې اسلام ته منسوبې فرقې پر ليدلوري، اصـولو، تعبيـر، له نورو سره پر مهمې اختلافي ټکو بحـث وکـړي چـې محصـلينو تـه د مسلمانانو د مذاهبو، فرقو، تعبيرونو او پـه ټولـه کـې د مسـلمانانو د تېـر تاريخ په اړه معلومات وشي.

۹/ په اسلامي ثقافت کې د مسلمانانو تېر تاريخ ته نظر ډېر لازمي دی. که داسې وشي چې دا تاريخ پر پړاونو وويشل شي لا به ښه وي چې پـه مختلفو سمسترونو کې ولوستل شي. د رسول الله ص دور دې ځانګړی شي، بيا دې د راشده خلفاؤ دوره ولوسـتله شي، تـر دې وروسـته دې د نورو خلفاؤ، اميرانو، پاچاهانو او هغه کسان هم بايد له پامه ونه غورزول شي چې د خلافت يا امارت دعوه يـې کـړې وي خـو واک تـه نـه وي رسيدلی، د هغه په اړه بحث به دا ګټه وکړي چې هم به يې محصلين پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه معلومات ولري، دویم دا ټکی اړین دی چې معلومه کړي هغه ولې دې ادعا کولو ته اړ شو او بیا بریالی ولې نه شو؟

۱۰/ د اسلامي ثقافت مضمون دې داسې چمتو شي چې پر څو مهمو برخو وېشل شوی وي. مثلن: په لومړۍ برخه کې دې د اسلام پر سرچینو بحث وکړي چې اساسي او فرعي سرچینې کومې دي؟ تر دې وروسته که د اسلامي مذاهبو په اړه بحث کېږي، نو لومړی دې د رسول الله ص له دوره پیل کړي چې هلته یوازې یوه مرجعه وه او هغې تفسیر وړاندې کاوه؛ اما که اصحابو ته اړتیا پېښه شوې وای، هغوی اجتهاد کاوه لکن رسول الله ص یې د خطاګانو سمونه کوله. د رسول الله ص په دور کې دا ټکی لازمي دی چې اصحابو کومو معیارونو ته په کتو اجتهاد کاوه؟ دا ټکی له موږ سره د اجتهاد په تعریف او مجتهدینو په پېژندنه کې مرسته کوي.

د اصحابو په دور کې هم د تعبیر اختلافات وو؛ له دې امله باید ښه بحث پر وشي. دلته نو دا ټکی نور هم اړین دی چې کومو معیارونو ته په کتو اصحابو اجتهاد کاوه او ولې ځینو ته پر نورو ترجیح ور کول شوې ده؟ هغه اصحاب چې په اجتهاد کې تر نورو مخکې بلل شوي، که د هغوی د اجتهاد روش معلوم شي په اساني موږ پته لګولای شو چې دوی کوم معیارونه په نظر کې نیولي دي؟ د اصحابو په دور کې که څه هم مدون اسلامي مذاهب نه دي را پیدا شوي خو د هغوی اجتهادي تګلارو بیا د مذاهبو په رغونه کې ښه جوت کردار ادا کړی دی.

د اصحابو تر زمانې را وروسته نو فقهي مذاهب په یو نه یو ډول را پیدا شوي دي چې فقهي تګلارې یې سره بېلې وې. دا دور نو لوی او ژور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث تـه اړتیـا لـري چـې د اسـلامي زده کـړو محصـلین د مـذاهبو پـه تګلارو، له نصوصو د اجتهاد په طریقو او معیارونو باید وپوهېږي. دلتـه بل مهم بحث دا هم دی چې د اختلاف پر را منځته کېدا هم باید بحث وشي چې مذاهب ولې تر خپـل مـنځ اخـتلاف سره لـري؟ دا ډېـر مهـم بحث دی او محصلین یـې پـه اړه یـا معلومـات نـه لـري یـا کـه څـوک پوهېږي؛ نو بیخي کم. د هر مذهب د اصولو پـه اړه بحـث بـه نـور هـم ګټور وي، د دې تر څنګ که یې د ځینو مشهورو څېرو په اړه معلومات وړاندې شي ډېر به ښه شي.

زما په اند د اسلامي ثقافت په برخه کې دا هغـه ټکـي دي چـې بایـد پکې ځای شي. که اسلامي ثقافت له دې یادو ټکو پرته لوستل کېـږي، نو نه یوازې چې اسلامي ثقافت سم معرفي کولای نه شي بلکې زیان به یې دا وي چې محصلین او لوستونکي په تیاره کې ساتي. هغـوی تـه د یادو شیانو په اړه سم لیدلوری نه ور کوي، د اسلامي ثقافت مضمون په خپله غېږه کې خورا زیات شیان را نغاړي چې په یوه چپټر یې خلاصول هم له دې مضمون سره ظلم دی او هم له محصلینو سره. زمـا پـه انـد د اسلامي ثقافت مضمون باید په مشخصو پوهنځیو کې ولوستل شي چې هغوی په یـو نـه یـو ډول لـه اسـلامي زدکـړو سره اړه ولـري. د طـب یـا ساینس په پوهنځیو کې شاملول یې هم محصلین په تکلیف کوي او هم دا مضمون په هغه ډول نه تدریسېږي چې ور سره مناسبه ده. د اسـلامي ثقافت مضمون دې د یوه تخصصي مضمون په توګه یوازې هغو کسانو ته تدریس شي چې اسلامي زدکړې کوي او په دې برخه کـې پوهـاوي ته اړتیا لري. د نورو پوهنځیو محصلین د اسلام په اړه عمومي معلومـات د مکتب له ابتدا تر انتها زده کوي او بیا تخصصي زده کـړو تـه اړتیـا نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. که بیا هم اړتیا وي، نو ځینې داسې کتابو دې په اړه ولیکل شي چې عمومي وي او یوازې د پوهنتون کسان گټه ترې وانه خلي بلکې عام افراد یې هم له مطالعې یو څه تر لاسه کړي او هغوی ته په دې اړه یو عمومي پوهاوی ور کړي او همدا به ورته کافي وي.

۱/۲/۲۰۲۰

کابل - افغانستان

**سرچینې:**


(۱)لسان العرب، الفصل التاء المثلثة: ۱۹/9، د دار صادر- بیروت دریېم چاپ ۱۴۱۴)

(۲)معجم اللغة العربیة المعاصرة، بحث ثاء د ث ق ف ماده ۱۰۶۰ لغت:۱/ ۳۱۸، د عالم الکتب لومړی چاپ: ۲۰۰۸)

(۳)الثقافة السلامیة: ۱۸، د اثراء د نشر و توزیع ادارې لومړی چاپ: ۲۰۰۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دین د انسان لپاره دی که انسان د دین؟

## یا هم انسان وسیله دی که هدف؟

اوس ډېر کسان دا پوښتنه کوي چې دین د انساني ګټو لپاره دی او که انسان د دین لپاره پیدا شوی دی چې باید په خپلو غوښو او وینو د دیني ارزښتونو ساتنه وکړي؟

دا په دې برخه کې خورا اهمیت لرونکې پوښتنه ده چې باید ډېره پخوا په معقول او منطقي توګه حل شوې وای؛ له بده مرغه چې د نورو ټولنو لپاره به حل وي، خو زموږ د ټولنې لپاره تر اوسه هم په معقول ډول نه ده حل شوې.

که د دې پوښتنې په اړه ځینو ټکو ته پام شوی وای، نو معقول او منطقي حل یې ډېر اسانه و، بدبختانه چې د موضوعاتو بعدونه، له زمان و مکان سره یې تطبیق او د ټولنې غوښتنو ته نه پام د دې سبب کېږي چې پوښتنې په خپله اصلي بڼه پاته شي او د معقول حل لپاره یې څوک جدي او پرېکنده اقدام ونه کړي.

د دیني او شرعي متن له محتوا په ډېره څرګنده معلومېږي چې د انسان او دین ترمنځ په پرتله کې د انسان د مهم بللو پله درنه ده، دیني متن په ګڼو ځایونو کې دې موضوع ته پام کړی دی او د مقدسو لارښوونو په بهیر کې د شرایعو تغییر او تبدیل د همدې محور پر اساسیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځرخي او موږ ته په ګوته کوي چې دين او شريعت د انساني ګټو د تامين وسيلې، له دې امله نو د قران په مقدس متن کې راغلي چې که انسان ته د زيان رسولو معامله د دين پر سر رامنځته شوه، انسان په ډېره اساني کولای شي چې له دين څخه منکر شي، اما اجازه دې نه ور کوي چې د انسان فزيکي وجود ته زيان ورسېږي.(النحل: ۱۰۶)

دا سمه ده چې د دين او شريعت په متن کې خورا ډېر دلايل د دې لپاره موجود دي چې دين د انسان لپاره وبولي، د انساني ګټو د تضمين وسيله يې وګڼي، اما په دينپالو ټولنو کې دې فکر ولې دومره وده کړې ده چې انسان د دين لپاره دی او بايد د ديني ارزښتنو په خونديتابه کې له ځانه بيا تر ماله او ابرو و عزته هر څه قرباني کړي؟

څو عوامل د دې سبب شوي دي، چې ځينې يې د ديني کتابونو د متن له ناسم تعبير سره اړه لري او نور يې بيا له ټولنيز ژوند سره تړاو لري. د قران کريم له يوه ايت څخه په دې برخه کې خورا ناسم تعبير کېږي چې د ايت اصل متن په دې توګه دی:

{وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنْسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ} [الذاريات: 56]

ترجمه: او ما پيری و انسان د خپل فرمان منلو لپاره پيدا کړي دي.

د دغه ايت له الفاظو، موضوع او مخته وروسته جملو سره ډېره بېباکه چلند شوی دی، نه دغه الفاظ هغه مفهوم ايجابوي چې په عمومي توګه ځنې کېږي او نه زموږ د سترګو ليدلې مشاهده ورسره سر خوري.

که دلته له عبادت څخه هغه مفهوم ومنو چې عمومن ځنې کېږي، نو بيا انسان ولې سرکښي کوي؟ انسان ولې د خپل تخليق هدف هېر کړی دی؟ په عربي کې د عبادت لفظ يوازې دغه مفهوم نه لري لکه زموږ خلکو ته چې له دې لفظ څخه بيخي بدهي ښکاري. عبادت د امر منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره هم کارېږي، د یو چا امر ته غاړه ږدل، هم عبادت دی، د قران کریم په دې ایت کې د جن او انس له عبادت څخه هدف هم هغو قوانینو ته د هغوی تسلیمي ده چې د کائیناتو د نظم چلولو په برخه کې خالق پیدا کړي او له دې قوانینو سرغړونه د جن او انس له وسه بهر خبره هم ده، دا مفهوم قران کریم بل ځای نورو مخلوقاتو لپاره د الفاظو په یو څه توپیر داسې بیان کړی دی:

{تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لاَ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيماً غَفُوراً} [الإسراء: 44]

ترجمه: اووه اسمانه، ځمکه او څه چې پکې دي، ټول د هغه لپاره له ستاینې سره یوځای تسبیح وایي؛ خو تاسو د هغوی په تسبیح نه پوهېږئ، یقینن هغه له دې امله بخښونکی دی چې زغم یې زیات دی. په دې ایت کې اسمان، ځمکې او پکې شته ټولو مخلوقاتو ته د تسبیح نسبت هم له دې جملې دی لکه انسان ته چې د عبادت نسبت شوی دی، نه اسمان او ځمکه خوله لري چې تسبیح په ووایي او نه د خدای هدف دغه ټول تسبیح دي، قران کریم وویل چې تاسو یې تسبیح نه شئ فهمولای، یقینن له انسان پرته د نورو مخلوقاتو عبادت او تسبیح تر اوسه هم ډېرو انسانانو ته د فهم وړ نه دي، اما دلته هدف هغو قوانینو ته د ټولو مخلوقاتو تسلیمي ده چې د جهان د اداره کولو لپاره په دې نړۍ کې نافذ دي او هیڅوک یې له پیروي انکار نه شي کولای، حتا دا داسې قوانین دي چې د قران کریم له مخې خدای خپله هم د دې قوانینو پابند دی او مخالفت یې نه کوي، نو مخلوق به یې څنګه مخالف شي؟ مثلن د جاذبې قانون دی، له دې قانون څخه مخالفت د جهان د متلاشي کېدلو په معنا دی، نو که خدای له دې قانون څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك معاف کړي، ګډوډي به جوړه شي او الله عزوجل په کائیناتو کې د عمومي ګډوډۍ پلوي نه دی.

که د قران کریم د تفسیر لپاره زموږ مفسرینو اول د قران کریم مفاهیم خپله په قران کې کتلي وای، زما په اند د قران کریم خپل تفسیر او تعبیر به تره ډېره موافقت سره درلودلای او هغه خطاګاني به نه پیدا کېدلای چې اوس یې موږ شاهدان یو، زموږ مفسرینو له بده مرغه چې د قراني ایاتونو په تفسیر کې نه ځمکني شرایط او د عینیت فلسفه په نظر کې نیولې ده او نه یې خپله د یوه ایت تفسیر د بل په څنګ کې ایښی دی چې څومره یو د بل له تفسیر او تشریح سره تطابق لري؟ د تفسیر په کتابونو کې دا هغه خلا ده چې تر اوسه پام نه دی ور ته شوی او لا یې هم د ډکولو لپاره یوې داسې ادارې کار نه دی پیل کړی چې په ټوله معنا د دې کار اهلیت او وړتیا ولري.

دین ولې د انسان په ژبه راغلی دی؟ موږ باید پر دې نکته هم ډېر فکر کړی وای، که هدف د انسان له تخلیق څخه یوازې د الله هغه عبادت وای چې موږ یې په عمومي ژوند کې کوو، نو بیا انسان سرغړونې معنا نه در لوده، د انساني ارزښتونو لپاره د دیني متن تغییر او تبدیل معنا نه ور کوله او په ټوله کې د انسان په هغه ژبه چې تل د تغییر او تبدیل په حال کې وي د هغه قانون متن رالېږل چې د دوی په اند هیڅ وخت تغییر او تبدیل نه مني د ثوابتو له جملې دي، هم بې معنا او بې مفهومه جمله ده؛ ځکه که هدف دغه عبادت شي چې موږ یې په ورځني ژوند کې کوو، نو یو لور ته خو ټول انسانان دا کار نه کوي، بل خوا د دې عبادت نوعیت او ډولونه سره ګڼ او بېل دي او بل یې دغه متن په ایجادولو او د هدف په تر لاسه کولو کې چنداني موثر هم نه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای کولای شوای چې د دې تحول منونکې ژبې پر ځای د عبادت قانون د انسان د عصبي سیستم یوه نه جلا کېدونکې برخه ګرځولای وای، چې هم هدف تر لاسه شوی وای، هم ټولو انسانانو عبادت کړی وای، ورسره د اختلاف او په عبادت کې د تنوعاتو مخه ډب شوې وای او تر څنګ یې ډېرې نورې ښېګڼې هم؛ اما خدای دا کار نه دی، بلکې په انساني ژبه یې متن رالېږلی دی، هغه ژبه چې انسان پنځولې ده، هغه ژبه چې د خورا ډېرو تعبیرونو، تفسیرونو، ګڼو مفاهیمو ور کولو او نورو ګڼو پدیدو تحمل لري، دا هر څه په ګوته کوي چې تر دین انسان مهم دی، دین به د انسان ګټې ساتي، لکه عملن چې موږ لیدلي هم دي، دین هغه وخت نازل شوی دی چې یوه ټولنه د تاریکۍ په تور ګرداب کې لاهو کېږي، له دې جوتېږي چې په دیني ارزښتونو به انساني هغه ساتل کېږي.

انسان ته د دین منلو او نه منلو اختیار، یوه بله هغه اساسي نکته ده چې موږ په دې ځانګړې قضیه کې د خاصې پرېکړې برداشت کولای شو، د خدای په رالېږلي متن کې دغه نکتې ټولې د انسان محوره دین تصریح کوي، د خدای دین د کړاو لپاره نه دی، انسان د انسان لپاره داسې ایډیالوژي جوړه کړي چې هغه په کړاو بدله شي، د خدای دین که انسان ته د دین منلو واک ور کوي، نو دا هم ښکاره کوي چې انسان خدای ته څومره مهم دی؟ اما د خدای له متن څخه چې انسان کوم برداشت کړی دی، په هغه برداشت کې د انسان اصل مقام ډېر راټیټ شوی دی، د ایډیالوژیو په ګړبړ کې د انسان مقام ته زیان رسېږي، هره ایډیالوژي که له پیله د انسان په ګټه رامنځته شوې وي، هم وروسته داسې لارې کوڅې پکې جوړې شي د خاصو انسانانو د ګټو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندیتابه قانون شي، تر جبر لاندې انسان نه شي کولای چې د ټولو انسانانو غوښتنې، اړتیاوې، د طبیعت حالات او نور دې سره ورته شي، بلکې دا هر وخت سره مخالف وي، له دې امله د انسانانو لپاره د یوې داسې عمومي ایډیالوژۍ را پیدا کول چې د ټول بشر په خیر دې وي، که ناممکنه نه ده، نو مشکله حتمن ده؛ ځکه لکه د هر انسان فزیکي وجود چې له یوه بل سره توپیر لري، دغه ډول یې نور ډېر شیان هم له نورو انسانانو سره فرق کوي، یو شی که زه د ځان په گټه بولم او بل ته یې هم گټه، اما بل زما په شان فکر نه شي کولای، ممکن هغه یې د ځان په تاوان وگڼي او مخ ځنې وگرځوي، یوه ایډیالوژي په یوه بڼه چې په هیڅ زمان، مکان او ټولنه کې دې د هغې جوړښت، موخه او د تطبیق و اجراء ډول دې توپیر نه سره کوي، یوه اساسي تېروتنه ده چې له له دیني ایډیالوژیو رانیولې بیا تر غیر دیني پورې د هرې یوې پیروان د دغه ناسم فکر ښکار شوي دي او په پایله کې یې انسانیت ته په زیان تمامه شوې ده.

هره ټولنه، ځای او وخت خپلې تقاضاوې لري، د دې لپاره به نظریات تراشل کیږي، که زما د هیواد لپاره یوه دیني نظریه نن کار ور کوي، عیني په همدې وخت کې یې د امریکا دټولنې لپاره نه ور کوي، باید د هغه ځای له شرایطو سره عیاره کړل شي، له دې ثابتیږي چې انسان مهم دی، دیني تعبیرونه، تفسیرونه او ایډیالوژي گانې له دغه اساسي نکته له پامه نه باسي چې هر څه د انساني گټې لپاره، که له دې اصل څخه د هرې ډلې، فکر او مکتب پیروان مخالفت کوي، په اصل کې د خپلې ایډیالوژۍ وخت لنډوي او نورو انسانانو ته د کړاو پر ځای اول خپلو ځانو ته د کړاو په ایجادولو کې وخت ضایع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵/۱۱/۲۰۲۱

## په اسلامي دعوت کې د کتاب مقام

له شک پرته چې کتاب د انسانیت په رشد او پرمختګ کې خپل رول هر وخت ادا کړی دی، که نن څومره هم نویو عصري وسایلو پر مختګ کړی دی، خو د کتاب اهمیت نه یوازې کم شوی نه دی بلکې زیات شوی دی.
د کتاب اهمیت ته په کتو د عالمیانو خالق هم په بېلابېلو وختونو کې له ګڼو نبیانو سره کتابونه او صحیفې د انسانانو د هدایت لپاره رالېږلي دي.
په ټولو انساني ټولنو کې د کتاب له اهمیت څخه څوک منکر نه دي او هره ټولنه د کتاب اهمیت مني اما ممکن په ځینو ټولنو کې یې اغېز زیات وي او په ځینو کې کم؛ خو دا هر څه د هغې ټولنې په ظرفیت پورې تړلي دي چې د یوې ټولنې ظرفیت څومر لوړ وي، هغومره د کتاب اهمیت هم هلته زیات وي.

### مقدس کتابونه

د کتاب نوم په قران کریم کې هم ذکر شوی دی، قران کریم په مجموع کې څلور ستر کتابونه یاد کړي دي چې پر څلورو سترو رسولانو په جلا جلا وختونو کې نازل شوي دي. دلته به د تېرو الهي کتابونو او قران کریم په اړه د قران کریم ځینې لارښوونې او هغه صفات را واخلم چې قران کریم ذکر کړي دي څو د کتاب اهمیت په ښه ډول څرګند شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ () مِنْ قَبْلُ هُدًى لِلنَّاسِ وَأَنْزَلَ الْفُرْقَانَ (ال عمران: ۳، ۴)

ژباړه: پر تا یې په حقه کتاب نازل کړی چې د مخکنیو تاییدونکی دی، او پخوا یې تورات و انجیل نازل کړي وو چې انسانانو ته لارښود او فرقان یې هم نازل کړی دی.

په دې ایت کې د پخوانو کتابونو لپاره د لارښود صفت ذکر شو، قران کریم یې په حقه نازل شوی ګڼلی دی چې مخکني کتابونه تاییدوي او د فرقان نوم یې ور کړی چې حق و باطل سره بېلوي.

إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ (المائده: ۴۴)

ژباړه: بېشکه موږ تورات نازل کړ چې په هغه کې هدایت او نور وو، نبیانو ورباندې فیصلې کولې.

دلته له هدایت سره د نور صفت ور اضافه شوی او دا هم ویل شوي چې د خلکو پرېکړې نبیانو په همدې تورات کولې.

وَلَقَدْ جِئْنَاهُمْ بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ.

(الاعراف: ۵۲)

ژباړه: او یقینا موږ دوی ته کتاب ور کړی، د علم له مخې مو تفصیل پکې کړی وو، مومنانو وګړو ته لارښود او رحمت.

قران کریم د موسی علیه السلام کتاب هم د فرقان په نوم یاد کړی دی:

وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ. (البقره: ۵۳)

ژباړه: او هغه وخت چې موږ موسی ته کتاب او فرقان ور کړل چې ګوندي تاسو لار ومومئ.

اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ. (الزمر: ۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله د کتاب په بڼه تر تولو ښې خبرې نازلې کړې دي چې یو له بل سره مشابه او تکراري دي.

قران کریم د الله تر ټولو بهترې خبرې دي، د کتاب په بڼه دا خبرې یو د بل تایید کوي، نقض او تضاد پکې نه شته او دا لامل دی چې خبرې پکې تکرار راغلې دي، قضایاوې بیا-بیا راغلې دي خو د تضاد پر ځای مشابهت پکې دی چې د قران کریم پر حقانیت دلالت کوي.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ () قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (الزمر: ۲۷، ۲۸)

ژباړه: او یقینن موږ په دې قران کې انسانانو ته(د هدایت لپاره) هر ډول مثال بیان کړی چې ښایي دوی پند واخلي. داسې قران چې په عربي ژبه دی، له هر ډول نقص(کوږوالی) څخه پاک دی ګوندي دوی ځان ساتنه اختیار کړي.

دا خو په قران کریم کې د کتاب په اړه لارښوونې وې، په دې اړه مناسبه بولم چې یو حدیث هم راوړم:

«إِنَّ اللَّهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ».(۱)

ژباړه: بیشکه الله په دې کتاب ځینې خلک اوچتوي او نور بیا کښته کوي.

له دې حدیث څخه د قران کریم فضیلت معلومیږي چې د کتاب اهمیت په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صحیفې او حدیثي کتابونه**

د سترو الهي کتابونو تر څنګ، الله ځینو نبیانو ته صحائف هم ور کړي دي چې انسانانو ته لارښوونې پکې وي. قران کریم د ځینو انبیاؤ په اړه د صحائفو یادونه هم کړې ده:

وكَتَبْنَا لَهُ فِي الأَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَوْعِظَةً وَتَفْصِيلاً لِكُلِّ شَيْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا (الاعراف: ۱۴۵)

ژباړه: او موږ ده ته په الواحو (صحائفو) کې د هر شي په اړه نصیحت او د هر شي په اړه تفصیل لیکلی وو؛ نو دا الواح ټینګ ونیسه او قوم دې امر کړه چې په ښه ډول عمل په وکړي.

د همدې الواحو په اړه یو بل ځای وایي:

وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الأَلْوَاحَ وَفِي نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ (الاعراف: ۱۵۴)

ژباړه: او کله چې له موسی څخه غوسه ولاړه الواح یې واخیستل او د هغو په نسخه کې هغو وګړو ته چې له خپله ربه ډارېږي هدایت او رحمت وو.

له دې جوتیږي چې صحائف هم د انساني هدایت لپاره وې، کله چې انسانان د الله په فرامینو عمل وکړي نو د رحمت سبب ورته کیږي او له دې امله الله پاک کتاب او صحائف هر ځای انسانانو ته رحمت بولي.

أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى () وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى (النجم: ۳۶، ۳۷)

ژباړه: او که دی په هغه څه نه دی خبر چې د موسی او هغه ابراهیم په صحیفو کې وو چې په خپلو خبرو یې عمل وکړ؟

له دې ثابته شوه چې د موسی علیه السلام تر څنګ د خورا زیاتو نبیانو جد او مقتدا ابراهیم علیه الصلاة و السلام ته هم صحیفې ور کړل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او په هغو کې ځينې احکام وو چې دلته د يوه سرکښ په اړه وايـي، دی په هغه څه نه دی خبر چې د موسی او ابـراهيم علـيهما السـلام پـه صحائفو کې راغلي وو؟

تر دې ور هـاخوا بيـا يـوه بلـه کټګـوري کتابونـه د انبيـاؤ هغـه خـبرې، وينـاوې، فيصلې او عملي و تقريري اعمال دي چې د همدې کتـابونو د احکامو او لارښونو د تعميل پر مهال يې ترسره کوي او د نـورو انسـانانو په لاس ليکل کيږي. که څه هم دا کتابونه مستقيم انبياء نه ليکـي، امـا د تقدس درجه يې له دې امله پر خپل ځای پاته ده چې دا هم نبيانو عمل يا قول دی او د دين و شريعت په تشريح کې يې ويلی يا کړی دی. لـه دې امله نو دا د شرعي احکامو دويمه سرچينه بلل کيږي چې خورا لويه برخه شرعي احکام ور پـوري تـړلي دي. قـران کـريم د الهـي کتـاب د تشريح په اړه رسول الله ص ته وايي:

وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (النحل: ۴۴)

ژباړه: او موږ تاته ذکر نازل کړی چې خلکو ته هغه څه بيان کـړې چـې ورته نازل شوي او ښايي دوی فکر وکړي.

په دې ايت کې الله تعالی رسول الله ص ته امـر وکـړ چـې خلکـو تـه د ذکر بيان وکړه. رسول الله ص چې په عمل کې څه بيان کـړي، پـه قـول يې هر شی بيان کړی يا هم تقرير، دا ټول هغه څه دي چې رسـول اللـه ص ته د تبين امر شوی دی، يعنې دا بيـان دی، د قـراني احکـامو بيـان رسول الله ص خلکو ته په عمل کړی دی، په قول يې ورته بيان کړی او په تقرير يې هم.

له دې املـه چـې قـولي، فعـلي او تقريـري احاديـث و سـنت د شرعـي احکامو تشريح وه، علماؤ هڅه وکړه چې د قران کريم په شان دا هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابي شکل خوندي کړي چې د ابد لپاره نورو راتلونکي نسلونه د يوې شرعي سرچينې په توګه کار ترې واخلي. دادی د حديثي کتابونو له ليکلو تر زر هم زيات کلونه تېرېږي، خو نن هم د امت په لاس کې دي او د مسايلو په حل کې ترې ګټه اخلي.

له دې لوړ بيان څخه ثابته شوه چې کتاب د اسلامي دعوت په لار کې خورا لوی اغېز لري، همدې اغېز ته په کتو الله تعالی کتابونه نازل کړل، صحيفې يې راولېږلې او د امت لومړنيو پوهانو د حديثو کتابونه وليکل چې دادی د امت په رهبري کولو، رغولو، سمې لارې ته په هدايت کولو کې خپل مهم نقش لري او امت تر هر څه اول په شرعي و ديني احکامو کې همدې سرچينو ته رجوع کوي.

## په دعوت کې د کتاب اغېز

مخکې کې مو هم يادونه وکړه چې که کتاب اغېز نه درلودلای نو الله تعالی انسانانو ته د لارښوونې لپاره کتابونه نه نازلول.

د الهي کتابونو نازلېدل خپله ثابتوي چې اغېز يې زيات دی.که کتاب نه وای، نو له ادمه تر دې دمه راغلي اخبار او احوال به موږ ته په دونه خوندي ډول نه وای رسېدلي. موږ چې نن د تيرو نبيانو په احوالو خبر يو د همدې کتاب نقش دی، که د هغوی خبرې موږ ته رسېږي او موږ يې منو، ايمان پر راوړو دا هم د کتاب له امله دی، نو لازمه خبره ده چې کتاب له خورا زيات اغېز څخه برخمن دی چې په ديني او دنيوي لحاظ يې د انساني رشد په پر مخ وړلو کې ډېر مهم نقش له پامه نه شو اچولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د خپلو اسلافو له اقوالو او احوالو خبر یو، دا هم د کتاب برکت دی، موږ ته د هغوی خبرې او اجتهادات رارسیدلي دي، دا هم د کتاب له رویه، د کتاب اغېز دی چې نن هم د هغوی پیغامونه ژوندي دي او خلکو ته د سمې لارې په ښودنه کې ترې کار اخیستل کېږي.
د اوس وخت پر اجتهاداتو او د مسلو پر حل د پخوانو علماؤ د فکر اثر حتمن شته چې دا هم د کتاب اغېز ثابتوي.
د کتاب یو ښه والی دادی چې لوستونکی ورسره زیاتره وخت حساسیت نه پیدا کوي او نه هم مقابله ورسره کوي، کتاب یو خاموشه داعی دی چې په خپل وار هر وخت، هر ځای کې هر چا ته په خپلو موثرو کلمو او جملاتو پیغام رسوي، د خلکو پر زړو او اذهانو اغېز کوي او ممکن خپل پیغام ور باندې ومني.

## د کتاب پیغام

د پیغام په رسولو کې کتاب له پخوا زمانو ډېر د ارزښت وړ وو او دی. کتاب په زیاتو وختونو کې تر مخامخ خبرو ډېر موثر وي، ځکه د کتاب د وړاندې کولو انداز له خبرو سره فرق لري، په کتاب کې یو خاموش داعي خپل پیغام په ارام ډول، له هر ډول استثنا پرته، په ښو جملو، غوره انداز او داسې میتود وړاندې کوي چې مخاطب ورسره په جنجال نه اخته کېږي. لوستونکی یوازې د کتاب پیغام لولي او فکر پکې کوي، دلایل یې ګوري او تامل ته اړ کېږي، تګلاره یې ارزوي او تر اغېز لاندې یې راځي او بالاخره د کتاب پیغام ته تسلمېږي.
د کتاب یوه بله ځانګړنه داده چې هر وخت موجود وي، زموږ سره اوس هم داسې کتابونه شته چې لیکوالان یې خورا وختې مړه شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ان د رسول الله ص تر بعثت مخکې کتابونـه هـم موجـود دي او د یونان د فلسفې او منطق کتابونه اوس هم په یوه بڼه موجود دي.

د زیاتره کتابونو پیغام عمومي وي، هر وخت ته رسېدای شي، عمر یـې اوږد وي، له یوه قومه تر بله له یـوې جغرافـې تـر بلـې هـیڅ سرحـد نـه پېژني، له دې امله د کتاب پیغـام خـورا مهـم دی. یـو عـالم وایـي، کـه څوک غواړي چې ونه مري، نو ګټور کتاب دې ولیکي.

رښتیا هم د زرګونو کسانو نومونه موږ اوس داسې یـادوو لکـه همـزولي چې مو وي او د ژوند په خورا زیاتو پیښو یې داسې خبر یو لکه زموږ د کلي چې وي، دا ولې؟ ځکه چې هغوی علماء وو، کتابونه یـې ولیکـل او انسانیت ته یې خدمت وکړ، د هغـوی د کتـاب پیغـام مـوږ د هغـوی پېژندلو ته وهڅولو.

۲۱/۱۲/۲۰۱۹

**سرچینه:**

(۱)مسـلم، کتـاب صـلاة المسـافرین و قصرهـا، بـاب فضـل مـن یقـوم بالقران... ح: ۸۱۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ديني تعبير د نړۍ والې ادارې اړتيا

دغه کار که په تېر وخت کې ممکن نه و؛ اوس خو يې حتمي شونتيا رامنځته شوې ده چې د اسلامي نړۍ په کچه د پوهانو يوه داسې اداره جوړه شي چې يوازينی کار يې له وخت، مکان او شرايطو سره د دين او شريعت سم تعبير وي.

په اوس وخت کې د دې ادارې اړتيا ځکه زياته شوې ده چې د دين په وړاندې چېلنجونه زيات دي؛ له دينه هغه محلي تعبيرونه د وخت او غوښتنو سره سم نه کېږي، د هغو په نتيجه کې خبره جنګونو او ورانيو ته رسېږي چې نړۍ يې هم په ناسم تعبير خبره او د عملي زيان بېلګې يې ويني.

په محلي کچه له دينه ناسم تعبير که يوه لور ته د جنګونو او تشدد سبب شوی دی، نو بل لور ته يې له دينه د مخ اړولو لړۍ هم اوچته کړې ده، په نن وخت کې د اسلامي نړۍ په کچه دا هم يو لوی چېلنج پاته دی چې خلك له دغه مروجه تعبيره ستړي کېږي او له دينه مخ بې دينۍ ته اړوي چې د اسلام ټولنې لپاره د يوه بل ګواښ زنګ دی.

محلي ناسم تعبيرونه يو بل مشکل دا لري چې دولتونه او ديني مرکزونه/ اشخاص د همدې پر سر سره په جنجال اخته او يو بل ته په سنګر کې ناست دي، که تعبير يو محوره او د زمان و مکان غوښتنې په نظر کې ونيول شي حداقل دې سناريو ته به پای ور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محلي او شخصي تعبيرونه د اختلافاتو د زياتېدو سبب هم کېږي چې دا نن يې زموږ په هيواد او نژدې ګاونډي هيواد پاکستان کې خورا زياتې بېلګې وينو. طبيعي خبره ده چې د يوه انسان تعبير نسبت د ډېرو تعبير ته حتمن د خطا زيات احتمال لري، که له دينه تعبير جمعي کړو او د فرد کار يې ونه ګڼو نو زما په ګومان به مو د دې مذهبي زړه بدونکو اختلافونو مخنيوی تر يوه حده کړی وي.

فرد محوره او محل محوره تعبيرونه د وخت او زمان غوښتنو ته هغه ډول پاملرنه نه شي کولای چې بايد ورته شوې وای، اوس هغه وخت تېر دی چې يو کس به د خونې په يوه کونج کې ناست و، کتاب او فتاوا به يې ليکله، کله چې به وليکل شوه نو د هغې سيمې ټولو خلکو ته به يوه لاسته راوړنه وه او په هغه سيمه کې به عمل په کېده، اوس خبره د يوه ولايت او يوې سيمې نه ده، ديني هويتونه اوس په ملي هويتونو بدل شوي او د يوه ولايت په فتوا پر ټول هيواد اثر کوي، چې له امله يې ستونزې را پيدا کېږي، له دې امله اړينه ده چې له فرد محورۍ او محل محورۍ څخه نور دا کار جمع محورۍ ته وسپارو.

د ټيکنالوجي سرعت د هغو نويو مسلو را پيدا کول هم اسانه او تېز کړي دي چې له ديني او شرعي تعبير سره يو نه يو ډول اړيکه ولري؛ د همدې لپاره اړينه ده چې پر وخت او مناسب ځواب په ديني و شرعي تعبير کې ورته وموندل شي، چې دا کار هم فرد او محلي تعبير کوونکې نه شي کولای، له دې امله اړينه ده چې د دې مسلو د حل لپاره د اسلامي نړۍ په کچه د علماؤ اداره موجوده وي چې دې ټول غوښتنو او ستونزو ته پر وخت ځواب ومومي او ستونزې هوارې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اړتیا تر دې اړینو ټکو را وروسته زه خپل شخصي نظر د دې ادارې د جوړښت په اړه اجمالن لیکم:

اول: په دې اداره کې به د ټولې اسلامي نړۍ او هغو غیر اسلامي هیوادونو استازي وي چې هلته زیات مسلمانان میشت دي او له دین او شریعته تعبیر ته جدي اړتیا لري، د دې استازو کار به دا وي چې په مرکزي اداره کې ناستو د نړۍ نورو پوهانو ته به د خپلې سیمې کلتور، رواجونه، عنعنات، زماني و مکاني غوښتنې، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز چاپیریال معرفي کوي چې همدې ټولو ته په کتو به یوځل پریکړه په مرکزي اداره کې کیږي او بیا به د هیواد په سطحه د هغې ادارې وطني څانګه هم خپل نظر پر ور کوي.

دوم: د ادارې یوه څانګه به په ټولو اسلامي او هغو غیر اسلامي هیوادونو کې وي چې د څانکې اړتیا یې احساسیږي، دوی به له دین سره تړلي مسایل او هغه را ټوکېدلې ستونزې درک کوي چې له دیني و شرعي منابعو په سم تعبیر یې باید حل وړاندې شي، دا به له پوره تفصیل او خپلو نظریاتو سره مرکزي ادارې ته لیږي؛ هغوی به پر همدې ور کړو معلوماتو خپل نظرونه سره ور کوي، که اړتیا شوه نور جزئیات به راغواړي او که دوی نور څه ومون‌دل هم به یې مرکزي ادارې ته پر وخت لیږي، کله چې پریکړه کیږي نو د هغه هیواد وطني څانګه به یې د هیواد په کچه د پلي کېدو د احتمالي ستونزو او جانبي عوارضو د را پیدا کېدو شتونتیا ارزیابي کوي، که له مکان او زمان سره یې تطبیق او سمون نه در لود بیا به اپډیټ کیږي څو د وخت او مکان له شرایطو سره برابره فتوا خلکو ته پر وخت وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیږ: په مرکزي اداراه او وطني ځانګو کې به يې د هر مسلك علـما او پوهان ناست وي، د دوی غړیتوب ته ځکه اړتيا ده چې ډېرى وخـت يوه مسله يو بعد نه لري چې يوازې دينـي علـما يـې ارزيـابي وكـړي او ځواب دې ورته چمتو كړي، په مسله کې طبي اړخ رول لري، يوه مسله له سياست سره تړلې وي، بله يوه له اقتصاد سره، يوه له تاريخي ابدتاتو سره اړيكه لري، بله له زراعته سرچينه اخلي، په همدې ډول نورې هـم؛ نو د دې لپاره اړينه ده چې په ټولو ځانګو او خپله مرکز کـې د هـر فـن متخصص كسان غړيتوب ولري او د هرې مسلې د حل هيڅ يوه ناسته د هغې برخې چې شرعي مسـله ور سره اړه لـري، د متخصصـو كسـانو لـه شتون پرته حل او فصل نه شي، د دوی نظر او موافقه به د مسلې په حل کې اړينه او لاينفك جز وي.

څلور: دولتونه بـه يـې ټـول ملاتـړ كـوي، د دې ادارې لپـاره بـه فنډ د اسلامي نړي دولتونه په ګډه ور كـوي، ځكـه د ټـولې اسـلامي نـړۍ پـه سطحه د دين د تعبير دروند بوج ور له غاړې دی چې پر دولتونـو حـق لري له مالي اړخه يې ټولې ستونزې ور حل كړي.

پنځه: د هر هيواد هغه جيد علما به يې غړي كيـږي چې هـم پـه خپـل هيواد كې خپلو دولتي ادارو له هغه څخه امتحان اخيستی وي او لـه دې امتحانه بريالی وتلی وي او هم به مرکزي اداره کې د ازموينې لپاره خپل سستم موجود وي چې له هغه څخه هم بايد په شفاف ډول تېر شي څو د خپلې وړتيا له مخې دې مقام تـه راشي. دغـه مقـام لـه هـر كـس سره ځكه نه ښايي چې د نړۍ په كچه د دين د تعبيـر مركـز دی، نـو يـوازې هغه كسان يې بايد د غړيتوب ويـاړ ولـري چـې پـه علمـي ميـدان كـې ځليدلی وي، عملن د داسې تعصب او کينې و عقدې ښکار نه وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه خبره ورته ښکاره شي، په اخلاقي لحاظ له دې پاک وي چې ګوته ورته ونیول شي او داغ پرې ولګېږي او نور هغه اړین صفات ولري چې وطني ادارې او مرکزي هسته یې ورته تعبینوي.

۲۰۲۱/ ۳/ ۲۰

## په کومو حالاتو کې هدف وسیله توجیه کوي؟

دا ډېره مهمه پوښتنه ده، ځینې وختونه له همدې اصل څخه ډېره ناسمه استفاده کېږي او کله بیا وسیلې ته د نه توجیه په اړخ کې تفریط کېږي. دغه حالات او شرایط باید معلوم شي چې په کومو حالاتو کې په کومو شرایطو هدف وسیله توجیه کوي او په کومو کې نه کېږي؟

عربي کې یوه قاعده ده چې الغایه تبرر الوسیله؛ تر دې اصل لاندې هم فقهاء او هم پوهان پر همدې موضوع بحث کوي چې هدف څنګه وسیله توجیه کولای شي؟

د دې لپاره پوهانو دوه شرطونه لومړی ذکر کړي دي: اول دا چې هدف به مشروع وي، په هدف کې به شرعي ستونزه نه وي، جائز او روا به وي. دویم دا چې د حرامې وسیلې زیان به د هغه هدف تر مصلحت کم وي چې په دې وسیله تر لاسه کېږي.

هغه وسیله چې موږ هدف ته رسوي، که یې ټولنې ته زیان رساوه او زیان یې هم دومره و چې د هدف تر مصلحت زیات و، بیا دغه وسیله هدف نه شي توجیه کولای، ځکه د وسیلې زیان ټولنې ته دومره دی چې هغه هدف یې نه شي جبیره کولای، او که د هدف مصلحت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسیلې له فساد سره مساوي وي، بیا د فساد مخنیوی د ګټو له تر لاسه کولو ښه دی، بیا هم باید هدف وسیله توجیه نه کړي.

لکه: یو کس د غلا، قاچاقو او فساد په شتمني حج کوي، دی فکر کوي چې حج هدف دی، نو زه باید دې هدف ته په هره وسیله ورسیږم. دوې تېروتنې رامنځته کېږي، یو دا چې الله تعالی په مالي عباداتو کې د پاکوالي قید زیات کړی دی چې حج هم مالي عبادت دی او هم بدني، نو دغه ټکی پکې اړین دی او دویم دا چې د حج تر ګټې د غلا، قاچاقو او فساد و رشوت زیان وټولنې ته زیات دی، نو د حج پر ځای باید د غلا، قاچاقو، فساد او رشوت مخه ونیول شي.(۱)

بل مثال: د قاچاقو او نشیي موادو په تجارت یو څوک جهاد کوي، دلته بیا تېروتنه کېږي. له جهاد څخه هم هدف د انسان ژغورل، په ټولنه کې د فساد مخنیوی او د ډار ختمول دي، که د جهاد په خاطر نشیي موادو ته د کرکیلې او قاچاق اجازه ور کول کېږي، نو د جهاد هدف له منځه ځي، ځکه په نشیي توکو بېرته خلک اخته کېږي، د هغوی د تلف کېدو سبب کېږي، په ټولنه کې فساد پېښوي، بې انډولي رامنځته کوي چې یوه طبقه ډېره شتمنه شي او بله یې بزګر او خواریکښ پاتېږي، نو بیا هم نه شي کولای چې دغه هدف دې وسیله توجیه کړي.

هغه حالات چې پکې هدف وسیله توجیه کوي، یو ضرورت دی، مثلن: یو څوک له لوږې بې حاله دی، یا هم تنده پر راغلې یا مریض دی، کولای شي حرام شی وخوري البته نه به تر وخت مخکې بانې ورته لټوي او نه به افراط پکې کوي، یا هم حرام څښاک وکړي یا نشه مریض ته ور کړي چې ډاکټر یې تداوي وکړي. دا د اړتیا صورت دی چې هغه پاسني دواړه شرایطو ته به پام کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل صورت د اکراه يا مجبوريت دی، که يو څوک مجبور شي چې يا به وژل کيږي يا به اسلام ايله کوي، هغه کولای شي چې اسلام پټ کړي او ظاهرن د نامسلمانو پيروي وکړي.
دريېم د مصالحو(گټو) او مفاسدو(زيان) ټکر دی، په دې صورت کې هم هدف وسيله توجيه کوي. لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د کعبې پر ابراهيمي بنسټ ودانول د خلکو د ارتداد له امله پرېښوده؛ د خلکو له اسلامه گرځېدل غټه فتنه وه نسبت دې گټې ته چې کعبه دې پر ابراهيمي بنيادونو له سره جوړه شي، له دې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم پرېښوده. کعبه اصلن هغه ده چې پر کومو بنيادونو ابراهيم عليه السلام جوړه کړې وه، اما دا يوه وسيله ده چې خلک دې يوه جهت ته لمونځ کوي څو د اتحاد فکر پکې پيدا شي، بل لور ته هدف د خدای لور ته د خلکو متوجې کول او د خدای پر پيغام د هغوی باور دی، نو د کعبې ودانول چې وسيله ده پاته شو څو هغه هدف چې د خلکو ايمان دی له لاسه ور نه کړو او د هغوی باور ته زيان ونه رسيږي.(۲)
يا په قران کريم کې راغلي چې د موسی عليه السلام ملگري د کښتۍ يوه دړه وايسته، دا يو شر دی، د بل په ملکيت کې د هغه له اجازې او خوښې پرته ناسم تصرف دی، البته دغه وړوکی شر د دې وسيله شوه چې دا ټوله کښتۍ د يوه غاصب له منگولو وژغوري، نو پروا نه لري. دلته دوه مفاسد دی، يو يې لوی دی بل يې کوچنی، که کوچنی وسيله نه شي د لوی شر د پيښېدو خطر دی، له دې امله بايد کوچنی شر وشي چې د لوی مخنيوی وکړي.(الکهف: ۷۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم کوچی په مسجد کې بولو کولو ته ایله کړ، دا هم یو شر و، اما که یې ورته ویلي وای چې بهر ته ولاړ شه، هغه ښایي د مسجد نورې برخې هم لړلې وای، دا تر هغه اول ډېر تاواني شر و، له دې امله یې پر یوه ځای د بولو کولو لپاره ایله کړ.(۳)

که دا اصل عمومي شي چې هر هدف وسیله توجیه کوي، نو به په شرعي احکامو ریشخند وهل پیل شي، په شرعي نصوصو کې د دغه ډول مثالونو شتون چې دلته موږ لوړ بیان کړل، باید د نورو احکامو په څنګ کې وڅېړل شي، نه دا چې له هر یوه څخه دې ځای پر ځای حکم استنباط شي. فقهي اصول د همدې لپاره رامنځته شوي دي چې د دغه ډول ناسمو برداشتونو مخنیوی وکړي او خلک د احکامو په اخیستلو کې دغو اصولو ته پام وکړي څو شرعي متن د استهزا مقام ته راکښته نه کړي.

د هدف وسیله توجیه کولو اصل ځینې وختونه همداسې عمومي کاریږي، اما دا فکر ناسم دی، که د قران او سنت په رڼا کې ورته وکتل شي، نو هدف په شرایطو او خاصو وختونو کې وسیله توجیه کوي نه په عمومي حالاتو کې له شرایطو پرته.

۱۳/۲/۲۰۲۲

**سرچینې:**

(۱)(صحیح مسلم، کتاب الزکاة، باب قبول الصدقه من الکسب الطیب وتربیتها،ح: ۱۰۱۵)
(۲)(مسلم کتاب الحج، باب نقض الکعبة وبنائها، ح: ۱۳۳۳)
(۳)(مسلم، کتاب الطهارت، باب غسل البول وغیر من النجاسات اذا حصلت في المسجد... ح: ۲۸۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منځلاريتوب(وسطيت)

### لغوي و اصطلاحي معنا:

د پاس عنوان لپاره عربي کې اعتدلال يا وسطيت الفاظ کارېږي. دا له وسط څخه جوړ دی او ګڼې معناوې لري، (الوسطية مأخوذة من مادة وسط ، وهی کلمة تدل على العدل والفضل والخيرية والنصف والتوسط بين الطرفين. )(۱) وسطيت له وسطه اخيست شوی، چې عدل، فضل، غوره، نيم او د طرفينو مابينځ ته ويل کېږي. قران کريم هم د وسط (۲)لفظ د محمدي امت په صفاتو کې راوړی. دا چې وسط هلته څه معنا ورکوي په اړه يې ګڼشمېر نظرونه او اراء موجود دي. چا د منځلاريتوب معنا ترې کړې او نورو بيا د غوره يا ښه په معنا اخيستی. زما په اند محمدي امت دا دواړه صفات لري، قران کريم بل ځای د امت لپاره د (کنتم خير امة)(۳) الفاظ هم کارولي. له دې جوتېږي چې د دې امت غوروالی په همدې منځلاريتوب کې دی. اعتدال د عدل له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادې څخه دی چې په چارو کې میانه روي و منځلاریتوب اعتدال بلل کیږي.

د اصطلاحي معنا یې ګڼ تعریفونه یې وړاندې شوي دي چې مفاهیم یې تقریبن سره نژدې دي. د تحلیل عن مفهوم الوسطیة في الفقه الاسلامي لیکوال وایي: حالة - خطابیة أو سلوکیة محمودة تعصم الفرد من المیل إلی جانبی الإفراط و التفریط.(۴) د وینا او عمل هغه غوره حالت دی چې فرد له افراط و تفریطه خوندي کوي.

افراط تر حد تجاوز ته وایي، او تفریط بیا کموالی دی، له دې هر یوه چې ځان وساتل شي، دا بیا وسطیت یا منځلاریتوب دی. پاس د لغوي او اصطلاحي معناو او د قران کریم له ایاتونو څخه معلومه شوه چې د اسلامي دین اساس پر وسطیت ښودل شوی، د اسلامي دین ښکلا همدا منځلاریتوب دی چې که څوک یې په افراط تر حدودو ګام اړوي یا هم په تفریط؛ نو د دین یو مهم امتیاز او اساس له پام اچوي چې د اسلامي دین یوه مهمه ځانګړتیا او بنسټ دی.

## منځلاریتوب په قران او سنت کې:

د الله تعالی په کتاب او رسول الله ص په سنتو کې د منځلاریتوب په اړه ډېرې لارښوونې موندل کیږي. پخوانیو مفسرینو او فقهاؤ چې په دې اړه بحثونه کړي دي، لومړی یې د قران کریم له دې ایته را پیلوي:

وکَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ (۵)

ژباړه: او تاسو مو منځلاری امت کړئ چې پر خلکو شاهدان شئ.

دې امت ته پر نورو امتونو د شاهدی امتیاز ورکول هم د همدې منځلاریتوب له امله دی. منځلاریتوب یو ډول انساني فطرت دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان که زیات خوراک وکړي ستونزې ورته جوړوي او که لږ وکړي بې انرژۍ کېږي، خو که افراط و تفریط ونه کړي، له دواړو زیانونو به خوندي وي. منځلاریتوب یوازې په دین کې اړین نه دی، بلکې د ژوند په ټولو برخو کې انسان او ټولنه ورته اړتیا لري. پښتانه یو متل کوي: مه دومره تریخېږه چې څوک دې وغورزوي او مه دومره خوږېږه چې خلک دې وخوري؛ بلکې میانه روي اړینه ده.

د خدای د غوره بندګانو په صفاتو کې الله تعالی وایي:

وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا (٦)

ژباړه: او دوی چې کله نفقه کوي؛ نه اسراف او نه کمبود کوي، بلکې میانه روي غوره کوي.

همدې ته ورته یو بل ایت کې هم رغلي دي:

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَحْسُوراً (٧)

ژباړه: او مه له صدقې څخه یو مخیز لاس اخله او مه یې پوره پرانیزه نو به ملامت شوی پښیمانه شې.

له دې ایاتونو څخه معلومه شوه چې په خیرات کې میانه روهي لازمي ده، نه دې بیخي بخیل جوړېږي چې هیڅ نه ترې بېلېږي او نه دې داسې کوي چې له ډېره اسرافه وروسته خپله هم پښیمانه وي او نور یې هم ملامت کړي. بلکې غوره او ښه حالت یې منځنی دی چې نه ځان زیانمن کړي او نه ټولنه بې خیره پرېږدي؛ نه باید سیخ وسوځول شي نه کباب!

د منځلاریتوب تګلاره د اسلام د نزول مهال هم عملي شوې ده. د الله کتاب په یوه پلا نه دی نازل شوی، نه داسې کیدل چې ورته اړتیا به وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو الهي قراني پيغام به نه راتلی. بلکې د قران کريم نزول په ۲۳ کاله کې وشو چې د ميانه روهۍ يو بهترين مثال دی. په يوه پلا د قران نزول پر خلکو د عمل او زدکړې له مخې بوجېدی او ټولنه يې له اعتدال څخه د تشدد لور ته وړه. له دې څخه حتمن د فرد په خپل شخصي ـ ژوند او له ټولنې سره په ټرلو مواردو کې تشدد رامنځته کېده او دا ويره هم موجوده وه چې ځينو اصحابو له رسول الله ص څخه مخ اړولی وای ځکه انسان په يوه وار د ډېر بوج پورته کولو توان نه لري او فطرت يې همداسې جوړ دی. که بيا د اړتيا مهال احکام ځنډېلي وای هم به يې ټولنه د سموالي او سمون پر ځای تشنج ته وړې وای. ځکه د قران کريم احکام له عملي ژوند او چارو سره تړلي و چې د خلکو ترمنځ د ستونزو د حل و فصل پرېکړې ور پورې تړلې وې، نو ځنډېدا يې هم حتمن له ستونزه خالي نه وه. يوازينۍ لار يې همدا د منځلاريتوب او اعتدال لار وه چې قران د همدې تګلارې له مخې په ۲۳ کاله کې نازل شو.

رسول الله ص په خپل دعوت او عملي لارښوونو کې هم د قران کريم تګلاره عملي کوله، په يوه وار يې خلك تر بوج لاندې نه راوستل. په يوه حديث کې دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى اليَمَنِ: «إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ طَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ طَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى

(c) ketabton.com: The Digital Library



فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ طَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ المَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ» (۸)

ژباړه: له ابن عباس رض څخه روایت دی چې رسول الله ص معاذ بن جبل رض یمن ته لیږه، ورته وې ویل: ته د اهل کتابو یو قوم ته ورځې، کله چې ورشي، بلنه ور کړه چې دوی شاهدي ور کړي له الله پرته بل معبود نه شته او محمد د الله رسول دی. که یې په دې کي ستا اطاعت وکړ، بیا خبر ور کړه چې الله تعالی پر دوی په یوه ورځ او شپه کې پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی. که یې دا هم در سره ومنل، بیا خبر ور کړه چې الله پر دوی زکات فرض کړی دی، له شتمنو به یې اخیستل کیږي او بې وزلانو ته به یې ور کول کیږي. که یې دا هم در سره ومنله، نو د هغوی له غوره مالونو ځان ساته، د مظلوم له ښرا وډار شه، بېشکه د ده او الله ترمنځ هیڅ پرده نه شته.

له دې حدیث څخه موږ ته د میانه روۍ بهترین مثال په لاس راځي. رسول الله ص له دې سره چې دا احکام نازل شوی وو، مسلمانانو په همدې وخت کې عملي کول، مگر یو نوي مسلمان ته یې په یوه وار ډېر احکام نه وړاندې کول. رسول الله ص په خپل عملي او قولي سنتو ثابته کړې وه چې دین اسانه دی. الله تعالی د قران کریم د نزول مهال خپل مخلوق ته روښانه کړه چې الله د اسانۍ اراده لري سختي نغواړي. اعتدال انسان په نارمل حالت کې ساتي او تشدد انساني طبیعي نارمل حالت له منځه وړي، ځکه نو نارمل انسان هغه لار غوره کوي چې اسانه او گټوره وي. نارمل انسان د خلکو په خبرو کې فکر کوي او ښه یې ترې اخلي او بدې یې ایله کوي، مگر د احساساتو مهال څوک نه شي کولای چې حواس پر ځای وساتي او د گټې و ناگټې خبرې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفکیک کړي، لـه دې املـه قـران کـریـم د دې لانـدې صـفت لرونکـي کسان د زیري وړ بللي دي:

فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ (۹)

ژباړه: زماهغو بندګانو ته زیری ور کړه چې وینا ته غوږ ږدي، نو د ښـې وینا پیروي کوي. همدوی الله هدایت کړي او همدوی د عقل خاوندان دي.

د بل وینا ته غوږ ښودل او ښـه یـې منل تـر نـورو یـې تېرېـدل خپلـه د اعتدال یو غـوره مثـال دی. قـران کـریم پـه دغـو مفـاهیم سره اسـلامي منځلاریتوب ته اشاره کوي. د قران کریم ډېر تمرکز پر استدلال او غوږ ښودلو دی. له دې امله چې قران کریم په معجز ډول رسول الله ص تـه ور کول شـوی لـه دې املـه یـې پـر اعتـدال، منځلاریتـوب او تعقـل و منطقیت ډېر ټینګار کړی دی. ان قران کریم ویـلي، د بـدی پـه ځـواب کې د نیکۍ اعلا مثال وړاندې کړئ چې سـخت دښـمن بـه دې ټینـګ دوست شي. (۱۰) وسطیت فطري حالت دی، په فطـري حالـت کـې د خدای معرفت او خلکو ته د ګټهو رسولو چانس تر هغو استثنایي حالاتو یو په څو چنده وي چې کله ناکله په بیړنیو وختونو کې رامنځته کېږي. د منځلاریتـوب تـر ټولـو لویـه ښـېګڼه دا ده چـې انسـاني کرامـت پکـې خوندي کېږي، د انساني وینې توینې مخنیوی کېږي او انسان پـه خپـل فطري حالت کې وي او هر څه ته تر یوه حده د واقعیت او حقیقـت لـه زاویې ګوري، خو کله چې منځلاریتوب څوک ایله کـړي یـا افـراط یـا تفریط ته مخه کړي، نو هرو مـرو یـې یـوه عقـده پـه مخـه کـوي چـې حقیقت ته په رسیدلو کې ډېر وخت د انسـان پـه وړانـدې د هغـه خپلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهني عقده خنډ شوې ده. له دين سره د دغسي چلند په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم منعه کړې ده:

عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ وَالتَّعَمُّقَ فِي الدِّينِ؛ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ جَعَلَهُ سَهْلاً، فَخُذُوا مِنْهُ مَا تُطِيقُونَ. فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ مَا دَامَ مِنْ عَمَلٍ صَالِحٍ وَإِنْ كَانَ يَسِيراً. (١١)

ژباړه: سويد بن غفله ويل چي له عمر بن الخطاب رض مي واورېدل ويل يې چې رسول الله ص وويل: په دين کې له افراطه ډډه وکړئ، ځکه الله دين اسانه کړی دی، نو له خپل وس سره سم عمل په وکړئ، بېشکه الله تعالی ته نيک دوامداره عمل خوښ دی که څه هم لږ وي.

په دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم پر يوه عمل د استقامت او دوام لپاره بهترينه نسخه وړاندې کړې ده. که څوک تر طبيعي حالت ور اضافه ډېر کار وکړي نو ترې خسته کېږي او اخير ځنې پاتېږي، بل لور ته که څوک عمل بيخي نه کوي، نو سوکه سوکه د نورو اعمالو ايله کولو ته هم اړ کېږي ځکه چې ده تساهل خوښ کړی دی.

دا نسخه د دنيوي کارونو په اړه هم صدق کوي. که دنياوي کارونه ډېر وشي هم خستګي رامنځته کوي او که بيخي صرف نظر شي نو انسان بيا تر حد زيات لټۍ ته اړ کېږي. ښه لار يې دوامداره کار دی چې له وس سره سم وي. دا اصل هم په دين کې د تطبيق وړ دی او هم په دنيوي چارو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

انساني تجربه موږ ته په ګوته کوي چې د ستونزو په وړاندي هغه وخت د بريا چانس زيات وي چې کله يې پر ټولو اړخونو په ساړه دماغ فکر وشي او دا کار يوازې په منځلاريتوب کې ممکن دی. ځکه د افراط پلويان د عواملو له مخې له منځني حالته وتلي او د تفريط دا همداسې در واخله. انساني اذهان حقيقت ته په رسېدو کې هسې هم له بلا ستونزو سره مخيږي، که د اعتدال لار ورکه کړي او د عيني ستونزو تر څنګ په رواني او ذهني مشکلاتو کې هم راګير شي نو حقيقت ته رسېدل يې که محال هم نه وي بيخي ډېر ستومنزمن خو هرو مرو دی. د دې لپاره چې په دين او دنيا دواړو کې بريا تر لاسه کړو بايد د وسطيت په فلسفه ځانونه پوه کړو. د دين او دنيا او د دنيا و اخرت دواړو لپاره دا يوه ګټوره تګلاره ده. خدای د همدې امر کړی، دين يې د همدې اصل په رڼا کې را ليږلی، رسول يې د همدې اصل د تطبيق لپاره ۲۳ کاله عملي مبارزه وکړه او په انساني تجربو کې موږ د دې تګلارې هغه ګټې وليدې چې په نورو لارو يې تر لاسه کول له سختو پيچومو تېرېدل غواړي.

۲۰۱۸/ ۹/ ۸

**سرچينې:**

۱)مجلة البحوث الاسلامية، مسلسل شمېره: ۷۶، مخ: ۱۷۴، له رجبه تر شواله، کال: ۱۴۲۶هق.

۲)البقره: ۱۴۳.

۳)ال عمران: ۱۱۰.

۴)تحليل عن مفهوم الوسطية في الفقه الاسلامي: ۱۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵)البقره: ۱۴۳.
٦)الفرقان: ٦٧.
۷)الاسراء: ۲۹.
۸)بخاري كتاب المغازي باب بعث ابي موسی و معاذ الی يمن قبل حجة الوداع حديث نمبر: ۴۳۴۷.
۹)الزمر: ۱۸.
۱۰)الفصلت: ۳۴.
۱۱)امالي د ابن بشران، المجلس الثاني والاربعون حديث نمبر: ٦٧.

## د نارينه او ښځو يوځايي زدکړې

يوځايي زدکړو ته د مختلط تعليمي سيستم اصطلاح ډېره کارېږي، زموږ د سيمې مذهبي او کليوال ذهنيت لرونکي کسان له دې ډېر بد وړي او په همدې پلمه د ميرمنو د زدکړو مخالفت هم کوي.
که يو څوك ووايي چې زما دا طبيعت کې نه ده خوښه، دا بېله خبره ده، که د يو چا د کور ميرمنې نه غواړي چې دغه ډول تعليم وکړي، جلا بحث دی او که يوڅوك دغه ډول سيستم د شريعت له لورې حرام بولي؛ نو دا دريځ يې ناسم دی او د خپل دريځ لپاره کره شرعي لاسوند نه شي موندلای، بلکې له قران او سنت څخه د دې دريځ مخالف سندونه تر لاسه کېدلای شي.
په قران کريم له سليمان عليه السلام سره د يوې ملکې د يوځای کېدو يادونه په دې ټکو راغلې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُمَرَّدٌ مِنْ قَوَارِيرَ قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} [النمل: 44].

ژباړه: هغې ته وويل شول چې ماڼۍ ته ننوزه، دې چې ماڼۍ وليده، گومان يې وکړ چې اوبه دي، نو پايڅې يې را پورته کړې، سليمان ورته وويل: دا په ښيښو منظمه جوړه شوې ماڼۍ ده، هغې ويل: زما ربه! ما پر خپل ځان ظلم کړی، د سليمان په ملتيا مې د جهانيانو پالونکي ته ځان سپارلی دی.

په قران کريم کې د دې ايت وجود، له يوه نبي سره د يوې ملکې يوځای کېدل، ترمنځ يې خبرې، ماڼۍ ته تگ ټول ثابت دي، د سبا قوم ملکه د سليمان عليه السلام په همکاري اسلام مني، په قران کريم يا احاديثو کې هيڅ ځای دا کار د نورو کسانو لپاره نه دی غندل شوی.

په قران کريم کې بل ځای وايي:

وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ (69) فَلَمَّا رَأَى أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمِ لُوطٍ (70) وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (هود: ٦٩، ٧٠، ٧١)

ژباړه: او يقينن زموږ استازي مو له زېري سره ابراهيم ته ولېږل، دوی ويل: سلام، نو په لنډ وخت کې ابراهيم سور کړی (کباب شوی) گيلگی راوړی، کله چې يې وليدل هغوی لاس هم نه ور وړي، نو دا کار يې نااشنا وگاڼه او له دوی څخه وډار شو، هغوی ويل: مه ډارېږه، موږ د لوط قوم ته لېږل شوي يو او د ابراهيم ميرمن هم ولاړه وه، وې خندل، نو موږ هغې ته د اسحاق او تر هغه وروسته د يعقوب زېری ور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ايت کې د ابراهيم عليه السلام د ميرمنې يادونـه شـوې ده چـې د هغه ميلمنو ته راغلې ده، دا که څه هم فرشتې وې، اما لومړی نه ابراهيم عليه السلام پېژندلې دي او نه يې ښځې، مګر بيا هم د هغه ښځه د ده په موجودګي کې ميلمنو ته راغلې ده.

دا په قران کريم کې د اختلاط يادونـه وه، تـر دې وړانـدې چـې نبـوي احاديثو کې د اختلاط په اړه لاسوندونه وړاندې کړم، لومړی غواړم هغـه روايت راوړم چې ځينو ته د اختلاط د تحريم مغالطه ځنې پيـدا شـوې ده:

«لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ ».(١)

ژباړه: يو سړی دې د محرم له وجود پرته له پردۍ ښځې سره نـه يـوازې کېږي.

خلکو ته له دغه حديث څخه د وهم پيدا شوی دی چې ښځې له نارينه وو سره يوځای تعليم نه شي کولای، ځکه په اسلام کـې اخـتلاط نـاروا دی، اما دغه حديث د اختلاط په اړه نه دی، دغه د خلـوت پـه اړه دی چې يوه ښځه له يوه پردي نارينه سره يوځای کېدلای نـه شي، کـه يـې محرم وجود ولري، بيا پروا نه کوي، نو دا حديث پر اختلاط رد نه دی، بلکې د اختلاط تاييد ځنې کېـږي، ځکـه وايـي لـه محـرم پرتـه دې لـه ښځې سره يو سړی نه يوازې کېږي، نو دا معنا چـې کـه محـرم موجـود وي، بيا د پردي سړي اختلاط له پردۍ ښځې سره شرعن هيڅ ستونزه نه لري.

په دې اړه نور احديث هم شته چې دلته يې څو نمونې راوړم:

عَنْ سَهْلٍ، قَالَ: لَمَّا عَرَّسَ أَبُو أُسَيْدٍ السَّاعِدِيُّ دَعَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ، فَمَا صَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا وَلاَ قَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ إِلاَّ امْرَأَتُهُ أُمُّ أُسَيْدٍ.(٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له سهله رض روايت دی، ده ويل: ابو اسيد الساعدي رض چې واده وکړ، نو رسول الله ص او د هغه اصحاب يې وليمې ته وغوښتو، د هغوی لپاره د خوراک تيارولو او ورته راوړلو چاره يوازې د هغه ميرمنې ترسره کوله.

نوموړی مفسر امام قرطبي رح(مړينه: ٦٧١) د هود د ٧١ ايت په تفسير کې د بخاري دغه حديث راوړی، وروسته دی کاږي:

قَالَ عُلَمَاؤُنَا: فِيهِ جَوَازُ خِدْمَةِ الْعَرُوسِ زَوْجَهَا وَأَصْحَابَهُ فِي عُرْسِهَا. وَفِيهِ أَنَّهُ لاَ بَأْسَ أَنْ يَعْرِضَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ عَلَى صَالِحِ إِخْوَانِهِ، وَيَسْتَخْدِمُهُنَّ لَهُمْ.(٣)

ژباړه: زموږ د مذهب علماء وايي: له دې حديث دا جواز تر لاسه کيږي چې ميرمن په خپل واده کې د مېړه او د هغه د ملګرو خدمت وکړي او دا هم ځنې تر لاسه کيږي چې که مېړه خپلو نيکو ملګرو ته د خپل کور ميرمنې راولي او هغوی د ميلمنو خدمت وکړي، پروا نه لري.

امام ابن حجر رح(مړينه:٨٥٢) تر دغه حديث وروسته د بخاري په مشهوره شرحه فتح الباري کې کاږي:

وَفِي الْحَدِيثِ جَوَازُ خِدْمَةِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا وَمَنْ يَدْعُوهُ وَلاَ يَخْفَى أَنَّ مَحَلَّ ذَلِكَ عِنْدَ أَمْنِ الْفِتْنَةِ وَمُرَاعَاةِ مَا يَجِبُ عَلَيْهَا مِنَ السِّتْرِ وَجَوَازُ اسْتِخْدَامِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ فِي مِثْلِ ذَلِكَ.(۴)

ژباړه: او په دې حديث کې د دې جواز شته چې ميرمن د مېړه او راغوښتل شويو ميلمنو خدمت وکړي او هېره دې نه وي چې دا هغه وخت که د فتنې وېره نه وه او ميرمنې لازمه پرده کړې وي او دا هم ترې ثابته شوه چې مېړه په دغه ډول ځای کې له ميرمنې د خدمت هيله کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بخاري یو بل شارح ابن بطال رح(مړینه: ۴۴۹) د دې حدیث په شرح کې کاږي:

وفيه: أن الحجاب ليس بفرض على نساء المؤمنين، وإنما هو خاص لأزواج النبى، كذلك ذكره الله فى كتابه بقوله: (وإذا سألتموهن متاعًا فاسألوهن من وراء حجاب.(۵)

ژباړه: له حدیثه ثابته شوه چې د مومنانو پر ښځو حجاب کول فرض نه دي، بلکې دا حکم یوازې نبوي میرمنو باندې خاص و، الله تعالی په خپل کتاب کې همداسې ویلي دي: او که تاسو له دوی د یوه شي پوښتنه کوله، نو د پردې له بلې خوا یې ځنې وکړئ.

یو بل حدیث کې دي:

فَجَعَلاَ يُرِيَانِهِ أَنَّهُمَا يَأْكُلاَنِ.(۶)

ژباړه: مېړه او ماینې میلمه ته ور ښکاروله چې دوی هم ورسره خوراک کوي.

د حدیث له الفاظو داسې څرګندېږي چې له یوې کاسې یې خوراک کاوه، دوی هم لاسونه کښته او پورته کول چې ګواکې خوراک کوي، اما دوی خوراک نه کاوه، یوازې یې میلمه ته دا په ذهن کې ور کول چې خوراک کوي.

دا هغه موراد دي چې د نارینه او ښځو ترمنځ په یوه ځای کې اختلاط راغلی وي، په حدیثو کې دا ډول احادیث خورا زیات دي، د رسول الله ص په زمانه کې ښځې لمانځه ته تلې، جنګو ته وتلې، مړي او زخمیان یې را ټولول، د اختر او جمعې خطبو ته وتلې، له اصحابو سره په سفرونو کې ملګرې وې، په یوه کور کې مهاجر او انصار یوځای سره اوسېدلي دي او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله ص له میرمنو احادیث روایت شوي دي، له هغوی څخه به اصحابو او نورو کسانو پوښتنې کولې، حتا د رسول الله ص په زمانه کې هم خلکو د هغه له میرمنو د هغه د عمل په اړه پوښتنه کړې ده چې رسول الله ص یې په دې کار خبر شو، هغوی درې کسان وو، رسول الله ص دا نه دي ورته ویلي چې زما په نه موجودګي کې تاسو ولې زما له میرمنو پوښتنې کوئ؟

د الاهرام په نوم یوه عربي ویبسایټ کې مې د دوکتور جمعه محمد په نوم د یوه دیني عالم له دې موضوع سره په تړاو دا خبرې خوښې شوې:
كون الرجال يتعلمون من المرأة وكون النساء يتعلمن من الرجل مما لا مانع منه شرعا؛ فالذي عليه عمل المسلمين سلفا و خلفا ان مجرد وجود النساء مع الرجال في مكان واحد ليس حراما في ذاته، وان الحرمة انما هي من الهيئة الاجتماعية اذا كانت مخالفة للشرع الشريف؛ كأن يظهر النساء ما لا يحل لهن اظهاره شرعا، او يكون الاجتماع على منكر او لمنكر، او يكون فيه خلوة محرمه.

و نص اهل العلم على ان الاختلاط المحرم في ذاته انما هو التلاصق والتلامس، لا مجرد اجتماع الرجال مع النساء في مكان واحد.

ژباړه: دا چې نارینه له میرمنې زدکړه کوي یا ښځې له نارینه زدکړه کوي، په دې کې هیڅ شرعي ممانعت نه شته، د مسلمانانو د اولنیو او وروستنیو عملي تواتر داسې راغلی دی چې په یوه ځای کې د نارینه او ښځو یوځای کېدل په خپل ذات کې نه دی حرام؛ هغه یوځای کېدل یې حرام دي چې له شرعې مخالف وي؛ لکه دا چې ښځې هغه ځایونه ښکاره کړي چې شرعن ناروا وي، یا اجتماع پر یوه منکر کار وي یا د منکر لپاره وي یا هم پکې حرام خلوت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل ذات کې د حرام اختلاط په اړه علماؤ پـه څرګنـدو ټکـو ویـلي چې هغه د نارینه او ښځو د بدنو لګېدلو او د پیستون اختلاط دی؛ نه دا چې نارینه او ښځې په یوه ځای کې سره را ټول شي.

له دې ور هاخوا د عباداتو په برخه کې رسول الله ص د بېلوالي حکم نه دی، لمنځونه یې په یوه جومات کې کول، د نارینه وو تر صف وروسته به د ښځو صف ولاړ و، په حج کـې د میلینـو انسـانانو اخـتلاط وي، دا حکم نه دی شوی چې یو وخت به نارینه طواف کـوي، بـل وخـت بـه ښځې.

که څوک ناسم کارونه کوي، هغوی یې لـه اخـتلاط پرتـه هـم کـوي. د ډېرو کسانو په شتون کـې څـوک ښـځو تـه د بـدو کتـو جـرأت نـه شي کولای او نه ښځې نارینه ته اشاره کولای شي. دا چـې زمـوږ پـه هیـواد کې د زدکړو سیستم له دې امله ځنډول کیږي چې ښځې او نارینه پکې یوځای وي، دا کار د دوی په اند شرعي مجوز نـه لـري، سـم درک نـه دی، په شریعت کې له خلوته منعه شوې ده، خو له اختلاطه منعه نـه ده راغلي. د علم او زدکړې لپاره که امکانات کـم وي، نـو مخـتلط نظـام د شریعت له مخې هیڅ ستونزه نه لري، نه یوازې دا چې هر وخت پروا نه لري، بلکې د اړتیا پر وخت خو بیخي لازمي دی چې باید مختلط تعلیم ته اجازه ور کړل شي، ځکه تعلیم تـر دې ډېـر اړیـن دی چـې دوی د مختلط تعلیمي سیستم مخه ونیسي.

۲۷/۳/۲۰۲۲

**سرچینې:**

(۱)(صحیح مسلم، کتاب الحج، باب سفر المراة مع محرم الی حج و غیره، ح: 827)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)(صحيح البخاري، كتاب النكاح، باب قيام المرأة على الرجال في العرس و خدمتهم بالنفس، ح: ۵۱۸۲)

(۳)(تفسير قرطبي، د هود سورت، ۷۱ ايت:9/ 68)

(۴)(فتح الباري لابن حجر: 9/ 251)

(۵)(شرح صحيح البخارى لابن بطال: 6/ 53)

(٦)(صحيح البخاري، كتاب مناقب الانصار، باب قوله الله: ويؤثرون على انفسهم... ح: ۳۷۹۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حاکمیت د بېلابېلو مفاهیمو توضیح

پر دې حقیقت اوس ټول ژبپوهان سره یوه خوله دي چې د وخت او ځای په تغییرېدا د الفاظو مفهوم هم تغییر خوري. د حاکمیت موضوع د یوه ایراني لیکوال سید حسن له وینا سره سم د منځنیو پېړیو له وخته خورا جنجالي پاته شوې ده او د اروپا عیسویانو هغه مهال د حاکمیت پر یوه مفهوم یعنې شرعي یا الهي حاکمیت تاکید کاوه چې له دې پرته بل مفهوم یې ورته د منلو نه و او هر مخالف کس به یې تکفیراوه.
همدې موضوع د اسلام په لومړۍ پېړۍ کې د مسلمانانو ټولنې ته هم سرایت وکړ او د صفین تر جنګ وروسته چې علي رض او معاویه رض دوه حکمه د فیصلې لپاره وټاکل؛ یوې ډلې هغه دواړه تکفیر کړل او د الهي حاکمیت تر شعار لاندې یې یو څه خلك سره را غونډ شول او تر ډېره وخته یې د خلافت یا د وخت د نظام په وړاندې له دې امله مقاومت کاوه چې ځانونه یې سم مسلمانان او نور یې کافران بلل.
د تاریخ په بېلا بېلو پړاونو کې حاکمیت ته هم د ګڼو مفاهیمو جامې ور اغوستل شوې دي. یوه ستونزه دا هم وه او اوس هم شته چې د حاکمیت له موضوع ډېری وختونه د سیاسي قدرت یا شخصي کټو لپاره کار اخیستل شوی دی او له بده مرغه چې دې هر څه ته بیا شرعي جنبه هم ور کول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيخي ډېر الفاظ دي چې يو مهال يې يوه مانا ورکوله او نن يې هغه پخوانی مفهوم عمومن نه اخيستل کيږي. د همدې تېرو څرګندونو ته په پام که حاکميت له خپله مفهومه اوښتی يا پراخ شوی وي هم د خلکو د تکفيرولو او د نظامونو د چپه کولو پلمې ترې جوړول له دين او شريعته ناخبري ده. حاکميت د واک لپاره کاريږي، ځکه له حاکم څخه دی او د پريکړه کوونکي يا منځګړي لپاره عربي کې حَکَم کاريږي د پريکړې لپاره حُکَم کاريږي، چې له حَکَم څخه حکميت (پريکړه) جوړيږي نه حاکميت.

د قران کريم له دې ايت څخه چې ان الحکم الا لله، دا معنا اخيستل چې حاکميت د الله دی، ناسمه مهفوم دی. حاکميت خپله قران کريم هم انسان ته ورکړی دی، د خليفه د لفظ په يادولو خپله دا خبره ثابتيږي چې انسان دلته د خدای نايب دی او نايب ځيني واکونه لري، قران کريم نور ځايونه هم يادونه کړې ده چې تاسو ته مو په ځمکه کې واک درکړی دی، نو د حکم له ايت څخه د حاکميت د نفې مهفوم اخيستل، که ناپوهي يا عارفانه تجاهل نه وي، دې ته انسان د چيشي نوم ورکړي؟

د حکميت په اړه زموږ د هيواد او هر مسلمان هيواد په اساسي قوانينو کې واضحه شوې ده چې دلته اسلام تر ټولو قوانينو اوچت دی، څوک يې مخالفت نه شي کولای، د اسلام واضح اصول اساسي قوانين نه ماتوي، بلکې په اساسي قانون کې د حاکميت بحث وي يا د هغو مسايلو چې دين اوشريعت انسان ته د رايې ورکولو اجازه ورکړې ده.

نو که د وخت له تېريدا سره دا ورسره ومنو چې حاکميت اوس د حکميت لپاره هم کاريږي، نو ما چې څومره مطالعه کړې ده او د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحثونو ته غوږ شوی یم، د حاکمیت مې دا لاندې مفاهیم پیدا کړي دي:

**۱/ الهي یا شرعي حاکمیت:**

که دا پاس اصطلاح استعمال شي هدف یې دا وي چې دلته به د الله یا شریعت امر منل کېږي او له دې پرته د بل انسان پرېکړې ته هیڅ مجال نه پاتېږي.

**۲/ سیاسي حاکمیت:**

یعنې سیاسي واک، دا یې هغه لومړی مفهوم دی چې د انسان ذهن ته د دې کلیمې له اورېدلو سره سم ورځي.

بل یې په دې ځای کې استعمال دا مفهوم ور کوي چې د سیاسي قدرت لرونکي چارواکي د خپل ولس په وړاندې مسوول دي چې د خپلو کړنو په اړه ولس ته ځواب ور کړي او پر واک باندې پاتېدا یې د هغوی په خوښه او ناخوښه پورې مربوط ده. یعنې اوس واک لري چې تر محاسبې وروسته هغوی ته د سیاسي حاکمیت نور چانس ور کوي که نه؟

**۳/ ملي حاکمیت:**

دلته د حاکمیت مفهوم دادی چې پر خپل وطن او ملت واک ولري او بل څوک یې دا واک له ګواښ سره مخ نه کړي. یا هم له خپل ولس او جغرافیې څخه د واک ساتنې په موخه دفاع ده.

**۴/ د قانون حاکمیت:**

د قانون حاکمیت دا مانا چې ټولې چارې د هغو قوانینو په رڼا کې مخته ځي چې ټول حقونه پکې معرفي شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حاکميت اوس ګڼ مفاهيم ايجاد شوي دي، نو هر ځای چې حاکميت کارېږي سياق و سباق ته په کتو ځانګړی مفهوم ور کوي چې له شرعي حاکميت سره يې بايد ټکر ونه ګڼو. زه په دې باور يم چې په بشري نړۍ کې ټول غير شرعي چارې نه د شرعيت په قانون کې بشپړ حل لري او نه شريعت د دې ټولو د حل لپاره راغلی دی. يو بل مهم ټکی دا هم دی چې شريعت په خپل ذات کې د خدای اوامر يا نواهي دي مګر کله چې د شريعت له متونو څخه انسانان خپل برداشتونه واخلي بيا نو په يوه انساني يا بشري ايډيالوژۍ بدلېږي چې د وخت، مکان، کلتور او سياست اغېز له ورايه پکې ښکاري.

د بشر تعبير هر وخت د خطا امکان هم لري او زما په اند دې ته به سل سلنه د خدای د حاکميت جامه هم نه ور اغوندو. تاريخي تجربې راته په ګوته کوي چې له مقدس متن څخه د بشر تعبيرونه د زمان، مکان، فرهنګ او سياسي قدرت په تبديلېدا ډېر بدلون موندلی دی. له دې ښکاري چې د هر تعبير نوم که موږ الهي حاکميت وټاکو نو ايا د ګڼو سوالونو له را پيدا کېدو سره به مو انسانانو ته په ژوند کې مشکلات نه وي ايجاد کړي؟

زه دا نه وايم چې په شريعت کې راغلی مشخص د امر يا نهې امر ته دې بدلون ور کړل شي، اما د شرعي حاکميت يا سياسي و نورو حاکميتونو زاويې سره بېلې دي. يو لفظ د ځای په بدلېدا هر وخت يو مفهوم نه ور کوي، دا نه يوازې د انسان په ژبه کې يې خورا زيات مثالونه موندلای شو؛ بلکې په قران کې هم د دې مثالونه شته لکه د فتنې توری چې قران کې ډېر ځايونه ذکر شوی او مخکې و وروسته جملې ته په کتو خاص مفهوم ور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ابوداؤد کې د یوه نبوي حدیث مفهوم دادی چې د الله حلال کړي حلال دي او حرام کړي یې حرام دي او له هر څه چې سکوت شوی هغه کې ستاسو واک او اختیار دی.

له دې په ډاګه کیږي چې شریعت یوازې پر هغو مسلو ږغیدلی چې له شریعت سره اړیکه لري او هغه چارې چې شریعت ترې سکوت کړی خدای پوهیده چې دا چارې انسانان په خپل عقل هم حل کولای شي او بل دا چې که له وخته یو مشخص چوکاټ ورته وټاکل شي نو ایینده به انسانانو ته د ګټې پرځای تاوان وکړي. له دې امله شریعت دنیوي چارې د انسان حل ته ایله کړې چې د خپل وخت، ځای او محیط له غوښتنو سره سمې یې حل و فصل کړي.

دا خبره بیخي واضحه ده چې په شریعت کې ټاکلي چوکاټونه باید مات نه شي، دلته د الله فیصله پره هره بله فیصله لوړه ده، هغه ایاتونه یا احادیث چې د الهي حاکمیت خبره کوي، موضوع یې واضحه او روښانه ده. قران او سنت د شرعي چارو په اړه د خدای پریکړه پر نورو فیصلو لوړه بللې ده او دا هم ترې واضح دي چې دنیوي چارې یې د انسانانو حل ته ایله کړې دي. که داسي نه وای نو ولې رسول الله ص ته امر کوي چې له اصحابو سره د چارو په اړه مشوره کوه؟ ایا شرعي امر هم مشورې ته اړتیا لري؟ یا هم وایي د مسلمانانو خپل منځي چارې د هغوی په مشوره مخته وړل کیږي، که دا چارې شرعي وای؛ نو ایا الله یې انسانانو ته دا واک ور کاوه چې هغوی یې په خپل منځي مشورو پر مخ بوزي؟ یا هم رسول الله ص د اصحابو په منځ کې و، د مرګ وخت یې راغلی، خو رسول الله ص هیڅ کس هم د هغوی لپاره امیر نه کړ ځکه دې کار یې ایینده امت ته ستونزې جوړولې او دا دنیوي چاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی خپلمنځي مشورې ته پرېښوده چې هغوی يې بايد خپله حل کړي.

زما په اند پر ولسواکي باندې د هغه چا نيوکه سمه نه ده چې وايي شريعت او ولسواکي له دې امله سره ټکر دي چې په يوه کې واک يا حاکميت د الله دی او په بل کې د ملت يا ولس دی! ځکه دلته دوه بېل او متفاوت شيان سره خلط شوي دي. هر يو خپل ځای لري او تر هرې اصطلاح لاندې خپل افراد را نغاړل کېږي. الهي حاکميت په ولسواکي کې هم پر خپل ځای پاته دی. زموږ مسلمان ملت چې ۹۹ سله يې مسلمانان دي هيڅکله دا نغواړي چې د اسلام له احکامو سرغړونه وکړي او د خدای ټاکلي چوکاټونه مات کړي؛ بلکې دلته په هغو چارو کې د ولس واک او اختيار دی چې شريعت ورته واک ور کړی دی. ولسواکي دا معنا چې له شريعته ور هاخوا چارې د هغوی په خوښه سمبالېږي او دا کار د اصحابو په زمانه کې هم کېده. د هغوی اميران يا هم خليفه د خپل ولس په وړاندي ځواب ور کاوه. د تاريخ يوه مشهوره پېښه ده چې د عمر رض په وړاندې يو کس ولاړ شو چې تا ولې له هغه ټوکره کالي جوړ کړي دي چې موږ ته دې هم راکړ په داسې حال کې چې هغه خو کم و او د يوه کس جامه نه ترې رغېده؟ عمر فاروق رض خپل زوی عبد الله رض ولاړ کړ او له هغه يې ځواب طلب کړ. هغه وويل: زما د پلا جامه له دوو ټوټو رغېدلې ده، يوه د هغه خپله برخه وه او يوه زما. تر دې وروسته نيوکه کوونکی کېناست او عمر رض خپله خطبه بيان کړه.

د کوفې، بصرې او نورو ښارونو خلکو هم له خپلو واليانو يا نورو چارواکو څخه شکايتونه کول چې دوی زموږ چارې په عادلانه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخته نه وړي. له دې څخه معلومېږي چې ولسواکي په یوه نه یو ډول له ډېره وخته په بشري ټولنو کې موجوده وه که څه هم د ولسواکي یا ډیموکراسۍ نوم به یې نه وو ور کړی.

ډیموکراسي خپله هم ټولنو ته په کتو تغییر کوي، مثلن: د امریکا ولس چې له خپل حکومت څخه څه ډول ولسواکي غواړي، حتمي نه ده چې زموږ ملت دې هم هغه ولسواکي دلته هم طلب کړي. موږ خپلو عنعناتو، ارزښتونو او رواجونو ته په کتو له دې کلتور او محیط سره سمه ولسواکي غواړو او هغوی یې له یادو شیانو سره موافقه ولسواکي غواړي. نو د الهي حاکمیت موضوع لومړی له لویه سره مطرح نه ده، ځکه دا دوه بېلې زاویې لري او بل ډیموکراسي خپله هم ټولنو ته په کتو یې هغه عملي جنبه تغییر کوي؛ نو زموږ د ولس ډیموکراسي د نورې نړۍ له جمهوریتونو سره د ځمکې او اسمان توپیر لري چې هیڅکله به هم د الهي حاکمیت حدود پکې مات نه کړل شي.

۱/۱۲/۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قربانۍ اساسي هدف

دا یو منل شوی حقیقت دی چې د زمانې په تېرېدا سره شرعي مسایل هم د وخت له غوښتنو سره سم خپل شکل، د اداینې طریقه او کیفیت له یوه حالت څخه بل ته بدلوي. یو شمېر شرعي مسایل داسې هم شته چې د وخت تېرېدا نه بلکې د کلتورونو او دودونو تبدیلي د مسایلو په کیفیت او کمیت کې بدلون راولي.

ستر اومشهور صحابي عمر فاروق رضي الله عنه د حالاتو له غوښتنې سره سم په یو شمېر شرعي مسلو کې بدلونونه راوستل. د تراویحو مسله ټولو خلکو ته معلومه ده چې عمر فاروق رضی الله عنه پکې بدلون راوستی. د طلاق په مسله کې یې لاس وهنه وکړه او ځینې نورې مسلې هم شته چې دلته یې یادونه اړینه نه بولم.

ځینې شرعي مسایل د اسلام په دویمه پېړۍ کې لا د سترو امامانو له لورې تر خپل پخواني مسیر پراخ شوي او د اداینې ډول یې تر پخوا پراخ او یا هم یو ډول بدل شوی دی. د امام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب کې د کوچني اختر سرسایه د خورما، کشمشو، کورت او اوربشو پر ځای کرنسۍ او بل هر د گټې شی ور کول کېدای شي. ځکه د امام صاحب دلیل دا دی چې سرسایه له بې وزلانو سره د مرستې په غرض را منځ ته شوې او د زمانې په اوږدو کې چې دا هدف په هر شي ښه تر سره کېږي نو باید مسکین ته هغه شی ور کول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام صاحب په دې تګلاره کې هم د شرعي مسایلو انساني ټولنې ته د ګټې اړخ روښانه شوی او هم خلکو ته د شرعي مسایلو په عملي کولو کې اساني پیدا شوې. که موږ د شرعي مسایلو په اړه د سترو امامانو دا پر ډېرو مهمو انساني ارزښتونو ولاړه تګلاره تعقیب کړو، نو یو لور ته به په ټولنه کې د مسایلو په اړه شته ابهامونه لرې شي او بل لور ته به خلکو ته اساني هم پیدا شي.

نن باید د قرباني په اړه هم فکر وکړو چې قرباني اصلن د څه لپاره وه او د اسلام په سر کې د قرباني په اړه د رسول الله ص او اصحابو عملي تګلاره څه وه؟ لومړی په دې اړه څو روایات را اخلم:

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، تَرْفَعُهُ، قَالَ: «إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَعِنْدَهُ أُضْحِيَّةٌ يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ، فَلاَ يَأْخُذَنَّ شَعْراً، وَلاَ يَقْلِمَنَّ ظُفُراً».(۱)

ژباړه: ام سلمې رض له رسول الله ص نقل کړی چې ویل یې: که ذی الحجه داخله شي له یو چا سره د قربانۍ حیوان وي او د قرباني اراده یې هم وي؛ نو وېښتان او نوکان دي نه پرېکوې.

په دې حدیث کې دوې خبرې دي، یوه دا چې که څوک قرباني ولري او اراده یې وي چې د اختر په ورځ یې قرباني کړي؛ دا د حدیث اوله برخه ده او زموږ هدف هم دا برخه ده او بله خبره د وېښتانو او نوکانو د نه پرېکولو ده.

له لومړۍ برخې ښکاري چې قرباني د انسان اختیاري عمل دی نه وجوبي. ځکه وایي؛ که څوک حیوان ولري او د قرباني اراده یې وکړي، له دې الفاظو ښکاري چې خبره د اختیار ده نه د لزوم. بل لور ته چې د لزوم په اړه کوم روایات راغلي یو یې هم د هغو اصولو پر تول برابر نه دی چې محدثینو د یوه روایت د کرتوب لپاره ټاکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په ګومان د روایت په دویمه برخه کې ابهام شته، دلته ضرور کومه تېروتنه شوې او په دې اړه باید اصل و قانون د عائشې رضی الله عنها هغه روایت وګڼو چې د رسول الله د عمومي ژوند په اړه نقل شوی دی او دا برخه هم پکې راتلای شي. په هغه روایت کې دي:

أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ يَبْعَثُ بِهَدْيِهِ وَلَا يَحْرُمُ عَلَيْهِ شَيْءٌ أَحَلَّهُ اللَّهُ لَهُ حَتَّى يَنْحَرَ هَدْيَهُ».(۲)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله قرباني(حرم) ته استوله او د قرباني تر حلالېدا یې هیڅ حلال شی پر ځان نه حراماوه.

له دې څخه ښکاري چې د نوکانو او وېښتانو نه پرېکولو په مسله کې کومه تېروتنه شوې. ښایي رسول الله ص یو خاص سړي ته د یوه ځانګړي لامل له وجې دا خبره کړې وي، دا هم شونې ده چې رسول الله ص د حیوان په اړه ویلي وي چې ښونګري او وېښته یې مه پرېکوئ او دا امر هم ممکن ځانګړی شالید ولري. د یو شمېر علماؤ په اند دا امر بیخي وجوبي نه دی؛ بلکې هسې استحبابي امر دی.

دویم روایت هم انساني عقل و فطرت مني، هم د اسلام له روح سره سرخوري او هم د رسول الله ص د عمومي ژوند عادت بیانوي. نو دې ټکو ته په کتو تر لومړي روایت زما په ګومان دویم روایت د منلو وړ دی. د روایت د همدې برخې په اړه د سترو امامانو ترمنځ هم ژور اختلاف شته. کتابونه وایي:

وَقَدْ اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي ذَلِكَ فَذَهَبَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ وَرَبِيعَةُ وَأَحْمَدُ وَإِسْحَاقُ وَدَاوُد وَبَعْضُ أَصْحَابِ الشَّافِعِيِّ إلَى أَنَّهُ يَحْرُمُ عَلَيْهِ أَخْذُ شَيْءٍ مِنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ حَتَّى يُضَحِّيَ فِي وَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ وَقَالَ الشَّافِعِيُّ وَأَصْحَابُهُ: هُوَ مَكْرُوهٌ كَرَاهَةَ تَنْزِيهٍ وَلَيْسَ بِحَرَامٍ. وَحَكَى الْإِمَامُ الْمَهْدِيُّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِي الْبَحْرِ عَنْ الْإِمَامِ يَحْيَى وَالْهَادَوِيَّةِ وَالشَّافِعِيِّ أَنَّ تَرْكَ الْحَلْقِ وَالتَّقْصِيرِ لِمَنْ أَرَادَ التَّضْحِيَةَ مُسْتَحَبٌّ وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لاَ يُكْرَهُ، وَقَالَ مَالِكٌ فِي رِوَايَةٍ: لاَ يُكْرَهُ، وَفِي رِوَايَةٍ: يُكْرَهُ، وَفِي رِوَايَةٍ: يَحْرُمُ فِي التَّطَوُّعِ دُونَ الْوَاجِبِ.(٣)

په دې اړه علماؤ اختلاف کړی، سعيد بن مسيب، ربيعه، احمد، اسحاق، داود او د شافعي ځيني ملګري په دې اند دي چې د قربانۍ تر وخته د وېښته او نوك پرېكول حرام دی. شافعي او ملګري يې وايي: دا حرام کار نه دی بلکې تنزيهي مکروه دی. په بحر کې امام مهدي له امام يحيی، هادويه او شافعي نقل کړی چې که څوك قرباني کوي نو د وېښته خرېيل او کمول دې د استحباب له مخې پرېږدي. امام ابوحنيفه ويلي چې هيڅ مکروه نه دی. امام مالك يوځل ويلي: مکروه نه دي، په بل روايت کې يې ويلي: مکروه دي، درېيم وار يې ويلي: په نفلي قرباني کې حرام دي او په لزومي کې نه دي حرام.

له دې اختلافه ښکاري چې تېرو علماؤ هم له روايته يو ډول برداشت نه دی کړی، بلکې دوئ هم د نورو رواياتو، انساني عقل او اسلامي روح ته په کتو اختلاف سره کړی.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ ضَحَّى مِنْكُمْ فَلاَ يُصْبِحَنَّ فِي بَيْتِهِ بَعْدَ ثَالِثَةٍ شَيْئًا»، فَلَمَّا كَانَ فِي الْعَامِ الْمُقْبِلِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا عَامَ أَوَّلَ، فَقَالَ: «لاَ، إِنَّ ذَاكَ عَامٌ كَانَ النَّاسُ فِيهِ بِجَهْدٍ، فَأَرَدْتُ أَنْ يَفْشُوَ فِيهِمْ».(٤)

سلمه بن اکوع رض له رسول الله ص روايت کړی چې ويل يې: که ستاسو چا قرباني وکړه نو تر درې ورځو وروسته دې په کور کې هيڅ هم نه ايله کوي.(يعنې خيرات دې کړي) په راتلونکي کال دوی ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: د الله رسوله! د تېر کال په شان عمل وکړو؟ ده وویل: نه! په هغه کال خلك وږي وو نو اراده مې وکړه چې غوښې دوی ټولو ته ورسېږي.

دا روایت هم یو ډول د قرباني سنتوالي ته اشاره کوي که واجب او لزومي وایي؛ نو باید وس لرونکو ته یې امر کړی وای، خو داسي نه دي شوي.

دې روایاتو ته په کتو ویلای شم چې د قرباني اساسي هدف هم په ټولنه کې له موجودو بې وزلو انسانانو سره کومك و. ځکه د رسول الله ص او اصحابو په زمانه کې کرنسی نه وه چې انسانانو دې پېر و پلور په کړی وای. له روایاتو ښکاري چې په هغه زمانه کې زیاتره سوداوې جنس په جنس کېدې. یعنې بایع(خرڅونکی) خو له لویه سره جنس پلوري، مگر مشتري (اخیستونکي) به هم د بل جنس په عوض له بایع سره سودا کوله. د ټولنې همدې اساسي مشکل ته په کتو رسول الله ص له مسکینانو سره د مرستې دا دوې لارې را منځته کړې چې په دواړو اختر‌انو کې به شتمنو او وس لرونکو کسانو له مسکینانو سره مرستې کولې. حتا د اسلام په سر کې رسول الله ص امر کړی وو چې د قرباني غوښې به تر درې ورځو زیاتې نه ذخیره کېږي. دا امر هم په دې وجه شوی وو چې خلك به د قربانۍ غوښې نه ذخیره کوي څو په ټولنه کې شته مسکینانو ته پوره حصه ور سېږي.

نو که نن موږ د مسلې اصلي هدف او د ټولنې اوسني حالت ته په کتو دا تگلاره غوره کړو چې د قرباني پر ځای خلك له بې وزلو کسانو سره نغدي مرسته وکړي په دې ډول به هم د شرعي مسلو اساسي هدف پوره شوی وي او هم به زموږ د ټولني له بې وزلو وگړو سره مرسته شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په ګومان د قرباني مسله د کوچني اختر د سرسايې په شان ده، که د سرسايې پر رواياتو د کرنسۍ جواز ور زياتولای شو نو د قرباني په اړه هم اوسنيو شرايطو ته په کتو دا زياتولای شو چې که څوک غواړي نو نغدې پيسې هم مسکين ته ور کولای شي.

ځکه له لويه سره قرباني فرض او واجب نه، بلکې سنت ده چې اصلي هدف يې نن د قرباني او غوښو پر ځای په نغدو ښه کېدای شي.

که د اختر د سرسايې او لوی اختر د قربانۍ د روپيو د پر ځای لګولو لپاره دولت يوه اداره جوړه کړي او په همدې روپو د مسکينانو پر اساسي اړتياوو کار وکړي، نو له دې راکړل شوي شرعي امکاناتو څخه به مو هم ښه ګټه پورته کړې وي او هم به د ټولنې اساسي ستونزې ورو-ورو حل سي.

۲۰۱٦م

**سرچينې:**


(۱)مسلم، کتاب الاضاحي، باب بيان ما كان من النهي عن اكل لحوم الاضاحي...، ح: ۱۹۷۷)

(۲)(مسلم، کتاب الحج، باب استحباب بعث الهدی الی الحرم...، ح: ۱۳۳۱)

(۳)(نيل الاوطار باب ما يجتنبه فی العشر من اراد التضحية)

(۴)(صحيح مسلم، کتاب الاضاحي، باب بيان ما كان من النهي... ح: ۱۹۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعا اهمیت او اغېز

دعا په اسلامي دین و شریعت کې ډېر اهمیت لري، دعا د عبادت یوه نوعه ده، انسان په دعا خپله عاجزي خپل رب ته څرګندوي. قران او سنت ته په کتو هیڅوك هم د دعا له اهمیت، ارزښت، عبادت د نیکۍ له یوه ډوله منکرېدلای نه شي.

دا پاس خبرې د دعا په اړه هر کس مني، مهمه خبره د دعا په اړه داده چې ایا دعا په عینیت کې هم څه بدلوي؟ موږ کولای شو چې یو شی له عمل او کار پرته په دعا وکړو؟ دعا برخلیك ټاکوونکې ده؟ که دا کارونه نه شي کولای، دعا ولې عبادت ده او د الله په کتاب و د رسول په سنتو کې د څه لپاره دومره اهمیت ور کول شوی دی؟

زه چې څومره له نصوصو پوه شوی یم، دعا یوازې ذهنـي ډاډ دی، په عینیت کې کوم بدلون نه راولي. ځکه له دعا سره هر نبي د عمل لپاره هم هڅې کړې دي، که په نوح سورت کې د هغه د دعوت په اړه فکر وکړو، نو هغه د شپې او د ورځې، پټ او ښکاره، مخامخ په مجلسو نو کې یوازې فردي دعوت، ټولې طریقې یې کارولې دي، که یوازې دعا کار کولای، نو د یوه نبي دعا حتمن قبلېږي هم، بیا یې ولې په دعا هغه کار نه کاوه چې په عمل یې کړی دی؟ د هغوی عمل د امت لپاره د لارې مشال وي، نو چې یو رسول له دعا سره عمل کوي، دا ثابتېږي چې یوازې دعا کار نه ور کوي، دعا د انسان ذهنیت د عمل لپاره ډاډه کوي، له انسان سره د خدایي بندګۍ فکر پیدا کوي، انسان ته دا ور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کيږي چې زه بنده يم، عاجزه يم، محتاج يم او هر وخت شونې ده چې زه دې د يوه بل ځواک تکيې ته اړ شم، دعا انسان ته دا هر څه ور په زړه کوي، نو انسان بيا په عمل کې هم دغه چوکاټونه ساتي، انسان د لويي هڅه نه کوي، په بل انسان د ظلم کوښښ نه کوي، پوهيږي چې تر ما په وس او ځواک کې بالا يو ځواک شته، هغه مې څاري، له دې سره د هغه په ذهن کې دا خبره هم وي چې له ماسره خدای د دې کار په اجرا کې مرسته کوي، نو هغه د يوه ساعت کار په نيم کوي، خپله زحمت کش کړي، تکليف وکاږي، خولې توی کړي، خو ذهنيت يې دا وي چې يو غيبي مرسته راسره وه چې دا کار دومره ژر يا ښه خلاص شو؛ اصلن هيڅ غيبي مرسته نه وه، د هغه کار ته ذهنيت جوړ شوی و، فکر يې کاوه چې غيبي کومک را سره کيږي، نو له دې وجې يې د کار پر اجراء خوند اخيستی دی. په قران پاک الله تعالی وايي:

{وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ} [البقرة: 186].

ژباړه: او که زما بندګان زما په اړه درڅخه پوښتنه وکړي(ورته ووايه چې) زه نژدې يم، کله چې مې څوک ور وبولي، د بلونکي بلنه منم؛ نو دوی دې له ما دعا وغواړي، پر ما دې باور وساتي، ښايي سمه لار ومومي.

د دعا په وخت کې به دې د نورو شرطونو تر څنګ دا هم په ذهن کې وي چې الله نژدې دی، ترمنځ د نورو مخلوقاتو ځايولو ته اړتيا نه شته، نو ما در وبولئ، نور پريږدئ، پر ما باور ولرئ چې زه مو د دعا په منلو او قبلولو کې يوازينی مرجع يم. د دعا لپاره دغه يت کې يو لړ شرايط بيان شوي دي، پر الله باور، د الله را ننګول، هغه نژدې ګڼل چې ترمنځ يې نورو څوک ځای نه شي، وروسته دعا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا عبادت ده، حدیث کې راغلي دي:
«إِنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ».(۱)
ژباړه: دعا عبادت دی.
یوه بل حدیث کې راځي:
عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: عَنْ دُعَاءٍ كَانَ يَدْعُو بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: كَانَ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ، وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ»(۲)
ژباړه: له فروه بن نوفل څخه روایت دی، ده ویل، له عائشې رض مې د رسول الله ص د دعا پوښتنه وکړه، چې هغه به کوله، دې وویل، هغه ص به ویل: اې الله! زما د کړي عمل له شره هم تاته پنا در وړم او د هغه عمل هم چې ما نه وي کړی.
په دغه حدیث کې رسول الله ص د کړنې له فتنو پنا غوښتې ده، دا که د ده خپل عمل وي یا د بل عمل، انسان ته کله خپله عمل او کار بلا شي، لکه پښتانه چې وايي: خپله ژبه هم کلا ده هم بلا او کله بیا د بل عمل د انسان لپاره سرخوږی شي. نو که زما عمل وي، د شر سبب یې مه کوې او که د بل عمل وي، هم یې راته د شر سبب مه کوې.
د یوه انسان بل انسان ته دعا د مینې او محبت سبب کېږي، انسان چې کوم چا ته په زړه کې خِیره نه لري، زړه یې له نفرته ورته ډک نه وي، نو دعا ورته کوي، په دې توګه دعا د مینې ښه وسیله ده. له نفرته د خلاصون ذریعه ده، رسول الله ص ولې یو مسلمان بل ته په دعا امر کړی، د یوه مسلمان دعا یې د بل په حق کې کې د قبولیت وړ ګڼلې ده، دا ځکه چې دعا د مینې د خپرولو، له نفرتونو د پاکې ټولنې وسیله کېږي، مسلمان باید له مسلمان سره خپه نه وي، یو له بل سره خپګان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریعت منعه کړی دی، یو بل ته دعا یې ستایلې ده، نو دعا دومره زیاته په قران او حدیث کې د همدې لپاره ذکر شوې ده چې د ذهني ډاډ ترڅنګ د یوه او بل د مینې و محبت وسیله شي.

دا چې دعا په عینیت کې بدلون نه راولي، د قران کریم له دې اصل څخه دا مفهوم اخلو:

{إِنَّ اللَّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ} [الرعد: 11].

ژباړه: یقینن الله د یوه قوم حالت نه بدلوي څو یې دوی په خپله بدل نه کړي.

یوه شاعر د شعر په ژبه دا مطلب داسې بیان کړی:

خدای هم نه بدلوي حال د هغه قوم
څوک چې خپل حالت پخپله بدل نه کا

د قران کریم دغه ایت ته په کتو موږ ویلای شو چې هر شی په عملي بڼه بدلېدل غواړي، ځکه دا د قران کریم اصل دی، له دې اصل سره ټکر مفهوم د قران کریم له بل ایت څخه اخیستل ناسم کار دی، بل ځای که عام ویل شوي وي چې دعا مو قبلیږي، نو هدف یې دا نه دی چې له عمل پرته یو کار ترسره کیږي، بلکې عمل پر خپل ځای باندې کار کوي او دعا خپل، دعا عبادت ده، ثواب یې اخرت کې در کوي، دعا ذهني ډاډ ده چې ستا په لاشعور کې دا خبره ځای ونیسي- چې له ماسره مرسته کیږي، نو کار په ښه ډول مخته ځي، دعا د مینې وسیله ده چې په ټولنه کې یو بل کس سره نژدې کوي، ته ما ته دعا کوه زه تاته، په دې سره زما زړه هم خوشاله او ستا هم، دا مفته د مینې وسیله ده چې نفرت ختموي او زړونه له مینې و محبته ډکوي، نو ځکه قران کریم دعا یاده کړې، حدیثو کې یې فضیلت راغلی، اما له عمل پرته د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلول، یا د یوه انسان د حالت بدلول، امکان نه لري، نه د الله له اصولو سره سر خوري، نه د نبیانو له عملي سنتو سره او نه زموږ له مشاهدې سره. نو ولې باید له قران کریم او احادیثو څخه داسې تفسیر وکړو چې هم له قران سره نه لګیږي، هم د نبیانو له عملي سنتو سره او هم زموږ له مشاهدې و تجربې سره؟!

که په دعا یو څه کېدلای، نه به انسان ناروغ شوی وای، نه به مړ شوی، نه به چا له لوړې سا ور کړې وه، نه به د یوه ملت حالت خراب شوی، نه به یو چا په تجارت کې تاوان کړی وای، نه به څوک په امتحان او درسونو کې ناکامه شوی وای، خو دا چې دغه ټول پېښېږي او پېښ شوي دي، نو معلومه شوه چې دعا د عیني شرایطو په بدلولو کې هیڅ رول نه لري، یعنې مستقیم تاثیر نه پر لري، دا سمه ده چې د انسان ذهن باندې مثبت تاثیر لري، هغه بیا پر عینیت اغېز کولای شي، خو مخامخ پر عیني شرایطو تاثیر نه لري؛ څوک چې د دعا د تاثیر په نیامت ناست وي، تغییر غواړي، تحول راولي، خپل حال او د ملت حال بدلوي، هغوی به همداسې په سراب پسې منډې وهي چې هیڅکله به اوبو ته ونه رسیږي، دوی به په خیال کې د یوه ملت حالت بدل کړی وي، چې دا خوب به یې رښتیا نه شي، دوی به یو هیواد ودان کړی وي چې خولې پر توی نه شي د یوه ملت ودانول، د دې دنیا د شرایطو، مشاهدې او تجربې له مخې د نه منلو وړ خبره ده. بناءن باید ځانونه خطا نه کړو، له دعا سره تر څنګ عملي کار ته هم اوږه ور کړو، د دعا په خپل اصل هدف او اغېز ځانونه خبر کړو، نص د خدای له اصل، د نبي له عملي سنتو او زموږ له تجربو او مشاهدې سره یوځای کښېږدو بیا مفهوم ځنې واخلو چې په دې سره د یوه نص اصل مفهوم ته د رسیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره شونتیا شته، نسبت هغه ته چې هـر نـص دې مجـرد وخپـړل شي او مفهوم دې ورڅخه وفهمول شي.

**۳۱/۳/۲۰۲۲**

**سرچينې:**

(۱)(ابن ماجه، کتاب الدعاء، باب دعاء رسول الله ص، ح: ۳۸۲۸)

(۲)(ابن ماجه، کتاب الدعاء، باب ما تعوذ منه رسول الله ص، ح: 3839)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تکفیر وبا

### لغوي او شرعي مفهوم:

تکفیر د کفّر یکفّر یعنې تفعیل د باب مصدر دی، د لغوي معنا په اړه یې عربي ویکیپیډیا لیکي: التکفیر هو نسبة احد اهل القبلة الی الکفر.
یعنې تکفیر کفر ته یوه مسلمان نسبت دی.
د شرعي معنا په اړه یې ورپسې کاږي:
واما في الشرع فان معرفة حقیقة التکفیر تتوقف علی معرفة معنی الکفر.
فالکفر في اللغة یعطي معنی الستر والتغطیة: و وصف اللیل بالکافر لانه یستر الاشخاص والاشیاء بظلامه، کما وصف المزارعین بالکفار لسترهم البذور في الارض. بینما الکفر بالعقیدة هو عدم الایمان بما یجب الایمان به. في حین ان کفر العمل هو جحد المعروف وعدم شکره.
ژباړه: د شریعت له مخې د تکفیر پېژندنې حقیقت د کفر د کلیمې له معرفت سره تړلی دی، کفر په لغت کې پټولو ته وایي، شپې ته له دې امله کافره ویل کېږي چې په خپله تیاره اشخاص او نور شیان پټوي، بزګرانو ته کفار ځکه ویل کېږي چې په ځمکه کې تخم پټوي؛ د عقیدې کفر پر هغه څه نه ایمان دی چې باید ایمان یې پر وای، په داسې حال کې چې عملي کفر له نیکو انکار او نه مننه یې ده.
دوکتور عبد القادر الشیخلي په اسباب التکفیر وآثاره و علاجه کې کاږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



التكفير بالباطل هو الصاق تمهة الكفر بمسلم بلا ضابط شرعي، وهذا التكفير داء يصيب الفكر الاسلاميّ ويؤدّي الى مزيد من التطرّف والقيام باعمال إرهابيّة تخلّ بالامن.

ژباړه: په ناحقه کفر ته نسبت پر یوه مسلمان له شرعي اصل پرته د کفر تهمت دی، دغه تکفیر یو مرض دی چې مسلمانان په فکري لحاظ په اخته دي، دا د زیات تشدد او داسې ترهگریزو اعمالو سبب کېږي چې امن اخلالوي.

تکفیر د مزیدو باب دی، چې اصلي ریښه یې له کفره راغلې ده، له دې امله یې شرعي معنا کې پر هغه څه د نه ایمان یادونه راغلې ده چې باید ایمان یې پر راوړی وای. د تفعیل باب متعدي دی، معنی یوازې فاعل یې کار نه کوي؛ بلکې مفعول هم غواړي، تکفیر کفر ته منسوبول دي، تعلیم بل ته ښودل دي او داسې نور هم.

## له شرعي اړخه د تکفیر قباحت:

شرعي متونو دې اړخ ته پاملرنه کړې ده، چې انسانا کله عقده ونیسي، نو د خپل مخالف په مقابل کې له هرې وسیلې کار اخلي؛ د اسلام په اوایلو کې له اصحابو دغه غلطي تکرار شوې ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دغو اصحابو سخت غوسه شوی دی، حتا اصحابو ته یې د هغو منافقانو د وژلو اجازه هم نه ور کوله چې د قران کریم ایاتونه یې په اړه راغلي وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دښمن ته د تبلیغ وسیله په لاس ور کوله او هم یې د هغوی ظاهر ته کتل چې ظاهرن یې د اسلام احکام عملي کول او انسان د بل انسان په اړه وړاندې یوازې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهر فيصله کولای شي. دغه د اسلام عمومي قاعـده ده او رسـول اللـه صلی الله عليه وسلم هم په عملي ډګر کې د دغې قاعدې پيروي کړې ده.
لاندې به د تکفيري وبا په اړه د رسول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم څـو احاديث د نمونې په ډول راوړم:
وَأَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ»، قَالَ: «إِلاَّ أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيـهِ بُرْهَانٌ».(۱)
ژباړه (موږ له رسول الله ص سره پر څو شيانو بيعت وکړ يو دا وو چـې) له چارواکو سره به د واک پر سر شخړه نه کوو، ده ويل: مګر که مو لـه دوی څرګند کفر وليدی چې تاسو پر هغه د الله له خوا دليل در لودی.
دلته څو مهم ټکي ياد شوي دي چې ښه پام ورته اړين دی: يـو دا دی چې کفر بايد واضح او صريـح وي، دويـم دا چـې د کفـر پـه اړه بايـد شرعي نصوص قطعي الثبوته او قطعي الدلالته وي، نـه پـه ظنـي الثبوتـه فيصله کيدای شي او نه په ظني الدلالته هيڅوک د پريکـړې حق لـري.
دريم ټکی په حديث کې دا هم دی چې د کفر په اړه پريکړه د عالمانو او باصلاحيته کسانو کار دی نه د هر کس، ځکه ويلي دي چې تاسو پر دې کفر د الله له خوا دليل ولرئ. په دليل پوهېدل د عالمانو کار دی او دا چې دغه دليل د دوی لپاره حجت وي، دغه يې صلاحيت تـه اشـاره ده، هر څـوک نـه شي کـولای چـې د نـورو د اعمالـو پـه اړه پريکـړې وکړي، يوازې هغه کسانو د خلکو د عمالو د څارنې دنـده لـري چـې د ټولنې نظم ساتل يې مسووليت وي او د دغه د اخلال مخنيوی د هغوی له مسووليتونو څخه وي، که هر څوک په دغو چـارو کـې مداخلـه پيـل کړي، هم بـه د مسـووليت او نـا مسـووليت کسـان سره ګـډ شي او هـم چارې ګډوډېږي، پښتانه متل کوي چې د ډېرو خر ليوان خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَيُّمَا امْرِئٍ قَالَ لِأَخِيهِ: يَا كَافِرُ، فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا، إِنْ كَانَ كَمَا قَالَ، وَإِلاَّ رَجَعَتْ عَلَيْهِ ".(۲)

ترجمه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويل: هر كس كه خپل ورور ته وويل: اې كافره! نو له دواړو پر يوه به دا كلمه صادقېږي، كه هغه شخص كافر وي(خو سهي ځاى يې پيدا كړ) كه نه بېرته پر ويونكي راګرځي.

له دينه بايد د خپلو اغراضو د تر لاسه كولو وسيله جوړه نه شي، هر وخت چې ديني ارزښتونه د شخصي موخو لپاره كار شوي دي، ډېرې بدې پايلې يې ور كړې دي، دين كې يو بل ته ښه توصيه ده، حديث كې ويل شوي:

قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ».(۳)

ترجمه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: دين نصيحت دى، موږ وويل: د چا لپاره؟ ده ويل: د الله لپاره، د هغه د كتاب او رسول لپاره، د مسلمانانو د مشرانو او عوامو لپاره.

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ مِلَّةِ الإِسْلاَمِ فَهُوَ كَمَا قَالَ، قَالَ: وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عُذِّبَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ، وَلَعْنُ المُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ، وَمَنْ رَمَى مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِهِ ".(۴)

ترجمه: نبي عليه السلام ويل: كه چا له اسلامي ملت پرته په بل قسم وكړ هغه د خپلې وينا په شان دى، ده ويل: كه چا په هره وسيله ځان قتل كړ په دوزخ كې به په هماغه وسيله عذاب ور كول كېږي، پر مومن لعنت ويل، د هغه د قتل په شان دي او كه چا يو مومن په كفر تورن كړ، نو ګواكې قتل يې كړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حدیث کې یو چا ته د کفر نسبت کول ډېره لویه ګنا بلل شوې ده، یوه مسلمان ته اصلن نه ښايي چې دغه نسبت خپل ورور ته وکړي، د کفر او اسلام د حساب مسوولیت د یوه عام وګړي کار نه دی، خدای له خپلو بندګانو سره د حساب ژمنه کړې ده او هغه پوه شو خپل یې بندګان.

## په دې اړه د علماؤ نظرونه:

پاس احادیثو ته په کتو علماؤ هم په دې اړه سخت دریځ خپل کړی دی، په دې اړه د امت پوهانو زیات کتابونه لیکلي دي او دغه مسله یې په ښه ډول روښانه کړې ده. له بده مرغه چې زموږ په ژبه تر اوسه د یادولو وړ شی نه دی پر لیکل شوی، یوازې د تکفیر لپاره د اسبابو د زیاتوب کتابونه ښه ډېر لیکل شوي او بس. لاندې به د علي کرم الله وجهه او یوه بل عالم نظر را واخلم:

ولما سئل علي بن أبي طالب رضي الله عنه عن أهل الجمل وصفين: أمشركون هم؟ قال: لا، من الشرك فروا. فقيل: أمنافقون؟ قال: لا، لأن المنافقين لا يذكرون الله إلا قليلاً. قيل: له فما حالهم؟ قال: إخواننا بغوا علينا".(۵)

ژباړه: له علي رضي الله عنه د جمل او صفین په جنګونو کې د جنګېدونکو کسانو په اړه پوښتنه وشوه چې ایا دوی مشرکان دي؟ ده وویل: نه، له شرکه تښتېدلي. پوښتنه وشوه: منافقان دي؟ ده ویل: نه، ځکه منافقان خدای ډېر کم یادوي. پوښتنه ترې وشوه چې څه دي؟ ده ویل: زموږ وروڼه دي خو بغاوت یې کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويقول ابن دقيق العيد: "وهذا وعيد عظيم لمن أكفر أحداً من المسلمين وليس كذلك، وهي ورطة عظيمة وقع فيها خلق كثير من المتكلمين، ومن المنسوبين إلى السنة وأهل الحديث لما اختلفوا في العقائد، فغلظوا على مخالفيهم، وحكموا بكفرهم ".(٦)

ژباړه: ابن دقيق عيد ويل: دغه حديث لويه ګوتڅنډنه ده هغه چا ته چې مسلمان تکفيروي او هغه دغه ډول نه وي، دغه يوه لويه فاجعه ده چې د متکلمانو او هغو کسانو چې اهل سنت او اهل حديثو ته منسوب دي لويه برخه؛ ځکه پکې ښکېله ده چې عقيدې کې اختلاف سره لري، نو دوی پر خپلو مخالفانو سختي کړې ده او د هغوی د کافر بللو پرېکړه يې کړې.

## د تکفير په اړه د اهل سنتو اصل:

د تکفير په اړه اهل سنت دا اصل لري:

لا نكفر الا من كفره الله ورسوله، فمن جاءت النصوص بكفره فهو كافر، ومن لم يكفره الله ورسوله فلا يكفّر... وعلى هذا فاهل السنة لا يكفّرون من يكفرهم من غيرهم لمجرد ان الاخر فد كفرهم، لان التكفير حكم شرعي ليس داخلا في باب العقوبة بالمثل، فالتكفير حق الله، لذا لم يكفّر الصحابة الخوارج مع ان الخوارج كفروا عليّاً رضي الله عنه ومن معه من الصحابة، فالمعوّل عليه في مسألة التكفير النص الصريح او الاجماع او الاقياس الجلي على منصوص عليه.(٧)

ژباړه: موږ يوازې هغه څوك كافر ګڼو چې الله او رسول يې كافر بللى وي. د يوه چا د كفر په اړه كه منصوصي كفر ثابت شي، هغه كافر دى او كه څوك الله يا رسول يې كافر نه وي بللى، هغه كافر نه بلل كيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې امله اهل سنت هغه څوك كافر نه بولي چې لـه دوی پرتـه نـورو هغه كافر كړی وي؛ ځكه تكفير شرعي حكم دی د بالمثل عـذاب پـه كټګوری كې نه داخلېږي؛ تكفير يـوازې د اللـه حـق دی، لـه دې املـه اصحابو خوارج كافران نه بلـل لـه دې سره چـې خوارجـو عـلي رض او ورسره ملګري اصحاب تكفير كړل، د تكفير په مسله كې معيـار صريـح نص، اجماع او پر منصوصي مسله جلي قياس دی.

دغه اصل ته په كتو كه څوك د اهل سنت پيروان وي بايد له دې مسلې سره زيات احتياط وكړي، ځكه دا داسې خبره نه ده چې كول يې انسان ته هيڅ زيان نه رسوي، بلكې دغه يـوه كليمـه، يـو ويـونكی لـه ايمانـه خلاصوي يا هغه كس چې ورته ويل شوې ده پر هغه صادقېږي؛ نو كـه له چا سره د خپل ايمان او اسلام غم وي، هغـه بايـد لـه دې مسـلې سره احتياط وكړي، اصلن الله له يوه انسانه دا پوښـتنه نـه كـوي چـې پلانـی كافر و؛ نو تا ولې ورته كافر ونـه ويـل، خـو دا پوښـتنه پـه ډېـر جـديت كېږي چې پلانی مسلمان و تا ولې كافر ګڼلی دی؟ كه څوك په دنيـا او اخرت ځان ته مشكلات نه ايجادوي هغه بايد د هيڅ مسلمان په اړه هم د تكفير الفاظ ونه كاروي. د ايمان او اسلام غوښتنه داد چې هغه څوك چې لمونځ كوي، زموږ ذبيحه خوري او قبلـې تـه پـه لمانځـه كـې مـخ كوي بايد د تكفير الفاظ ورته ونه كارول شي، له رسول الله پـه حـديث كې همدغه معيار نقل شوی دی او كه څـوك د رسـول اللـه صـلی اللـه عليه وسلم معيار نه مني، هغه دې خپلـه پـر خپـل ايـمان او اسـلام وډار شي.(۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسباب يې:**

دا چې زموږ په اسلامي ټولنه کې دغه وبا ولې ډېره شوې ده او لا پسې پراخېږي؛ نو ګڼ عوامل شته چې دغه کار ته يې زمينه برابره کړې ده، لاندې يې څو مهم اسباب په ګوته کوم:

**ناپوهي:** يو له مهمو او بنسټيز اسبابو څخه د شرعي علم نه وجود دی چې ځينې کسان د خپل جهالت له امله پر نورو د کفر ټاپې ولګوي. که د شريعت په اصولو او له تکفير سره تړلو ضوابطو څوک خبر وي، کله به هم پر يوه مسلمان د کفر تور ونه لګوي، اما له بده مرغه چې زموږ په وخت کې هغه کسان، هم نور، د کفر په تور تورنوي، چې حتا خپل لمونځ يې هم په معنا نه وي زده، د دغه حالت يو سبب له شرعي علمه لرې والی دی. علي رضي الله عنه چې عالم انسان و خوارج يې هم تکفير نه کړل، خو بلخوا خوراجو نه يوازې علي رض تکفير کړ؛ بلکې له ده سره يې نور اصحاب هم تکفير کړل، چې د هغوی پر جهالت او ناپوهي دلالت کوي.

**له نصوصو ناسم برداشت:** يو بل سبب له نصوص غلط برداشت دی چې په اوس او پخوا کې د خلکو د تکفير سبب شوی دی. له اسلامي متونو د ګڼشمېر مذاهبو را پيدا کيدلو لامل هم له نصوصو په برداشت کې اختلاف دی چې دغه اختلاف کله تر دې بريده ورسېږي چې د يوه مذهب خلک د بل مذهب، د يوه فکر خلک د بل فکر خلک کافران وګڼي، چې د خوارجو له زمانې دغه فتنه را پيل شوې او تر اوسه دوام لري. له نصوصو اخذ کول د هر چا د وس کار نه دی، که يوڅوک د ژبې له قواعدو سره بلد نه وي، ژبني ظرافتونه ونه پېژني، د شريعت عمومي قواعد يې نه وي پېژندلي، د شکل او ماهيت په مسله پوه نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له اجتهاد سره تړلي نور موارد ورته سم معلوم نه وي، هغوی به حتمن د ناسم برداشت ښکار کیږي، چې له بده مرغه اوس اسلامي امت دغه رنځ ناسور جوړ شوی دی.

**تعصب او تشدد:** مذهب پالنه او پر خپل دریځ تر وروستي حده درېدل هم ددې سبب کیږي، چې خلک د یوه بل په مقابل کې تکفیر ته مخه کړي؛ لکه د اهل سنت او اهل تشیع ترمنځ، یا هم اوس کې د مذهبي مسلمانانو او اهل حدیثو ترمنځ، چې دا لړۍ ښه توده روانه او پر یوه بل د کفر، شرک او بدعت ټاپې سره وهل کیږي.

**د خواهشاتو پیروي:** په دې ضمن کې یوه غوښنه ډله خلک د خپلو خواهشاتو او شخصي اهدافو لپاره هم پر هغو کسانو د کفر تور لګوي چې دوی یې د خپلو اهدافو په لار کې خنډ بولي. دغه وسیله نه یوازې نن ښه کارېږي، بلکې د اسلامي امت په تاریخ کې د ډېرو حکومتونو، چارواکو، اشخاصو او ډلو خلاف استعمال شوې ده. له بده مرغه چې موږ لا هم تر اوسه په دې برخه کې د خلکو خولو ته ګورو او شرعي تعبیرونه لا هم د خلکو د شخصي اغراضو ښکار کیږي.

**جمود:** زموږ پر سیمه د جمود سیوری له ډېره وخته غوړېدلی دی، د همدغه جمود نتیجه ده، چې خلک یې له حقایقو لرې ساتلي او پر مازې یوه خبره او واړه مخالفت خلک عقده اخلي او یو پر بل د کفر ټاپې وهي. ما په پاکستان او افغانستانو دواړو کې دغه ډول بېلګې بیخي زیاتې لیدلې، چې ووړ مخالفت نه شي زغملای او دومره جامده فکره دي چې که له هغه سره چا په یوه شخصي- مسله کې مخالفت کړی وای، هم نژدې وه چې ځای پر ځای یې د کفر په ټاپه نازولی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د وسطیت نه وجود:** زموږ یو بل مشکل د وسطیت نـه وجـود دی، نـه زموږ په مکاتبو کې وسطیت ته کار کیږي اونه په مدرسـو کـې، نـه مـې پوهنتون کې وسطیت په اړه څه ولیدل او نه شخصي علمي مرکزونه شته چې دې لور ته کار وکړي. هره مذهبي ډله یوازې خپل کتابونه وایـي او د خپلو مذهبي مشرانو خبرې اوري، چې په دې ډول د نورو مذهبونو په وړاندې د معلوماتو په خـلا کـې، یـوازې د کرکـې ذهنیـت لـري. دغـه وضعیت که موږ په خپل هیواد کې هم وڅېړو، نو ښه لویه برخـه کسـان به په دې لیست کې شامل شي.

**نتیجه:**

له پاس احادیثو او د علماؤ له وینا جوتیږي، چې کفر یوه شخصي کړنه ده، پـه دغـه اړه اشـخاص د هـیڅ ډول اقـدام واک نـه لـري، د اخـرت حساب یې لـه اللـه سره دی او پـه دنیـا کـې یـوازې حکومـت د خپلـو اسلامي قوانینو سره سم په دغه اړه د مناسب ګام پورته کولو حق لري. اشخاص حق نه لري چې بل ته د کفر نسبت وکړي، د خلکو پـر نیتونـو شک وکړي، د هغوی د پټو مجلسو تجسسي وکړي او ادعا وکړي چـې دغه کس په زړه کې کافر دی یوازې د مسلمان ښـودلو تظـاهر کـوي، اسلام د هر انسان ظاهري اعمالو ته ګوري او له دې پرته د هیچا زړه نـه ور څېري چې د زړه په احوالو یې ځان خبر کړي که څـه هـم د زړه لـه څېرولو هم دا کار نه معلومیږي. که هر څوک دغه کار کوي نو پر خپل ایمان دې وډار شي او د هر شخص په اړه چې هر څوک دغه الفاظ پـر خوله راوړي، نو څومره چې بل ته خطر متوجې کوي، همـدومره خطـر په دیني و شرعي لحاظ ځان ته هم متوجې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸/۱۰/۲۰۲۰

**سرچيني:**

(۱)صحيح مسلم كتاب الامارة باب وجوب طاعة الامراء في غير معصية...ح: ۱۷۰۹.

(۲)صحيح مسلم كتاب الايمان باب بيان حال ايمان من قال لاخيه المسلم: يا كافر ح: ٦٠.

(۳)صحيح مسلم كتاب الايمان باب بيان ان الدين النصيحة ح: ٥٥.

(۴)صحيح البخاري كتاب الايمان والنذور باب من حلف بملة سوى ملة الاسلام ح: ٦٦٥٢.

(۵)التكفير وضوابطه - السقار (ص: 15)

(٦)التكفير وضوابطه - السقار (ص: 13)

(۷)التكفير وضوابطه، المبحث الثاني، قواعد و ضوابط في التكفير، القاعدة الاولى.

(۸)صحيح البخاري كتاب الصلاة باب فضل استقبال القبلة ح: ۳۹۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موږ ته له دینه د واحد تفسیر اړتیا

د انساني ژبو یوه نیمګړتیا او په عیني حال کې بیا تنوع داده چې ټولې کلیماتې او جملې یې یوازې یوه معنا نه ور کوي؛ بلکې کله د حسي- شیانو الفاظ د معنوي هغو لپاره کارېږي، کله حقیقت متعذر وي لازمن به مجاز ته تلل حتمي وي او داسې نور موارد چې انساني ژبې یې ترې برخمنې دي.

دا برخمنتیا هم نقص دی او هم تنوع؛ نقص له دې امله دی چې له یوې کلیمې مختلف تعبیرونه پیدا کېږي. که قانون وي یا بل هر شی، لیکلی وي که شفاهي، د مختلفو تعبیرونو کېدل د انسانانو ترمنځ د اختلاف او شخړو سبب کېږي، چې دا پایله له هیچا پټه نه ده او هر د عقل و بصیرت خاوند پرې پوهېږي.

تنوع له دې امله ده چې انسان ته طبعن یو ډول الفاظ چې زیات تکرار شي، کلېشه ګرځي او خوند یې له منځه ځي؛ له دې امله یې په اوربدلو یو ډول خواتوری احساسوي او پر مزاج یې ښه نه لګېږي، طعبیت یې د نویو عبارتونو اوربدل خوښوي، د همدې لپاره هر وخت په ژبو کې بدلونونه راځي او له انساني فطرت سره سم یې خپله تنوع ساتلې ده.

الهي ادیانو که څه هم په خپل ذات کې کمی او نقص نه لري، اما دا چې د انسان په ژبه نازلېږي، هغه نقص حتمن ورته پېښېږي چې د انساني ژبې نور متونونه یا شفاهي جملات ورسره مخ وي. د الهي دین د تطبیق لپاره خدای یو بشر- په دې خاطر استازی ټاکلی وي چې د انساني توان تر حده هغه اصول عملي کړي چې خدای د انسان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب کړي وي. په دې کې دوه بارز حکمتونه دي چې یو خو انسان دا ادعا بیا نه شي کولای چې د دې اصولو تعمیل زما تر وس لوړ وو؛ ځکه رسول هم بشر وي او یو شی چې د هغه تر وس لوړ نه وي، هغه د نورو انسانانو تر وس هم نه لوړیږي.

دویم دا چې د نورو انسانانو په شان هغه هم له مختلفو حالاتوسره مخیږي، کله خوشالي وي کله غم، کله پراخي وي کله تنگدستي، د وخت تقاضا وې هم مختلفې وي، د دې لپاره چې رسول کومه تگلاره غوره کوي، موږ هم په خپل ژوند کې هغې تگلارې ته په کتو، د خپلو بشري تقاضاؤ لوری ټاکلای شو، چې زموږ په وخت کې د ټولنې لپاره حیاتي حیثیت لري.

د احادیثو په کتابونو کې راغلي دي چې له رسول الله ص کله یوه صحابي پوښتنه کړې ده، نو یو ډول ځواب یې ور کړی دی او بل وخت بیا بل پوښتنه کړې، دې ته یې بل ډول ځواب ور کړی. د حدیثو شارحینو هم په دې اړه بحث کړی دی چې ولي د یوې بوښتنې ځوابونه دوه یا تر دې هم زیات ډولونه لري.

د دوی یو عمده ځواب هم دغه دی چې د شخصیت په بدلېدا رسول الله ځواب هم بدل کړی دی، ځکه د یوه کس حالاتو یوه غوښتنه در لوده او د بل کس حالاتو نور څه غوښتل، رسول الله د هغوی وضعیت ته په کتو ځوابونه ور کړي او هر یو له حکمته خالي نه و.(۱)

دې اصل ته په کتو نن او پرون علماؤ همدا تگلاره اخیستې وه، د سورېې علماؤ د افغانستانو له علماؤ څخه په یوه مسله کې اختلاف کړی دی، ځکه د هغوی خلك، حالات، ځای او وخت یوه غوښتنه ځنې کوي او زموږ دا بله، له همدې امله موږ اړ یو چې ځمکنیو حقایقو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتو دین تفسیر کړو، چې نه دین ته خلك شا ور واړوي او نه یې د دین له امله دنیوي ژوند له خنډونو سره مخ شي، د پښتو متل دی چې نه سیخ وسوځي او نه کباب!

په قران کریم کې موږ مکي او مدني سورتونه لرو، که یې موضوعاتو او محتوا ته پام وشي، نو ژور بدلون به پکې حس شي؛ دا ولې؟ ځکه وخت، مکان او غوښتنې بدلې شوې، د اسماني اشرایعو روح داسې نه دی جوړ چې له حالاتو سره ټکر ته انسان اړ کړي، بلکې ورسره د جوړېدا او تعامل توصیه کوي. په اضطراري حالاتو کې د حرام ژوي غوښه خوړل، یا هم خپله مسلماني پټول کفر اظهارول له حالاتو سره د تعامل دوې نمونې دي.(بقره: 173، نحل: ۱۰۶)

فقهي پوهان به دې کې اختلاف نه لري چې د سعودي د علماؤ فتوا د افغانستان په اړه د عملي کېدا وړ نه ده، مګر په هغه صورت کې چې د مسلې په ټولو بعدونو پوه شي او بیا فتوا ور کړي. داسې خو هیڅ ممکنه نه ده چې زموږ د هرې مسلې په هر اړخ دې د بل هیواد علماؤ پوره پوه کړل شي او بیا دې د مسلې حل هغوی موږ ته وړاندې کړي.

له دې امله اړینه ده چې د هر هیواد په جغرافیه کې دننه دیني پوهان د مسلو داسې حل وړاندي کړي، چې نه ځمکني حقیقتونه ورسره ټکر ولري، نه د زماني غوښتنې له پامه پکې اچول شوې وي، نه هم مکان هېر شوی وي او سمدم له مقتضا الحال سره مناسب ځوابونه ورته موندل شوي وي.

د مشهور فقیه امام شافعي په اړه د تاریخ کتابونو کې راځي چې کله د عمر په اخیرو وختونو کې مصر ته ولاړ، نو د خپلو پخوانیو فتواو برخلاف یې نوې فتواوې ور کړې، ځکه نو د شافعي مذهب په فقه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه مصري اقوال د نويو اقوالو په نوم يادوي او معتبر هم دي. د هغه همدې تګلارې ته د عبد السلام الاندونيسي په نوم يوه عالم په الامام الشافعي في مذهبيه القديم والجديد كتاب كې كتنه كړې ده، دغه كتاب اوونيم سوه مخونه چې د مصر الازهر پوهنتون ته د دوكتورا لپاره ليكل شوى او ۱۹۸۸ كې خپور شوى دى. انلاين موندل كيږي.

د امام مالك څخه د عباسيانو يوه خليفه (چې غالبا هارون الرشيد به وو) وغوښتل چې د موطأ په نوم كتاب به په ټول خلافت كې قانون اعلان كړو، مګر امام هغه منعه كړ چې دا پر خلكو بوج راولي هر ځاى زموږ فتوا او اقوال نه چليږي، ځكه كلتورونه، وختونه او ځايونه توپير كوي او دا هر څه د مسلو په ادلون بدلون كې رول لري، له دې امله نو خلكو باندې ديني مسلو كې اجبار مه راوله.(2)

اوس زموږ لپاره ولې د يوه تعبير درلودل اړين دي؟ ځواب تر يوه حده واضح هم دى، خو زه بيا هم خپل استدلال وړاندې كوم: موږ د يوه ملت په توګه خپلې داسې تقاضاوې لرو، چې له نورو ملتونو سره توپير لري، داسې كلتور لرو چې په بعضو برخو كې به حتمن له نورو فرهنګونو سره فرق لري، وختونه تيريږي او نوې غوښتنې و مسلې پيدا كوي، اوس دې ټولو ټكو ته په كتو كه موږ د نورې دنيا د علماؤ فتواوې عملي كړو، نو په خورا زياتو ځايونو كې زموږ له غوښتنو، حالاتو، كلتور اوحياتي مسلو سره جوړې نه راځي، اوس به يا موږ خپل دنيوي ژوند په دې خاطر تريخوو چې د نورو علماؤ فتواوې علمي كړو يا به د ځان لپاره زموږ له حالاتو سره سمې فتواوې له شرعي متونو څخه راباسو، چې عقلن و نقلن معقوله او منطقي حللار ده. له دې امله موږ ته په كار ده چې د نورو افكار دلته را وارد نه كړو، بلكې د افكارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولید ته اړتیا ده چې موږ په فرهنګ رنګېدلي وي، له حالاتو سره د ټکر پر ځای جوړ راشي، غوښتنو و پوښتنو ته مو معقولې حللارې وړاندیز شوې وي چې هم نقلي جنبه ولري او هم د مشاهدې، بشري تجربې او عقلانیت پوښ پرې اوار شوی وي.

دا هغه څه دي چې ما له دیني متونو د تجربې، مشاهدې او عقل په مټ فهمولي دي.

۲۵/۵/۲۰۱۹

**سرچینې:**

(۱)فتح الباري، باب افضل الصلاة لوقتها، ح: ۵۲۷، ۹/۲)

(2)صفة صلاة النبي، د الباني ص: ۴۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شریعت او اخلاقو اړیکه

له ډېر لرغونی دور څخه په فلسفه کې پر اخلاقیاتو بحث کېده او لا هم کېږي. بلکې تر پخوا نن ډېر په جدي ډول دا موضوع تر بحث لاندې ده او لا نور بعدونه پیدا کوي. اوسمهال د اخلاقیاتو او شریعت ترمنځ پر رابطه هم خورا ډېر بحثونه کېږي. دلته به د خپل بشري وس سره سم پر دې موضوع لږ تم شم.

بحث ته تر داخلېدو وړاندې به لومړی د دین، شریعت او اخلاقو تعریف وړاندې کړو چې له موږ سره د بحث په پوهېدا کې ګټور تمامېږي. که څه هم د ټولنیزو پدیدو په اړه ټولمنلی تعریف نه شي وړاندې کېدای او هر زمان و مکان کې یې ګڼ او بېل تعریفونه وړاندې شوي دي. زما په اند دین او شریعت سره بېل دي. د قران کریم د دې وینا له مخې چې د ټولو نبیانو دین یا ملت یو ګڼي(۱) او بل لور ته بیا شریعت د هر چا دا بېل بولي(۲) دا معلومېږي چې دین او شریعت باید سره بېل شي. دې ته په کتو باید دین داسې تعریف کړو:

**د دین تعریف:**

د ټولو رسولانو ترمنځ مشترکاتو ته دین ویلای شو، چې احکام یې عمومي او اوږدمهالي وي، ټول فوکس یې د خدای پر احترام، پر هغه د باور او حساب و کتاب باندې وي. له همدې امله چې کله قران کریم د رسولانو د بلنې لنډیز راخیستی، نو اتقوا الله او اعبدوا الله باندې یې بسنه کړې.(۳)

**د شریعت تعریف:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرعي احکام د ديني احکامو برخلاف زياتره يې لنډ مهالي او خصوصي وي. له دې امله نو په شرايعو کې نسخه راتلای شي،(۴) احکامو کې اختلاف تر سترګو کېږي او له يوې ټولنې بلې ته او له يوې زمانې بلې ته توپير کوي. ځکه دا احکام له ټولنيز ژوند او اړيکو سره تړاو لري، چې وخت پر وخت د بدلون، تغيير او بيخي ورکېدا په حال کې وي، نو احکام يې هم هغه ټول څه مني چې په ټولنيز ژوند کې يې د موجودېدا شتونتيا هيڅکله نه شي ردېدای.

له پاس دوو تعريفونو معلومه شوه چې اخلاق د شريعت برخه کېدای شي، نه د دين؛ ځکه اخلاق يوه ټولنيزه پديده ده، چې له دې موضوعاتو يوازې شريعت بحث کوي.

**د اخلاقو تعريف:**

جيم ريچلز وايي: د عقل په لارښوونه عمل کول، يعنې د هر کار د تر سره کېدا لپاره بايد مناسب دلايل وجود ولري.(۵) يو بل تعريف يې داسې شوی دی: د ژوند په ټولو برخو کې د فضايلو او رذايلو مجموعې ته اخلاق وايي.

دلته يوه بله موضوع زما په اند ګونګه پاتې شوه. د اخلاقو او ټولنيزو ارزښتونو ترمنځ توپير يا اتحاد ته ګوته ونه نيول شوه. زموږ په ټولنه کې يو کس چې د بدو ځواب په ښه ور کوي، پر خلکو پوښتنه کوي، بدې خبرې نه کوي، د هر چا سره مخکېدای يې په ورين تندي وي، دې ته اخلاقي وايو. خو سخي ته اخلاقي نه وايو. ارزښتونه موږ ملي، فرهنګي، شرعي، تاريخي او... ته ويشلای شو؛ خو د اخلاقو دارنګه تقسيمبندي ما تر اوسه نه ده ليدلې. له دې جوتېږي چې اخلاق او ارزښتونه تر خپل منځ توپير هم سره لري او هر ارزښت نه اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت بللای شو او نه له دې زاویې ورته کتل به سم او پـر ځـای کـار وي. خو دا هم باید ومنو، چې د دواړو ترمنځ پوله درول هم اسانه کـار نه دی. همدا سختي د دې سبب شـوې چـې د دواړو تـرمنځ د بیلتـون کرښې تر یوه حده همداسې مبهمې پاته شي.

د دواړو د راپیدا کېدا انګېزه هـم لـږ تـر لـږه بیلتـون تـه اشـاره کـوي. د ارزښتونو په اړه عمومي فکر دا دی چې ټولنې یې راپنځوي. له دې امله ورته تولنیز قراردادونه هم وایي. مګر د اخلاقو په اړه په مجموع کـې دا فکر زما په اند سم نه دی. ځکه د یو کس د اخلاقو په لاسته راوړنه کې د هغه خپـل رول او د ټـولنې د ارزښـتونو، قیـدونو او کلتـور رول دواړه شته. خپل رول په دې معنا چې د ټولنې له جبر پرته کولای شي یـو ښـه اخلاقي صفت په ځان کې پیدا کړي، که څه هم هغه صفت هم دی لـه ټولنې کسب کوي، البته اختیار او په ځان کې پیدا کول یې خپـل کـمال وي. دا د یوه کس خپل رول دی.

د ټولنې او کلتور رول بیا دادی چې د اخلاقیـاتو ځینـي برخـې د ټـولنې جبر وي. لکه زموږ په ټولنه کې پردۍ میرمنې ته لاس ور کول، کـه څـه هم د یو کس به زړه غواړي چې لاس ور کړي، دلته زموږ ټولنه او دین دواړه رول لري، بل خوا بیا په غـربي ټولنـو کـې لاس ور کـول، روغبـړ ورسره کول، پروا نه لري، خو زموږ ټولنه یوه فرد تـه ور زده کـوي چـې دلته به دا کار نه کوې، که نه حیثیت به دې ور سره کم شي، د یو چا له عکس العمل سره به مخ شې، یا به هم په ټولنه کې د بد و بداخلاقـه پـه نوم معرفي شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې اخلاق له شریعت سره څه اړیکه لري؟ د اخلاقو سرچینه شریعتونه دي که ټولنې؟ او د شرعي اخلاقو او سیکولر اخلاقو ترمنځ څه تفاوت دی؟په اړه یې ګڼ نظرونه موجود دي.

یو نظر دا دی چې اخلاق له شریعته بېل دي. د اخلاقیاتو جلا نظام شته چې په یوه غیر مذهبي ټولنه کې هم وجود لري. دویم نظر دا دی چې مذهب یا شریعت عیني اخلاقیات دي. درېیم نظر داسې دی چې اخلاقیات له شریعت سره نه د تضاد اړیکه لري او نه د عینیت؛ بلکې درېیمه اړیکه ده چې نه ټول اخلاقي نظام شرعي بللای شو او نه برعکس. په شریعت کې د اخلاقو په اړه ګڼې لارښوونې شته، دومره لویه ټولنیزه پدیده شریعت له پامه اچولای هم نه شي. زه تر لومړیو دوو نظرونو له درېیم سره موافق یم، خو زه یو بل وېش هم پکې راولم.

د اخلاقو هغه برخه چې شریعت کې یې یادونه نه وي شوې، له لومړي نظر سره سم غیر مذهبي اخلاق دي. دا سمه خبره ده چې په غیر مذهبي ټولنو کې هم اخلاق وجود لري او هلته اخلاقي نظام لازمن شته. مګر موږ دلته یوازې د انساني ټولنې د هغې کتلې په اړه خبره نه کوو چې هلته یا مذهب نه شته یا تر مذهب وړاندې ټولنې وې؛ بلکې د اخلاقو او مذهب په اړیکه کې به هغه ټولنې هم په نظر کې نیسو چې مذهب پکې شته او مذهبي معاشرې یې ګڼلای شو. نو اول اند تر یوه حده سم دی.

دویمه برخه هغه اخلاق دي چې تر شریعت مخکې هم په یوه ټولنه کې موجود وي خو د شریعت تر نزول وروسته یې په شرعي متن کې هم یادونه راشي. ممکن دا برخه ځینې نظروال مذهبي ونه بولي، خو د دویم نظر خاوندان یې مذهبي جامه وراغوندي. په شرعي متن کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې برخې راوړلو څخه داسې ښکاري چې مذهب ور سره موافق دی، د ساتنې لپاره يې يوه انګېره هم انساني ټولنې ته ور کړې، نو توليدي مذهبي اخلاق يې نه شو بللای، مګر په هر حال مذهبي صبغه لري.
البته دومره هم نه لکه د دويم نظر خاوندان چې يې ادعا کوي او اخلاق عيني مذهب يا مذهب عيني اخلاق ورته ايسي؛ اما داسې انګېرل هم زما په اند سهي نه دي چې په مذهب کې بيخي اخلاقي نظام وجود نه لري يا هم سره ضد دي. مذهب د انساني ټولنې لپاره دی، اخلاق هم د ټولنې د ګټې لپاره جوړ انساني چوکاټ دی، له دې امله مذهب اخلاقيات هېرولای نه شي او ځای پر ځای يې يادونه شوې ده.
درېيمه برخه هغه اخلاق دي چې يوازې په مذهبي ټولنو کې وجود ولري او د هغو سرچينه هم يوازې مذهب وي. مثلن: په عربي ټولنه کې د جنګي بنديانو په اړه د غلامۍ، وژنې، بندي کونې، په فديه کې د ايله کولنې او ډېر نادر له قيد او شرط پرته ايله کولو دود موجود و، خو اسلام د جنګي اسير په اړه د فديې او احسان امر وکړ چې د غلامۍ، وژنې او په زندان کې د ساتنې رواج يې ختم کړ. دلته اسلام د جنګي اخلاقو په فهرست کې يو نوی باب خلاص کړ.(٦) زما په اند دا حکم د جنګي اخلاقو په ليست کې شاملولای شو که څه هم ښايي ځينو ته دا يو حقوقي امر او موضوع و ايسي؛ مګر زه پکې عربو ته د نويو جنګي اخلاقو څرکونه هم وينم.
که د لنډيز په ډول ووايم هغې ټولنې ته چې د لومړي وار لپاره شريعت ورکول کېږي، تر نزول وروسته به يې اخلاقي سيستم درو برخو ته تقسيمېږي. يوه برخه پخواني اخلاقيات يې شريعت منې چې ځينې کسان يې بيا مذهبي اخلاق بولي. يوه برخه يې ردوي چې د يوې غير

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي ټولنې د اخلاقي نظام برخه وه او له شریعت سره جوړ نه راځي نو ردېږي او د اخلاقو په چوکاټ کې ځیني نوې اضافې هم کېږي چې د شریعت تر نزول وروسته د هغې ټولنې په اخلاقي چوکاټ کې ځای نیسي او دې ته تولیدي مذهبي اخلاق ویلای شو.

د مذهبي ټولنې د اخلاقیاتو او د غیرمذهبي ټولنې د اخلاقي نظام ترمنځ جوت توپیرونه شته. لومړی توپیر یې په انگېزه کې دی. یو مذهبي کس د ثواب هیله لري، خو نامذهبي کس یې نه لري. مذهبي کس د اخلاقو سرچینه یا شریعت بولي یا یې د مذهبي تایید له امله مذهبي صبغه ور کوي چې غیر مذهبي کس یا ټولنه کې مذهبي اخلاق یا د مذهب له لورې تایید شوي اخلاق وجود نه لري. پر خدای، قیامت، ثواب او جنت و دوزخ باور د اخلاقو په تعمیل، ساتنه او تبلیغ کې موثر رول لري چې یوه غیر مذهبي ټولنه له دې موثر ځواک څخه بې برخې وي. یعنې مذهبي ټولنه یا کس د اخلاقي اصولو پابندي د خپل وجدان له مخې هم کوي او د خدای په خاطر یې هم کوي، خو غیر مذهبي ټولنه یو هڅونکی ځواک لري چې هغه انساني ټولنه یا د وجدان قضاوت دی. په مذهبي ټولنه کې د اخلاقو سرچینه هم ټولنه وي او هم شریعت، خو په غیر مذهبي ټولنه کې یوازې ټولنه مرجع وي.

کله چې په یوه ټولنه کې مذهب ځای ونیسي نو د وخت په تېرېدا بیا له شرعي متن څخه یوه برخه نوي مذهبي اخلاق را پیدا کېږي که څه هم د زمان او مکان په تغییر به تغییر خوري؛ خو سرچینه یې مذهبي متون وي. د شرایعو د اختلاف له امله به د اخلاقو دا برخه هم په خپل ذات کې متنوعه وي، خو یو ټکی یې مشترک دی چې سرچینه له مذهبي متن څخه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند د بشپړ اخلاقي نظام سرچینه مذهب هیڅکله هم نه دی. اخلاق پنځونه په مجموع کې د یوه فرد کار هم نه دی. که یو فرد ټول عمر یوازې ژوند وکړي، نو ممکن چې د اخلاقو په نوم هیڅ بیخي ونه پېژني. اخلاق یوه ټولنیزه پدیده ده. اخلاقي نظام هغه مهال معنا ور کوي چې ټولنه وجود ولري. د یو کس اخلاق هغه مهال معلومېږي چې له بل سره په تعامل کې واقع شي. نو مذهب یوازې یوه سرچینه نه شي کېدای چې اخلاقي نظام وپنځوي. بلکي د اخلاقیاتو لویه برخه خپله په ټولنه کې د اړتیا له مخې را پیدا کېږي او مذهب یې په مختلفو وختونو کې د تایید یا رد په ټاپه نازوي او د اخلاقو په نظام کې بیخي وړه برخه یې شته چې یا د شریعت راوړونکي مخامخ په هغه امر کړی وي یا د زمانې په اوږدو کې انسانان یو تعبیر ترې واخلي او هغه وروسته د مذهبي ټولنې په اخلاقي نظام کې مهم ځای ونیسي. په یوه حدیث کې راغلي چې زه د غوره اخلاقو د بشپړولو لپاره راغلی یم(۷)، له دې ثابتېږي چې په ټولنه کې اخلاقي نظام وجود در لود، مذهب یې یوه برخه چې ټولنې ته ګټه نه لري، ردوي، یوه برخه یې تاییدوي.

اخلاق د هرې انساني ټولنې اړتیا ده چې باید وپنځول شي. له دې امله د یوې ټولنې د اخلاقي نظام ځیني برخې ښایي د بلې ټولنې له اخلاقي نظام سره توپیر ولري. ځکه هره ټولنه خپلو اړتیاو ته په کتو د اخلاقو چوکاټ جوړوي چې ښایي هغه چوکاټ په بله ټولنه یا زمانه کې کار ور نه کړي. مذهب هم د هرې ټولنې په لوښي کې چې نازلېږي د هغه لوښي په رنګ تل رنګېدلی وي. ځکه لومړي مخاطبین یې د هغې ټولنې وګړي وي چې باید د هغوی زمان، مکان، کلتور او اړتیاوې په پام کې ونیسي. له دې امله نو د مذهبي اخلاقو برخه کمه ده. ځکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ټولنه کې په هغه بڼه نه شي چلېدای چې د لومړي ځل لپاره یوې ټولنې ته ور کول شوي. همدا سبب دی چې بلې ټولنې ته په تلو خپل پخوانی رنګ ورو- ورو بایلي او د بلې معاشرې په رنګ رنګیږي او موږ یې په خپله ټولنه کې ژوندي مثالونه ډیر لرو.

په مذهب کې ډېری برخه د عباداتو، د ایمان، میتافزیک مسایلو، معاملاتو او... ګڼو نورو شیانو ده، یوازې یوه برخه یې اخلاقیات دي، مذهب که د ټولنې د خیر لپاره نازلیږي، نو په هره ټولنه کې د اخلاقیاتو دوه ډوله شته چې یا به ښه وي یا بد، که ښه وي، باید مذهب یې تایید کړي او که بد وي هغه به ردوي، مثلن: په عربي ټولنه کې فحاشي زیاته وه، دا کار یې د ټولنې په ضرر و، د ښځې حیثیت ته یې صدمه رسولې وه، عربي ټولنې له ښځې ته په داسې نظر کتل چې نارینه یې د جنسي- تندې د خړوب لپاره کاروي، عاطفي او غوره اخلاقي اړیکه د دې دوو جنسونو ترمنځ کم رنګه شوې وه. رسول الله ص فحاشي حرامه کړه، ښځو ته یې په ټولنه کې داسې حیثیت ور کړ چې دویمه درجه مخلوق نه وي، بلکې خپل استقلالیت یې په هر شي کې ور کړ، د تجارت حق، د ملګري د انتخاب حق، د خپل ژوند د هر ډول کولو حق، د تعلیم حق، د میراث حق، تر ټولو بده دا وه چې د مال په شان به میراث پاته شوه او یوې کورنۍ به په میراث وړه، الله تعالی دا کار حرام کړ، د ښځې په اړه رسول الله ص وصیت وکړ چې:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ».(٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له عبد الله بن عمرو رض روایت دی، ده ویل چې رسول الله ص وویل: ستاسو غوره هغه کسان دي چې له خپلو ښځو سره ښه چلند کوي.

په عربي ټولنه کې یوه بد اخلاقي دا وه چې کمزورو کسانو ته په بد نظر کتل کېدل، په دې کسانو کې زیاتره یې هغه خلک وو چې په ټولنه کې یې پېشې در لودې، لکه زرگر، پښ، نجار، حجام او داسې، نور د المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام لیکوال وایي:

وکانوا یعیرون من یتزوج من ابنة صائغ أو حداد أو نجار، ویعیرون نسله، ولا سیما إذا کان من بیت رفیع.(۹)

ژباړه: دوی هغه چا ته پېغور ور کاوه چې د زرگر، پښ یا نجار لور به یې نکاح کړه، د هغه نسل ته یې هم پېغور ور کاوه، په خاص ډول که به هغه سړی د اشرافي کورنۍ و.

له دې ښکارې چې عربي ټولنه هغه وخت عربي ټولنه له بد اخلاقي زوال سره مخ وه، د رسول الله ص په راتلو دا معیارونه بدل شول، قران کریم ورته لار ښوونه وکړه:

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ }.(۱۰)

ژباړه: اې انسانانو! موږ تاسو له یوه نارینه او ښځې پیدا کړي یئ بیا مو خیلونه او قبیلې د دې لپاره کړئ چې سره وپېژنئ، الله ته ستاسو باعزته په تاسو کې متقي کسان دي، یقینن الله علیم او باخبره دی.

قران د هغوی اخلاقي بدۍ ته گوته ونیوه، قبیلې، خیلونه او نسب د ښه سړیتوب معیار نه دی، تقوا د انسانیت معیار شوه، همدې ته په کتو رسول الله ص ویلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَلاَ لاَ فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ، وَلاَ لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ، وَلاَ أَحْمَرَ، عَلَى أَسْوَدَ، وَلاَ أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ، إِلاَّ بِالتَّقْوَى.(11)

ژباړه: خبردار! عرب پر عجم غوراوی نه لري او عجم يې پر عرب نه لري، سور يې پر تور نه لري او تور يې پر سور نه لري، فضيلت په تقوا سره دی.

عرب په همدې اخلاقي وبا اخته وو چې خپل ځانونه تر نورو قومونو غوره ورته برېښېدل، عربانو ته دا کسبونه هم سپک ښکارېدل، له دې امله به يوازې مرپيانو، عجميانو او يهودو دا کارونه کول، د المفصل ليکوال د خپل پاسني بحث په اوږدو کې وايي چې په دې برخه کې به حتمي مبالغه هم شوې وي، دې زياتوي: ولكننا لا نستطيع نكران ازدراء العرب للحرف والصناعات.

خو موږ نه شو کولای چې کسب او کمال ته د عربو له سپک نظره منکر شو.

اسلام د هغوی دا اخلاقي مرض په دې توګه بدل کړ: رسول الله ص وويل: لوړ لاس پر کښته غوره دی(۱۲) او خپل کار و عمل يې وغوره باله(۱۳) همدا شان يې وويل چې زکريا ع نجار و(۱۴)، نو کسب او پيشه هيڅ بد کار نه دی، بلکې پر تېولنه ځان تحميلول بد کار دی(۱۵).

۲۲ /۶ /۲۰۱۸

**سرچينې:**

(۱)سورة الانبياء: ۹۲، سورة المؤمنون: ۵۲)

(۲)سورة المائده: ۴۸، او په سورة التوبه کې د قران کريم داسي هدايت هم شته: هُوَالَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ (التوبه: ۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله هغه دی چې خپل رسول يې له عملي تګلارې او حق دين سره لېږلی. دلته د (هدی او دين) بيل- بيل ذکر کول دا په ګوته کوي چې دواړه جلا شيان دي. د معجم لغة العربيه المعاصر ليکوال د (هدی) په درو ترجمو کې طريقه او شريعت هم راوړي دي. له دې هم ثابتيږي چې شريعت او دين سره بېل دي.

(۳)سورة الاعراف: ۵۹، ٦۵، ۷۳، ۸۵)

(۴)سورة البقره: ۱۰٦)

(۵)مصطفی ملکيان، رابطه دين و اخلاق.

(٦)محمد: ۴.

(۷)السنن الکبری، کتاب الشهادات، باب بيان مکارم الاخلاق و معاليها التي من کان متخلقا بها، ح: ۲۰۸۱۹)

(۸).سنن ابن ماجه، کتاب النکاح، باب حسن معاشرة النساء، ح: ۱۹۷۸.

(۹)المفصل فی تاريخ العرب قبل الإسلام (8/ 155)

(۱۰)[الحجرات: 13].

(۱۱) مسند احمد، مسند رجل من اصحاب النبي ص، ح: ۲۳489.

(۱۲)بخاري، کتاب الزکات، باب لا صدقة الا غن ظهر غنی، ح: ۱۴۲۷.

(۱۳)بخاری، کتاب الزکات، باب علی کل مسلم صدقه...ح: ۱۴۴۵.

(۱۴)مسلم، کتاب الفضائل، باب فضائيل زکريا ع، ح: ۲۳۷۹.

(۱۵)نحل: ۷٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کربوړي وژل، ثواب که خطا؟

لومړی د موضوع په اړه دوه روایات را اخلم:
عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، أَنَّ أُمَّ شَرِيكٍ، أَخْبَرَتْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهَا بِقَتْلِ الأَوْزَاغِ».(۱)
ژباړه: ام شريک رض سعيد ته خبر ورکړ چې رسول الله ص د کربوړي په وژلو امر کاوه.
عَنْ أُمِّ شَرِيكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، " أَمَرَ بِقَتْلِ الوَزَغِ، وَقَالَ: كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ ".(۲)
ژباړه: له ام شريکه رض روايت دی چې رسول الله ص د کربوړي په وژلو امر کاوه او ویل يې چې ده د ابراهيم عليه السلام اورته ورپوکل.
د کربوړي د وژلو په اړه نور روايات له ابوهريره رض، سعد بن ابي وقاص رض، ابن مسعود رض او يو همدا لوړ روايت دی چې له ام شريک رض څخه شوی دی. په دې رواياتو کې ځینې نکتې سره مشترکې او ځينې يې بېلې دي. مثلن: په لوړ روايت کې د ابراهيم عليه السلام ذکر کول د ځينو محدثينو په اند د بخاري د استاد عبيد الله بن موسى په روايت کې راغلي دي چې د ابن جريج مدرج يې بللی دی. ځکه ابن جريج څخه نورو شاگردانو روايت کړی دی او دا جمله هغوی نه ده راوړې، نو ښکاره خبره ده چې دا شاگرد د حديثو اخيستلو په فهم کې تېروتنه کړېده.
روى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ القطان وَ محمد بن بَكْرٍ البرساني وَرَوْح بن عبادة قَالَوا: حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ شَيْبَةَ، أَنَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابْنَ الْمُسَيِّبِ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أُمَّ شَرِيكٍ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّهَا اسْتَأْمَرَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَتْلِ الْوِزْغَانِ فَأَمَرَهَا بِقَتْلِ الْوِزْغَانِ.(۳)

ژباړه: یحی، محمد، او روح درې واړو روایت کړی دی چې ابن جریج ویل موږ ته عبد الحمید حدیث بیان کړ چې ده ته ابن مسیب خبر ور کړ، ام شریک رض هغه ته خبر ور کړ چې دې ویل: له رسول الله ص مې د کربوړي د وژلو په اړه اجازه وغوښته؛ نو هغه دکربوړي وژلو اجازه راکړه.

دې حدیث کې هغه لوړه خبره نه شته په داسې حال کې چې درې کسانو روایت کړی دی، نو معلومه شوه چې هغه حدیث کې تېروتنه شوې ده. بله نکته داده چې ام شریک له رسول الله ص د قتل اجازه غوښتې ده، له دې معلومېږي چې ام شریک رض له کربوړیو په تکلیف شوې وه، نو هغې اجازه وغوښته چې باید قتل یې کړم، رسول الله ص اجازه ور کړه؛ ځکه هغه ترې په عذابه وه. د مسلم او مسند له دې حدیث څخه موږ په اثبات رسولای شو چې که له کربوړي یا هم بل شي څخه انسان ته تکلیف رسېده، نو وژل یې روا دي.

خو که فرض کړو چې هغه لومړی حدیث هم سهي دی، وروستی جمله یې د ابن جریج مدرج نه ده، نو بیا له دې لاندې مشکلاتو سره مخېږو:

له قران کریم سره یې ټکر واقع کېږي؛ ځکه قران کریم اصل بیانوي چې د یوه کس په ګنا بل کس نه نیول کېږي، دلته ولې یو حیوان د بل په ګنا نیول شوی دی؟

وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى (الانعام: ۱٦٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: هر کس چې يو کار کوي گنا يې پر هغه ده، او هيڅ گنهکار د بل په گنا نه نيول کيږي.

د قران کريم دې اصل ته په کتو، که موږ دا فرض کړو، چې کربوړي دا کار کړی دی، نو د نړۍ ټولو کربوړيو او ټول نسل ته يې ولې سزا ورکوله کيږي؟ که له انسان سره دا معامله نه کيږي، چې عقل هم لري، شعور هم لري، کتاب او نبي هم ورته راغلي دي او اصل مخاطب هم دی، نو له حيوان سره ولې دا د ظلم معامله وشي؟

قران کريم وايي چې پر ابراهيم عليه السلام باندې الله اور يخ او سالم کړ: قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْداً وَسَلاَمًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ (الانبياء: ٦٩)

ژباړه: موږ وويل: اې اوره! پر ابراهيم باندې يخ او سالم شه.

که اور ابراهيم عليه السلام ته هيڅ زيان نه وي رسولی، يا بيخي گرم شوی نه وي، نو بيا د کربوړي پوکل د څه لپاره و؟ د کربوړي دا عمل بيا د قران کريم له بل ايت سره واضح په ټکر کې راځي:

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مِنْ دَابَّةٍ وَالْمَلاَئِكَةُ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ () يَخَافُونَ رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ.

(النحل: ۴۹، ۵۰)

ژباړه: الله ته هغه څه سجده کوي چې اسمانو کې دي او هغه چې ځمکه کې دي له حيواناتو او ملايکو، دوی د الله له عبادته لويي نه کوي، پر خپلو ځانو د دوی له ربه ډاريږي او هغه څه کوي چې امر يې ورته کيږي.

له دې ايت څخه معلومه شوه چې ملايکې او حيوانات د الله پر ښودل شويو طريقو روان دي او کله يې هم مخالفت نه کوي. پوښتنه داده چې د قران له دومره صراحت سره څنگه ومنو چې کربوړي د الله يوه ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر ته د دښمنۍ په سترګه کتل او د مشرکانو ملاتړ یې کاوه؟ تر دې ور هاخوا بله پوښتنه داده چې حیوانات د انسان د کفر او اسلام تمیز نه شي کولای، که نه په حیواناتو کې تر ټولو ښایسته او انسان ته نژدې یې اس دی، هغه په تېره زمانه کې ډېر قیمتي و او انسان ته یې ډېر ارزښت درلود، مګر موږ ته ثابته ده چې د رسول الله ص او اصحابو په مقابل کې د مکې مشرکانو له اسانو کار اخیسته او هیڅ اس جنګ ته له تلو انکار نه دی کړی. له قران کریم او عقل څخه مخالفت د موضوعي حدیث یوه علامه ده؛ مناسبه ده چې دلته له اصول الحدیث څخه یوه قاعده رانقل کړم:

د- أو قرینة في المروي: مثل کون الحدیث رکیك اللفظ، أو مخالفا للحس، أو مخالفا لصریح القرآن.(۴)

ژباړه: (د موضوعي حدیث) څلورمه نښه د حدیث په متن کې وي، مثلا: الفاظ یې رکیک وي، د حس (یا عقل) مخالف وي او د قران کریم د ښکاره نص مخالفت یې کړی وي.

دلته موږ وینو چې دا روایت په همدغو الفاظو نه یوازې د قران کریم مخالف دی، بلکې د عقل او حس مخالف هم دی. موږ تر اوسه هیڅ حیوان نه دی لیدلی چې مکلف وي؛ یا هم د مکلفو انسانانو غوندې اعمال یې کړي وي؛ بیا دې هغه ته سزا ور کول شوې وي؛ نه یوازې هغه؛ بلکې ټول نسل یې د یوې ګنا له امله عاق شوی وي.

بل لور ته د دې حدیثونو مخالف کره روایات هم شته چې رسول الله ص یې د قتل امر نه دی کړی، حدیث کې دي:

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لِلْوَزَغِ الْفُوَيْسِقُ» زَادَ حَرْمَلَةُ: قَالَتْ: وَلَمْ أَسْمَعْهُ أَمَرَ بِقَتْلِهِ.(۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له عائشې رض روايت دی چې رسول الله ص کربوړي ته فويسق نوم ور کړ، حرمله په خپله روايت کې زياته کړې چې عائشې رض ويل: ما نه دي ترې اورېدلي چې د کربوړي وژلو امر يې کاوه.

که يو لور ته هغه حديثونه دي، نو بل لور ته دا حديثونه هم شته چې رسول الله ص د هغه د قتل امر نه دی کړی. موږ ولې يوازې د قتل حديثونه بيان کړي دي او دغه روايت مو پټ کړی دی؟ ولې مو يوازې هغه د وژلو روايات منلي دي او دغه روايت مو په عمل او باور کې هيڅ ځای نه لري؟ په داسې حال کې چې د وژلو روايات له قران کريم سره ټکر دي، عقل يې نه مني، خپله له صحيحو رواياتو سره ټکر دي او تر خپل منځ هم موافقت نه سره لري. يو مثال يې د مسلم دا لاندې راوايات دي:

عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَفِي الثَّانِيَةِ دُونَ ذَلِكَ، وَفِي الثَّالِثَةِ دُونَ ذَلِكَ».

عَنْ سُهَيْلٍ، حَدَّثَتْنِي أُخْتِي، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ سَبْعِينَ حَسَنَةً».

وفي رواية : عن سهيل، قال: حدثتني أختي أو أخي ، عن أبي هريرة، عن النبي -صلى الله عليه وسلم- أنه قال: "في الضربة الأولى سبعين حسنة".

ژباړه: له ابوهريره رض روايت دی چې رسول الله ص وويل: که چا په اول وار کربوړی قتل کړ، نو سل نيکۍ ور کول کېږي، په دويم وار کمې دي او په درېيم وار تر دې هم کمې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلم له ابوهريره رض په بل روايت کې راغلي دي چې رسول الله ص وويل: په لومړي ويشتلو کې اويا نيکۍ دي.

او په درېيم روايت کې چې نورو کتابونو راوړی دی راغلي دي چې رسول الله ص وويل: د لومړي ويشتلو اويا نيکۍ دي. خو دلته بيا په سند کې خورا زيات مشکلات دي، معلوم نه دی چې سهيل حديث له خوره بيانوي که له وروره، د مسلم په لومړي حديث کې يې له پلاره حديث بياناوه، نو د دې حديث په سند او متن دواړو کې مشکلات شته. که سل ومنو د اويا روايت به څه کوو، که اويا ومنو د سلو دا به څه کوو؟

قال النووي في شرحه: وقع في أكثر النسخ: (أختي)، وفي بعضها: (أخي) بالتذكير، وفي بعضها: (أبي). ... قالوا: ورواية: (أبي) خطأ).(٦)

ژباړه: نووي په خپله شرحه کې ويلي دې چې په زياتره نسخو کې اختي (له خوره روايت) راغلی دی، په ځينو کې اخي (ورور) نارينه راغلی دی، په نورو کې بيا ابي (پلار يې) ذکر کړی دی... دوی ويلي دي چې له پلاره روايت يې خطا ده.

د ابوهريره رض روايت د سند او متن دواړو له لورې خورا زيات مشکلات لري، د سهيل راوي په اړه اما ذهبي وايي:

قال في ترجمته: وَمِنْ غَرَائِبِ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيْهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، حَدِيثُ: "مَنْ قَتَلَ وَزَغاً فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ" .(٧)

ژباړه: د سهيل له پلاره او هغه له ابوهريره رض په غرائبو کې دا روايت دی چې که چا په اوله پلا کربوړی قتل کړ.

تر دې وضاحت وروسته که د حديثو له تعارضه ځان ساتل غواړو او هم يې د قران کريم له ټکر او عقل له تصادمه ساتل مناسب بولو، نو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ښه طریقه یې زما په نظر داده چې رسول الله ص ام شریک رض ته له دې امله د وژلو اجازه ور کړې وه چې هغه تـرې پـه تکلیف وه، هغه ورغلې ده او په دې اړه یې پوښتنه هـم تـرې کـړې ده، نـو دا ټولـه مسله د هغې د پوښتنې څخه را پیدا شوې ده. دا یوه خاصه پېښه ده چې د خاصې پوښتنې په ځواب کې راغلې ده؛ نه عمومي قانون چې که هـر ځای مو کربوړی ولیده هغه به مړ کېږي.

په حدیثو کې د دې ډول مشکلاتو نور مثالونه هم شته، مثلن: پر مړي د ژړا په اړه راغلي روایت کې یو ځای ویل شوي دي چې کـه اهـل یـې وژاړي نو مړي تـه لـه دې املـه عـذاب ور کـول کېږي. دا حـدیث پـه بخاري کې ابن عمر او خپله عمر رض څخه هم نقل شوی دی. اما ابـن عباس یې له عایشې رض څخه نقل کوي چې دا حدیث د یوه یهـودي په اړه راغلی دی چې جنازه یې تېرېده، رسول الله ص هغه ته په اشارې وویل چې دوی پر ژاړي او هغه ته عذاب ور کـول کېږي. لـه عائشـې پوښتنه وشوه چې که عمومي شي، نو څه تـاوان کـوي؟ دې ویـل چـې تاوان یې له قران کریم سره ټکر دی، ځکه یو څوک د بل په ګنا نه نیول کېږي دا د قران کریم اصل دی، عایشې رض دا هم ویل چـې دا د دې حدیث د بیان پر مهـال لـه رسـول اللـه ص سره موجـوده وه او دا نـورو اصحابو ته پـه نقـل کـې تېروتنـه شـوې ده. د کربـوړي لـه روایـت سره همداسې معامله شوې ده، پوښتنه ام شریک له دې املـه کـړې ده چـې ترې په عذابه وه، ځکه که رسول اللـه ص عمـومي د هغـو د وژلـو امـر کړی وای، نو بیا پوښتنې ته اړتیا نـه وه، بلکـې هغـې بـه هـم وژلای. دا نورو اصحابو ته په نقل کې تېروتنه شوې ده، لـه دې املـه نـو د روایـت متن او سند هم سم خوندي شوي نه دي. ځیني وایـې هغـه ضرري دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې امله نو فویسق هم بلل شوی دی او د وژلو امر یې هم شوی دی همدا شان د ثواب وعده هم ورکول شوې ده.

اما په فویسق کې یوازي کربوړی نه دی شامل، نور حیوانات هم دي لکه موږک. نو پر هغو د ثواب وعده یې ولې نه ده ورکړې؟ مار، لړم او غونډک تر کربوړي شل کرته زیات خطرناک دي؛ د هغو په اړه د یوې نیکۍ هم نه دي ویل شوي، اما د کربوړي په اړه د سلو، یا اویا نیکیو وعده شوې ده؟!

د علوم حدیث یوه قاعده دا هم ده چې پر واړه کار د زیات ثواب ژمنې هم د یوه حدیثو د موضوعیت نښه کېدای شي. وذلك كالأحاديث التي ترتب الثواب الكثير جدا على العمل القليل.(٨)

ژباړه: او دا لکه پر لږ عمل د ډېر زیات ثواب احادیث.

دلته د یوه کربوړي پر وژلو د سلو نیکیو ثواب هم پر یوه عمل د ډېر ثواب له جملې څخه دی چې د موضوعیت نښې له ورایه پکې ښکاري. د کربوړي په اړه راغلو روایاتو کې که صحیح حدیث وي، هغه یوازې هغه دی چې ام شریک رض تر تکلیف وروسته له رسول الله د قتل اجازه وغوښته، دا حدیث نورو کسانو ته په ناسم ډول رسېدلی دی یا هم وروسته راویانو کې داسې فاحشې تېروتنې ځینو کسانو کړې دي چې د روایت لوری یې یو مخ بلې خوا ته بدل کړی دی. هغه روایت چې د وژلو علت یې اور ته پوکل بیانوي، یا هغه چې د زیاتو نیکیو وعدې ورکوي کره نه دي، حتمن په راویانو کې یا قصدي غلطۍ شوې دي او یا هم تېروتنې دي، له دې امله نو که اړتیا نه وه د کربوړي وژل د ثواب په نیت نه ښه کار دی او نه دې د یوه ژوندي مخلوق پر وژلو له خدایه ثواب غواړي. د اړتیا له مخې د یوه غوایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلالول هم مباح کار دی، اما د ثواب کار نه دی، یو مار که څوک خوري هم وژل یې لازمي دي، اما له خدای دې د ثواب تمه نه لري.

ما په خپل ژوند کې د مار، لړم، غونډک، لنډۍ او غالبوزو ډېر خوړلي او چیچلي لیدلي دي، خو د کربوړي د خوړلو مې تر اوسه نه دي اورېدلي. نو څنګه د مار وژل د ثواب کار نه دی، خو د کربوړي پر وژلو یوه نیکۍ هم نه ده سل نیکۍ ور کول کېږي؟

د دې موضوع د احادیثو تر کتلو وروسته زه لومړی دې پایلې ته رسېږم چې د کربوړي پر وژلو هیڅ امر نه دی شوی، د رحمة للعالمین له شان سره دا مناسبه نه ده چې د یوه حیوان د درست نسل وژلو امر دې وکړي، لکه عایشې رض چې ویل، کربوړی یې بویسق بللی دی اما د وژلو امر یې ما نه دی اورېدلی. که تر دې وروسته بیا هم وژل فرض کړو، نو هغه یوازې په یوه صورت کې ممکن دي، چې ام شریک رض ته یې د هغې تر غوښتنې وروسته اجازه ور کړې وه. که زموږ په زمانه کې هم اړتیا د هغو مرګ ایجاباوه، نو نه یوازې چې کربوړی وژلای شي، بلکې نور حیوانات هم وژل کېږي اما د ثواب تمه دې نه کوي.

۲۰۱۹/سپتمبر/۷

**سرچینې:**

(۱)(بخاري کتاب بدء الخلق باب خیر مال المسلم غنم یتبع بها شعف الجبال ح: ۳۳۰۷)

(۲)(بخاري کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی: واتخذ الله ابراهیم خلیلا...ح: ۳۳۵۹)

(۳)(المسند ح: ۲۷۳۶۵ ، صحیح مسلم ح:۲۲۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)(تیسر مصطلح الحدیث، الفصل الثانی، تقسیم خبر الاحاد، المبحث الثاني، المطلب الثاني، الخبر المردود، د موضوعي حديث د پېژندلو بیان: ۱/ ۱۱۲)

(۵)(بخاري كتاب بدء الخلق باب خير مال مسلم غنم... ح: ۳۳۰۶، مسلم كتاب السلام باب استحباب قتل الوزغ ح: ۲۲۳۹)

(۶)(شرح نووي على مسلم، كتاب قتل الحيات وغيرها باب استحباب قتل الوزغ.)

(۷)"سير أعلام النبلاء: (۶/ ۱۷۱)

(۸)(الوسيط في علوم و مصطلح الحديث، اقسام الحديث من حيث القبول والرد، الحديث الموضوع، اثار الوضع السيئة: ۱/ ۳۴۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مراجع


۱)قران کریم.

۲)بخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح البخاري، دار طوق النجاة، کال: ۱۴۲۲هق.

۳)قشیري، ابو الحسن مسلم بن الحجاج، صحیح مسلم، دار احیاء التراث العربي، بیروت.

۴)سجستاني، ابوداؤد سلیمان بن الاشعث، سنن ابي داؤد، المکتبة العصریة، صیدا-بیروت.

۵) ابو عیسی، محمد بن عیس بن سورة، الجامع الکبیر سنن الترمذي، دار الغرب الاسلامي-بیروت.

۶) ابو عبد الله، احمد بن محمد بن حنبل، مسند امام احمد بن حنبل، موسسة الرسالة، ۱۴۲۱- ۲۰۰۱.

۷) ابن ماجه، ابو عبد الله محمد بن یزید القزویني، سنن ابن ماجه، دار احیاء الکتب العربیة.

۱۰) عسقلاني، احمد بن علي بن حجر، فتح الباري شرح صحیح البخاري، دار المعرفة- بیروت، ۱۳۷۹هـ.

۱۱)نسائي، السنن الکبری، د ابو عبد الرحمن احمد بن شعیب الخراساني، د شعیب الاناووط تر سرپرستي لاندې د حسن عبد المنعم شبلي په تحقیق، د الرساله موسسې چاپ بیرون، لومړی چاپ: ۲۰۰۱، ۱۲ ټوکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲)ابن بطال، شرح البخاري، د ابو الحسن علي بن خلف، د ابو تميم ياسر بن ابراهيم په تحقيق، د مكتبة الرشد سعودي رياض چاپ، دويم چاپ: ۲۰۰۳، لس ټوكه.

۱۳)نووي، المنهاج شرح صحيح مسلم، د ابو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، دار احياء التراث العربي بيروت چاپ، د چاپ كال: ۱۳۹۲، اته ټوكه.

۱۴) معجم اللغة العربية المعاصره، د احمد مختار عبد الحميد عمر او يوې ډلې تاليف، د عالم الكتب چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۲۹هـ ۲۰۰۸م، څلور ټوكه.

۱۵)كاساني، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، د علاء الدين، ابو بكر بن مسعود بن احمد الحنفي، د دار الكتب العلميه چاپ، دوم چاپ: ۱۹۸۶، ۷ ټوكه)

۱۶) طبراني، معجم الكبير، د ابو القاسم، سليمان بن احمد بن ايوب بن مطير اللخمي الشامي، د حمدي بن عبد المجيد السلفي په تحقيق، د قاهرې د ابن تيميه مكتبې چاپ، دويم چاپ له تاريخ پرته، ۲۵ ټوكه)

۱۷)موصلي، مسند ابي يعلى، د ابو يعلى احمد بن علي التميمي، د حسن سليم اسد په تحقيق، د دار المامون للتراث دمشق چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۸۴، ديارلس ټوكه.

۱۸)قرطبي، الجامع لاحكام القران(تفسير قرطبي)، د ابو عبد الله محمد بن احمد الانصاري، د احمد البردوني او ابراهيم اطفيش په تحقيق، دويم چاپ: ۱۹۶۴، لس ټوكه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٩)دمشقي، تفسير القران العظيم، د ابو الفداء، اسماعيل بن عمر بن كثير القرشي، د سامي بن محمد سلامه په تحقيق، د دار طيبه للنشر والتوزيع چاپ، دويم چاپ: ١٩٩٩، اته ټوکه.
٢٠) زحيلي ،القواعد الفقهيه وتطبيقاتها فى المذاهب الاربعه، د محمد مصطفى، دار الفكر دمشق ،لومړی چاپ ٢٠٠٦م، دوه ټوکه)
٢١)سيواسي، فتح القدير، د ابن الهمام، كمال الدين، محمد بن عبد الواحد، د دار الفكر چاپ، له تاريخ پرته.
٢٢) جديع، تيسر علم اصول الفقه، د عبد الله بن يوسف، د الريان اداري چاپ، بيروت لبنان، لومړی چاپ: ١٩٩٧، يو ټوک.
٢٣) افريقي، لسان العرب، د محمد بن مكرم بن علي ابو الفضل جمال الدين بن منظور، د دار الصادر بيروت چاپ، ١٤١٤ کال، ١٥ ټوکه)
٢٤)معجم الوسيط، د ابراهيم مصطفى، احمد الزيات، حامد عبد القادر، محمد نجار، د دار الدعوه چاپ.
٢٥) الثقافة السلامية، د اثراء د نشر و توزيع اداري لومړی چاپ: ٢٠٠٧.
٢٦) مجلة البحوث الاسلامية، مسلسل شمیره: ٧٦، مخ: ١٧٤، له رجبه تر شواله، کال: ١٤٢٦هق.
٢٧)تحليل عن مفهوم الوسطية في الفقه الاسلامي: ١٧٣.
٢٨) امالي، د ابن بشران، د دار الوطن رياض چاپ، د چاپ کال: ١٩٩٧م.
٢٩) ملکيان، رابطه دين و اخلاق، د مصطفى، دانشگاه امام صادق، تهران ١٣٧٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰)شاطبي، الموافقات، د ابراهيم بن موسى بن محمد الغرناطي، د ابو عبيده مشهور بن حسن په تحقيق، د دار ابن عفان چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۹۷، اووه ټوکه.
۳۱)علي، المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام، د دوکتور جواد علي، د دار الساقي چاپ، څلورم چاپ: ۲۰۰۱، شل ټوکه.
۳۲)الباني، سلسلة الاحاديث الضعيفه والموضوعه واثرها السيئ في الامه، د ابو عبد الرحمن، محمد ناصر الدين، د دار المعارف رياض چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۹۲، ۱۴ ټوکه.
۳۳)شوکاني، نيل الاوطار، محمد بن علي اليمني، د عصام الدين الصبابطي په تحقيق، د مصر- د دار الحديث چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۹۳، ۸ ټوکه.
۳۴)شيباني، العلل و معرفة الرجال، د ابو عبد الله احمد بن محمد بن حنبل، د وصي الله بن محمد عباس په تحقيق، د دار الخارني رياض چاپ، دويم چاپ: ۲۰۰۱، درې جز.
۳۵)سقار، التکفير و ضوابطه، د منقذ بن محمود، د رابطه العالم الاسلامي چاپ.
۳۶)الباني، صفة صلاة النبي ص، د ابو عبد الرحمن، محمد ناصر الدين، د مکتبة المعارف رياض چاپ.
۳۷)نعيمي، تيسير مصطلح الحديث، د ابو حفص، محمود بن احمد بن محمود طحان، د مکتبة المعارف چاپ، لسم چاپ: ۲۰۰۴، يوټوک.
۳۸)ذهبي، سير اعلام النبلاء، شمس الدين، ابو عبد الله، محمد بن احمد، د شعيب الارنووط تر سرپرستۍ لاندې د پوهانو د يوې ډلې په تحقيق، الرساله ادارې چاپ، دريم چاپ: ۱۹۸۵، ۲۵ ټوکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹)الوسیط في علوم و مصطلح الحدیث، د ابو شهبه محمد بن محمد بن سویلم، د دار الفکر العربي چاپ، یو ټوک.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**